# مه خپه کیږه!




ليکوال: دکتور عائض القرني

ژباړن: استاد فريد احمد هلال

افغان سالار کتابتون

Downloaded By: Afghan Salar Library

بسم الله الرحمن الرحيم

افغانستان
پوهنه رڼا ده
افغان سالار کتابتون

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

د اندېښنو په ګردابونو کې د هيلو او خوښيو څرک

د عربي نړۍ د پېژندل شوي ليکوال دوکتور عائض
القرني د شاهکار اثر لا تحزن پښتو ژباړه:




ليکوال: دوکتور عائض القرني

ژباړن: استاد فريد احمد هلال

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library


کتاب پېژندنه

د کتاب نوم : مه خپه کېږه!

لیکوال : دوکتور عائض القرني

ژباړن : استاد فرید احمد هلال

خپرندوی : کتاب خپرندویه ټولنه

کمپوز : پخپله ژباړن

چاپ کال : ۱۳۹۲ لمریز کال

چاپ شمېر : ۱۱۰۰

چاپ وار : څلورم (٤)

د ترلاسه کېدو ځایونه

- محمدیه کتابپلورنځی: د ګمرک جامع جومات تر څنګ تالاشي څوک جلال آباد.
- وحدت کتابپلورنځی: اسحاقزی مارکېټ، لاندینۍ پوړ، جلال آباد شمار:۰۷۷۷۶۳۳۰۳۵


Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

ټولو غمځپلو پښتنو

ورونو ته ډالۍ

(هلال)

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

# لړلیک


د ژباړن خبرې ۲۰
د دویم چاپ سریزه ۲٤
د لاتحزن کتاب په اړه یو څو ټکي ۲٦
د لومړي چاپ سریزه ۲۸
۱- یا الله! ۳۲
۲- الله تعالیٰ سره د مینې لارې چارې ۳۳
۳- نېکمرغي ۳٤
٤- فکر وکړه او شکر وباسه! ۳۵
۵- تېر په هېر ۳۸
٦- نننی ورځ ۳۸
۷- مستقبل تر راتلو پرېږده ٤۰
۸- په نېکړه کې د زړه رښتینې خوښي نغښتې ده ٤۲
۹- هوښیاران شئ ٤۲
۱۰- خلکو نه د منني تمه مه کوه! ٤۳
۱۱- له وزګارتیا نه ګټه پورته کړه! ٤۵
۱۲- پردی پیښې مه کوه! ٤٦
۱۳- قضا او قدر ٤۷
۱٤- په تنګسه پسې اساني وي ٤۸
۱۵- له ترشو نه خواږه شربت جوړ کړه ۵۰
۱٦- څوک به د یوه اندېښمن فریاد واوري؟ ۵۲




Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghan

Downloaded By: Afghan Salar Library


| | |
|---|---|
| ۱۷-په کور کښنه | ۵۳ |
| ۱۸- عوض له الله تعالیٰ نه وغواړه! | ۵٤ |
| ۱۹- ایمان ژوند دی | ۵۷ |
| ۲۰- نرمه لهجه | ۵۹ |
| ۲۱- د الله تعالیٰ په یاد زړونه داډ منېږي | ٦۰ |
| ۲۲- کینه | ٦۱ |
| ۲۳- بدلون | ٦۲ |
| ۲٤- ژوند چې څرنګ دی هماغسې یې ومنئ | ٦۳ |
| ۲۵- د راحت نسخه | ٦٤ |
| ۲٦- د مصیبت علاج | ٦۸ |
| ۲۷- لمونځ | ٦۹ |
| ۲۸- صبر | ۷۰ |
| ۲۹- د تولې نړۍ غمونه پر سر مه اخله | ۷۱ |
| ۳۰- همت مه بایلئ | ۷۲ |
| ۳۱- د الله پر وېش خوښ اوسه | ۷٤ |
| ۳۲- جنت او د هغه پراخي را یاده کړه | ۷٦ |
| ۳۳- په هر کار کې منځلاري | ۷۸ |
| ۳٤- غم او اندېښنه مطلوب نه ده | ۷۹ |
| ۳۵- د اندېښنو د لمنځه وړلو دعا | ۸۲ |
| ۳٦- مناجات | ۸۳ |
| ۳۷- موسکا | ۸٤ |
| ۳۸- مه خپه کیږئ! | ۸۷ |
| ۳۹- د دردونو نعمت | ۸۸ |
| ٤۰- د پوهې لورنه | ۹۱ |


Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library




| | |
|---|---|
| ٤١- د خوښۍ تر لاسه کولو هنر | ۹۳ |
| ٤٢- د خوښۍ د تر لاسه تعالیٰ کولو یو بل هنر | ۹٤ |
| ٤٣- د همدغه هنر یو بل اصل | ۹۵ |
| ٤٤- مه خپه کېږه! | ۹۷ |
| ٤٥- خپلې ولولې په کابو کې ساتل | ۹۸ |
| ٤٦- رسول الله ﷺ د صحابه وو لپاره لویه نېکمرغي وه | ۱۰۰ |
| ٤٧- د ژوند سترتیا شا ته وغورځوه | ۱۰۲ |
| ٤٨- اندېښنه مه کوه! | ۱۰٤ |
| ٤٩- د الله جل جلاله پر لورنو وویاړه | ۱۰۷ |
| ٥٠- تقدیر | ۱۱۲ |
| ٥١- وقفه | ۱۱٦ |
| ٥٢- همېشه د الله تعالیٰ ذکر کوه! | ۱۱۸ |
| ٥٣- د الله تعالیٰ له لوري مه نهیلی کېږه! | ۱۲۰ |
| ٥٤- له بښنې او تېرېدنې نه کار اخلئ! | ۱۲۱ |
| ٥٥- ته ډېر څه لرې! | ۱۲۲ |
| ٥٦- په دنیا پسې مه خپه کېږه! | ۱۲۳ |
| ٥٧- مه خپه کېږه او غمونه شا ته وغورځوه! | ۱۲٤ |
| ٥٨- د خلکو پر نیوکو مه خپه کېږه! | ۱۲٦ |
| ٥٩- پر بې وزلتوب مه خپه کېږه | ۱۲٦ |
| ٦٠- د باطلپالو پر نیوکو مه خپه کېږه! | ۱۲۸ |
| ٦١- وقفه | ۱۳۰ |
| ٦٢- د الله تعالیٰ په پرېکړه خوښ اوسه! | ۱۳۱ |
| ٦٣- د خلکو د واکچلونو پر څارنه مه خپه کېږه! | ۱۳۲ |
| ٦٤- له خلکو سره ښېګړې کوه! | ۱۳٤ |




Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/a

Downloaded By: Afghan Salar Library




| | |
|---|---|
| ٦٥- د يوې ناوړه خبرې په اورېدو مه خپه کېږه! | ١٣٦ |
| ٦٦- وقفه | ١٣٩ |
| ٦٧- صبر پر مصيبتونو د برې لار ده | ١٣٩ |
| ٦٨- دې ته مه ګوره، چې خلک له تا سره څه کوي...؟! | ١٤٢ |
| ٦٩- د رزق پر تنګسيا مه خپه کېږه! | ١٤٢ |
| ٧٠- ځينې عوامل مصيبتونه سپکوي | ١٤٣ |
| ٧١- له پردي شخصيت نه ګټه مه پورته کوه! | ١٤٤ |
| ٧٢- د نورو په شخصيت کې ډوبېدل ځانوژنه ده | ١٤٥ |
| ٧٣- د ګوښه ژوندانه غوره اغېز | ١٤٦ |
| ٧٤- پر سختيو مه خپه کېږه! | ١٤٧ |
| ٧٥- وقفه | ١٤٨ |
| ٧٦- له شپږ ډوله درملو درلودو سره هم خپه يې؟! | ١٥٠ |
| ٧٧- مه خپه کېږه! له صبر نه کار واخله | ١٥١ |
| ٧٨- وقفه | ١٥١ |
| ٧٩- کتاب ښه ملګرى دى | ١٥٢ |
| ٨٠- د کتاب لوستنې ګټې | ١٥٤ |
| ٨١- وقفه | ١٥٥ |
| ٨٢- مه خپه کېږه! دلته يوه بله ننداره... | ١٥٥ |
| ٨٣- نړۍ والې خبرې | ١٥٦ |
| ٨٤- له ځانه دغه پوښتنې وکړه | ١٥٨ |
| ٨٥- غم او اندېښنه څوا کمې له مينځه وړي.. | ١٥٩ |
| ٨٦- خپلې معاملې په ډاډه زړه حل کړه | ١٦٠ |
| ٨٧- د خپل رب په اړه ښه اټکل ولره! | ١٦١ |
| ٨٨- کله دې چې خيالات زوروي | ١٦١ |


Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



۸۹- له مثبت او جوړونکي نقد نه مه وېرېږه! ۱٦۲
۹۰- د اریانتیا پر ځای کار وکړه! ۱٦۳
۹۱- ډېرې خپروني صحت او حقیقت نلري ۱٦٤
۹۲- نرمي انسان له ډېرو ستونزو ژغوري ۱٦٤
۹۳- وقفه ۱٦۷
۹٤- چې پر الله باوري یې؛ نو مه خپه کېږه! ۱٦۸
۹٥- پر وړو وړو خبرو مه خپه کېږه! ۱۷۱
۹٦- ښننه او تېرېدنه ۱۷۳
۹۷- نړۍ له همداسې خلکو ډکه ده ۱۷٥
۹۸- له ازمېښتونو مه وېرېږه! ۱۷۷
۹۹- انسان پخپله یوه کوچنۍ نړۍ ده ۱۷۸
۱۰۰- ځینې مصیبتونه ګټور هم وي ۱۷۹
۱۰۱- ایمان ښه درملنه ده ۱۸۲
۱۰۲- الله تعالٰی د اړ مشرک دعا هم قبلوي ۱۸۲
۱۰۳- مه خپه کېږه! ژوند زموږ تر تصوره هم لنډ دی. ۱۸٤
۱۰٤- ډاډه او قانع اوسه! ۱۸٦
۱۰٥- د رب پر پرېکړه خوښي ټول غمونه لمنځه وړي ۱۸۷
۱۰٦- د تقدیر پرېکړه نه بدلېږي، که ته مرې او که چوې!! ۱۸۸
۱۰۷- د یوه غړي له لاسه په ورکولو پر نورو شکر وکړه! ۱۸۹
۱۰۸- خت اوړي راوړي ۱۹۰
۱۰۹- په نړۍ کې وګرځئ! ۱۹۱
۱۱۰- د ژوند په وروستیو شېبو کې هم خوښ اوسه! ۱۹۲
۱۱۱- د مصیبتونو رازونه ۱۹٤
۱۱۲- د دې نړۍ ارزښت ۱۹٥



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/

Downloaded By: Afghan Salar Library




| | |
|---|---|
| ۱۱۳- د ایمان ارزښت | ۱۹۶ |
| ۱۱٤- وقفه | ۱۹۶ |
| ۱۱۵- غمځپلي | ۱۹۷ |
| ۱۱۶- چې مسلمان یې، نو بیا مه خپه کېږه! | ۱۹۹ |
| ۱۱۷- د نېکمرغۍ له اسبابو څخه | ۲۰۳ |
| ۱۱۸- د نېکمرغۍ عناصر | ۲۰٤ |
| ۱۱۹- بې اجله مرګ نشته | ۲۰۵ |
| ۱۲۰- یا ذالجلال والاکرام | ۲۰۷ |
| ۱۲۱- د مسلمان په ژوندانه کې درې اخترونه وي. | ۲۰۸ |
| ۱۲۲- درې شیان، ناوړه شیان | ۲۱۱ |
| ۱۲۳- وقفه | ۲۱٤ |
| ۱۲٤- له حسدګر نه وېرېدونکی | ۲۱٤ |
| ۱۲۵- خپل خوی سم کړه! | ۲۱۵ |
| ۱۲۶- اندېښنه مه کوه! | ۲۱۶ |
| ۱۲۷- د ګناهونو پایلې | ۲۱۸ |
| ۱۲۸- په روزۍ پسې مه لالهانده کېږه! | ۲۲۰ |
| ۱۲۹- د هدایت راز | ۲۲۱ |
| ۱۳۰- که سپېڅلی ژوند غواړې نو دغه لس کارونه وکړه | ۲۲۳ |
| ۱۳۱- ... په دنیا او اخرت کې بریالي دي. | ۲۲۶ |
| ۱۳۲- وقفه | ۲۲۸ |
| ۱۳۳- حقیقت او واقعیت ومنه نو بې غمه به شې | ۲۲۸ |
| ۱۳٤- له دې کیسې نه دغه درس ترلاسه کېدای شي | ۲۳۱ |
| ۱۳۵- ... اندېښنه لرې، ښایي هغه لمنځه ولاړ شي. | ۲۳۵ |
| ۱۳۶- اندېښنه د بدمرغۍ لاره ده | ۲۳۶ |




Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library




| | |
|---|---|
| ۱۳۷- په استغفار بند قلفونه پرانستل کېږي | ۲٤۰ |
| ۱۳۸- په لګښت کې له اقتصاده کار واخله | ۲٤۳ |
| ۱۳۹- له غيرالله سره اړيکې مه ساتئ! | ۲٤٦ |
| ۱٤۰- د ازادۍ خوند | ۲٤۹ |
| ۱٤۱- سفيان ثوري او خاورينه تکيه | ۲٤۹ |
| ۱٤۲- د چا کنځاوې درته هېڅ زيان نشي رسولای | ۲٥۰ |
| ۱٤۳- په کايناتو کې ښکلا وڅارئ! | ۲٥۲ |
| ۱٤٤- په حرص کې څه ګټه نشته | ۲٥٤ |
| ۱٤٥- د نېکمرغۍ عناصر | ۲٥٥ |
| ۱٤٦- مقام او منصب | ۲٥٦ |
| ۱٤۷- راځئ چې لمانځه ته ولاړ شو | ۲٥۸ |
| ۱٤۸- صدقه او خيرات سينه پراخوي | ۲٦۱ |
| ۱٤۹- وقفه | ۲٦۳ |
| ۱٥۰- قران يو برکتي کتاب دی | ۲٦۳ |
| ۱٥۱- شهرت په ترلاسه کولو تينګار مه کوه! | ۲٦٤ |
| ۱٥۲- سپېځلی ژوند | ۲٦٥ |
| ۱٥۳- له ستونزو او پېښو مه وېرېږه! | ۲٦٦ |
| ۱٥٤- د بندګۍ غوښتنې | ۲٦۷ |
| ۱٥٥- له پاچاهۍ نه تر تجارۍ پورې | ۲٦۸ |
| ۱٥٦- له احمقانو سره ناسته ولاړه د اندېښنو لامل ده! | ۲۷۰ |
| ۱٥۷- د توحيد مناظر | ۲۷۲ |
| ۱٥۸- وقفه | ۲۷۷ |
| ۱٥۹- خپل ظاهر او باطن دواړو ته پاملرنه وکړه | ۲۷۷ |
| ۱٦۰- الله ته پناه يوسه | ۲۷۹ |




Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

By: Afghan Salar Library




۱٦۱- پر الله تعالی توکل کول ۲۷۹
۱٦۲- درې متفق علیه څیزونه ۲۸۰
۱٦۳- ظالم الله ته وسپاره ۲۸۰
۱٦٤- کسری او بوډۍ ۲۸۱
۱٦۵- کله نا کله نیمګړتیا هم کمال وي ۲۸۲
۱٦٦- هغوی هم ومنله ۲۸٦
۱٦۷- څو شیبې له احمقانو سره ۲۸۸
۱٦۸- فقط ایمان د خلاصون لاره ده ۲۹۰
۱٦۹- کفار هم درجې لري ۲۹۲
۱۷۰- پولادي عزم ۲۹٤
۱۷۱- د الله تعالی طرف ته ۲۹٤
۱۷۲- د روزۍ پر څنډېدو مه خپه کېږه ۲۹٦
۱۷۳- د ژوند ارزښتمنې شیبې ۳۰۰
۱۷٤- غوره بدله ۳۰۱
۱۷۵- د ښو چارو په ترسره کولو خوښي ترلاسه کېږي ۳۰۲
۱۷٦- ګټور علم او زیاني علم ۳۰۳
۱۷۷- پراخه معلومات او ژور فکر ۳۰٦
۱۷۸- له ځانه سره حساب وکړه! ۳۰۸
۱۸۹- دفاعي سامان آلات ترلاسه کړئ ۳۱۰
۱۸۰- خلک راخپل کړه ۳۱۱
۱۸۱- وګرځه او د الله تعالی د قدرت نښې وګوره! ۳۱۳
۱۸۲- غم او اندېښنه ۳۱٤
۱۸۳- د جنت قیمت ۳۱۵
۱۸٤- ریښتونې مینه ۳۱۷




ps://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library


١٨٥- د ځانوژنې پېښې ٣١٧

١٨٦- د راحت بنستونه ٣١٨

١٨٧- مجازي مینه ٣١٩

١٨٨- د مجازي عشق لاملونه ٣١٩

١٨٩- د ورونو حقونه ٣٢٠

١٩٠- الله تعالیٰ رازق دی ٣٢٠

١٩١- د لمانځه ګټې ٣٢١

١٩٢- مه ډارېږه! ٣٢٢

١٩٣- له څلورو شیانو ډډه وکړه ٣٢٣

١٩٤- پر خپل رب ډاډمن اوسه ٣٢٣

١٩٥- دوه ګټورې خبرې ٣٢٤

١٩٦- د مصیبتونو ګټې ٣٢٦

١٩٧- علم هدایت، درملنه او روغتیا ده ٣٢٦

١٩٨- نېکمرغي خدايي ورکړه ده ٣٢٧

١٩٩- ښه یادښت د اوږده عمر زېری دی ٣٢٨

٢٠٠- سترې مرثیې ٣٢٩

٢٠١- له دغه درباره هېڅوک هم بېنوا نه ځي ٣٣٠

٢٠٢- خپل تاریخ پخپله ولیکه! ٣٣١

٢٠٣- موږ تول د نېکمرغۍ په لټه کې یو خو.....! ٣٣٥

٢٠٤- جنت او دوزخ ٣٣٦

٢٠٥- الم نشرح لک صدرک ٣٣٧

٢٠٦- د ښه ژوندانه مفهوم ٣٣٨

٢٠٧- نېکمرغي څه ده؟ ٣٣٩

٢٠٨- سپېڅلې خبرې الله تعالیٰ ته پورته خېژي ٣٤٠




Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library




| | |
|---|---|
| ۲۰۹- د الله تعالیٰ رانیول خورا سخت دي | ۳٤۱ |
| ۲۱۰- ستا د دروازې مخې ته زه ولاړیم | ۳٤۳ |
| ۲۱۱- امن شرعاً او عقلاً مطلوب دی | ۳٤٥ |
| ۲۱۲- دنیوي جاه او جلال لمنځه ځي | ۳٤٦ |
| ۲۱۳- د فضایلو اکتساب د نېکمرغۍ معراج دی | ۳٤۸ |
| ۲۱٤- نېکۍ ته انتظار او په ترسره کولو یې ډیل مه کوئ! | ۳٥۰ |
| ۲۱٥- جنتونه او نعمتونه هلته دي، نه دلته | ۳٥۰ |
| ۲۱٦- د الهي منهج دښمنان | ۳٥۱ |
| ۲۱۷- د دې نړۍ حقیقت | ۳٥٤ |
| ۲۱۸- د نېکمرغۍ کیلي | ۳٥٦ |
| ۲۱۹- او دې خلکو ځنګه ژوند کاوه؟ | ۳٥٦ |
| ۲۲۰- د صبر او ثبات په اړه د پوهانو ویناوې | ۳٥۹ |
| ۲۲۱- د الله تعالیٰ په اړه اتکل بې ګټې نه وي | ۳٥۹ |
| ۲۲۲- د صبر مېوه خوږه وي | ۳٦۰ |
| ۲۲۳- د اندېښنو د معمولي ګڼلو په اړه د پوهانو ویناوې | ۳٦۲ |
| ۲۲٤- مه خپه کېږه! که مال نه لرې... | ۳٦۳ |
| ۲۲٥- مه خپه کېږه، د کایناتو کتاب ته ځیر شه | ۳٦۳ |
| ۲۲٦- یا اله العلمین | ۳٦۸ |
| ۲۲۷- مه خپه کېږه! ورځې هسې هم د ارهټ منګوټي دي | ۳۷۱ |
| ۲۲۸- د پرېکړې ورځ را روانه ده | ۳۷۲ |
| ۲۲۹- په خپګان دې دښمن خوشحالېږي | ۳۷۳ |
| ۲۳۰- نېک فالي او بد فالي | ۳۷٥ |
| ۲۳۱- ای انسانه! | ۳۷٦ |
| ۲۳۲- د الله تعالیٰ پېژند ګلوي | ۳۷۷ |


Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library




۲۳۳- داسې غمځپلي ۳۷۸

۲۳٤- د خوښۍ ګلان ۳۸۳

۲۳۵- چې له موږ خوشحاله دي موږ هم ترې خوشحاله يو ۳۸٤

۲۳٦- پر تقدير ناخوښي بدمرغه دي ۳۸٤

۲۳۷- د رضا ګټې ۳۸۵

۲۳۸- له خپل رب سره جګړه مه کوه! ۳۸٦

۲۳۹- د الله تعالیٰ حکم پلي او پرېکړه يې عادلانه ده ۳۸٦

۲٤۰- سلامتيا په رضا کې ده ۳۸۷

۲٤۱- رضا او خوښي امن او سوکالي رامنځته کوي ۳۸۷

۲٤۲- د رضا ثمره شکر دی ۳۸۸

۲٤۳- پر تقدير ناخوښي د شيطان ښکار دی ۳۸۹

۲٤٤- رضا نفسي هوا لمنځه وړي ۳۹۰

۲٤۵- وقفه ۳۹۰

۲٤٦- د خلکو په تېروتنو سترګې پټوه ! ۳۹۱

۲٤۷- روغتيا او وزګارتيا ۳۹٤

۲٤۸- الله تعالیٰ د مؤمنانو دوست دی ۳۹۵

۲٤۹- د نېکمرغۍ پر لور ۳۹٦

۲۵۰- عزت او کرامت هم ازمېښت دی ۳۹۷

۲۵۱- همېشنۍ خزانې ۳۹۸

۲۵۲- لوړ همتونه ۳۹۹

۲۵۳- ناروغي او درمل ٤۰۰

۲۵٤- چمتو اوسئ ٤۰۲

۲۵۵- فکر وکړئ ٤۰۳

۲۵٦- هوډ ٤۰۳




Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afg

...d By: AfghanSalar Library


| | |
|---|---|
| ۲۵۷- د دنیوي ژوند حقیقت | ٤٠٤ |
| ۲۵۸- امن چیرته دی؟ | ٤٠٦ |
| ۲۵۹- له ارحم الرحمین ذا ت سره معامله | ٤٠٧ |
| ۲٦٠- د نیک فالۍ په لور | ٤٠٨ |
| ۲٦١- د دغې نړۍ ژوند تر سترتیا پرته نور څه نه دی | ٤٠٨ |
| ۲٦٢- انسان پر صفتونو پیژندل کیږي | ٤٠٨ |
| ۲٦٣- ته همداسې پیدا شوی یې | ٤٠٩ |
| ۲٦٤- ښه ذهن سپیڅلتیا ته اړتیا لري | ٤١٠ |
| ۲٦٥- که ښه شوې؛ نو نړۍ به هم درته ښه ښکاري | ٤١١ |
| ۲٦٦- داسې نه، بلکې داسې | ٤١٣ |
| ۲٦٧- خلکو ته سینه پراخه کړه! | ٤١٥ |
| ۲٦٨- پراو پر پراو | ٤١٥ |
| ۲٦٩- پر وړو وړو نعمتونو هم شکر وکړئ | ٤١٦ |
| ۲۷٠- درې ارزښتناکې خبرې | ٤١٧ |
| ۲۷١- ډاډه اوسئ! | ٤١٧ |
| ۲۷۲- ثوابي چارې له ناوړه پای څخه ژغورل کوي | ٤١٩ |
| ۲۷۳- شریعت اسان دی | ٤٢٠ |
| ۲۷٤- د جهاد پایله | ٤٢١ |
| ۲۷۵- د الله تعالٰی د قدرت نښو ته ځیر شئ! | ٤٢٢ |
| ۲۷٦- تجربوي خبرې | ٤٢٢ |
| ۲۷۷- د ذهني ناروغیو حل | ٤٢٤ |
| ۲۷۸- ستا ارزښت ستا ایمان او اخلاق دی | ٤٢٤ |
| ۲۷۹- نیکمرغه خلک | ٤٢٧ |
| ۲۸٠- بد مرغه خلک | ٤٢٩ |




https://www.facebook.com/groups/18228128...7698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library


۲۸۱- له ښځو سره ښه چلن کوئ! ۴۳۰
۲۸۲- له موسکا ځخه یې پیل کړئ ۴۳۲
۲۸۳- د غچ اخیستنې ولولې پالل، خپل زړه خوړل دي ۴۳۵
۲۸٤- د خوښۍ لار ۴۳۶
۲۸۵- صبرناک خلک د الله تعالیٰ د لطف په انتظار کې ۴۳۷
۲۸٦- پر هماغه څه تینګار وکړه، چې ته پرې سودمن کېږې ۴۳۹
۲۸۷- موږ یې دوی او هغوی ټولو ته ورکوو ۴٤۰
۲۸۸- الله تعالیٰ مؤمنانو ته لار ښوونه کوي! ٤٤۲
۲۸۹- نه هغه او نه دغه ٤٤٤
۲۹۰- د صبر توښه ٤٤٥
۲۹۱- ولیان څوک دي؟ ٤٤٥
۲۹۲- الله تعالیٰ پر خپلو بندګانو لوراند دی ٤٤٦
۲۹۳- الله تعالیٰ له داسې ځایه روزي ورکوي... ٤٤٧
۲۹٤- هماغه ذات (الله تعالیٰ) د بارانه وروونکی دی ٤٤۸
۲۹۵- الله تعالیٰ تر دې غوره عوض ورکړ ٤٤۹
۲۹٦- یوازې له الله تعالیٰ څخه یې غواړه ٤۵۰
۲۹۷- ارزښتمنې شېبې ٤۵۲
۲۹۸- په تنګسه کې به څوک پکار ېږي؟ ٤۵۳
۲۹۹- د مرګ نا اشنا کیسه ٤۵٤
۳۰۰- کله ناروغي هم د شفا ذریعه وي ٤۵۵
۳۰۱- د ولیانو کرامت ٤۵٦
۳۰۲- د الله تعالیٰ وکالت بس دی ٤۵۷
۳۰۳- وقفه ٤۵۸
۳۰٤- حلال خواړه د دعا د قبلېدو لامل کېږي ٤۵۹




Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/a

Uploaded By: Afghan Salar Library


| | |
|---|---|
| ۳۰۵- له الله تعالیٰ نه خوبن اوسه! | ٤٦١ |
| ۳۰٦- د نخلي په سیمه کې | ٤٦٣ |
| ۳۰۷- داسې لورنې | ٤٦٤ |
| ۳۰۸- رضا که څه هم پر سړي غیو وي | ٤٦٥ |
| ۳۰۹- پرېکړه کول | ٤٦٧ |
| ۳۱۰- د مؤمن طبیعت | ٤٦٩ |
| ۳۱۱- چې څه کرې، هغه به رېبې | ٤٧١ |
| ۳۱۲- لومړی پرې خپله عمل وکړه | ٤٧٢ |
| ۳۱۳-رښتینی راحت په جنت کې دی | ٤٧٣ |
| ۳۱٤- له نرمۍ څخه کار واخله نو هدف به ترلاسه کړئ | ٤٧٤ |
| ۳۱۵- د زړه خوښي | ٤٧٧ |
| ۳۱٦- د نېکمرغۍ لپاره لاندیني اصول په پام کې ولرئ. | ٤٧٨ |




Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

# د ژباړن خبرې

نحمده و نصلی علی رسوله الکریم اما بعد!

خوږو لوستونکیو!

د نامتو لیکوال دوکتور عائض القرني دغه شاهکار اثر لاتحزن (مه خپه کېږه!) د خپرو شویو نسخو له شمېره ثابتېږي، چې په رښتیا یې پر خلکو ژبنی کوډي او زړونو ته لار کړې او د نبي کریمﷺ د هغې وینا مصداق ګرځېدلی، چې فرمايي:

«إِنَّ مِنَ البَيَانِ لَسِحْرًا»

یا لکه د شرر ساپي لاندینی بیت، چې وايي:

ځینې غزلې زړه ته لارې کوي

ځینې الهام سرې ته خوب وروليي.

عائض القرني د خپل دې اثر پر مټ له انسانیت سره د بشپړې خوا خوږۍ ثبوت وړاندې کړی او هڅه یې کړې، چې پر مسلمانانو سربېره ټول انسانیت له ستونزو او اندېښنو خلاص کړي او یوه ښه او سوکاله تولنه رامنځته شي. که د ځانځانۍ په دې مادي دور کې درته څوک د یوه داسې خواخوږۍ خبره وکړي، چې پرته له څه تمې ستاسې د خوښیو او سوکالیو غوښتونکی



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/

…aded By: Afghan Salar Library

دی؛ نو ښايي ډېر لږ خلک يې ورسره ومني، هغه ځکه چې د انسانانو فطرتونه د مادياتو زولنو داسې ښکېل کړي، چې پر هر چا يې بدګومانه کړي دي، چې دا په اصل کې د بلوسکرو له مودو راهيسې هغه خورې کړې لومې دي، چې نن يې مسلمانان پکې له غبرګو پښو نښلولي دي.

د ډېرو فکرونه خو يې داسې مسخر کړي، چې ټولې ښې او بدې چارې د مادياتو زېږنده بولي، د خير ښېګړې خبرې ورته هسې مسخره ښکاري، که په مخ کې يې د چا ستاينه وکړې، چې پلانکی ډېر سخي دی؛ که ستا مخاطب تر تا لوړ پوړی وي؛ نو پر دې خبره دې رټي، چې په دې وخت کې سخا سخا نه وي، بلکې د څه دنيوي تمې لپاره به دغه کار کوي، که ورته ووايې چې پلانکی استاد ډېر مخلص او خواري کښ، يا پلانکی.... نو په ډول ډول خبرو دې خوله در تړي او که ټيټ پوړی وي؛ نو له ځانه سره په بوګنېدو دې خبره يې خونده کوي او دا هر څه ځکه، چې د ډېرو خلکو فطرتونه خراب شوي دي، د خېر، ښېګړې ماده پکې پاتې نه ده، له دې امله دوی نور هم پر ځان قياسوي، دا چې دوی معنوياتو ته ارزښت نه ورکوي او په مادياتو پسې ځغلي؛ نو ځکه ورته هر څه داسې سر چپه ښکاري، هر چا ته د شک په سترګه ګوري او دا خپله خيرګي بولي، سره له دې چې همدغه يې ستره ناپوهي او په لوی لاس ځان د وهمونو غېږ ته ور غورځول دي.

له همدغو شکونو او وهمونو نه د اندېښنو او غمونو سر نښلي او بيا انسان، لکه د خس و خشاک په مخه کوي او ژوند يې بې خونده کوي.

عائض القرني د همدغو شکونو او وهمونو د مخنيوي په پار دغه ليکنه



https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

کړي او لوستوال يې خپلې نيمګړتيا او د بل شېکړو ته ځير کړي، چې د
خپله د نېکمرغۍ لومړی اصل ګڼل کېږي.

په پای کې يو دوه يادونې اړينې بولم، هغه دا چې په لاتحزن کې د راغلیو
آيتونو ژباړه مې د کشاف صاحب له هغې ژباړې راخيستې، چې د پوهنې
وزارت چاپ کړې، بله دا چې د عائض القرني دا اثر (لا تحزن) ما د اردو
ژبې له دوو بېلا بېلو نسخو راژباړلی، چې يوه يې "عطريف شهباز ندوي"
ژباړلې او مکتبة العلم خپره کړې او بله يې (اداره تاليفات اشرفيه" خپره
کړې، زه له اردو ژبو ليکوالو او ژباړنو مننندوی يم او خپلې تولې ژباړې د
دوی پورورړې بولم، ځکه که دوی ليکنې او داسې ارزښتمنې ژباړې نه وای
کړې؛ نو ما به څه او له کومه را ژباړلي.

الله تعالی دې د دغسې مخلصو ليکوالو او ژباړنو قلمونه چلنده وساتي،
چې د تولنې د سمون لپاره يې متې رانغښتې وي ـ امين.

ستاسي د دعاوو په هيله

فريد احمد هلال

farid.hilal06@gmail.com

۰۰۹۳۷۷۵۴۰۳۵۰۰



Facebook: https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram: https://t.me/afgh

oaded By: Afghan Salar Library

## بسم الله الرحمن الرحيم

زما د کتاب لوستوالو ملګرو!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

اما بعد!

زه له تاسې ټولو لوستوالو مننه کوم، چې خپل ارزښتمن وخت مو زما د کتاب لوستو ته ورکړی، زه ځان ستاسې د دغې ښېګڼې پوروړی بولم او ستاسې لپاره په ستر درشل کې لاسونه لپه کوم، الله تعالیٰ دې ستاسې ژوند له اندېښنو نه خوندي او په ډېره وساتي، دا چې زما او ستاسې تر منځ د دې کتاب د لوستو له برکته اشنايي پيدا شوې؛ نو ځکه له زړه نه درته دعا کوم او د عربي په دې شعر (چې ژباړه يې په لاندې ډول ده) خپلې خبرې رانغاړم:

د قدرت چارې خپل مسير ته پرېږده او خپل ماغزه پاک کړه، د سترګو په رپ کې الله تعالیٰ حالات بدلوي.

ستاسې خواخوږی ملګری

عائض القرني

١٤٢٨\١١\٢٥

k:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

## د دویم چاپ سریزه
## (یو میلیون خپرې شوې نسخې)

الحمدلله والصلاة والسلام علی رسول الله و آله وصحبه وبعد:

زه پر دې د الله تعالٰی شکر کوم، چې خلکو زما دا لیکنه خوښه او د استفادې وړ وبلله، چې دا یوازې د هغه ذات رحم او پېرزو ده، ګنې په دې کې زما غونډې د کمزورې لیکوال څه کمال نه و.

زما د دې کتاب لپاره همدومره ویاړ بس دی، چې د زړه له تله مې له خپلو قدرمنو لوستوالو سره د دې ارماني دنیاګۍ د غمونو او اندېښنو لوړو او ژورو په راسپکولو کې ونډه اخستې ده، زه بیا هم له دوی مننذوی یم، چې د خپل ارزښتمن وخت څو دقیقې یې زما دکتاب لوستو ته ځانګړې کړې او په دې سره یې ما ته درنښت راوباښه.

ما تر دې دمه ډېر کتابونه لیکلي؛ خو لاتحزن (مه خپه کېږه!) پکې یوه ځانګړې لیکنه ده، چې زما په اند په لسو زامنو کې د هماغه ګران او خواږه زوی بڼه لري، چې په دغو تکیو کې ورته اشاره شوې:

إِذْ قَالُوا لَيُوسُفُ وَأَخُوهُ أَحَبُّ إِلَى أَبِينَا مِنَّا وَنَحْنُ عُصْبَةٌ

"کله چې د یوسف ﷺ ورونو په خپل منځ کې سره وویل: دا یوسف ﷺ او د هغه ورور، دواړه زموږ پلار ته له موږ تولو نه زیات ګران دي په



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghan

…aded By: Afghan Salar Library



داسې حال کې، چې مور یو پوره تولګی یو."

ګرانو لوستونکیو!

دا دی د دې کتاب پوره یو میلیون نسخې د لوستونکیو ترمنځ واوښتې را واوښتې او دا کومه مبالغه او ځانښوونه نه، بلکې یوه دقیقه شمېرنه ده، چې زه یې د خپل رب پیرزوینه بولم او داسې هم نه ده، چې ما ګوندې کوم داسې فکر او نوښت رامنځته کړی، چې مخکنې خلک ورڅخه عاجز او وروستني ورته ګوته په خوله او اریان دي - استغفرالله- خو یو راز دی او هغه دا چې ما د غمجنو او اندېښمنو خلکو په اندېښنو او غمونو کې ځان برخوال ګڼلی او له دردمنو خلکو سره مې د هغوی پر دردونو یو ځای ژړلي؛ خو هغوی تر ما غوره دي، ځکه چې تر ما له مخه یې ژړلي دي، لکه هاغه د یوه عربي شاعر خبره چې:

"که ما د هغې په عشق کې تر هغې له مخه ژړلي وای؛ نو زړه به مې ډاډمن شوی و او پښېمانه به هم نه وم؛ خو هغې تر ما له مخه ژړلي او د هغې اوښکو راته ژړا راوستې، نو دغه ویاړ له ما له مخکې د هغې په برخه شوی"

عائض بن عبدالله القرني



…ok:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



## د لاتحزن کتاب په اړه يو څو ټکي

دا يوه څېړنيزه، په زړه پورې او زړه راښکونکې مطالعه ده، موضوع يې د انساني ژوندانه هغه ستونزې او اندېښنې دي، چې انسان د بدفالۍ، رنځ، اريانتيا، بې باورۍ، زړه تنګۍ او ناميدۍ پشان له رواني ناروغيو سره مخ کوي.

دا کتاب د الهي وحې په رڼا، د سنتو په لارښوونه او د انساني سليم فطرت د غوره تجربو، ژونديو بېلګو، په زړه پورې کيسو او د زړه راښکونکي ادب په رڼا کې د زمانې د ستونزو د هوارې په زړه پورې لارې چارې درښيي، په دې کې د صحابه کرامو له ويناوو، د تابعينو له نصيحتونو، د نوموتو شاعرانو له غوره شعرونو، د نامتو طبيبانو له غوره وړانديزونو او د ساينسپوهانو له لارښوونو نه ېکې ګټه اخيستل شوې، د دې تر څنګ ېکې د لوېديځ او ختيځ اوسنۍ او لرغونې هغه څېړنې هم ځای ځای ېکې وړاندې شوې، چې په چاپي او غړېزو رسنيو کې خپرې شوې دي، داسې ويلای شو، چې دا د لوستونکيو لپاره د ازمايل شويو نسخو پر مټ چمتو شوی يو خوندور مرکب معجون دی، چې لوستونکی ډاډمنوي، خوښ او هيله من يې ساتي او له غمونو يې خلاصوي.

د انساني ژوندانه د سوکالۍ په اړه ډېر څه ليکل کېږي او خپرېږي او له



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me

ary

دې کتاب لا تحزن (مه خپه کېږه!) سره يو ځای به هم په سلګونو ليکنې
او کتابونه د لوستوالو لاسته ورغلي وي؛ خو بيا هم د لا تحزن ځانګړنه دا ده،
چې دا د هر سليم عقل خاوند ته يو پرانستي ليک او له دردمنو زړونو راوتلی
دردمن غږ دی، چې د الفاظو بڼه يې خپله کړې، لکه د متنبي هغه شعر،
چې وايي:

"ته د يوه اندېښمن مېين د ملامتولو حق تر هغې نه لرې، چې د عشق
وينه دې د هغه په څېر په رګونو کې ځغلېدلې نه وي"



k:https://w[redacted]cebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

## د لومړي چاپ سریزه

**الحمدلله! والصلوة والسلام على رسول الله، وعلى اله وصحبه.**

**وبعد!**

ګرانه لوستونکیه! مخکې له دې چې لا تحزن (مه خپه کېږه!) کتاب د عقل، منطق، قران او سنت په تله وتلې، لومړی یې باید ټول په ټوله ولولې او تر لوستو وروسته یې په دغو تلو وتلې، ځکه تر هغې چې یو شی په لاس لمس نشي، ونه څکل شي او یا بوی نشي؛ نو تر هغې یې په اړه پرېکړه ستونزمنه وي او دا به ناسمه وي، چې د یوې مسئلې په اړه له پوره پوهې او تحقیق پرته فتوی صادره کړی شي.

دا کتاب مې د هغو خلکو لپاره لیکلی، چې له ستونزو او اندېښنو سره لاس او ګرېوان دي، اندېښنو یې له سترګو خوبونه وړي وي، د ژوند ترخو پېښنو یې د خولې خوند ورخراب کړی وي او تاسې ووایئ، چې نن سبا به داسې څوک وي، چې له هېڅ ډول ستونزې او ستونزمنو حالاتو سره نه وي مخ شوی؟

بل په دې کتاب کې به قراني آیتونه، حدیثونه، شعرونه، عبرتناکې کیسې، ګټورې نکتې او بېلګې ستاسې مخې ته راشي او پر دې سربېره پکې د تجربه کارو د هغو نسخو لنډیز موندلای شئ، چې د ماتو زړونو،



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Teleg tps://t.me/afg

loaded By: Afghan Salar Library

غمجنو نفسونو او د اندېښمنو روحونو لپاره يې وړاندې کړي دي.

دا ليکنه تاسې ته د ډاډ، خوښۍ او نېکمرغۍ پيغام دربښي او تاسې دې ته هڅوي، چې له ژونده خوند واخلئ او ښه په خوښۍ يې تېر کړئ او د دې تر څنګ به تاسې ته دا هم وښيي، چې د زمان، مکان، ژوند، کاينات او له خلکو سره په تعامل کې له فطرت سره د مخالفت پايله څه کېداى شي.

دا کتاب ستاسې د فطرت خرابېدو، له نېغې لارې نه د اوښتو او له ژونده د بېزارۍ مخنيوى کوي، په دې مانا چې د دې کتاب لارښوونې به دې زړه او روح ته ښکته شي او وخت په وخت به درته غږ کوي، چې د ښو پايلو په پامنيوي پر خپلو وړتياوو باوري شه او لا يې پر مخ بوځه، د ژوندانه ترخه يادونه او غمونه هېر کړه؛ خو د دې لړۍ په پيل کې د ځينو اړينو خبرو پامنيوى ضروري دى.

١: د کتاب موخه ښه ژوند، ډاډ، د سينې پراخي او د يوه روښانه راتلونکي تمه پيدا کول دي، چې په دې کې د الله تعالىٰ لورنه، پر هغه توکل، ښه ګمان او پر تقدير د ايمان يادښت دى، د دې پايله دا ده چې د ننني ورځې په فکر کې شه، د راتلونکې په اړه مه اندېښمن کېږه، د الله تعالىٰ نعمتونه او پېرزوينې را په زړه کړه او شکر پرې اوباسه.

٢: په دې کتاب کې د موضوع اړوند قراني آيتونه، نبوي حديثونه، عبرتناکې کيسې، بېلګې، اغېزناکه شعرونه، د پوهانو او طبيبانو وېناوې او ورځنۍ تجربې راټولې شوې دي، چې ډېرې ګټورې او د کار خبرې دي، هسې سرخوږوونکې نصيحت، فکري عياشي او سياسي نظربازي نه ده، بلکې د انساني ژوند په ښه کولو ټينګار کوي.

٣: که څه هم دا کتاب د مسلمانانو او نامسلمانو دواړو لپاره ګټور دى؛ خو د انساني احساساتو او اروا په اړه په خبرو اترو کې مې دين، فطرت او رباني منهج په پام کې نيولى دى.

https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

٤: په دې کتاب کې د لوېدیځوالو او ختیځوالو ویناییزې ملغلرې پرتې دي
او دا مې یوازې په دې موخه راخیستې، لکه چې ویل کېږي "پوهه
مؤمن ورک شوی شی دی، که یې هر چېرته مونده کړي؛ نو تر ټولو
ډېر حقدار یې همدا دی"

٥: د لوستونکیو د اسانتیا په پامنیوي په دې کتاب کې ځانګړې حواشي نه
دي کارېدلې، بلکې په کوم ځای کې، چې اړتیا محسوس شوې؛ نو په
متن کې دننه د ماخذ یادونه شوې، د دې لپاره چې د لوستونکي د
لوست لړۍ ونه شلېږي.

٦: همدا شان په ماخذ کې د جز، مخ او شمارې یادونه نه ده شوې او ما نه
همدا لار ګټوره ښکاره شوې، ځکه مې کله نا کله له ماخذ نه بشپړ
عبارت راخیستی او کله مې بل معنی مفهوم راخیستی.

٧: د ایت شمېرې او د حدیثونو د تخریج په راوړلو مې د کتاب د حجم ډېرولو
هڅه نه ده کړې، سره له دې چې که په کوم حدیث کې څه کمزورتیا
وي؛ نو هغه مې په ګوته کړې؛ خو د صحیح او حسن حدیث درجې
مې کله بیان کړې او کله مې پرې چوپتیا غوره کړې، ځکه چې د
ضعف له کړۍ نه ووت؛ نو بیا د عمل وړ دی، هغه حسن وي او که
صحیح او دا ټولې چارې یو د لنډون په پامنیوي تر سره شوي او بل دا
چې لوستونکی له تکراره وساتل شي.

٨: لوستونکی به په دې کتاب کې د ځینو مضامینو او معانیو تکرار
محسوس کړي؛ خو دغه مضامین پر بېلا بېلو سبکونو بیان شوي او
دغه هر څه د دې لپاره، چې خبره د لوستونکي مغزو ته ښه ورښکته
شي او په همدې موخه په قران کریم کې هم همدا سبک کارېدلی دی.



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Teleg[...]ps://t.me/afg[...]

d By: Afghan Salar Library


دا یو څو خبرې وې، چې د لوستونکي مخې ته کېښودل یې ضروري وو او که لوستونکی د دغو خبرو په پامنیوي کتاب مطالعه کړي؛ نو هیله من یم، چې دېره ګټه به ترې واخلي او د دې کتاب په اړه به د ښې پرېکړې کولو جوګه شي.

د دې کتاب مخاطب ټول دي، کومه څانګړې ډله او یا د کوم څانګړي هېواد او ښار خلک نه دي، بلکې هر هغه څوک دی، چې د ښه ژوندانه پلټونکی وي، لکه چې یو شاعر وایي:

"ما په دې کې داسې ملغلرې پیلې دي، چې خپله ځلېږي او د خپلې ځلا څرګندولو لپاره لمر او سپوږمۍ ته اړتیا نه لري، ځکه چې د دې سترګې کودګرې دي او تندی یې د هندي تورې په څېر ځلېږي."

عائض بن عبدالله القرني


s://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

## ۱ يا الله!

﴿يَسْـَٔلُهُۥ مَن فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۚ كُلَّ يَوْمٍ هُوَ فِى شَأْنٍ ۝﴾

"د اسمانونو او ځمکو ټول مخلوق له همدې الله تعالی نه غوښتنې کوي او هغه هره ورځ په يوه بېل شان کې وي."

کله چې په درياب کې توپان راشي او د درياب اوبه په څپو شي، تونده هواګانې را والوځي؛ نو بېړۍ وان او ورسره سپاره خلک په يوه خوله همدې ذات ته په چيغو سر کېږي او پر ژبو يې د يا الله! يا الله! ناره وي.

که لاروی او يا کاروانونه په شاړو دښتو کې لار ورکه کړي؛ نو هم همدا الله تعالی رابلي.

کله چې پر طلبګارو ټولې دروازې وتړل شي، غوښتونکيو ته څه نه ورکړ کېږي او څوک يې فرياد نه اوري؛ نو هغوی الله تعالی رابولي او الله تعالی په هر حال د خپل بنده فرياد اوري.

کله چې ځمکه له خپلې ټولې پراخۍ سره دربانديې تنګه شي، له غم او اندېښنې نه دې سا راخپه شي؛ نو الله تعالی ته غږ کړه او هغه راوبله، لکه يو شاعر وايي:

"کله چې د زمانې مصيبتونو را لاندې کړم او د خلاصې لار مې ورکه شوه؛ نو نيمه شپه را پاڅېدم او خپل رب ته په زاريو شوم، د هغې له برکته مې راتلونکې هره ورځ له خوښۍ ډکه او روښانه شوه"

ښې او غوره کلمې بره الله تعالی ته خېژي همدا شان له زړه نه دعا،



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

مظلومې اوښکې، له درده زړېږوي دا ټول الله تعالیٰ ته رسېږي، د اړتيا پر مهال د نيمو شپو په دعاوو کې هماغه ذات ته لاسونه لپه کېږي، په ستونزمنو حالاتو کې سترګې هماغه لور ته ور اوړي او په پېښو کې هماغه ذات ته فرياد کېږي.

په سخته کې همدې الله تعالیٰ ته زاري او فرياد کېږي، زړه او روح په الله تعالیٰ ډاډمنېږي، احساسات او اعصاب په دې سره ېخېږي، تللی عقل بېرته راګرځي او زړه پر دې ډاډ منېږي، چې الله تعالیٰ له خپل بنده سره د رحم چلن کوي.

الله تعالیٰ: خومره ښکلی او خوږ نوم دی، چې په زړه پورې سم تعبير لري، له الله تعالیٰ پرته په دې نامه بل څوک نشته او نه سيال لري، د ده د نامه په اخيستو زړونه باغ، باغ کېږي او له ټولو دنيوي اندېښنو نه بې پروا کېږي، يوازې د نامه په اخيستو کې يې دومره خوند او برکت دی ...

لکه يو شاعر وايي:

"ستا د جلال او قدوسيت د بيان لپاره به د الفاظو زېرمې ختمې شي؛ خو تعبير به يې بيا هم نيمګړی پاتې وي، ياني دغه تعبير د الفاظو د وس خبره نه ده."

## ۲ الله تعالیٰ سره د مينې لارې چارې

د الله تعالیٰ له وليانو نه نقل دي، چې په زړه کې د الله تعالیٰ د محبت پيدا کولو لارې چارې په لاندې ډول دي:

۱: د الله تعالیٰ پېرزوينې رايادول او پر هغې شکر کول.

۲: له نېکانو سره ناسته ولاړه، د هغوی حالات، پېښې او کتابونه لوستل.

۳: د ژوند په ټولو چارو کې د سنتو پامنيوی.


b[redacted]:https//www.f[redacted]k.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



مور ته الله تعالی فرمايي، چې تاسې له ما سره اړيکه ټينګه کړئ او زما شئ، بيا مور پر خپل کار ښه پوهېږو، تاسې ما راضي کړئ؛ نو زه به له تاسې خوښ شم، د دې داسې مثال دی، لکه يو پاچا او ولسمشر يوه لويه مېلمستيا وکړه، په هغې کې د هېواد ټولو اميرانو او ريسانو ګډون لاره، وزيرانو، ريسانو ټولو مېلمنو او کوربنو هماغه يو شان خواړه وخوړل، چې ورته چمتو شوي ول، په خوړو کې يې څه توپير نه و؛ خو مرتبې يې بېلابېلې وې.

## ۳ نېکمرغي

- په ايمان او نېک عمل کې د ښه ژوند راز نغښتی دی.
- پوهه او معرفت تر لاسه کړه، ديني کتابونه لوله! ځکه په دې سره غمونه او اندېښنې لرې کېږي.
- له ګناهونو توبه او باسه، د الله تعالی نافرماني پرېږده، ځکه دا ژوند تبا کوي.
- د قرآن کريم تلاوت ډېر کوه او تفسير يې هم مطالعه کوه.
- د الله تعالی ذکر ډېر کوه، ځکه په دې سره زړه ژوندی کېږي.
- له خلکو سره ښېګړه کوه، چې په دې کې د زړه سکون نغښتی دی.
- زړه له حسد او کينې نه پاک وساته، بې ځايه خبرې او له اړتيا ډېر خوراک کول پرېږده.
- د نن په فکر کې اوسه، تېر هېر کړه او د راتلونکي غمونه پر ځان مه باروه.
- په اندېښمنو حالاتو کې په ناوړه سوچونو پسې مه درومه.
- غوسه مه کوه! په هر حال صبر کوه او ځان له ښېښې سره اشنا کړه.
- ستونزې او مشکلات ځان ته مه ډېروه، بلکې ښه تدبير وکړه.
- په ستونزمنو حالاتو کې شته نعمتونه را ياد کړه، چې مصيبت درنه

[redacted]d By: Afghan Salar Library

سپک شي.

- بده خبره پخپله ویونکي ته زیان رسوي.
- له دنیوي تمې پرته له خلکو سره د الله لپاره ښه کوه!.
- په اندېښمنو حالاتو کې د یوه ښه کار په اړه فکر کوه او ځان په هغې کې بوختوه.
- د نن کار سبا ته مه پرېږده!.
- الله تعالی چې څه شتمني، روغتیا او داسې نور درکړي، پر هغې خوښ اوسه!
- له نږدې او لرې ټولو خپلوانو سره ښه چار چلن کوه.
- همېشه له الله تعالی نه د بښنې، عافیت او نېکو چارو وس غواړه!
- یو بزرګ فرمايي:

ما دوه داسې شیان زده کړي، چې د ژوندانه په ټولو ستونزو کې بې راته اساني رابښلې، له هغو نه یو "همت" او بل د "وخت پابندي" ده، د دغو دواړو شیانو په کارولو سره له لوېې نه لویه ستونزه اسانېږي او د ژوند په هر پړاو کې دغه دواړه شیان ازمول شوي دي.

## ٤ فکر وکړه او شکر وباسه!

که تاسې د الله تعالی درکړیو نعمتونو ته ځېر شئ؛ نو ځان به د الله سبحانه وتعالی په بې شمېره نعمتونو کې له سر نه تر پښو پورې ډوب ومومئ، لکه چې الله تعالی فرمايي:

﴿إِن تَعُدُّوا نِعْمَةَ اللَّهِ لَا تُحْصُوهَا إِنَّ اللَّهَ لَغَفُورٌ رَّحِيمٌ ○﴾

"که تاسې د الله تعالی د نعمتونو شمېرل وغواړئ؛ نو نه یې شئ


Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



شمېرلای حقیقت دا دی، چې هغه ډېر ښېونکی او مهربان دی.''

بره، ښکته، مخې ته، شا ته، له هر لوري پر تاسې الله تعالیٰ خپل نعمتونه لورولي دي، روغ بدن، سولیېز چاپېریال، کور، کالي، خوراکي او څښاکي توکي د موافقې هوا او اوبو شتون، سترګې، ژبه، لاس و پښې دا ټول څومره ارښانوونکي نعمتونه دي، یانې له تا سره ټوله نړۍ‌شته؛ خو پرې نه پوهېږې!.

﴿وَأَسْبَغَ عَلَيْكُمْ نِعَمَهُ ظَاهِرَةً وَبَاطِنَةً﴾

''خپل ښکاره او پټ نعمتونه یې پر تاسې تمام کړي دي.''

ته دوې سترګې، یوه ژبه، دوې شونډې، دوه لاسونه او دوې پښې هم لرې.

﴿فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ﴾

''نو تاسې به د خپل رب کوم کوم نعمت دروغ ګڼئ؟''

تاسې ته دا څه وړه خبره ښکاري، چې سړی دې پر خپلو پښو ګرځي!؟ ډېر داسې خلک شته له دغه نعمته بې برخې دي او پر خپلو پښو د ګرځېدو په ارمان وي.

ته څومره په خواره خوب ویده یې؛ خو څومره داسې سترګې شته، چې د درد او یا څه ستونزې له امله د خوب لارې څاري او که الله تعالیٰ مه کړه! غمونه او اندېښنې دې له سترګو خوبونه وتښتوي، ته بیا ویده کېدای شې!؟ همداشان تا خپله ګېډه له خوندورو خوړو ډکه کړه؛ خو څومره داسې خلک شته، چې د ناروغۍ او یا نېستۍ له امله له خوندورو خوړو نه بې برخې دي او که د هغوی په څېر ستا ګېډه هم له ناروغیو او دردونو ډکه شي؛ نو څنګه به دې خوراک، څښاک ته زړه وشي؟!

الله تعالیٰ درته اوریز ځواک (١) درکړی، چې له امله یې اورېدل کولای

---

١ قوت سمعي



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

[redacted]ded By: Afghan Salar Library



شې او څومره داسې خلک شته، چې ښه روغ جوړ غوږونه لري؛ خو اوربدل پرې نشي کولای، تا ته یې لیدونکې سترګې درکړې دي سره له دې، چې تا به په تولنه کې څومره ړانده لیدلي وي، چې د لیدو په ارمان وي. دې ته فکر وکړه، چې اوربدل کولای شې کوڼ نه یې، لیدل کولای شې ړوند نه یې، په بدن روغ یې، کندم نه یې، عقلمن یې، لېونی نه یې، له څومره سترو امتیازاتو برخمن یې!

دا روایه چې د احد د غره هومره پر سرو زرو به دې یوه سترګه ورکړې؟!

د یوې سترې مانۍ په بدل کې به د ژبې پرېکولو ته غاړه کېږدې؟!

د سر له ویښتو نه د پښو تر ګوتو پورې د الله تعالیٰ په بې شمېره لورنو کې نغښتل شوی یې؛ خو ته پرې نه پوهېږې او بیا هم په غمونو او اندېښنو کې لاهانده ژوند کوې سره له دې، چې په تن روغ او په ګېډه موړ یې، ولې د مفقود په اړه اندېښنه او پر شته شکر نه کاږې؟!

په مالي تاوان خپه؛ خو پر الهي ډالیو او نعمتونو بې پروا پروت یې، دې ته ځیر شه او شکر پرې وکاږه، ځکه قرآن کریم دې لور ته بلنه کوي، لکه چې فرمايي:

﴿وَفِيٓ أَنفُسِكُمۡۚ أَفَلَا تُبۡصِرُونَ﴾

"او بخپله ستاسې په خپل وجود کې ډېرې نښې شته ایا تاسې په ځیرکتونکي نه یئ؟"

د ځان، خپلو خپلوانو او چاپېریال په اړه ښه سوچ وکړه؛ نو هر څه به در ته په ډاګه شي.

﴿يَعۡرِفُونَ نِعۡمَتَ ٱللَّهِ ثُمَّ يُنكِرُونَهَا﴾

"دوی د الله تعالیٰ ښېګنه پېژني، بیا ورڅخه منکرېږي."


[redacted]ok:https://www[redacted]ok.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



## ۵ تېر په هېر

تېر را په زړه کول او په اړه يې په زړه کې کرل ربېل ستره ناپوهي او لېونتوب دی، ځکه داسې سوچ ښې ارادې وژني، همدا لامل دی چې هوښياران تېرې خبرې زېرمه کوي، زنځيرونه پرې اړوي او بيا يې نه يادوي، ځکه چې تېر شي؛ نو هېر شي.[۲]

پوهان وايي د تېرو خبرو په يادولو اندېښمن کېدل بې ګټې دي، ځکه مړي را ژوندي کول، لمر بېرته ختيځ ته او ماشوم د مور ګېډې ته ستنول، شيده بېرته تيپونو (سينو) ته او ښکې بېرته سترګو ته ستنول ستاسې په وس کې نشته او هوښيارتيا دا ده، چې اوسنی وخت را کلک کړئ او په تېرو پسې ونه ژاړئ، ځکه په تېرو غمونو ژړل داسې دي، لکه چې په روانه سرې شا ته ګوري او تاسې پوهېږئ، چې کاروان همېشه مخ په وړاندې درومي؛ نو تاسې هم د ژوند د لارې مخالفت مه کوئ!.

## ٦ ننني ورځ

د عمر رضي الله عنه وينا ده، کله چې سبا راپاڅئ؛ نو د ماښام انتظار مه کوئ، ځکه ستاسې همدغه ورځ ده.

مه په تېرو سوچونو کې ډوبېږئ او مه د راتلونکې په اړه دومره

۲ : لکه په پښتو کې متل دی چې: ''توکلې لاړې نه راګرځي''



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ [redacted]egram:https://t.me/[redacted]

Uploaded By: Afghan Salar Library


اندېښمن کېږئ، څکه ستاسې ژوند نننۍ ورځ ده، که خپل ټول فکر نننۍ ورځې ته راټول کړئ؛ نو د کلونو کار پکې کولای شئ!

پر نننۍ ورځ خوښ شئ، پر خپله روزۍ او کور صبر او شکر وکړئ او د الله تعالیٰ پر خوښۍ ځان خوشحاله کړئ.

﴿فَخُذْ مَآ اٰتَيْتُكَ وَكُنْ مِّنَ الشّٰكِرِيْنَ﴾

"نو څه چې زه درکړم هغه واخله او شکر پرې ادا کړه."

تاسې ته پکار ده چې په خپلو زړونو او مغزو کې د دې عبارت "نننۍ ورځ ستاسې ده" انځور کېښوئ.

که تاسې نن خوندور خواړه او توده ډوډۍ خوړلې وي؛ نو د تېرې ورځې لوږه او سره سپوره تاسې ته څه زیان اړولای شي!؟ خپله نننۍ ورځ د ګټورو چارو په ترسره کولو کې تېره کړه! او هسې يې مه ضايع کوه!

په حديث شريف کې دي، هر ورځ چې لمر راوخېژي؛ نو ورځ دا اعلان کوي "که نن ورځ څه ښه کار کولای شې؛ نو ويې کړه، څکه چې زه بيا نه راځم" او د نن کار سبا ته نه دي پرېښودل پکار، څکه په تېر پښېمانتيا څه ګټه نه لري او د راتلونکي په اړه د خوبونو ليدل نه دي پکار، هغه هسې وهمونه او د چا په وس کې نه وي؛ نو څکه که څه کول غواړې همدا نن يې وکړه!

که ته د خپل ځان په اړه پولادي هوډ ولرې؛ نو هغه به تا دې نظريې ته سرکوزى کړي چې:

"زما ژوند فقط همدغه يوه ورځ ده"

له دې امله نننۍ ورځ شېبه په شېبه د خپل زړه او اندامونو پر تزکيه او د خپلو اعمالو پر سمونه بوخت اوسه او دا ووايه، چې همدا نن به زه ژوندى يم، د خپل رب په عبادت کې به کوښښ وکړم او همدا نن ورځ به زه په خپل

Downloaded By: Afghan Salar Library



زړه کې د فضیلت نیالګی کېنوم او د شرارت ونه به ورځخه له بېخه وباسم.

همدا نن ورځ به زه ژوندی یم، نن باید له خلکو سره ښېګړه وکړم، د مسلمان ورور په جنازې پسې به لاړ شم، د کوم ناروغ پوښتنه به وکړم، کوم وړی به موړ کړم او له کوم بېوزله نه به دفاع وکړم، پر کشرانو شفقت او د مشرانو عزت به وکړم.

هو! همدا نن ورځ به زه ژوندی یم؛ خو ای ماضي! د لمر له پرېوتو سره ته هم ولاړې، ستا پر تلو به ژړا ونه کړم اوس مې ته نشې لیدلای چې ستا د بیا راتلو لپاره به ودرېږم، اوس ته د همېشه لپاره لاړې او ای مستقبله! ته خو په یوه پټه او غیبي نړۍ کې استوګن یې، ستا په اړه خپل نفس له وهمونو سره نشم تړلای، سبا هېڅ هم نه دی، ځکه هغه لا راغلی نه دی.

ای انسانه! د نېکمرغۍ په قاموس کې همدغه نننۍ ورځ ارزښتمنه ده او ټولو فضایلو یې راسمبال کړه.

## ۷ مستقبل ته راتلو پرېږده

﴿اَتٰۤى اَمْرُ اللّٰهِ فَلَا تَسْتَعْجِلُوْهُ﴾

"د الله تعالٰی فیصله راغله اوس د هغې لپاره تلوار مه کوئ."

بېړه او تادي مه کوئ، ایا تاسې له پیدابښت نه مخکې بچې غواړئ؟ مېوه له پخېدو نه مخکې خوړل خوښوئ؟ سبا راتلونکی دی؛ خو څه حقیقت لري؟ ځکه نه یې وجود شته او نه یې څه خوند.

موږ باید په حال کې ځانونه بوخت کړو، نه دا چې له راتلونکیو ستونزو ودار شو، ځکه الله تعالٰی پوهېږي، چې هغه مهال را لاندې کولای شو که



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

[redacted]y: Afghan Salar Library


نه؟ ځکه معلومه نه ده، چې سبانۍ ورځ لیدلای شو که نه؟! نېکمرغي او بدمرغي بې ترلاسه کولای شو او که نه؟! مهمه دا ده چې سبانۍ ورځ په یوه غیبي نړۍ کې پرته ده؛ پله تر رسېدو له مخه پر پله تلل ناپوهي ده، ښایي پله ته تر رسېدو له مخه پل ونړېږي او یا موږ ور ونه رسېږو او دا هم کېدای شي چې ور ورسېږو؛ خو روغ جوړ پرې پورې نه وځو!!

د راتلونکې په اړه ذهن ته پراخه ځای ورکول او د یوه غیبي کتاب پرانستل شرعاً او عقلاً ناوړه کار دی، ځکه دا له سیوري سره پهلواني ده، په دې نړۍ کې زیاتره خلک د خپل راتلونکي په اړه د لوږې او تندې، فقر او نېستۍ، غم او درد اټکلونه کوي، چې دغه ټولې شیطاني وسوسې او دسیسې دي، لکه چې الله تعالی فرمايي:

﴿اَلشَّيۡطٰنُ يَعِدُكُمُ الۡفَقۡرَ وَ يَاۡمُرُكُمۡ بِالۡفَحۡشَآءِ ۚ وَ اللّٰهُ يَعِدُكُمۡ مَّغۡفِرَةً مِّنۡهُ وَفَضۡلًا ؕ وَاللّٰهُ وَاسِعٌ عَلِيۡمٌ ۖۙ﴾

"شیطان تاسې له فقر نه وېروي او شرمناك چلن غوره کولو ته مو هڅوي، خو الله تعالی خپل بخشش او پېرزوینې ته تاسې هیله من کوي، الله تعالی د ډېر پراخ لاس خاوند او پوه ذات دی."

زیاتره خلک پر دې ژاړي، چې سبا به وږی او تږی او یا په غمونو کې ښکېل شي، د چا ژوند چې د بل ذات په واک کې وي، هغه ته نه ښايي چې خپل ځان له یوه نامعلوم سبا سره ګرو کړي.

سبا تر هغې پرېږده چې راشي، د سبا د حوادثو په اړه مه پوښته، ځکه ته همدا نن ورځ بوخت یې! ننني ورځ نغده او سبانۍ نسیه ده؛ نو تعجب پر هغه چا، چې نغده پر نسیه بدلوي او هغه هم د داسې ورځې په اړه، چې لمر یې لا نه دی راختلی.


[redacted]:https://www.face[redacted]om/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



## ۸ په ښېګړه کې د زړه ښتينې خوښي نغښتې ده

په اندېښنو کې له خلکو سره ښېګړه کوه! له بېچاره سره مرسته کوه، وږي ته خواړه ورکوه او د ناروغ پوښتنه کوه! چې نېکمرغي دې په برخه شي.

له خلکو سره په ورين تندي مخ کېدل کټ مټ نېکي ده، همدا شان په حديث شريف کې دي، يوه بد لمنه ښځه الله تعالٰی پر دې ببښلې وه، چې پر تږي سپي يې اوبه څښولې وې او د دغې نېکۍ له برکته ورته جنت ورکړ شو.

حسن بصري رحمه الله فرمايي:

"يوه صحابي يوه داسې ښځه وليده، چې تر اسلام له مخه يې پېژنده، له ښځې سره يې څه خبرې اترې وکړې او ترې روان شو؛ خو په تلو کې يې په ښځه پسې شا ته ورکتل، چې له دېواله سره په جنګ شو او پر مخ د خوږېدو اثر پاتې شو، کله چې رسول الله ﷺ ته ورغی او خپله کيسه يې ورته وکړه؛ نو رسول الله ﷺ ورته وفرمايل، کله چې الله تعالٰی چا ته د خير اراده وکړي؛ نو په دنيا کې يې ګناهونه رژوي."

## ۹ هوښياران شئ

ناپوه خلک الله تعالٰی ته ښکنځل کوي؛ نو زه او ته لا څوک يو، همدا شان که زه او ته پوهه تر لاسه کړو او يا کومې ښې چوکۍ ته ورسېږو؛ نو



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:ht

همدغه نا پوه خلک به بیا پر موږ هم نیوکې کوي او ردې بدې به راپسې وايي، په زړونو نیمګړتیاوې به په موږ کې رابرسېره کوي.

که ښه کار کوې؛ نو هم دغسې خلک دې په خوله کې ښه نه اروي، تر هغې چې له هغه ښه کاره لاس په سر نشې؛ نو ځکه هوښیاران وايي، چې پر ځمکه ناست شخص له غورځېدو خوندي وي.

ناپوه خلک پردې غوسه دي، چې ته تر هغوی ډېره پوهه لرې او یا دې ډېره شتمني تر لاسه کړې؛ نو ځکه دوی پر تا نیوکې کوي او دوی دې تر هغې نه ښني، چې له هغو ټولو نعمتونو لاس په سر نشې، چې الله تعالی دربانديې لورولي دي او ټولې ښېګڼې له ځانه ایسته نه کړې، ناپوه خلک همدا غواړي؛ خو ته پښې کلکې لګوه! ځکه که د دوی په خبرو کې راغلې؛ نو خپل ژوند به برباد کړې.

تاسې د داسې خلکو ژبې نشئ ترلای، هو! د دوی خبرې، ناوړه نیوکې او ردې بدې په خپله سینه کې ښخولای شئ، هغه داسې چې له سره ورته وخت مه ورکوئ او پر خبرو یې باک مه کوئ، د دې پر ځای چې د هغوی پر نیوکو خپل ماغزه وسوځوئ او خپل ارزښتمن وخت خراب کړئ، دغه ارزښتمن وخت د پوهې په ترلاسه کولو کې ولګوئ، ښه عادتونه راخپل کړئ او که تاسې غواړئ، چې په ټولو خلکو کې مقبول او د هر چا د سترګو تور شئ؛ نو دا ناشونې ده، ځکه همېشه به دې یو څوک په مخالفت کې وي.

## ۱۰ خلکو نه د منښې تمه مه کوه!

الله سبحانه وتعالی بندګان د دې لپاره پیدا کړي، چې د هغه عبادت وکړي، روزي د دې لپاره ورکوي، چې شکر یې وکړي؛ خو زیاتره بنده ګان

Downloaded By: Afghan Salar Library



الله تعالیٰ پرېږدي او د غیر الله عبادتونه او منني کوي، مانا دا چې انکار، زیاتي، جفا او ناشکري په انساني خټه کې اغښل شوي صفتونه دي، له دې امله که له چا سره څه ښېګڼه وکړې او هغه دې ښېګړه له پامه وغورځوي؛ نو دومره غمجنېدل پرې نه دي پکار، بلکې کړې نېکي هېره کړه، چې ګڼې له چا سره دې څه ښېګړه کړې، څکه تا چې د کوم خالق او رب لپاره نېکي کړې، هغه ډېر قدردان دی او ستا دغه ښېګړه یې په یوه لویه اعمالنامه کې لیکلې، له هغه سره یې ډېره لویه بدله شته او هغه ذات د چا ښېګړې له پامه نه غورځوي.

له دې امله پکار ده، چې له هر چا سره ښېګړه یوازې د الله لپاره وشي، څکه په داسې صورت کې د یو چا سرغړاوی او مخ اړونه تا نشي زیانمنولای.

نړۍ‌ستاسې مخې ته یو پرانستی کتاب دی، که یې ولولئ؛ نو دا کټ مټ د هماغه پلار کیسه ده چې له بچي سره څومره ستونزې وګالي، د هغه د ښوونې روزنې، خوراک، څښاک او جامو لپاره خپلې ټولې خوښۍ تر پښو لاندې کړې؛ خو کله یې چې همدغه بچی را لوی شي، بیا د مور و پلار په نافرمانۍ پسې متې راونغاړي؛ نو د پلار خوار په زړه به یې څه تېرېږي؛ خو څان ته پردې خبره ډاډ ورکوي، چې دغه هر څه یې د الله تعالیٰ لپاره کړي او هغه به یې بدله ورکړي.

د الله جل جلاله له دره هېڅ غوښتونکی بېنوا نه راستنېږي، الله جل جلاله ارومرو د غوښتونکي غوښتنه پوره کوي، څکه چې د هغه خزانې پراخې دي او په ورکړه نه تشېږي؛ نو موږ ته پکار ده، چې له هماغه نه یې وغواړو او پر راکړیو نعمتونو یې شکر وکړو، څکه په دې لړ کې دوه مقامه دي، چې یو یې شکر او بل یې صبر دی او پر دې دواړو له موږ سره د کامیابۍ ژمنه شوې، لکه چې الله تعالیٰ فرمايي:

﴿لَئِن شَكَرْتُمْ لَأَزِيدَنَّكُمْ﴾



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

[redacted]aded By: Afghan Salar Library


"که تاسې شکر وباسئ؛ نو پر تاسې به لا زياته پېرزوينه وکړم."

همدا شان له صبر سره يې ملتيا ښوولې ده:

﴿إِنَّ اللَّهَ مَعَ الصَّابِرِينَ﴾

"الله تعالی د صبرناکو ملګری دی."

## ۱۱ له وزګارتيا نه ګټه پورته کړه!

د وزګارو خلګو ماغزه هم وزګار وي، ځکه په عادي چارو کې ځانونه بوختوي، په ژوندانه کې وزګار او بېکاره خلک هماغه دي، چې همېشه په تاويلو ماويلو سر وي، چې دغه هر څه خپله د وزګارتيا زېږنده ده.

په وزګار وخت کې که دې ځان بوخت نه کړ؛ نو غمونو او اندېښنو ته ځان چمتو کړه، ځکه وزګارتيا تېر يادونه را تازه کوي او انسان په اندېښنو کې ښکېلوي، په دې اړه د هوښيارانو سپارښتنه دا ده، چې وزګار مه کېنه، که نور هېڅ نه وي؛ نو ځان په نېکو چارو کې بوخت وساته، په لمونځونو، تسبيحاتو، تلاوت او د ديني کتابونو په مطالعه ځان بوخت کړه.

﴿رَضُوا بِأَنْ يَكُونُوا مَعَ الْخَوَالِفِ﴾

"هغوی په کور کې د ناستو کسانو په جمله کې شاملېدل خوښ کړل."

که بېکاره او وزګار ناست وې، نو دغه وزګارتيا به درته زړې، اوسنۍ او د راتلونکيو ټولو اندېښنو دوسيې پرانيزي!

وزګارتيا يو داسې عذاب دی، چې انسان د غفلت په زندان کې بندي کوي او پايله يې لېونتوب دی.


Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



د وزګارې ناستې پر ځای نورو ته څه کته ورسوه، تا ته زما همدا سپارښتنه ده، که وزګارتیا دې په بوختیا بدله کړه؛ نو د نړۍ (۵۰٪) طبیبان به دې د نېکمرغۍ ضمانت وکړي.

وګوره! بزګران او نان وایان د اشعارو په زمزمه سهار وختي خپل کار ته دروي؛ خو ته لا د غفلت پر بستره پروت خپلې سترګې زبېښې.

## ۱۲ پردۍ پېښې مه کوه!

پردۍ پېښې مه کوه! او په نورو کې ځان مه ویلې کوه! ځکه ډېر خلک په ناسته ولاړه، خبرو اترو او چار چلن کې پردۍ تقلید کوي، چې دوی هم د هماغه چا غونډې ښکاره شي، چې دوی یې تقلید کوي، همدا لامل دی، چې د دغسې خلکو هر کار له تکلفه ډک وي او دا یو تلپاتې عذاب دی.

له آدم عليه السلام راهیسې تر ننه پورې دوه انسانان یو ډول نه دي تېر شوي، چې په کړه وړه کې کټ مټ یو شان وي؛ نو ته کله د بل په شان کېدای شي، ځکه ته بېل شی یې او په تاریخ کې ساری نلرې، زید، عمر، بکر نور څیزونه دي، ته له هغو جلا یې، د هغوی تقلید مه کوه! پر خپلو پښو ودرېږه او حرکت وکړه!.

﴿وَلِكُلٍّ وِجْهَةٌ هُوَ مُوَلِّيهَا فَاسْتَبِقُوا الْخَيْرَاتِ﴾

"د هر چا لپاره یو لوری دی، چې هغه ته مخ اړوي؛ نو تاسې د ښېګنو په لوري په ځغاسته شئ!."

خپله خپلواکي او معیشیت له لاسه مه ورکوه! د الهي وحې له اصولو سره سم خپل ځان مهذب کړه؛ ستا خوند، رنګ بېل دی او د نورو بېل، هر څوک



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

په خپل رنګ پېژندلای شي او زموږ د رنګ، ژبې قدرت او طاقت اختلاف د الله تعالٰی د قدرت له نښانو څخه ګڼل کېږي، له دې نه مخالفت مه کوه!.

## ۱۳ قضا او قدر

پر تا راغلې مصیبت نورو ته او پردې‌ستونزې تا ته څه زیان نشي اړولای، ځکه قلم وچ شوی، مخونه او پاڼې پورې شوې او تقدیر لیکل شوی دی.

﴿مَآ أَصَابَ مِن مُّصِيبَةٍ فِى ٱلْأَرْضِ وَلَا فِىٓ أَنفُسِكُمْ إِلَّا فِى كِتَٰبٍ مِّن قَبْلِ أَن نَّبْرَأَهَآ﴾

"هېڅ مصیبت داسې نشته، چې په ځمکه کې یا ستاسې پر خپل نفس نازلېږي او موږ هغه له پیدا کولو نه مخکې په یوه کتاب کې نه وي لیکلی."

چې دا هر څه مخکې له مخکې په تقدیر کې لیکل شوي دي؛ نو بیا د یوه نږدې خپلوان پر مړینه او یا مالي زیان باندې دومره مه اندېښمن کېږه! بلکې له صبر او شکر نه کار واخله، چې ګناهونه دې وبښل شي او الله تعالٰی درڅخه راضي شي او په دې سوچ کې مه ډوبېږه! ګنې را روان مصیبتونه او تویانونه به تم کړای شې او یا به ښیښه له ماتېدو وژغورلای شې، بلکې الله تعالٰی چې څه غواړي هماغه به کېږي.

﴿لَّن يُصِيبَنَآ إِلَّا مَا كَتَبَ ٱللَّهُ لَنَا﴾

"موږ ته هېڅکله څه (ضرر یا ښېګڼه) نه رسېږي مګر هغه چې الله تعالٰی راته لیکلي دي."



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



﴿لَا يُسْـَٔلُ عَمَّا يَفْعَلُ وَهُمْ يُسْـَٔلُونَ ۝﴾

"هغه د خپلو چارو لپاره (د چا په وړاندې) مسوول نه دی او دوی
ټول مسوول دي."

اعصاب به دې ارام او زړه به دې هله ډاډه شي، چې د الله تعالیٰ پر قضاء
او تقدیر بشپړ باور ولرې.

پر دې مه خپه کېږه! چې ته نړېدونکې دېوال او روانې اوبه ودرولای
نشې او را الوتی باد ایسارولای نشې، د الله تعالیٰ پرېکړه نافذه ده:

﴿فَمَن شَآءَ فَلْيُؤْمِن وَمَن شَآءَ فَلْيَكْفُرْ﴾

"اوس که د چا زړه غواړي ودې یې مني او که د چا زړه غواړي منکر
دې شي."

د الله تعالیٰ قضاء او تقدیر ته په سړه سینه ځان وسپاره او دا مه وایه چې
که داسې مې کړي وای؛ نو داسې به شوې وو! بلکې داسې وایه، چې همدا د
الله تعالیٰ تقدیر او پرېکړه وه.

## ۱٤ په تنګسه پسې اسانې وي

ای انسانه! تر لوږې او تندې وروسته مړښت او خړوبېدل شته، له بې
خوبۍ نه پس خوب او په ناروغۍ پسې روغتیا شته! ورک به را پیدا شي، لار
ورکی به لار ومومي او په تیاره پسې رڼا راځي.

شپې ته ووایه، چې سباون به دې دغه تور پلو در ټول کړي، د غرونو
لوړې او ژورې به ځلانده شي.

اندېښمن ته زېری ورکړه، چې ناڅاپي خوښي به دې ارومرو لمن رانیسي.



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

کله چې صحرا او دښته درته اوږده شي او لاپسې اوږدېږي؛ نو پر دې باوري شه، چې د دغې غځېدلې صحرا تر شا شنه باغونه او تکې شنې درې شته چې د نندارچيانو د ورتلو لارې څاري.

پرې چې خومره سختېږي، هومره شلېدو ته نږدې کېږي همدا راز اوښکې په موسکا او ډار په امن بدلېدلای شي، خپل لاس مه تنګوه! ځکه حالات تل همداسې نه وي او د مصيبت د ختمېدو انتظار هم عبادت دی.

تاسې ته معلومه ده، چې د نمرود بل کړې اور ابراهيمﷺ ونه سوځولای شو، ځکه چې الله تعالی ورته د سلامتيا کړکۍ پرانستې وه، لکه چې الله تعالی فرمايي:

﴿قُلْنَا يَٰنَارُ كُونِى بَرْدًا وَسَلَٰمًا عَلَىٰٓ إِبْرَٰهِيمَ ۝﴾

"مونږ ورته وويل، چې ای اوره! پر ابراهيم يخ شه او سلامتيا جوړ شه."

د قلزم بحر ته ګوره موسیﷺ يې غرق نه کړای شو، ځکه چې الله تعالی ورته د نه ډوبولو امر کړی و:

﴿قَالَ كَلَّآ ۖ إِنَّ مَعِىَ رَبِّى سَيَهْدِينِ ۝﴾

"موسیﷺ وويل: هېڅکله داسې نه ده، بلکې له ما سره زما رب دی، هغه به ارومرو ما ته لارښوونه وکړي."

پيغمبرﷺ د ثور په سمڅه کې خپل ملګري ته وويل، چې مه خپه کېږه! الله تعالی له مونږ سره مل دی.

ځينې غلامانو ته تر خپلې غلامۍ او تنګسې پرته نور څه نه تر سترګو کېږي، ځکه هغوی کور ته ګوري د کور دروازې ته نه ګوري، کوټې ته ګوري؛ خو دکوټې کړکۍ ته نه ګوري، لږ سر راپورته کړئ، سترګې وغړوئ او د دغو دېوالونو تر شا هم د فکر نېلی وځغلوئ، دغه پراخه ځمکه پر ځان


book:https://www.f[redacted]k.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



مه راتنګوئ، حال پر خپل حال نشي پاتې کېدلای او سوکالۍ ته انتظار ویستل پر خپل ځای غوره عبادت دی.

ورځې سلواغو، زمانه څاګانو او شپې رسیو ته ورته دي، غیب پټ دی، حکیم ذات هره ورځ په بېل بېل شان کې وي، کېدای شي الله تعالیٰ تر دې وروسته څه اسانتیا درباندې راولي.

﴿إِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا ۝﴾

"رښتیا چې له سختۍ سره اساني هم شته."

## ۱۵ له ترشو نه خواږه شربت جوړ کړه

پوه او هوښیار هغه څوک دی، چې تاوانونه پر ګټو بدلوي او ناپوه خلک ځانته یو مصیبت دوه کوي، لکه د اسلام ستر پېغمبرﷺ چې له مکې نه وویستل شو؛ نو مدینې ته لاړ او هلته یې داسې دولت جوړ کړ، چې د تاریخ سترګې یې مړې کړې.

احمد بن حنبل رحمه الله زندان ته وا چول شو او پر دُرو ووهل شو؛ نو د حدیثو امام ترې جوړ شه.

شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله بند ته واچول شو او چې راخلاص شو؛ نو د علم دروازې یې پرانستلې.

سرخي د څاه تل ته وغورځول شو، بېرته د فقهې له شل ټوکیز کتابه سره راوخووت.

ابن الاثیر په خپل کور کې تر ځار لاندې شو، هلته یې جامع الاصول او النهایه ولیکل.



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

By: Afghan Salar Library


ابن الجوزي رحمه الله له بغداده وشړل شو، هلته يې سبعه قرائت تجويد کړ.

مالک بن الريب که د مرګ په تبه ونيول شو؛ نو يوه داسې قصيده يې هم وويله، چې د عباسي دولت د ټولو شاعرانو د ديوانونو ځواب وايي.

د ابن ذويب الهذلي اوه ځامن په يوه نښته کې له مينځه ولاړل او له دغه غمه يې داسې مرثيه يې وويله، چې زمانه ورته ګوته په خوله او تاريخ ورته چکې ووهلې.

له دې امله د کوم آفت په رامنځته کېدو د هغه روښانه اړخونه وګوره، لکه که څوک د ليمو ترشې اوبه درکړي؛ نو ته پکې لږه بوره ور واچوه او که منګور درته ډالۍ کړی شي؛ نو ارزښتمن پوستکی يې په کار راوله، که لړم دې وچيچي؛ نو پوه شه، چې زهر به يې د مار د زهرو پر ضد درته ګټه ورسوي او ستونزمنو حالاتو کې له واکه مه وځئ، چې مېوه يې ترلاسه کړئ.

## عسى ان تكرهوا شيئا و هو خيرلكم

"کېدای شي تاسې يو شی بد ګڼئ او هغه ستاسې لپاره ښه وي"

د فرانسې له مشهور انقلابه مخکې د هغه هېواد دوه نامتو شاعران په بند محکوم شول، په دغو دواړو کې يو کس به په هر څه کې نېک فال نيوه او بل يې بدفاله و، بله ورځ دواړو په کړکۍ کې سر ښکاره کړ؛ نو نېک فاله کس ستورو ته په کتو وموسکل او بدفال نيونکي کس پر سرک دوړې او ګردونه وليدل؛ نو ايسته په ژړا شو.

وګوره د ژوندانه دغه دواړه نقطه نظر سره څومره توپير لري؟ له دې کيسې نه موخه دا ده، چې نړۍ يوازې له شره ډکه نه ده، بلکې په هر مصيبت کې ښه اړخونه هم وي، هغه يې کتل پکار دي.


Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



## ١٦ خوک به د يوه اندېښمن فرياد واوري؟

هغه کوم ذات دی، چې په اندېښنو او ستونزمنو حالاتو کې ورته لاسونه لپه کېږي، مخلوق ترې غوښتنې کوي، په ياد يې ژبې لمدې او په زړونوکې ځای لري؟!

هو! هغه ستر ذات الله سبحانه وتعالی دی، پر موږ او تاسې حق لري، چې په تنګسه او پراخۍ، غم او خوښۍ کې يوازې د هماغه په وړاندې د منښتې سرونه ښکته کړو، له هغه نه يې وغواړو او پر هغه باور وکړو، ځکه چې تر دې پرته بله چاره نشته او په داسې حال کې د الله تعالیٰ له لوري چټکې مرستې راځي، چې په هغې سره زموږ ستونزې هوارېږي او له لاسه وتلي نعمتونه بېرته ترلاسه کېدای شي، ناروغ شفا مومي او بېوزله مرستندويه.

﴿أَمَّن يُجِيبُ الْمُضْطَرَّ إِذَا دَعَاهُ﴾

"څوك دی چې د بېکس او بېوس دعا اوري کله چې هغه يې وبلي."

﴿فَإِذَا رَكِبُوا فِي الْفُلْكِ دَعَوُا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ﴾

"کله چې دغه خلك په بېړۍ کې سپرېږي؛ نو له الله تعالیٰ نه په خالص اعتقاد سره دعا غواړي."

زه دلته تا ته هغه دعاګانې نه راوړم، چې غمونه او اندېښنې لرې کوي، د احاديثو کتابونو ته مراجعه وکړه، هلته به دغه ډول دعاګانې ومومې!!

زه وايم له خپل رب سره اړيکې ښې کړه، جوړه ورسره وکړه او له هغه



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https [redacted]

By: Afghan Salar Library

څخه بې د قوي ایمان پر بنسټ وغواړه؛ نو هر څه به ترلاسه کړې، ګنې هرڅه به وبایلې.

له خپل رب نه غوښتل عبادت دی، څوک چې الله تعالی ته په دعا کې زیار باسي غمونه او اندېښنې به یې لرې شي؛ ټولې رسۍ او پړي شلېدلای شي؛ خو د الله تعالی رسۍ ډېره غښتلې ده؛ هره دروازه تړل کېدلای شي؛ خو د الله تعالی دروازه د هر چا په وړاندې پرانستې ده، الله تعالی ډېر نږدې او د خلکو پر اضطراري حالت ښه خبر دی او فرمايي:

﴿ادْعُونِي أَسْتَجِبْ لَكُمْ﴾

"ما وبولئ زه به ستاسې دعاوې قبولې کړم."

کله چې دې ستونزې په مخه کړې او په ربړ واخته شې؛ نو د الله تعالی نوم واخله او له هغه نه مرسته وغواړه، هغه ته سر په سجده شه؛ نو د خپلواکۍ تاج به پر سر کړې!

د هغه په دروازه کې ودرېږه! او تر هغې انتظار وباسه، چې دروازه درته پرانیزي.

## ۱۷ په کور کېنه

مسنون اوشرعي ګوښه کېدل دې ته وايي، چې له شري، وزګارو او له ناسمو عقیدو لرونکیو خلکو نه ځان ګوښه کړای شي او له ټولو هغو شیانو نه ځان ګوښه کول اړین دي، چې له الله تعالی نه دې لرې باسي، څکه چې بېکاره او په لهو او لعب اخته خلک تا ته له بدمرغۍ پرته نور څه نشي درکولای! نو له دوی څخه د ګوښه کېدو په صورت کې به دې زړه ډاډه او


Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



روح تازه وي، ماغزه به دې ښه کار کوي.

له هغه څه نه ګوښه کېدل، چې د خیر او اطاعت په وړاندې خنډ کېږي یو په زړه پورې علاج دی، چې د زړونو طبیبانو تجربه کړی او زه به یې درته وښیم: د شر او فساد له بنداړونو نه په ګوښه کېدو کې د عقل پیاوړتیا، د عزت او ناموس ساتنه ده، غوره مجالس او اختلاط لمونځونو او جماتونو ته راټولېدل، د علم او خیر په چارو کې برخه اخستل دي.

د لټۍ او بېکارۍ له ځایونو نه ځان لرې وساتئ، پر خپلو تېروتنو وژاړئ، خپله ژبه په واک کې وساتئ او کرار په کور کېنئ، ځکه چې له بېکاره خلکو سره ناسته ولاړه د ځان په خلاف جنګ او خپل داخلي امن بربادول دي، ځکه چې ناپوهان هسې اوازې او چټیات خپروي، فتنو او حادثو ته له ځانه مرچ او مصاله تېې کوي، چې دغه کار یې د خلکو تر منځ اندېښنې راپورته کوي او دغه اندېښنې انسان له مرګه مخکې څو څو ځله وژني.

نو زما هیله دا ده، چې په خپله کوټه کې کېنه، له خپل کار سره کار ولره او د خیر په چارو کې پراخه برخه اخله، د شر او فساد په مجالسو کې له برخې اخستنې ډډه وکړه، په دې سره به مو ژبې له پردي غیبته خلاصې او زړه به مو له سکونه ډک وي، ارزښتمن وخت به مو نه ضایع کېږي او له بدو ګمانونو به خلاص یاست.

## ۱۸ عوض له الله تعالی نه وغواړه!

هېڅ شی داسې نشته، چې الله تعالی ترې انسان بې برخې کړي او عوض یې ور نه کړي، په حدیث شریف کې دي، که یو څوک په ړندوالي صبر وکړي؛ نو د دې په بدل کې به الله تعالی ورته جنت ورکړي.



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https

By: Afghan Salar Library


مَنْ أَخَذْتُ حَبِيبَتَهُ فَصَبَرَ عوَّضتُه منهما الْجَنَّةِ

"که د چا سترګې واخيستل شوې او صبر يې پرې وکړ؛ نو په جنت کې به تر هغه غوره بدله ورکړي."

په کوم مصيبت خواشيني نه ده پکار، ځکه دغه مصيبت چې د چا له لوري دی، هغه ذات د دې د عوض او غوره بدلې ژمنه هم کړې ده په دې شرط، چې صبر پرې وشي، ځکه په جنت کې به صبر ناکو خلکو ته ويل کېږي:

﴿سَلٰمٌ عَلَيْكُمْ بِمَا صَبَرْتُمْ فَنِعْمَ عُقْبَى الدَّارِ ۝﴾

"پر تاسې سلامتيا ده، څنګه چې تاسې په دنيا کې له صبر څخه کار واخيست، د هغه په برکت نن تاسې د دې ور ګرځېدلي ياست؛ نو څه ښه دی دغه د اخرت کور!."

په ابن کثير تفسير کې له سعيد ابن جبير رحمه الله نه نقل دي، هغه فرمايي چې (اِنَّا لِلّٰهِ وَ اِنَّا اِلَيْهِ رٰجِعُوْنَ)د لوستو لارښوونه يوازې دې امت ته شوې، ياني د دوی ځانګړنه ده او تېر امتونه سره له خپلو پېغمبرانو له دې نعمت نه بې برخې ول، همدا شان يو ځل د رسول اللهﷺ د پيزارو مزی وشلېد؛ نو رسول اللهﷺ (اِنَّا لِلّٰهِ وَ اِنَّا اِلَيْهِ رٰجِعُوْنَ ) وويل، صحابه وو وپوښته، چې ايا دا هم څه مصيبت دی، رسول اللهﷺ ورته وفرمايل، مؤمن چې له هر ناخوښي کار سره مخ شي؛ د هغه لپاره هغه يو مصيبت دی.

له ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی، رسول اللهﷺ فرمايلي دي، که په تاسې کې د چا د بوټانو مزی وشلېږي؛ نو (اِنَّا لِلّٰهِ وَ اِنَّا اِلَيْهِ رٰجِعُوْنَ) دې وايي، ځکه چې دا هم مصيبت دی.

همدا شان له ابن عباس رضي الله عنه نه روايت دی، رسول اللهﷺ فرمايلي دي، چا چې د مصيبت پر مهال (اِنَّا لِلّٰهِ وَ اِنَّا اِلَيْهِ رٰجِعُوْنَ ) وويل؛ نو الله تعالی به يې


Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



د مصیبت تلافي وفرمايي، اخرت به يې ښه کړي او د ضايع شوي شي په بدل کې به ورته تر هغې ښه ورکړي؛ نو له دې امله پکار ده، چې د مصیبت پر مهال (اِنَّا لِلّٰهِ وَ اِنَّا اِلَيْهِ رٰجِعُوْنَ) د مانا او مفهوم په پامنيوي ووېل شي، ځکه دا د الله تعالیٰ د لورنې او په غوره بندګانو کې د شمېرېدو لامل دی.

موږ بايد د صبر پايلې او اجر ته وګورو.

﴿اُولٰٓئِكَ عَلَيْهِمْ صَلَوٰتٌ مِّنْ رَّبِّهِمْ وَ رَحْمَةٌ وَ اُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُهْتَدُوْنَ۝﴾

"چې پر هغو به د هغو د رب زياتې پېرزوينې او رحمت وي او همدغه شان خلك پر سمه لار روان دي."

د دې نړۍ ژوند لنډ او تنګ دی، خزانې يې خوارې او سپکې دي، د اخرت لورنې سترې او همیشنۍ دي! چا چې دلته مصیبتونه وګالل، په اخرت کې به يې سوکالۍ په برخه شي؛ څوک چې دلته سترې شو، هلته به دمه شي! د دې نړۍ مصیبتونه هماغو خلکو ته درانه او ستر ښکاري، چې دې نړۍ ته په درنه سترګه ګوري او تر خپلې اندازې زيات ارزښت ورکوي، د دغې نړۍ پر مصیبت اخته بايد خپلې پايلې ته ځير شي.

﴿فَضُرِبَ بَيْنَهُمْ بِسُوْرٍ لَّهٗ بَابٌ بَاطِنُهٗ فِيْهِ الرَّحْمَةُ وَ ظَاهِرُهٗ مِنْ قِبَلِهِ الْعَذَابُ﴾

"بيا به د هغو تر منځه يو دېوال حايل کړای شي، چې په هغه کې به يوه دروازه وي، په هغې دروازه کې دننه به رحمت وي او د باندې عذاب."



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

...ded By: Afghan Salar Library


## ۱۹ ایمان ژوند دی

په ټوله مانا بدمرغه هغه څوک دي، چې د ایمان رڼا او د یقین شتمني نه لري! دغسې خلک همېشه نامراده، خوار او ذلیله وي.

﴿وَمَنۡ اَعۡرَضَ عَنۡ ذِكۡرِىۡ فَاِنَّ لَهٗ مَعِيۡشَةً ضَنۡكًا﴾

"او څوك چې زما د ذکر (قرآن) نه د نصیحت له درس، نه مخ واړوي د هغه لپاره به په دنیا کې تنګ ژوند وي."

په رب العلمین ذات ایمان لرل نفسونه له غمونو او نهیلیو خلاصوي او بې ایمانه ژوند هېڅ خوند نه لري، ملحدین او بې ایمانه خلک پخپل ژوند تنګ وي، ځان پرې بوج وي؛ خو د خلاصون لار نه مومي.

امام احمد رحمه الله د نوف بکالي له خولې وایي، چې دوه کسان د ماهیانو په ښکار پسې ووتل، په دوی کې یو مسلمان او دویمنی کافر و، کافر د دام خورولو پر مهال خپل معبودان رابلل، سره له دې به یې دام له ماهیانو ډکېده او مسلمان به د دام خورولو پر مهال الله تعالی راباله؛ خو بیا به یې هم په دام کې هېڅ ماهي نه نښته او دام به یې تش راخووت، دا لوبه تر ماښامه همداسې روانه وه، په پای کې د مسلمان په دام کې هم یو ماهي ونښت، هغه په نه زړه له دامه راخلاص کړ؛ نو هغه ماهي یې هم له لاسه اوبو ته توپ کړې، مسلمان ښکاري تش لاسی راستون شو او هغه کافر ډېر ماهیان ښکار کړي ول، د دې اریانوونکې پېښې په لیدو یوه ملایک له الله تعالی نه پوښتنه وکړه، چې ای زما ربه! ستا یو مؤمن بنده، چې یوازې تا رابولي او هغه دې داسې تش لاسی او بېنوا راستنېږي او هغه کافر دې دومره ماهیان


...book:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



ښکار کوي، د دې څه لامل کېدای شي؟ الله تعالیٰ ملایک ته هغه ماڼۍ ورووښودله، چې د دغه مؤمن لپاره یې په جنت کې تیاره کړې وه او ملایک یې وپوښته، چې ایا د دې ماڼۍ ترلاسه کولو وروسته به دغه مؤمن په نننۍ تش لاسي راستنېدو څه خواشیني ښکاره کړي؟؟ بیا یې هغه ځای ورووښود، چې په دوزخ کې یې د هغه کافر لپاره تیار کړی و او ملایک یې وپوښت: ایا هغه دنیوي شیان چې په دنیا کې کافر ته ورکړ شوي هغه د دوزخ له دې تلپاتې عذابه ژغورلای شي؟؟ ملایک وویل ستا په ذات قسم! چې داسې نشي کېدای.

له اوږدو مشاهدو او تجربو وروسته عقل دې پایلې ته رسېدلی دی، چې بتپالي خرافات، کفر، لعنت او الحاد سوچه دروغ دي، رسولان رښتني دي، ټوله پاچاهي او عزت د الله سبحانه وتعالی په لاس کې دی، هغه پر هره څه قادر دی او څومره دې چې دغه ایمان قوي او یا کمزوری و؛ نو هماغومره نېکمرغي او سوکالي به دې په برخه وي.

من عمل صالحا من ذكر او انثى و هو مؤمن فلنحيينه حياة طيبة و لنجزينهم باحسن ماكانوا يعملون.

"چا چې په تاسې کې نېک عمل وکړ، هغه سړی وي او که ښځه، په داسې حال کې چې مؤمن وي؛ نو موږ به هغه ته سپېڅلی ژوند ورپه برخه کړو او د هغه د عملونو به یې څو چنده ښه بدله ورکړو."

سبحان الله، الله تعالیٰ ایمان ته څومره ارزښت ورکړی؛ نو موږ ته پکار ده، چې د دغې ارزښتمنې پانګې قدر وکړو او د څه ستونزې له امله یې همته نشو، الله تعالیٰ زموږ لپاره داسې نعمتونه تیار کړي، چې نه د چا سترګو لیدلي، نه د چا غوږونو اورېدلي او نه د چا په زړه کې تېر شوي دي؛ خو الله تعالیٰ مه کړه! که څوک دغه ارزښمنه پانګه پر دنیوي خوندونو او راحتونو وپلوري او په دغه وخت کې ورته مرګ راشي؛ نو له مرګ سره به



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Telegram[redacted]ar

d By: Afghan Salar Library


له داسې دردناکو عذابونو سره مخ شي، چې بیا به د دوزخ په اور کې له ژړا او پښېمانتیا پرته هڅ تر لاسه نه کړي. (الله تعالی دې ترې موږ او تاسې په خپل فضل او کرم وساتي ـ امین)

## ۲۰ نرمه لهجه

نرمي هر څه ته ښکلا وربښي او په یو شي کې د نرمۍ نشتوالی د ښکلا نشتوالی دی، په نصیحت، خبرو، اترو کې نرمي او پر شونډو مسکا یو داسې صفت دی، چې د نېکمرغه خلکو په برخه وي او مؤمن د صفت پلوه د شاتو مچۍ ته ورته دی، چې پاک خوري او پاک جوړوي؛ او کله چې پرګل کښېني؛ نو ګل نه ماتوي او الله تعالی د نرمۍ په بدل کې یو چا ته هغه څه ورکوي چې د سختۍ په بدل کې یې ببخي نه ورکوي.

په انساني ټولنو کې ځینې داسې وګړي هم وي، چې مجلس ته په راتلو یې ګډونوال خواشیني کېږي، ځکه دوی بد اخلاقه وي او ځینې داسې هم وي، چې یوه مجلس او تالار په راتلو یې تود هرکلی کېږي، د خلکو زړونه ورته دعاګانې کوي، ځکه چې هغوی په خپل ټولنیز ژوند کې، له خلکو سره په راکړه ورکړه کې نرم او ښه چلن کړی وي او په تلو یې خلک یو تر بله پوښتنه کوي او د نشتوالي په صورت کې یې کمی محسوسوي.

دغه ډول خلک په خپلې عاطفې او نرمۍ سره د حسد دېوالونه نړوي؛ بدي یې هېره وي؛خو ښېګړه یې یاده وي، له دې امله خلک ورڅخه په امن او سلامتیا کې ژوند کوي او د شر تمه ترې نه لري، ګواکې همداسې مسلمانان د بشپړ ایمان خاوندان دي، لکه چې رسول الله ﷺ فرمایي:

الْمُسْلِمُ مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُونَ مِنْ لِسَانِهِ وَيَدِهِ. وَالمؤمن مَنْ أَمِنَهُ


Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library


النَّاسُ عَلَى دِمَائِهِمْ وَأَمْوَالِهِمْ[۳]

''کامل مسلمان هغه څوک دی، چې خلک یې له ژبې او لاس نه په امن وي او کامل مؤمن هغه څوک دی، چې د خلکو وینې او مالونه ورڅخه په امن وي.''

## ۲۱ د الله تعالٰی په یاد زړونه ډاډ مومي

ښتنولي د الله تعالٰی خوښه، د حقیقت بیان او د زړونو پاکوالی دی چې تجربه یې قوي دلیل دی!

د الله تعالٰی ذکر د اجر له پلوه خورا ستر عمل دی، چې سینې پراخوي.

﴿فَاذْكُرُونِيٓ أَذْكُرْكُمْ﴾

''تاسي ما یاد کړئ زه به تاسې یاد کړم.''

د الله تعالٰی ذکر په دې دنیا جنت دی، که څوک ورڅخه بې برخې شي؛ نو له اخروي جنت نه هم بې برخې کېږي، دا د هر بري په لور یوه مستقیمه تګلاره ده، د الله تعالٰی په ذکر او یادولو سره زړونه خوښي او ډاډ مومي.

د اریانتیا خبره دا نه ده، چې ذکر کوونکي څنګه په ډاډ کې ژوند کوي! بلکې اریانتیا دا ده، چې د الله تعالٰی له یاده بې پروا خلک څنګه ژوند کوي؟!

﴿أَمْوَٰتٌ غَيْرُ أَحْيَآءٍ وَمَا يَشْعُرُونَ أَيَّانَ يُبْعَثُونَ ۝﴾

''مړه دي نه ژوندي او هغو ته هېڅ معلومه نه ده، چې هغوی به کله (دویم ځل ژوندي) راپاڅول شي.''

۳: سنن الترمذي ت شاكر (۵ / ۱۷)


Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: [redacted]

ای هغو کسانو! چې د شپې خوب نه درځي، له درده ژاړئ او د مصیبتونو ښکار شوي یاست! راشئ د الله تعالی نوم یاد کړئ!

﴿هَلْ تَعْلَمُ لَهُ سَمِيًّا ۝﴾

"ایا شته ستا په علم کی کومه هستي د هغه سیال؟."

خومره چې الله تعالی یادوې، هومره به دې زړه ته ډاډ رسېږي، ځکه چې د الله تعالی په ذکر کې د توکل ټولې ماناوې پرتې دي!

الله تعالی نږدې دی، ستا غږ اوري، ستاسې دعاوې قبلوي؛ نو یوازې د هغه په وړاندې د خشوع او خضوع وزرې وغوړوئ او د خپل پالونکي لور ته متوجه شه؛ نو د دنیا او اخرت نېکمرغي به مو په برخه شي.

﴿فَآتَاهُمُ اللّٰهُ ثَوَابَ الدُّنْيَا وَحُسْنَ ثَوَابِ الْآخِرَةِ﴾

"په پای کې الله تعالی هغو ته د دنیا ثواب هم ورکړ او تر هغه غوره ثواب یې په اخرت کې هم ورپه برخه کړ"

## ۲۲ کینه

کینه د کینسر ناروغۍ غوندې د انسان هډوکي شپېلوي او دا یوه داسې ناروغي ده، چې ورو ورو روح او بدن دواړه د فساد پر درشل ودروي او چا خومره ښه ویلي، چې کینه ناک انسان راحت نه لري ، کینه ناک د بېوزلتوب په څادر کې ظالم او د دوستۍ په جامه کې دښمن دی.

کینه خومره بد او ناوړه شی دی، چې تر هر څه له مخه خپله پر حسدګر برید کوي او وژني یې.



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



زه خپل ځان او تاسې ته په ټينګار سره وايم، چې له حسده ځان و ساتئ، پر نورو ولوربېږئ، د الله تعالیٰ د لورنې مورد وګرځئ، له نورو سره حسد کول د خپل زړه غوښې خوړل، د غمونو تازه کول او پر ځان د خوب حراموول دي.

غمونه او اندېښنې د حسد زېږنده ده، چې د سپېڅلي ژوند او راحت په نسبت پرېکړه کوي او د الله تعالیٰ انصاف ناسم جوتول غواړي او له شرعي منهج نه سرغړونه کوي.

افسوس، چې حاسد پر يو داسې ناروغۍ اخته دی، چې نه پرې ثواب مرتب دی او نه اجر، همداسې د اور په خوړلن کې ولاړ دی، چې يا دې ومري او يا د خلکو لورنې لمنځه لاړې شي.

له هر چا سره مصالحت کېدلای شي؛ خو له حسدګر سره نشي، له هغه سره مصالحت همدا دی، چې د الله تعالیٰ له نعمتونو او لورنو څخه تنازل وکړې، خپل سپېڅلي خصائص او مناقب له لاسه ورکړې! که دا کار دې وکړ؛ نو ښايي له تا څخه خوښ شي.

## ۲۳ بدلون

د انسان په خټه کې د نوښت خوښول اغښل شوي دي، چې امله يې تل د نوښت په هڅه کې وي او په دې سره يې ستړيا له مينځه ځي، د بېلګې په ډول په کور کې کټ بستره او نور اړوند شيان پراته دي؛ نو ستا طبيعت به هغې کې د بدلون غوښتنه کوي، د انسان د دغې غوښتنې په پامنيوي الله تعالیٰ په کال کې دولس مياشتې ټاکلي دي، په مياشتو کې اونۍ؛ په اونيو کې ورځې او بيا يې د سبا بېګا لړۍ، بېلابېل خوراکي او څښاکي توکي، بېلا بېل

Afghan Salar Library

ډول عبادتونه، دا هر څه خپله بدلون ته لاره سازوي.

که دا بېلا بېل شيان نه وای؛ نو انسان به زړه تنګی وای، الله تعالیٰ پر
خپل ذکر د ټينګار په لړ کې فرمايي: هغه خلک په ناسته، ولاړه او په ډډه
پرېوتو سره د الله تعالیٰ ذکر کوي.

ځکه چې د بدلون په رامنځته کېدو سره انسان خوښي محسوسوي.

## ژوند چې څرنګ دی هماغسې يې ومنئ

٢٤

د دې نړۍ ژوند له ستونزو ډک دی، ځکه چې نه د خپلې خوښې ملګری
ژوندلای شې نه کور، په هر څه کې به د ناخوښۍ څه نا څه څرک وي.

د دنيوي ژوند په لذتونو کې خرپړتيا ده، لنګر يې زيات دی، خبره يې
روه او طبعيت يې په بېلا بېلو رنګونو کې ګډ دی! دلته انسان له ډول ډول
ښو سره لاس او ګرېوان کېږي.

مېړه دی او که ښځه، پلار دی او که زوی، دوست دی او که ملګری،
ر دی او که دفتر، هر چېرته خروالی شته! د دغه ډول شرارت، حرارت د
ال په اوبو سره سوکړه، چې سر په سر پاتې شي او نور دې الله تعالیٰ خير
ن کړي.

الله تعالیٰ په دغې نړۍ کې خير او شر دواړه اينښي دي، په اخرت کې يې
خير ښه پايله، صلاح او سرور يې په جنت کې راټول کړي دي، همدا شان
او غمونه يې دوزخ ته ورټول کړي دي.

په حديث کې راځي چې:


Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



أَلَا إِنَّ الدُّنْيَا مَلْعُونَةٌ مَلْعُونٌ مَا فِيهَا إِلَّا ذِكْرُ اللَّهِ وَمَا وَالَاهُ وَعَالِمٌ أَوْ مُتَعَلِّمٌ[٤]

"نړۍ او په نړۍ کې چې څه دي له مخې لعنتي دي؛ خو هغه چې د الله تعالٰی پر یاد بود تعلیم او تعلم بوخت دي."

پر شته شکر وباسه! په دنیوي چارو کې تر ځان ښکته خلکو ته ګوره او په دین کې تر ځان لوړو خلکو ته؛ نو هله به له ژونده خوند واخلې، له واقعیت سره سم ژوند وکړه او د خیال پر نیلي مه سپرېږه! دنیا چې څرنګ ده همغسې یې ومنه! کمال او بشپړتیا د دنیا شان نه دی.

په نړۍ کې ته نشې کولای، چې کامله ښځه ترلاسه کړې! څکه په حدیث کې راغي چې:

لَا يَفْرَكْ مؤمن مؤمنةً. إِنْ كَرِهَ مِنْهَا خُلُقًا رَضِيَ مِنْهَا آخَرَ.

"یو مؤمن مېړه باید له خپلې مؤمنې ښځې کرکه ونکړي، څکه که د هغې یو خوی یې ښه نه ایسي؛ نو پر بل (خوی) دې ترې راضي شي."

له همدې امله موږ باید د مصلحت رویه غوره کړو او یو بل ته نږدې شو، له ښښنې او تېرېدنې کار واخلو او یو شمېر معاملې بېخي شا ته وغورځوو.

## ۲۵ د راحت نسخه

ښي او کیڼ لور ته وګوره! د ډېرو غمځپلیو خلکو اوښلنې سترګې به ووینې، لور په لور، کور په کور، هره سیمه او هره دره کې به د دردونو له امله څړېروي واورې! نو هله به پوه شې، چې څومره په مصیبت اخته شته

٤: سنن الترمذي ت شاكر (٤ / ٥٦١)



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansal

او ځومره صبرناک! ته یوازې نه یې، له تا پرته ډېر ناروغان شته، چې له مودو راهیسې د دردونو پر بستره اوړي راوړي او د ځېریروي دروند غږ یې راخېژي، چې په لیدو به یې تا ته خپل مصیبت لږ ښکاره شي.

د زندانونو تورې خونې او سمڅې له داسې بندیانو ډکې دي، چې له کلونو راهیسې یې لمر په سترګو نه دی لیدلی، دوی ته په کتو باور ولره، چې دا نړۍ د مؤمن لپاره د زندان په څېر ده.

یوه ورځ به دغه سترې مانۍ ړنګې وویني، د دنیا شپې او ورځې له نېستۍ، مرګ، بېلتانه او ناروغۍ ځخه عبارت دي.

﴿وَتَبَيَّنَ لَكُمْ كَيْفَ فَعَلْنَا بِهِمْ وَضَرَبْنَا لَكُمُ الْأَمْثَالَ۝﴾

"او تاسې ته څرګنده شوه، چې موږ له هغو سره څه چلن وکړ او د هغو د مثالونو په راوړلو موږ تاسې پوهولې هم وئ."

له خپلو مصیبتونو سره ځان داسې عادي کړه، لکه یو صحرایي اوښ، چې پر ډېرو او ازغیو هم چوکېږي، خپل مصیبتونه د چاپېریال له خلکو سره پرتله کړه، تر تا له مخه د زمانې په مسیر کې تللیو خلکو ته پام وکړه؛ تا ته به د هغوی په پرتله ځان پاچا ښکاره شي.

وګوره د اسلام ستر لارښود رسول اللهﷺ ته، چې غاښونه یې شهیدان کېږي، پر سپېڅلې بي بي یې منافقان تورونه لګوي اویا تنه یاران یې شهیدان کېږي، کوډګر، کاهن، لېونی او درواغجن ورته ویل کېږي! دغه یو ازمېښت و، چې دی ورسره مخ شوی و او ترده له مخه زکریا وژل شوی، ابراهیم اور ته غورځول شوی، عمر، عثمان، علي رضی الله عنهم پر همدې تګلاره تللي!

﴿أَمْ حَسِبْتُمْ أَن تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ وَلَمَّا يَأْتِكُم مَّثَلُ الَّذِينَ خَلَوْا مِن قَبْلِكُم مَّسَّتْهُمُ الْبَأْسَاءُ وَالضَّرَّاءُ﴾



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



"ایا تاسې دا انګېرئ، چې همداسې به جنت ته ننوځئ، په داسې حال کې چې لا تر اوسه پر تاسې هغه هر څه نه دي تېر شوي، چې له تاسې نه پر مخکنیو مؤمنانو راغلي و؟؟ پر هغو ستونزې راغلې، کړاوونه ورته ورسېدل او ولړزول شول."

﴿حَسْبُنَا اللّٰهُ وَنِعْمَ الْوَكِيْلُ﴾

الله تعالی ته د چارو سپارل، پر هغه توکل کول، د هغه پر پرېکړه خوښېدل پر هغه ښه ګومان کول، د هغه پر ژمنه باوري کېدل او د مصيبت د ختمېدو انتظار کول د ایمان سترې مېوې او صفتونه دي.

کله چې ابراهیم علیه السلام اور ته وغورځول شو؛ نو داسې يې وویل:

﴿حَسْبُنَا اللّٰهُ وَنِعْمَ الْوَكِيْلُ ○﴾

"زموږ لپاره الله تعالی کافي دی او هماغه ډېر ښه کار ساز دی."

نو الله تعالی ورته له اور نه ګلزار جوړ کړ.

زموږ پیغمبر ﷺ او د هغه یاران، چې کله د قریشو له خوا له ګواښ سره مخ شول؛ نو داسې يې وویل:

﴿حَسْبُنَا اللّٰهُ وَنِعْمَ الْوَكِيْلُ ○ وَاللّٰهُ ذُوْ فَضْلٍ عَظِيْمٍ ○﴾

"زموږ لپاره الله تعالی کافي دی او هماغه ډېر ښه کار ساز دی، الله تعالی ډېر ستر لوروونکی دی."

انسان د خپلې کمزورۍ له امله نشي کولای یو په یو له حوادثو سره پهلواني وکړي، خو دی به خپله ستونزه او ضعف الله تعالی ته عرض کوي او پر هغه به تکیه او توکل کوي.

﴿وَعَلَى اللّٰهِ فَتَوَكَّلُوْٓا اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ○﴾



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

"پر الله تعالی داده اوسئ که تاسې مؤمنان یاست."

څوک چې غواړي د خپل ځان خواخوږی شي؛ نو پر قوي، زورور او غني رب دې توکل وکړي او همدغه خبره دې خپل شعار وګرځوي چې:

﴿حَسْبُنَا اللّٰهُ وَنِعْمَ الْوَكِيْلُ○﴾

"زموږ لپاره الله تعالی کافي( دی او هماغه ډېر ښه کار ساز دی."

که مال نه لرې او پوروړی يې؛ نو بیا هم غږ وکړه چې:

﴿حَسْبُنَا اللّٰهُ وَنِعْمَ الْوَكِيْلُ○﴾

"زموږ لپاره الله تعالی کافي دی او هماغه ډېر ښه کار ساز دی."

که د ظلم له زوره او د دښمن له شوره وېرېږې؛ نو غږ وکړه چې:

﴿حَسْبُنَا اللّٰهُ وَنِعْمَ الْوَكِيْلُ○ وَكَفٰى بِرَبِّكَ هَادِيًا وَّنَصِيْرًا○﴾

"زموږ لپاره الله تعالی کافي دی او هماغه ډېر ښه کار ساز دی او ستا لپاره ستا رب لارښوونکی او مرستندوی کافي دی."

هغه چې سینه پراخوي او غمونه شا ته تمبوي، د الله تعالی پر ځمکه سیر او سفر کول او د کایناتو په غوړول شوي کتاب کې د قدرت قلم ته ځیرنه ده، چې د وجود پر صفحاتو يې د ښکلا شهکاري وکورې!

له واره له کوره راوځه! وړاندې وروسته، ښکته پورته، لوړو و ژورو، ونو او غنو، غرو رغو کې فکر وکړه!

هو! همدا اوس ووځه! له سترګو دې د ناپوهۍ توري پردې لرې کړه او د کایناتو په ننداره کولو سبحان الله ووایه؛ نو ډېر څه به تر لاسه کړې!!!

د دې پر عکس په یوه تنګه کوټه کې ځاې پر ځاې کېدل د ځانوژنې لپاره تر ټولو ښه لاره ده! ستا دغه تنګه کوټه نړۍ نه ده! او نه ته عبارت له ټولو خلکو څخه يې! نو ولې دې ځان هېڅ په هېڅه د غمونو چاپېریال ته



https://www.fa...k.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



سپارلی؟!

﴿انْفِرُوا خِفَافًا وَّثِقَالًا﴾

"ووځئ که سپک یئ که درانه."

طبیبوهان وایي که څوک د نفسي ثقالت ښکار شي پر سترګو یې تیاره راشي، کور پرې تنګ شي؛ نو سفر دې وکړي! نو راځه له موږ سره یو ځای سفر وکړه، په کایناتو کې فکر وکړه او نېکمرغي تر لاسه کړه.

﴿وَ يَتَفَكَّرُوْنَ فِيْ خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضِ رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ هٰذَا بَاطِلًا﴾

"او د اسمانونو او ځمکې په پیدابښت کې غور او فکر کوي (هغوی په غیر ارادي توګه غږ کوي چې) زموږ ربه! دا ټول شیان تا بابېزه او بې مقصده نه دي هست کړي."

## ۲۶ د مصیبت علاج

امام ابن الجوزي رحمه الله فرمايي، که یو څوک په یوه مصیبت کې ښکېل شوی وي او ځان ترې خلاصول غواړي؛ نو ور ته پکار ده، چې دغه مصیبت په خپل ذهن کې دومره لوی وانګېري، چې راتلونکي ټول مصیبتونه ورته واړه ښکاره شي او همداشان دې د دغه مصیبت په بدل کې ترلاسه کېدونکي ثواب ته سوچ وکړي، چې دا هسې نه دی، بلکې پر دې مصیبت د صبر په پایله کې دومره لوی اجر هم راکړ کېږي، بل باید پر دې وپوهېږي، چې تر دې هم بدتر شته؛ نو هله به ورته پېښ شوی مصیبت غنیمت ښکاره شي.

همدا شان که مصیبتونه نه وای؛ نو چا به د راحت د راتلو تمه نه کولای،



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

بل باید له ستونزو سره لاس او ګرېوان کس پر دې پوه اوسي، چې دا ستونزمن حالت به د ده په کور کې هومره پاتې وي، لکه یو نا اشنا مېلمه چې څومره له چا کره تم کېږي، څکه داسې کس په خپل کار، یا په خپل هدف پسې ګرځي، له چا کره شپې ورځې نه تېروي او چې کله بېرته خپل کور و کلي ته ستون شي؛ نو د خپل کوربه ستاینه او غندنه کوي، که ښه مېلمستیا یې ورکړې وي؛ نو په خپلو بنداړونو کې ستایي او ښه چلن یې ورسره نه وي کړی؛ نو غندي یې، لکه چې خلک د یوه مېلمه په اړه داسې سوچ کوي، هسې نه چې سبا راپسې خبرې وکړي، له دې امله یې ښه قدر کوي؛ نو مؤمن ته پکار دي، چې د ستونزو او مصیبتونو همداسې مېلمستیا وکړي، خپل ټول بدني غړي په واک کې ولري، په دې فکر هسې نه، چې له ژبې یې کومه تېره پاتې خبره ووځي او (د مصیبت مېلمه) ترې خپه لاړ شي.

## ۲۷ لمونځ

﴿ يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اسْتَعِينُوا بِالصَّبْرِ وَالصَّلَاةِ ﴾

"ای مؤمنانو په صبر او لمانځه سره له الله تعالٰی نه مرسته وغواړئ."

کله چې غمونه او اندېښنې ستا د زړه کور ته مخه کړي؛ نو راولاړ شه، اودس وکړه او خپل رب ته سر په سجده شه، په دې سره به دې زړه ډاډمن او هره ستونزه به درته وړه ښکاره شي.

عایشه ابی فرمایي رسول الله ﷺ ته به چې کله کومه ستومزه وروپېښه شوه؛ نو پر لمانځه به ودرېده او بلال ته به یې ویل چې:

يَا بِلَالُ أَرِحْنَا بِالصَّلَاةِ.



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



"ای بلاله! موږ (پر لمانځه) دمه کړه."

د صلاة الخوف یانې د وېرې پر مهال د لمانځه فلسفه هم دا ده، چې په دې سره ایمان پیاوړی او زړونه ورسره ډاډمنېږي.

پنځه وخته لمونځ پر موږ د الله تعالی ستره لورنه ده، ځکه په دې سره ګناهونه ښنبل کېږي، درجې اوچتوي او د ډېرو بدني او روحاني ناروغیو شفا پکې نغښتې ده.

تاسې هغه چا ته ځېر شئ، چې لمونځ نه کوي او جومات ته یې شا کړې وي، په ظاهره به درته خوښ او ژوندي ښکاري؛ خو د روحانیت له پلوه مړه دي، ځکه داسې کسان تل په یوه نه یوه اندېښنه کې ښکېل وي.

## ۲۸ صبر

د صبر په ګانه ځانونه پسولل د هوډمنو او عقلمنو خلکو صفت دی، دغه خلک که له ستونزو سره مخ شي؛ نو په صبر خپل زړه ډاډمنوي او د ایمان په پخوالي د حالاتو مقابله کوي، همدا شان که زه او ته صبر ونکړو؛ نو څه به وکړو؟! ایا تر صبر پرته بله چاره شته؟! که لرې یې نو موږ ته یې هم راوښایاست!؟

له لویانو څخه یو تن غمونو او مصیبتونو په مخه کړ، لا به له یوه نه خلاص نه و، چې بل به یې پر کهاله اړولي وو؛ خو د دغو ټولو پر وړاندې به یې صبر سپر کړی و، لویان تل له ستونزو سره همداسې پهلواني کوي.

ابوبکر صدیق رضی الله عنه یو ځل ناروغ شو، د طبیب راغوښتو په اړه ترې اجازه وغوښتل شوه؛ نو ویې فرمایل، چې طبیب زه کتلی یم، خلکو وپوښته،



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Teleg[redacted]ttps://t.me/afghan[redacted]

چې څه یې درته وویل، هغه وفرمایل، چې طبیب (الله تعالیٰ) وایي زما چې څه خوښه شي هغه کوم.

صبر وکړه هو! الله تعالیٰ ته صبر وکړه او خپلې غوره پایلې ته انتظار وباسه، ځکه چې د صبر مېوه خوږه وي.

ما د لویانو سیرت او تاریخ لوستی، چې د غمونو انبارونه به یې پر سرونو پرېوتل؛ خو د حق لپاره به، لکه د غرونو ثابت ولاړ وو، یوازې دا نه بلکې د مصیبتونو مقابله به یې کوله او حوادثو ته به یې ننګونې ورکولې، تر دې چې د غمونو له ترورېمیو په راوتو به بریمن شول.

## ۲۹ د ټولې نړۍ غمونه پر سر مه اخله

څه خلک داسې وي چې پر خپله بستره د خوب لپاره غځېدلي وي؛ خو په مغزو کې یې نړیوالې جګړې اورې راوړي، هسې یې خپله وینه توده کړې وي او په دغه خیالي جنګ کې دوی ته په غنیمت کې ډول ډول اندېښنې او ستونزې په لاس ورځي، چې په پایله کې د معدې زخم، فشار او د شکرې پر ناروغۍ اخته شي! له پېښنو سره یو ځای درومي، د نرخونو په لوړېدو یې غوسه سرته خېژي، د باران په نه کېدو شور او ځوږ کوي......

﴿يَحْسَبُونَ كُلَّ صَيْحَةٍ عَلَيْهِمْ﴾

"دوی هر زورور اواز د ځان پر ضد ګڼي."

داسې خلکو ته زما سپارښتنه دا ده، چې د ځمکې کره دې پر سر نه باروي، پېښنو او حوادثو ته دې په کولمو کې ځای نه ورکوي، بلکې پر ځمکه دې یې پرېږدي، ځینې خلک اسپنج ته ورته زړونه لري، پېښې او حالات


Facebo[redacted]tps://www.fac[redacted]om/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



پرې ډېر ژر اغېز ښندي او اندېښنې يې په اسانۍ ښکار کولای شي، دغه ډول زړه نړدې دی، چې ګوګل ونړوي او سړی لمنځه يوسي.

حقپال خلک له دغه ډول پېښو نه عبرت او پند اخلي، ايمان يې لا پسې پياوړی کېږي! د دې پر عکس د بې زړه خلکو ترهه او وېره لا پسې زياتېږي! دغه ډول بې زړه خلک د دغه ډول وهمونو په پايله کې هره ورځ ځانونه پر پخه چاړه وژني.

که تيکاو او سپېڅلی ژوند غواړې؛ نو د پېښو پر وړاندې په اتلولۍ مبارزه وکړئ، ځان تر پېښو هم پياوړی کړئ؛ نو بريمن به شئ.

افسوس د هغو کمزورو خلکو پر زړونو! چې پېښې اوحوادث يې لکه د وچې پاڼې رېوي.

﴿وَ لَتَجِدَنَّهُمْ اَحْرَصَ النَّاسِ عَلٰى حَيٰوةٍ﴾

"ته به ارومرو دوی له بل هر چا نه د ژوند حريصان ومومې."

خو هوډ من او غيرتمن خلک د الله تعالٰی په مرسته او ژمنه باوري وي.

﴿فَاَنْزَلَ السَّكِيْنَةَ عَلَيْهِمْ﴾

"پر هغو يې ډاډينه نازله کړه."

## ۳۰ همت مه بايلئ

ډېر خلک داسې وي، چې همت يې بايللی وي او پر ځای ناست وي، که دوی وپوښتل شي؛ نو ډېرې وړې خبرې دوی بې زړه کړي وي، لکه تاسې د مدينې منافقانو ته ځير شئ کله، چې هغوی جهاد ته وبلل شول؛ نو هغوی د



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ [redacted]gram:https://t.me/[redacted]ar

خومره عادي شي له امله همت وبایله او د جهاد ذکر ته له وتلو پاتې شول، ځکه له دغو منافقانو سره یوازې د خپلې ګېډې غم و، چې که جهاد ته لاړ شو؛ نو پاخه فصلونه مو خرابیږي، قرآن کریم د هغو منافقانو حال داسې بیان کړی، چې کله دوی جنګ ته وبلل شول؛ نو د هغوی پر ژبو داسې بانو او عذرونو واکمني کوله:

﴿لَا تَنْفِرُوا فِی الْحَرِّ﴾

"په ګرمۍ کې مه ووځئ."

﴿ائْذَنْ لِّیْ وَلَا تَفْتِنِّیْ﴾

"ما ته رخصت راکړه او ما په فتنه کې مه اچوه."

﴿بُیُوْتَنَا عَوْرَةٌ﴾

"زموږ کورونه بې سرپرسته تر خطر لاندې دي."

﴿نَخْشٰی اَنْ تُصِیْبَنَا دَآئِرَةٌ﴾

"موږ وېرېږو چې موږ په کوم غم لتاړ نشو."

﴿مَّا وَعَدَنَا اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ اِلَّا غُرُوْرًا﴾

"الله تعالٰی او د هغه پیغمبرﷺ چې له موږ سره کومې ژمنې کړې وې، هغه له غولونې پرته نور څه نه وې."

خومره لوېدلي او ټیټ احساسات، څومره بې همتي؟! په رېښتیا هم د ښېږو پهلوانان، دکورونو او ماڼیو قهرمانانو، سترګې نه پورته کوي، چې په آسمان کې د فضیلت ستوري وګوري د هغوی همت او علمي مورال یوازې ښه موټر، ښه ماڼۍ او ښې جامې وي.

همدغه د انسانیت تر ټولو لویه ستونزه ده، چې تر دې نرۍ پرته بل لوړ


Facebook:https://[redacted]acebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



هدف نلري، چې د هغه د ترلاسه کولو هڅه وکړي! وايي چې له لوښي نه اوبه ايسته کړی شي، نو هوا يې ځای پر ځای شي، بيا نو د هماغه کار په اړه، چې ته يې مهم ګڼې، فکر وکړه، چې ايا د دې وړ دی، چې خپله غوسه، وينه او عقل هر څه ورکړې، دا خو يوه ناچله او تاواني سودا ده.

اروا پوهان وايي چې د هر شي لپاره يو مناسب حد وټاکه! څکه الله تعالیٰ د کايناتو په نظام کې د هر شي لپاره يوه اندازه ټاکلې ده، لکه چې الله تعالیٰ فرمايي:

﴿قَدْ جَعَلَ اللّٰهُ لِكُلِّ شَيْءٍ قَدْرًا۝﴾

"الله تعالیٰ د هرشي لپاره يوه اندازه ټاکلې ده."

نو هرې قضيې او پېښې ته خپل وزن او حجم ورکړه؛ له کمي او زياتي نه ځان وساته.

د پېغمبرﷺ يارانو ته، چې د ونې تر سيوري لاندې يې له هغه سره په وفادارۍ بيعت وکړ او د الله تعالیٰ خوښي يې ترلاسه کړه! خو يو سړي، چې دغه وخت هغه ته خپل اوښ تر هر څه ډېر ارزښتمن و له دې امله د بيعت له دغه وياړه بې برخې شو.

## ٣١ د الله پر ويش خوښ اوسه

ښکار ده چې د الله تعالیٰ پر ويش خوښ شئ، د الله تعالیٰ پر درکړيو نعمتونو شکر وکړئ، څکه په قرآن کريم کې هم ځای پر ځای د شکر حکم شوی دی، تاسې د مخکنيو علماوو سيرت وګورئ، چې هغوی په خومره تنګسه کې سوکاله ژوند تېر کړی دی، سره له دې چې هيڅ دنيوي شتمني ورسره نه وه، نه هغوی ښکلې ودانۍ او نه خدمتګاران درلودل؛ خو



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Teleg[redacted]https://t.me/afg

[redacted]ded By: Afghan Salar Library


بیا هم خوشحاله وو او سرومال یې له دینه ځاراوه، د دوی په مقابل کې به داسې خلک هم ووینې، چې هر ډول دنیوي نعمتونه ورسره وو؛ خو همدغه نعمتونه یې د بدمرغۍ لامل شول، له دې سره په تړاو یو څه خبرې وړاندې تېرې شوې؛ خو دلته یې لږ په تفصیل سره راوړوو او هغه دا چې په مالي، بدني او له هر پلوه د الله تعالیٰ په ورکړه خوښ او راضي اوسه؛ کټ مټ همدغه قرآني منطق دی، لکه چې فرمايي:

﴿فَخُذْ مَآ اٰتَيْتُكَ وَ كُنْ مِّنَ الشّٰكِرِيْنَ ○﴾

"نو څه چې زه درکړم هغه واخله او شکر پرې ادا کړه."

ځکه چې هغوی د حق منهج او سم فطرت سره تلل ونکړه؛ او دا د دې دلیل دی، چې هر څه په یوه تله نشي تلل کېدای! وګوره یو سړی به نړیوال سند او برې لیک ترلاسه کړی وي؛ خو د هغه له علم نه به چا ته یوه ذره خیر هم نه وي رسېدلی! په مقابل کې به یې ځینې داسې خلک وي، چې له محدوده پوهې سره به یې د خیر او ګټې چینې روانې کړې وي.

که نېکمرغي غواړې؛ نو پر هماغه صورت خوښ او راضي اوسه، چې الله تعالیٰ ترکیب کړی، دغه راز په هغه واک او ځواک خوښ او راضي اوسه، چې الله تعالیٰ درته دربښلی دی.

بلکې ځینې زهد پالي به دا هم درته ووايي، چې په هغه نعمت، چې ته پکې یې پر لږ څیز هم رضاء اوخوښي څرګنده کړه.

عطاء بن رباح په خپله زمانه کې یو ستر عالم و، نوموړی یو ازاد شوی غلام و، چې له رنګه تک تور و، په بدن شل او په سر پک و، په مقابل کې یې احنف بن قیس د عربو حلیم سړی، چې وچ کړس بدن یې درلوده، په ملا نری، لنډې پونډۍ او وړه کوپړۍ یې درلوده؛ اعمش د خپلې زمانې لوی حدیثپوه و، چې دی هم له ازاد شویو غلامانو څخه و، بېوزله او فقیر، په



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library


سترګو ضعیفه او تل به یې شلېدلې جامې په تن وې! بلکې تر دوی له مخه پېغمبران علیهم الصلاة والسلام تېر شوي دي، چې ډېر یې د مېږو او وزو شپانه و! داؤد ﷺ اهنګر و، زکریا ﷺ نجار و، ادریس ﷺ خیاط و، سره له دې چې د بشریت تر ټولو غوره وګړي وو.

په هر صورت د الله تعالیٰ پر مواهبو خوښ اوسه! دا چې نه مال لرې او نه جمال، دا د الله تعالیٰ وېش دی.

﴿نَحۡنُ قَسَمۡنَا بَيۡنَهُم مَّعِيشَتَهُمۡ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا﴾

"د دوی د دنیوي ژوندانه ټېرولو وسایل خو موږ د دوی په منځ کې وېشلي دي."

## ۳۲ جنت او د هغه پراخي را یاده کړه

په ژوند کې انسان له هر ډول حالاتو سره مخ کېږي، کله تنګسه او کله خوشحالي وي؛ نو که څه ورځې ته غمجن اووسې، یا دې چا حق تر پښو لاندې کړ او یا یې درباندې تېری وکړ؛ نو ته د دغو ستونزو په بدل کې د جنت نعمتونه را په زړه کړه، که داسې دې وکړل؛ نو ټولې اندېښنې به دې ختمې شي او له ډېر لوی تاوان نه به خلاص شې.

عقلمن هماغه څوک دي، چې د اخرت لپاره کار کوي، ځکه چې هماغه همېشنی کور دی او تر ټولو ناپوه هغه څوک دي، چې په دې فاني نړۍ پسې نښتي وي او همداسې خلک د مصیبت پر مهال ډېر اندېښمن او پر خپلو کړو پښېمان ښکاري، ځکه دوی سپکه او بې ارزښته نړۍ په پام کې نیولې او هغه همېشنی کور یې هېر کړی؛ نو له دې امله د داسې کسانو غوښتنه


Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ ...am:https://t.me/...

دا وي، چې په دې دنيوي ژوند کې دې موږ له هېڅ ډول داسې ستونزې سره مخ نشو، چې زموږ خوښي کموي.

که دوی د جهالت او وحشت دغه توره او چټله پرده له سترګو پورته کړي؛ نو حقايق به ورته په ډاګه شي او د همېشه والي په کور (جنت) کې به خپلې مانۍ، حورې او غلمان په جوته توګه وګوري.

ايا موږ په دې اړه کله اوږد فکر کړی، چې په جنت کې استوګن خلک نه مرګ لري او نه اندېښنه، نه لوږې او ژورې لري، نه زړښت لري او نه فنا، په داسې کوټو کې به استوګنه ولري، چې ظاهر به يې له باطنه او باطن به يې له ظاهره ښکاري.

هلته داسې څه شته، چې نه سترګو ليدلي، نه د هغې په اړه غوږونو څه اورېدلي او نه د کوم انسان په خوا خاطر کې راغلي دي، يو سپور به يې د ونې تر سيوري لاندې سل کاله مزل کوي؛ خو بيا به يې هم لنډولای نشي، يوه خيمه يې شپېته ميله اوږد والی لري، وياله يې پر اوبو، شيدو، شاتو او شرابو تر و تازه او ډکې بهېږي، مانۍ يې ښکلې او تختونه يې اوچت دي.

لنډه دا چې د ارمانونو او هيلو د پوره کېدو ځای جنت دی او په جنت کې هر څه شته!

کله چې مسير د دغه ستر او نه فنا کېدونکي کور لور ته وي؛ نو د دې نړۍ غمونه بيا انسان ته ډېر سپک او واړه ښکاري.

نېکې چارې تر سره کړه، چې د الله تعالی جنت ته ورشې او د هغه په ګاونډ کې استوګن شې.

﴿سَلَٰمٌ عَلَيۡكُم بِمَا صَبَرۡتُمۡۚ فَنِعۡمَ عُقۡبَى ٱلدَّارِ ۝﴾

او هغوی (جنتيانو ته به په جنت کې) ووايي، چې پر تاسې سلامتيا ده، څنګه چې تاسې په دنيا کې له صبر څخه کار واخيست د هغه


[redacted]s://www.faceb[redacted]m/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



په برکت نن تاسې د دې وړ ګرځېدلي یاست، نو څه ښه دی دغه د اخرت کورا

## ۳۳ په هر کار کې منځلاري

منځلاري (اعتدال) یو شرعي او عقلي مقصد دی او که څوک نېکمرغه ژوند غواړي؛ نو خپلې هیلې دې په واک کې ولري او په هر حال کې دې له منځلارۍ نه کار واخلي، هغه د غوسې او که د نرمۍ حالت وي، همدا شان په هر څه کې له کمي او زیاتې نه ځان ساتل پکار دي، ځکه عدل دومره اړین خیز دی، چې دین هم له میزانه (تلې) سره رالېږل شوی دی او دنیوي ژوند پر عدل ولاړ دی.

ډېر بې لارې او ستومانه هماغه څوک دی، چې په خپلو هیلو او هوس پسې ځغلي او غاړه یې ورته ایښې وي، ځکه دی هر وخت د حوادثو ښکار شوی او د ژوند زاویې ورته تورتم شوې وي، دغه ډول خلک په حقیقت کې په خیالاتو او اوهامو کې ژوند کوي، ان تر دې چې کله داسې فکر کوي ګنې ټول خلک د ده پر ضد دي، له دې امله یې همېشه له وسوسو، غمونو او اندېښنو سره کور وي.

وېرول او ترهول شرعاً ممنوع دي؛ خو طبعاً اسانه دي او دا چارې هماغه څوک سرته رسوي، چې له دین او له ژوندیو ارزښتونو څخه بې برخې وي، الهي اصول او مبادي ونه پېژني؛ نو داسې خلک بیا:

﴿يَحۡسَبُونَ كُلَّ صَيۡحَةٍ عَلَيۡهِمۡۚ هُمُ ٱلۡعَدُوُّ﴾

"دوی هر زورور اواز د ځان پر ضد ګڼي."



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

By: Afghan Salar Library

ښه ډاډه ژوند کوه او هسې اټکلي پېښې په ذهن کې مه انځوروه، ځکه زیاتره چې له څه شي وېرول کېږي، هغه له سره وجود نلري او یا یې وقوع هېڅ شونې نه وي او د ځان ډاډمن کولو یوه طریقه دا هم ده، چې له کوم مصیبت څخه دارېږې؛ نو د هغې تر وقوع له مخه د هغې اټکلي بد او ناوړه صورت په ذهن کې ځای پر ځای کړه، په دې سره به ته بیا له وسوسو او اوهامو څخه خوندي پاتې شې او هره لویه ستونزه به درته کوچنۍ ښکاري.

ای زما هوښیاره وروره! د مچ له وزرو نه غرونه مه جوړوه، بلکې له اقتصاد او اعتداله کار واخله، د محبت او کرکې په اړه په حدیث شریف کې راغلي، چې په دوستۍ کې ډېر مه خوږېږه! کېدای شي دغه کس دې سبا ته دښمن شي او په دښمنۍ کې هم ډېر مه ترېخېږه، ښايي همدغه کس یوه ورځ ستا دوست شي؛ نو له دې امله په هر کار کې منځلاري پکار ده.

﴿عَسَى اللّٰهُ اَنْ يَّجْعَلَ بَيْنَكُمْ وَ بَيْنَ الَّذِيْنَ عَادَيْتُمْ مِّنْهُمْ مَّوَدَّةً ۭ وَاللّٰهُ قَدِيْرٌ ۭ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝﴾

"لرې نه ده چې الله تعالی یو وخت ستاسې او د هغو خلکو ترمنځ مینه واچوي، چې له هغو سره نن تاسې دښمني را اخیستې ده. الله تعالی غټ قدرت لري او هغه غفور رحیم دی."

## ۳۴ غم او اندېښنه مطلوب نه ده

د غم او اندېښنې داسې څرګندونه ناروا ده، چې انسان شرعي پولې ونړوي، په قرآن کریم کې له دې کاره ځای پر ځای ژغورنه راغلې، ځکه چې غم او اندېښنې زړه مړاوی کوي او له عبادت نه یې اړوي، وینه سړوي



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



او غم د بدن لپاره د کینسر په څېر دی او د دې راز دا دی، چې غم انسان بې زوره کوي، له کاره يې وباسي او شيطان ته تر ټولو خوښ کار دا دی، چې انسان اندېښمن کړي، له همدې امله رسول الله ﷺ له هغو چارو منع فرمايلې، چې له امله يې مسلمان اندېښمن او غمجنېږي.

په دې اړه الله تعالی فرمايي:

﴿وَلَا تَهِنُوا وَلَا تَحْزَنُوا﴾

"بې زړه کېږئ مه، اندېښمن کېږئ مه."

﴿وَلَا تَحْزَنْ عَلَيْهِمْ﴾

"او د دوی پر حال خپل زړه مه خوروه."

﴿لَا تَحْزَنْ إِنَّ اللَّهَ مَعَنَا﴾

"مه خفه کېږه! الله تعالی له موږ سره دی."

همدا شان په يوه بل ځای کې فرمايي:

﴿فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ○﴾

"پر دوی به هېڅ خوف او وېره نه وي او نه به دوی غمجن وي."

گورئ شريعت د يوه مسلمان د خوښۍ او نا خوښۍ په پامنيوي فرمايي که په يوه مجلس کې درې کسه ناست وي؛ نو دوه کسه دې په خپل منځ کې پټې خبرې نه کوي، هسې نه چې په دې سره د درېيم کس زړه ته څه خبره راشي او هغه اندېښمن کړي.

خپگان مطلوب او مقصود نه دی او نه پکې څه گټه شته! د اسلام ستر پېغمبر ﷺ له حزن څخه په دې ټکيو کې الله تعالی ته پناه ور وړې ده:



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:

Downloaded By: Afghan Salar Library


اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْهَمِّ وَالْحَزَنِ[۵]

"ای الله تعالیٰ! له غم او اندېښنې څخه تا ته پناه دروړم."

په وهم او حزن (غم، اندېښنه) کې توپیر دا دی، چې اندېښمن کېدو ته (هم) وايي او کله چې دغه اندېښنه له ټول زړه راچاپېره شي، بیا (حزن) بلل کېږي؛ خو دا دواړه د زهرو هماغه ترخې کپلې دي، چې روحیه کمزورې کوي، بې همتي اوملامتیا رازېږوي ؛ څومره ښایسته شی چې په نظر ورځي ورته بد برېښي؛ د ژوند ټولې خوښۍ او نېکمرغۍ په دردونو بدلوي.

په هر صورت انسان باید په یوه نا یوه ډول ځان پر غم او اندېښنو لاسبرى وساتي او الله مه کړه! که کوم غم سره مخ شئ؛ نو په تدبیر ترې ځان خلاصول پکار دي.

له دې امله جنتیان چې کله جنت ته دننه شي؛ نو داسې به ووايي:

﴿الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَذْهَبَ عَنَّا الْحَزَنَ﴾

"هغه ذات د ستاینې وړ دی، چې غم او اندېښنه يې له موږ څخه لرې کړه."

او دا د دې دلیل دی، چې هغوی په دنیا کې ارومرو غمجن او اندېښمن شوي ول، همدا شان د یوه نېک کار په پاتې کېدو غمجنېدل ښه کار دی؛ خو د الله تعالیٰ په نافرمانۍ کې د پرېوتو له امله چې کله انسان غمجنېږي؛ نو دا هم د دې خبرې دلیل دی، چې د دغه کس زړه لا ژوندی دی، ځکه پر گناه خپه شو او د مؤمن هېڅ خپگان بې ځای نه ځي، بلکې په هره اندېښنه د مؤمن گناهونه ښښل کېږي؛ خو د دې دا مانا نه ده، چې انسان دې غمونه وغواړي، یا غمونه عبادت وگڼل شي او یا گڼې اسلام د دې خبرې سپارښتنه کړې، چې تاسې له الله تعالیٰ څخه غمونه وغواړئ، ځکه که داسې وای؛ نو

---

۵ : صحیح البخاري (٤ / ٣٦)

Facebook:https://www.fac[redacted]om/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

رسول الله ﷺ به خپل ټول ژوند په غمونو او اندېښنو کې تېر کړی و؛ خو هسې نه دي شوي، بلکې د هغه سینه ډېره پراخه وه، همېشه به یې پر شونډو موسکا خپره وه، خوښ او نېکمرغه و، له دې امله موږ او تاسې ته هم پکار ده، چې د ځان لپاره خوښي ولټوو او له الله جل جلاله نه ښه ژوند وغواړو.

حافظ ابن حجر رحمه الله په (منبهات) کې دا حدیث راخیستی، چې رسول الله ﷺ یوه ورځ د صحابه وو یوه ټولي ته ورغی او هغوی یې وپوښتل، چې په څه حال کې مو سبا کړ؟ عرض یې وکړ، چې د ایمان په حالت کې مو سبا کړ، رسول الله ﷺ وپوښتل، چې ستاسې د ایمان نښه څه ده؟ هغوی یې په ځواب کې وویل (زموږ د ایمان نښه دا ده) چې موږ پر ستونزو صبر کوو، په پراخۍ کې د الله تعالٰی شکر کوو او د هغه پر پرېکړه خوښ یو (د دغه ځواب په اورېدو) هغه ﷺ وفرمایل د کعبې په رب مې دې قسم وي، چې تاسې کلک او رښتني مؤمنان یاست.

## ۳۵ د اندېښنو د لمنځه وړلو دعا

عبدالله بن عباس رضي الله عنهما فرمايي، چې ما وهب بن منبه وپوښت، چې (ته خو اسماني کتابونه مطالعه کوې) ایا په کوم کتاب کې دې د اندېښنو د لمنځه وړلو په اړه کومه په زړه پورې نسخه تر سترګو شوې، چې د سختې اندېښنې پر مهال په کارولو سره له واره اندېښنې لمنځه يوسي؟؟ وهب بن منبه وویل هو دا دعا ده:

اللهُمَّ! إِنِّي أَسْأَلُكَ يَا مَنْ يَمْلِكُ حَوَائِجَ السَّائِلِينَ. وَيَعْلَمُ ضَمِيرَ الصَّامِتِينَ: فَإِنَّ لِكُلِّ مَسْأَلَةٍ مِنْكَ سَمْعًا حَاضِرًا وَجَوَابًا عَتِيدًا،



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ ...gram:https:...

By: Afghan Salar Library

وَلِكُلِّ صَامِتٍ مِنْكَ عِلْمًا مُحِيطًا بَاطِنًا، مَوَاعِيدُكَ الصَّادِقَةُ وأَيَادِيكَ الْفَاضِلَةُ وَرَحْمَتُكَ الْوَاسِعَةُ أَنْ تَفْعَلَ بِي

المجالسة وجواهر العلم (٦ / ١٣٩)

ابن عباس رضي الله عنهما فرمايي، چې دا دعا ما ته په خوب کې راښوول شوې وه او زه نه پوهېږم، چې بل چا ته به هم دا دعا معلومه وي!

## ٣٦ مناجات

د اوسنيو حالاتو په پامنيوي موږ بايد په شپه او ورځ کې يو وخت وټاکو، چې پکې له الله تعالیٰ نه د دنيا او اخرت د ښېګړو غوښتنه او د فتنو له شرونو نه پکې پنا وغواړو.

راځه! چې د غمونو او اندېښنو د لرې کولو لپاره په دې څو کرمو دعاګانو الله تعالیٰ ته غږ پورته کړو.

«لاَ إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ الْعَظِيمُ الحَلِيمُ، لاَ إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ، لاَ إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ رَبُّ السَّمَوَاتِ وَرَبُّ الأَرْضِ، وَرَبُّ الْعَرْشِ الْكَرِيمِ يَا حَيُّ يَا قَيُّومُ لَا إِلَهَ إِلا أَنْتَ بِرَحْمَتِكَ أَسْتَغِيثُ».

«اللَّهُمَّ رَحْمَتَكَ أَرْجُو، فَلَا تَكِلْنِي إِلَى نَفْسِي طَرْفَةَ عَيْنٍ، وَأَصْلِحْ لِي شَأْنِي كُلَّهُ، لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ، أَسْتَغْفِرُ اللَّهَ الَّذِي لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ الْحَيَّ الْقَيُّومَ، وَأَتُوبُ إِلَيْهِ، لَّآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنْتَ سُبْحٰنَكَ اِنِّیْ كُنْتُ مِنَ الظّٰلِمِیْنَ ۝٨٧ اللَّهُمَّ إِنِّي عَبْدُكَ ابْنُ عَبْدِكَ ابْنُ أَمَتِكَ، نَاصِيَتِي بِيَدِكَ، مَاضٍ فِيَّ حُكْمُكَ، عَدْلٌ فِيَّ قَضَاؤُكَ، أَسْأَلُكَ بِكُلِّ اسْمٍ هُوَ لَكَ، سَمَّيْتَ بِهِ نَفْسَكَ او أَنْزَلْتَهُ فِي كِتَابِكَ او



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

عَلَّمْتَهُ أَحَدًا مِنْ خَلْقِكَ او اسْتَأْثَرْتَ بِهِ فِي عِلْمِ الْغَيْبِ عِنْدَكَ، أَنْ تَجْعَلَ الْقرآن رَبِيعَ قَلْبِي، وَنُورَ صَدْرِي، وَجَلَاءَ حُزْنِي، وَذَهَابَ هَمِّي».

«اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الهَمِّ وَالحَزَنِ، وَالعَجْزِ وَالكَسَلِ، وَالبُخْلِ وَالجُبْنِ، وَضَلَعِ الدَّيْنِ، وَغَلَبَةِ الرِّجَالِ» حَسْبُنَا اللَّهُ وَ نِعْمَ الْوَكِيلُ﴿﴾»١٧

همدا شان په قرآن او حدیث کې د سبا او بېګا نور ډېر ګټور ذکرونه او دعاګانې شته، په دې لړ کې(٦) هغه کتابونه مطالعه کول ګټور دي او ځانګړې ډول په ناسته ولاړه او په هر حال کې دا دعا"حَسْبُنَا اللَّهُ وَ نِعْمَ الْوَكِيلُ" ډېره ډېره ویل ګټور دي.

## ٣٧ موسکا

موسکا او تبسم د غم علاج او د ټپي زړونو مرهم دی او دا د روح په سوکالۍ او د زړه په خوښۍ کې ستره ونډه لري! د اسلام ستر پیغمبرﷺ به هم کله نا کله موسکل ان تر دې، چې مبارک غاښونه به یې ښکاره شول! خو په خندا کې له اسرافه کار اخیستل نه دي ګټور! ځکه په کرس خندا زړا وژني.

له توسط او منځلارۍ څخه کار واخله (له مسلمان وروور سره په موسکا مخ کېدل صدقه ده) خو په چا پورې خندل او له ملندو وهلو څخه منع

٦ : د شیخ ابو محمد امین الله البشاوري حفظه الله کتاب "دذکر او دعا مستند کتاب" ډېر سودمن دی


Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegr[redacted]tps://t.me/afg[redacted]

راغلې، خوش مزاجه انسان نه يوازې د ځان په ګټه وي، بلکې خپل خپلوان ورسره هم خوشحاله وي، داسې کس د کار ورتيا لري او له نورو سره ښه چار چلن کوي، که ما ته اختيار راکړ شي، چې په مال، دولت او ښکمرغه زړه کې يو شی خوښ کړه؛ نو زه به پکې ښکمرغه زړه خوښ کړم، ځکه د داسې بد خويه کس پر شتمنۍ څه، چې ورته وګورې؛ نو داسې ښکاري ګنې د کوم خپلوان له جنازې راستون شوی دی.

پر هغه ښکلې ښځه څه، چې له فساده ډکه وي، تر دې؛ خو هغه ښځه زر ځلې ښه ده، چې ظاهري ښکلا نلري؛ خو اخلاق يې ښکلي وي او په خپل ښه خوی له کوره جنت جوړ کړي.

عربو به خوش مزاجه او داسې انسان خوښاوه، چې تل به يې پر شونډو موسکا خپره وه او د دې پر عکس تونډ خويه او غوسه ناک کس د چا هم نه خوښېږي.

تونډ خويه او غوسه ناک خلک د دنيا شنه باغونه کله ليدلای شي، ځکه هر انسان د خپل مزاج مطابق دنيا ته ګوري، چې څوک د ښکلو خيالاتو او ښه مزاج خاوند وي؛ نو هغه ته دنيا هم ښکلې او رنګينه ښکاري؛ خو د دې پر عکس په نړۍ کې داسې خلک هم شته، چې په هر څه کې بدمرغي رابرسېره کوي او داسې ښکمرغه خلک هم شته، چې په هر څه کې ښکمرغي پلټي.

که يو څوک تل پردۍ نيمګړتياوې پلټي؛ نو خبره ان تر کنځاوو او ښښتې رسېږي او په دې ډول له يوې ورې خبرې نه د ټول کور سکون اور واخلي، ځيني خلک داسې هم وي، چې د يو چا له خبرې سم مفهوم وانه خيستلای شي؛ نو ټخپله هم اندېښمن او د نورو لپاره هم د سر درد شي، ځکه که د ده خپل ژوند تنګ وي؛ نو غواړي چې په بل چا پورې هم ژوند اور کړي او په داسې خلکو کې د شر او فساد د ډېرولو ورتيا وي، دوی د شر له زړي نه


Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



لویه ونه جوړوي او د خیر لور ته یې هېڅ پام نه اوړي.

ژوند یو فن دی، چې زده کړې ته اړتیا لري، ځینې خلک دنیوي مال او متاع ته بلا ډېر ارزښت ورکوي؛ خو ښه ژوند ته له سره په غرېدلو سترګو نه ګوري، ځکه د دوی په زړونو او مغزو کې دې خبرې ځای نیولی وي، چې کله شتمن شي؛ نو ټولې خوښۍ به خپله وړیه برخه شي؛ خو دوی تېروتي دي، ځکه تاسې به ډېر داسې شتمن لیدلي وي، چې د خوب په ارمان وي، ځکه دوی پر شتمنۍ خپل سکون او ارام پلورلی وي، سره له دې چې مال او دولت د ژوند د هوساینې ذریعه ده، نه د ژوندون موخه، کله چې ذریعه موخه وګڼل شي؛ نو خپله ژوند له ستونزو او کړاوونو سره مخ کېږي او کله، چې یو څوک په وړوکیو شیانو او مقصدونو کې ښکېل شي؛ نو داسې کس د ژوند اهمو مقاصدو په اړه له سره سوچ نشي کولای او نه څه ګټور ګام پورته کولای شي، ځکه د ده نظر بیا هومره لوړ پرواز نشي کولای.

د اسلام سپېڅلي دین په عقائدو او عباداتو، سلوک او اخلاقو کې په منځلارۍ امر کړی! نه تریو تندی او نه په ډکه خوله قهقهه خندا، بلکې توسط ، منځلاري، وقار، متانت او روح خوښي پکار ده.

ابو تمام وايي:

تر ابو علی جار شم، چې د هیله من لپاره د سباون پیغام او روڼ ستوری دی، ښه سنګین اوخوش مزاجه سړی دی، کله نا کله ټوکې هم کوي؛ خو ټوکې د هغه عادت نه دی.

انسان باید پردې وپوهېږي، چې هغه د بې ګټې چارو لپاره دې نړۍ ته نه دی رالېږل شوی، بلکې ورته پکار دي، چې د ځان لپاره لوړ هدف وټاکي؛ خپلې ټولې هلې ځلې د هغې موخې د ترلاسه کولو لپاره ګړندۍ کړي او نهیلي دې د ځان په لور نه راپرېږدي، ځکه د ا د همت څواک بې زوره کوي؛



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://[redacted]salar

## ۳۸ مه خپه کیږئ!

که څه هم له ستونزو سره په مخ کېدو خپه کېدل یوه فطري خبره ده؛ خو خپګان پر ځان مه لاسبرې کوئ، ځکه چې پرون دې غم او اندېښنه و ازمایله، څه ګټه یې در ونه رسوله په دې مانا، که د چا زوی په ازموینه کې پاتې شو؛ نو په خپګان څه هغه بریالی شو؟! که پلار دې مړ شو او تا یې خپګان د همېشه لپاره د زړه مشغولا وګرځوله؛ نو ایا هغه به پرې را ژوندی شي؟! پر سوداګریز تاوان خپګان دې تاوان بېرته راډکولای شي کړ څه!؟.

مه خپه کېږه! ځکه پرون پر یوه مصیبت خپه شوې نن ورځخه مصیبتونه جوړ شو! پر بېوزلتوب خپه شوې لادې په سر زیات کړل او لا دې دښمن پر ځان خوشحاله او په ځان پورې وخنداوه.

مه خپه کېږه! ځکه له خپګان سره پراخه کور ښایسته ښځه، ستره شتمني، لوی منصب او اولادونه هم درته څه ګټه نشي رسولای.

مه خپه کېږه! ځکه خپګان به درته له خوږو اوبو نه زهر، له ګلابو نه مړه غوټۍ او له باغ نه به درته دښته جوړه کړي او ژوند به دې لا پسې تریخ کړي.

مه خپه کېږه! په داسې حال کې چې دوه سترګې، دوه غوږونه دوه پښې، دوه لاسونه او داسې نور بدني غړي هم لرې، په بدن روغ، په جامه پټ، په سولییز چاپیریال کې ژوند کوې؛ بیا به نو:

﴿فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ۝﴾

"تاسې به د خپل رب کوم کوم نعمتونه درواغ وګڼئ؟"



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



رسول اللهﷺ فرمايي، كله چې يو څوک غمجن شي او دا دعا ووايي؛ نو الله تعالیٰ به ترې غم لرې کړي او پر ځای به يې خوښي ورو‌بښي، د دغه حديث راوي، عبدالله بن مسعودﷺ وايي صحابه وو عرض وکړ، چې ای د الله رسوله! موږ يې زده نه کړو؟ رسول اللهﷺ ورته وفرمايل، چې هر اورېدونکی دې دغه دعا زده کړي:

اللَّهُمَّ إِنِّي عَبْدُكَ ابْنُ عَبْدِكَ ابْنُ أَمَتِكَ. نَاصِيَتِي بِيَدِكَ. مَاضٍ فِيَّ حُكْمُكَ. عَدْلٌ فِيَّ قَضَاؤُكَ. أَسْأَلُكَ بِكُلِّ اسْمٍ هُوَلَكَ. سَمَّيْتَ بِهِ نَفْسَكَ او أَنْزَلْتَهُ فِي كِتَابِكَ او عَلَّمْتَهُ أَحَدًا مِنْ خَلْقِكَ او اسْتَأْثَرْتَ بِهِ فِي عِلْمِ الْغَيْبِ عِنْدَكَ. أَنْ تَجْعَلَ الْقرآن رَبِيعَ قَلْبِي. وَنُورَ صَدْرِي. وَجَلَاءَ حُزْنِي. وَذَهَابَ هَمِّي وَغُمِّي.[7]

مه خپه کېږه! په داسې حال کې، چې پر خپل دين باور لرې، د استوګنې لپاره کور لرې، د خوراک څښاک لپاره خواړه او اوبه لرې، په زړه پورې جامې او د ژوند ملګرتيا لپاره پيمخې ښځه لرې؛ نو بيا پر څه خپه يې؟!

## ۳۹ د دردونو نعمت

درد او غم همېشه بد نه وي، بلکې کله نا کله د يو چا ښه په دردونو ګاللو کې نغښتی وي! دعاګانې او رښتني تسبيحات له دردمن سره مله وي.

زده کوونکی د زده کړې په بهير کې دردونه ګالي؛ نو هله ورڅخه عالم جوړېږي، په پيل کې سوزېږي؛ خو په پای کې رڼا ورکوي.

شاعر هم په پيل کې ربړېږي، کړېږي او د خپل زړه وينې خوري، لنده

[7] : عمل اليوم والليلة لابن السني (١ / ٣٠٠)



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegr[...]ps://t.me/afgha[...]

...y: Afghan Salar Library


دا چې کړاونه ګالل يې پر يو اغېزمن ادب واوړي؛ نو مشاعر او زړونه په خوځښت راولي.

کوم زده کوونکي چې په خپله خوښه خپلسري ژوند پيل کړی وي او د علم په پلټنه کې يې سختۍ نه وي ګاللي، له بحران او ستونزو سره نه وي مخ شوی، دغسې زده کوونکی همېشه تمبل او لټ وي، په علم کې يې هېڅ خير او برکت نه وي.

کوم شاعر، چې ستونزې ونه ګالي او د زړه وينې د کاغذ پر مخ توی نکړي، شعر او شاعري يې هم بې خونده وي، ځکه دغسې شاعري له زړه نه سرچينه نه اخلي! بلکې له ژبې راوتلې وي

تر دې هم په لوړه سطحه مثال د هماغو لومړنيو مسلمانانو دی، چې د پېغمبري دورې په شروع کې يې ژوند کاوه؛ هغوی د اوچت ايمان، پاکو زړونو، رېښتينې لهجې، ژورې پوهې خاوندان وو، ځکه يې له حق سره د ملګرتيا په ډګر کې تر بل هر چا زياتې ربړونې ګاللې وې، لکه چې الله سبحانه و تعالی يې په اړه فرمايي:

﴿مَا كَانَ لِأَهْلِ الْمَدِينَةِ وَمَنْ حَوْلَهُم مِّنَ الْأَعْرَابِ أَن يَتَخَلَّفُوا عَن رَّسُولِ اللَّهِ وَلَا يَرْغَبُوا بِأَنفُسِهِمْ عَن نَّفْسِهِ ۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ لَا يُصِيبُهُمْ ظَمَأٌ وَلَا نَصَبٌ وَلَا مَخْمَصَةٌ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَلَا يَطَئُونَ مَوْطِئًا يَغِيظُ الْكُفَّارَ وَلَا يَنَالُونَ مِنْ عَدُوٍّ نَّيْلًا إِلَّا كُتِبَ لَهُم بِهِ عَمَلٌ صَالِحٌ ۚ إِنَّ اللَّهَ لَا يُضِيعُ أَجْرَ الْمُحْسِنِينَ ۝﴾

"د مدينې اوسېدونکيو او د شاوخوا باندچيانو ته دا هېڅکله نه ښايېدله، چې د الله تعالی پېغمبر يې پرېښی او په کور ناست وای او له هغه نه په بې پروايۍ سره د خپلو خپلو ځانونو په فکر کې شوي وای، ځکه چې داسې به هېڅکله نه وي، چې هغوی د الله تعالی په


Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



کار کې د لوړې تندې او بدني تکليف څه کړ وګالي او د حق د منکرانو چې کومه لاره بدې شي هغوی پرې کوم ګام واخلي او له کوم دښمن نه (چې له حق سره يې دښمني وي) څه غچ واخلي او د هغه په بدل کې هغو ته يو نېك عمل ونه ليکل شي، دا باوري ده، چې الله تعالٰی د نېکانو د خدمت حق نه ضايع کوي.''

پر دې سربېره نورې داسې بېلګې هم شته، چې د لوړو او ژورو په ګاللو يې غوره نوښتونه رامنځته کړي دي.

﴿وَّلٰكِنْ كَرِهَ اللّٰهُ انْۢبِعَاثَهُمْ فَثَبَّطَهُمْ وَقِيْلَ اقْعُدُوْا مَعَ الْقٰعِدِيْنَ﴾

''خو د هغو پاڅون له سره د الله تعالٰی خوښ نه و، ځکه خو يې هغوی سست کړل او ووېل شول، چې کيناستو سره.''

دلته ما ته مالک بن الريب شاعر را ياد شو، چې د بېلتانه درنو غمونو ځپلی او د ژوند وروستۍ ساګانې يې په خوله کې وې! نوموړی د خپل ځان په مرثيه کې وايي:

ايا تا ونه ليدم چې بېلارې مې په لار موندنه بدله کړه او د ابن عفان په لښکر کې مې د کفارو پر ضد غزا وکړه!

دا يوازې د الله تعالٰی لورنه وه، چې د هغه په اطاعت کې مې د رقمتين په مقام کې خپل زامن او مال پرېښودل.

دغه دردمن شاعر تر پايه همداسې دردمنه قصيده ويلې چې غوږونې ځيږوي.

هغه واعظ چې د خپل وعظ په دردونو کې ربړېږي، د هغه خبرې د زړونو تل ته کښېوځي، ځکه چې وعظ يې له درده سرچينه اخيستې وي.



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:ht[...]

Dow... S...

## د پوهې لورنه

۴۰

﴿وَعَلَّمَكَ مَا لَمْ تَكُنْ تَعْلَمُ ۚ وَكَانَ فَضْلُ اللَّهِ عَلَيْكَ عَظِيمًا ۝﴾

"او تا ته يې هغه څه ښودلي دي چې تا ته معلوم نه وو او پر تا د الله تعالٰی لورنه ډېره زياته ده."

ناپوهي د ضمير مړينه او د ژوند وژل دي، چې دا د عمر تباهي ده.

﴿إِنِّيٓ أَعِظُكَ أَن تَكُونَ مِنَ ٱلْجَٰهِلِينَ ۝﴾

"زه تا ته نصحيت کوم، چې خپل ځان د ناپوهانو په ځېر ونه ګرځوې!"

د دې پر عکس له علم پرته انسان هسې مړی دی، بې علمي د مړو په څېر ژوند کول دي او علم د سترګو روښنايي او د روح غښتلتيا ده.

د پوهې پر مټ انسان له خپل زړه نه تنګي لرې او ډاډمنې تر لاسه کولای شي، پوهه ده چې له لاسه وتلی شي بېرته انسان ته په واک کې ورکولای شي او دا هم انساني فطرت دی، چې له نويو شيانو سره اشنايي پيدا کوي او د دې پر عکس ناپوهي د زړه او روح سکون لمنځه وړي، په ناپوهۍ کې ننني ورځ هم د پرون په څېر ده؛ نو که څوک نېکمرغي غواړي، بايد پوهه تر لاسه کړي، چې نن يې له پرون سره توپير ولري، په دې مانا چې نن يې بايد تر پرونه ښه وي

د پوهې په اړه الله تعالٰی په قرآن کريم کې فرمايي:

﴿وَقُل رَّبِّ زِدْنِي عِلْمًا ۝﴾ ﴿ٱقْرَأْ بِٱسْمِ رَبِّكَ ٱلَّذِي خَلَقَ ۝﴾



...https://www.fa...com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

"او دعا و کړه، چې ای پروردګاره! ما ته لا زیات علم راکړه .... ولوله (ای پیغمبره!) د خپل رب په نامه، چې هغه پیدا کړ."

همدا شان رسول الله ﷺ فرمايي:

مَنْ يُرِدِ اللَّهُ بِهِ خَيْرًا يُفَقِّهْهُ فِي الدِّينِ (٨)

"د چا په اړه چې الله تعالی د خیر اراده وکړي؛ نو په دین کې پوهه ورنصیب کړي"

هېڅ ناپوه او په صفر کې ضرب دې پر مال، جاه او جلال نه وياړي، ځکه چې د هغه ژوند پوره نه دی.

بقي بن مخلد له اندلس نه په دې نیت د بغداد لار ونیوله، چې هلته به له امام احمد بن حنبل رحمه الله نه د حدیثو علم زده کړي، تاسې ته ښايي معلومه وي، چې د اندلس او بغداد ترمنځ څومره اوږد واټن دی، یو تېز رفتاره ګاډی چې ښه تېز مزل وکړي؛ نو ایله په میاشت کې رسېدلای شي او دا د علم تږی له اندلس نه بغداد ته پلی روان شو، بغداد ته تر رسېدو وروسته پر دې پوه شو، چې امام احمد بن حنبل رحمه الله د خلق القرآن مسئلې له امله په کور کې تر څار لاندې بندي دی او څوک ورسره د لیدنې کتنې حق نلري، بقي بن مخلد ویتیله، چې تر دومره مزله وروسته که له لاسته راوړنې پرته بېرته ستون شم؛ نو دا ښه نه ده، ځکه خواري به مې بې ځایه لاړه شي، له ځان سره یې پرېکړه وکړه، چې زه به یې د دروازې مخې ته کېنم تر دې، چې ورسره وګورم.

دېرې شپې ورځې یې د امام صاحب د وره مخې ته تېرې کړې، لنډه دا چې د هغه خدمتګار راووت؛ نو بقي بن مخلد ورته خپله کیسه وکړه، چې د څه لپاره راغلی او څه غواړي، امام صاحب چې خبر شو؛ نو په څه بهانه

---

٨ : صحيح البخاري (١ / ٢٤)



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/

بې ورسره وکتل او دواړه پر دې پرېکړه همنظري شول، چې ته د سوالگر په جامه راځه، زما د کور مخې ته کښېنه او خیرات غواړه؛ نو زه به هم د خیرات درکولو په بانه دروځم او په منډه به یو حدیث درته وایم، دواړو تر یوه کاله پورې همداسې کول او کال ورروسته، چې بقي خپل کلي ته ستون شو؛ نو مسند بقي بن مخلد بې وکښه، چې ټوله د علم نړۍ بې پرې خړوبه کړه او خپله د کتاب لیکوال به ان شاءالله له ټولو دنیوي ستونزو بې پروا د جنت په باغونو کې مزې کوي.

## (٤١) د خوښۍ تر لاسه کولو هنر

د زړه خوښي او ثبات لوی نعمت دی، ځکه چې د زړه خوښۍ ذهن ته ثبات او نفس ته ډاډمني وربښي، د دې په برکت په انسان کې د نوښت او پنځونې ورتیا راویښېږي!

ویل کېږي چې سرور او خوښي لاسته راوړل یو داسې هنر دی، چې زده کړې ته اړتیا لري، څوک که پر دې هنر وپوهېږي، چې سرور څه ډول تر لاسه کېږي او گټه ترې څنگه اخیستل کېدای شي؛ نو هله به د ژوند په خوږو پوه شي.

په دې لړ کې تر ټولو لومړنی اصل دا دی، چې انسان باید زغمناک وي، له مصیبتونو سره د مخ کېدو په صورت کې باید زغم ونه بایلي او نه له خندونو سره د مقابلې پر مهال د دوه زړه توب ښکار شي، ځکه زړه چې څومره غښتلی او پاک وي؛ نو روح به هومره روڼ او ځواکمن وي او بیا په زغرده له ستونزو سره مقابله کولای شي.

د دې پر عکس د فطرت له کړکېچونو سره له مقابلې نه ډارېدل او دوه



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



زړه توب رنځونو، دردونو او وهمونو ته لار جوړوي يانې د مصيبتونو پر مهال واوېلا کول او پر وړو وړو خبرو هيجاني کېدل انديښنې او لا ډېرې ستونزې راولاړوي؛ خو هغه څوک چې د غوسې پر مهال له صبر او زغمه کار اخلي، ټولې ستونزې يې په اسانه هوارېږي.

کله چې يو ځوان له مرگ سره لوبې کولای شي؛ نو د ستونزو او مصيبتونو کالل ورته اسانه خبره وي.

د سرور او خوښۍ د دښمنانو تګلاره تنګ نظري او د نورو په پرتله يوازې خپل ځان ته ارزښت ورکول دي، الله تعالی خپلو دښمنانو ته په دې ټکيوکې اشاره کړې:

﴿أَهَمَّتْهُمْ أَنفُسُهُمْ﴾

"هغوی ته يوازې همدی خپلو ځانو ارزښت درلود."

دغه ډول لنډ فکري او ځانپالي خلک، ټولې ښېګڼې په خپل ځان کې کوري او نور ټول مخلوق يې تر سترګو کم راځي، د نورو په اړه هېڅ فکر نه کوي او نه د بل لپاره ژوند کوي، يانې په هر څه کې خپلې ګټې په پام کې نيسي ؛ نو موږ بايد يو څه شېبې د بل لپاره هم ژوند وکړو، لږ د بل د ګټو په خاطر د خپلو ګټو قرباني ورکړو؛ نو هله به سوکاله او له خوښۍ ډک ژوند ولرو.

## ٤٢ د خوښۍ د تر لاسه کولو يو بل هنر

د دغه هنر يو بل مهم اصل دا دی، چې خپل فکر ته واکې واچوه، خپلسرى يې مه پرېږده او که همداسې خپلسرى يې پرېږدې؛ نو د غمونو دوسيې به



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

[redacted]ibrary

درته را پرانیزي او له پیداښت نه تر ننه پورې د نهیلیو تولې کیسې به درته وکړي، ژوبله ماضي او اندېښمن مستقبل به دې مخې ته ښغ ودروي؛ چې هغه ستا احساساتو ته په توله مانا تکان ورکوي! نو خپل فکر د یوه کټور عمل په سرته رسولو متمرکز کړه.

﴿وَتَوَكَّلْ عَلَى الْحَيِّ الَّذِي لَا يَمُوتُ﴾

"پر هغه الله تعالی توکل وکړه، چې ژوندی دی او هېڅکله مړکېدونکی نه دی."

## ۴۳ د همدغه هنر یو بل اصل

یو بل اصل یې دا هم دی چې دې نړۍ ته فقط هومره ارزښت ورکړه، چې خومره ارزي! دنیا هسې لهو او لعب دی؛ نو له دې دنیا نه مخ اړول ښکار دي! څکه چې دا د ښېلتانه سکنۍ او د فجایعو ناسکه مور ده! دغسې صفت لرونکې شی دومره د پامور کله کېدای شي؟!

یو عربي شاعر وايي:

ورونو! مور په یوه داسې کلي کې اوسېږو، چې همېشه پکې د ښېلتانه کارغه کاغ کاغ کوي.

مور په دنیا پسې ژاړو، سره له دې چې په دنیا کې راټول شوي خلک اړومرو یو له بله سره جلا شوي!

دېر هغه غټان څه شول، چې پراخه خزانې یې راټولې کړې وې؟! نه هغوی پاتې شول او نه یې خزانې!

په حدیث شریف کې راځي، چې علم په تعلم او حلم په تحلم سره


[redacted]k[redacted]ps://www.ja[redacted]k.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

منځته راځي.

د ژوندانه د ادابو په ترڅ کې ويل کېږي، چې خوښي او د خوښۍ لاملونه په هڅې او کوښښ سره ترلاسه کېدای شي، چې بيا وروسته طبعي ښه خپلوي او د دنيا ژوند يوازې د دې وړ هم نه دی، چې هغه ته فقط په تريو تندي وکتل شي!

يوه عربي شاعر څومره ښه ويلي دي، چې ژباړه يې په لاندې ډول ده:

"د مرګ فرمان په ټول مخلوق کې جاري دی، ځکه چې دا نړۍ تلپاتې کور نه دی."

دلته کله نا کله يو انسان د بل د مرګ خبر خپروي؛ په داسې حال کې، چې خپله د ده خبر خپور شي.

دا هم حقيقت دی چې له ژوندانه څخه ټول په ټوله د خپګان نښې او اغېز نشي لرې کولای، ځکه ژوند همداسې پيدا شوی.

﴿لَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنْسَانَ فِي كَبَدٍ﴾ ﴿إِنَّا خَلَقْنَا الْإِنْسَانَ مِنْ نُطْفَةٍ أَمْشَاجٍ نَبْتَلِيهِ﴾ ﴿خَلَقَ الْمَوْتَ وَالْحَيَاةَ لِيَبْلُوَكُمْ أَيُّكُمْ أَحْسَنُ عَمَلًا﴾

"په حقيقت کې موږ انسان په سختۍ کې پيدا کړی دی _ موږ انسان له يوې ګډې شوې نطفې نه پيدا کړ، چې هغه وازمايو _ مرګ او ژوند يې د دې لپاره پېدا کړی، چې تاسې وازمايي او وګوري چې له تاسې نه کوم يو د ډېر ښه عمل کوونکی دی."

لکه د جنتيانو هغه خبره، چې وايي به:

﴿وَقَالُوا الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَذْهَبَ عَنَّا الْحَزَنَ﴾

"او دوی به ووايي، چې شکر دی د هغه الله تعالی لپاره، چې له موږ نه يې غم ايسته کړ."



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ T... https://t.me/...

[redacted]

او دا د دې دلیل دی، چې له ټولو غمونو اندېښنو څخه د خلاصون یواځینی کور جنت دی، فقط هلته ټول په ټوله غمونه او اندېښنې پای ته رسېدلای شي."

﴿وَنَزَعْنَا مَا فِي صُدُورِهِم مِّنْ غِلٍّ﴾

"د هغو په زړونو کې، چې د یو بل په خلاف کوم خیری وي هغه به موږ ایسته کړو."

حلفتْ لنا أنْ لا تخون عهودَنا ... فكأنَّها حَلَفَتْ لنا أنْ لا تَفِي

"موږ ته یې قسم خوړلی، چې له موږ سره به په شویو ژمنو کې خیانت نه کوي، لکه څنګه یې چې له موږ سره پر بې وفایۍ هم قسم خوړلی."

کله، چې معامله همداسې ده؛ نو پوه او هوښیار سړی هغه څوک دی، چې دنیا ته پر خپل ځان د واکمنۍ چانس ورنه کړي او د نړۍ غمونو او اندېښنو ته تسلیم نشي، بلکې مقابلې ته یې ملا وتړي.

## ٤٤ مه خپه کېږه!

که ته غریب یې! خلک پوروړي دي!

که ته ګاډی نه لرې، خلک پښې نه لري!

که ته له مصیبتونو سرټکوې، خلک له کلونو راهیسې په کټ پراته دي!

که تا یو زوی له لاسه ورکړی، خلکو ډېر زامن له لاسه ورکړي!

مه خپه کېږه!



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

ځکه ته مسلمان یې، پر الله تعالٰی او د هغه پر رسولانو، کتابونو، ملائکو، تقدیر او د اخرت په ورځ ایمان لرې، داسې خلک شته چې دغه هر څه درواغ ګڼي!

مه خپه کېږه:

که ګناه درڅخه شوې وي؛ نو توبه وباسه!

که د بدۍ مرتکب شوی یې؛ نو استغفار ووایه!

که غلطي دې کړې وي؛ نو اصلاح یې کړه! ځکه چې د الله تعالٰی رحمت پراخه او د توبې دروازه یې پرانستې ده.

مه خپه کېږه!

ځکه خپګان اعصاب کمزوري کوي او له سترګو خوبونه وړي!

یو شاعر وايي:

ځومره مصیبتونه دی، چې سړی ورڅخه تنګ شي، له خلاصونه یې نهیلی شي سره له دې ، چې له الله تعالٰی سره یې د هواري لارې شته، پکار ده، چې په دغسې حال کې انسان یوازې یو الله جل جلاله ته خپل ټول پام ور واړوي.

## ۴۵ خپلې ولولې په کابو کې ساتل

ډېره خوښي او ډېر خپګان انسان بېواکه کوي

په حدیث شریف کې راغي چې:

زه له دوو ناوړه چیغو څخه ژغورل شوی یم، چې یوه یې د خوښۍ او با یې د مصیبت پرمهال د انسان له خولې وځي.


Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Te[redacted]m:https://t.m[redacted]

...d By: Afghan Salar Library

﴿لِّكَيْلَا تَأْسَوْا عَلَىٰ مَا فَاتَكُمْ وَلَا تَفْرَحُوا بِمَا آتَاكُمْ﴾

"(دا هر څه د دې لپاره دي) چې تاسې ته که هر زيان وي، چې پر هغه باندې زړه ماتي نشئ او څه چې الله تعالیٰ تاسي ته درکوي پر هغه ونه غوړيږئ."

په حديث شريف کې راځي چې:

"صبر هغه دی، چې د صدمې په پيل کې وشي"

څوک چې په غم او خوښۍ کې پر خپلو احساساتو واکمن او لاسبری شو، هغه د ټيکاو، رسوخ، نېکمرغۍ او راحت مرتبه ترلاسه کړه!

د ديني ښوونو غوښتنه همدا ده، چې په خوښۍ او غم دواړو کې خپل نفس په واک کې ولرې، يانې د خوښۍ په تر لاسه کولو د الله تعالیٰ شکر وکاږې، د مصيبت پر مهال د صبر او زغم لمن پرنېږدې او په داسې حالاتو کې بېواکه کېدل انسان د منځلاريتوب له کرښې باسي، په دې اړه په حديث شريف کې موږ ته د داسې دعا غوښتلو لارښوونه شوې، چې:

وَأَسْأَلُكَ الْعَدْلَ فِي الرِّضَاءِ وَالْغَضَبِ

"ای الله تعالیٰ موږ ته په غوسه او خوښۍ دواړو حالتونو کې منځلاري را په برخه کړه."

څوک چې پر خپلو عواطفو او احساساتو لاسبری دی او هر يوه ته يې خپل مقام ورکړ؛ نو حق او حقيقت يې درک کړ.


Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



## ٤٦

## رسول الله ﷺ د صحابه وو لپاره لويه نېکمرغي وه

زموږ پیغمبر ﷺ خلکو ته له الهي دعوت سره راغی!سره له دې چې دنیا یې هدف نه وه، باغونه او خزانې یې نه درلودې او نه په کومه لویه مانۍ کې اوسېده، مینه والو به یې ورسره د لوږو، تندو، لوړو او ژورو په ګاللو بیعت کاوه، پلیونو یې پر ټولو ستونزو ورسره سترګې پټولې، په هر ډول ستونزمنو حالاتو کې به لکه د شپول ترې راتاوېدل.

د ده پلیوني د ابو طالب په دره کې محاصره شول، د خوراک څښاک لارې پرې وتړل شوې، د ده ﷺ په خلاف شعرونه ویل کېدل پیل شول، خپلو خپلوانو یې د جنګ تابیا نېولې او د ده ﷺ په وړاندې توره کښلې جنګېدل؛ خو سره له دې یې هم پلیونو ملتیا پرېنښوده او نه یې ورسره په مینه کې څه کمی راغی!

کافرانو پرې ډول ډول سختې وازمایلې؛ خو هغوی بیا هم له خپل محبوب ﷺ سره بې کچې مینه درلوده.

له کورو کلي، ښځو او بچیو نه جلا کړای شول؛ خو بیا هم په ټوله مینه د هغه ﷺ تر څنګ ودرېدل.

د هغه د دعوت له امله هومره ورېږول شول، چې زړونه یې تر خولې راغلل؛ خو د هغه ﷺ درشل یې پرې نښود.

ځوانان یې د تېرو تورو خولو ته وړاندې شول! خو د شاعر په وینا:



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Tele[redacted]https://t.me/afg[redacted]

Downloaded By: Afghan Salar Library

"همغه ذات دی، چې په امیونو کې یې پیغمبر پخپله له همغوی نه را پاڅاوه، چې هغو ته د هغه آیتونه لولي، د هغوی ژوند سپېڅلي کوي او هغو ته د کتاب او حکمت ښوونه کوي په داسې حال کې، چې له دې نه مخکې هغوی په ښکاره ګمراهۍ کې غورځېدلي ول."

﴿وَ يَضَعُ عَنْهُمْ اِصْرَهُمْ وَالْاَغْلٰلَ الَّتِيْ كَانَتْ عَلَيْهِمْ﴾

"او له دوی څخه هغه پېټي کوزوي، چې پر دوی درووند شوي و."

﴿يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اسْتَجِيْبُوْا لِلّٰهِ وَ لِلرَّسُوْلِ اِذَا دَعَاكُمْ لِمَا يُحْيِيْكُمْ﴾

"ای مؤمنانو! د الله تعالی او د هغه د پیغمبر بلنې ته لبیک ووایئ چې کله پیغمبر تاسې ته د هغه شي په لوري بلنه درکړي، چې تاسې ته ژوند بښونکی دی."

﴿وَ كُنْتُمْ عَلٰى شَفَا حُفْرَةٍ مِّنَ النَّارِ فَاَنْقَذَكُمْ مِّنْهَا﴾

"او تاسې د دوزخ پر څنډه ولاړ وئ، چې هغه ورڅخه وژغورلئ."

درود او سلام پر هغه ستر پیغمبرﷺ چې انساني نفوس او عقلونه یې د انحراف له زولنو څخه ازاد کړل او له خپلو یارانو څخه د هغوی د بې دریغه سرښندنو له امله خوښ و.

## ۴۷ د ژوند ستړتیا شا ته وغورځوه

پر یوه اړخ ژوند تېرول انسان ستومانوي! څکه انسان په طبعي ډول پر یوه اړخ پاتې کېدل نه خوښوي، بلکې یو او بل لور ته میلان کوي، همدا لامل دی چې الله تعالی د کایناتو په ذره ذره کې بدلون اېښی دی، لکه زمانه اوړي



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

d By: Afghan Salar Libr

او مکان هم بدلون مومي، په خوراکي څښاکي توکيو او مخلوقاتو کې اختلاف دی، ياني بېلا بېل ډولونه لري، همدا شان دغه اختلاف په شپه او ورځ کې شته، چې شپه تياره او ورځ روښانه ده،په غرونو کې هم شته، چې ځينې لوغړن؛ خو ځينې تک شنه او سمسور دي،په انسانانو کې هم توپير په ډاګه دی، تاسې وينئ چې څه سره، سپين او څه تور دي، همدا شان په اوبو کې هم تودې، يخې، خوږې او ترخې شته، چې دا خپله اختلاف ښيي او الله تعالی دغه اختلاف د خپل ربوبيت نښه بولي، لکه چې الله تعالی فرمايي:

﴿يَخْرُجُ مِنْ بُطُوْنِهَا شَرَابٌ مُّخْتَلِفٌ اَلْوَانُهَا﴾

"د دغه مچۍ له خېټې نه په بېلا بېلو رنګونو يو شربت راوځي."

﴿وَّ نَخِيْلٌ صِنْوَانٌ وَّ غَيْرُ صِنْوَانٍ﴾

"د کجورو ونې دي چې له هغو نه ځينې يو ستوې دي او ځينې غبرګې."

﴿وَالزَّيْتُوْنَ وَالرُّمَّانَ مُتَشَابِهًا وَّ غَيْرَ مُتَشَابِهٍ﴾

"او د ښوون او انارو ونې يې پيدا کړي دي، چې د هغو ميوې په رنګ سره ورته او په خوند کې بېلې وي."

﴿وَمِنَ الْجِبَالِ جُدَدٌۢ بِيْضٌ وَّ حُمْرٌ مُّخْتَلِفٌ اَلْوَانُهَا وَغَرَابِيْبُ سُوْدٌ﴾

"په غرونوکې هم سپينې، سرې او تکې تورې ليکې موندل کېږي چې بېلا بېل رنګونه يې وي."

﴿وَتِلْكَ الْاَيَّامُ نُدَاوِلُهَا بَيْنَ النَّاسِ﴾

"دا د زمانې خوږې ترخې دي، چې موږ يې د خلکو تر مينځه اړوو راړوو."



ebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



بني اسراييلو په مستمر ډول د ډېر ښه خوړو له خوړلو څخه زړه توري وانکېرله؛ نو ویي ویل چې:

﴿لَن نَّصْبِرَ عَلَىٰ طَعَامٍ وَاحِدٍ﴾

"موږ پر همدا يو ډول خوړو صبر نه شو کولای."

مامون الرشيد به د لوست لپاره بېلا بېلې لارې چارې کارولې، یانې کله به يې په ناستې کله په ولاړې او کله به يې په روانه لوست کاوه او ويل به يې، چې نفس ستومانه کېږي.

الله تعالیٰ فرمايي:

﴿الَّذِينَ يَذْكُرُونَ اللَّهَ قِيَامًا وَقُعُودًا وَعَلَىٰ جُنُوبِهِمْ﴾

"هغه کسان، چې الله تعالیٰ په ولاړه، په ناسته او پر اړخونو باندې په پرتو يادوي."

همدا شان که څوک عبادتونو ته ځير شي؛ نو په عبادت کې به هم ګڼ ډولونه ووينې، په دې مانا چې ځينې اعمال قلبي او قولي وي، ځينې عملي او مالي وي، لکه لمونځ، روژه، زکات، حج، جهاد، په لمانځه کې قيام، رکوع، سجده، جلسه، قومه او داسې نور...... که څوک غواړي، چې تل خوښ او تازه ووسي بايد د خپل ژوند چارې پر ډولونو وويشي.

## ٤٨ اندېښنه مه کوه!

مه خپه کېږه! ځکه ستا رب فرمايي:

﴿أَلَمْ نَشْرَحْ لَكَ صَدْرَكَ﴾



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



"ایا موږ ستا سینه نه ده پراخه کړې؟"

او دا د هر هغه چا لپاره ده، چې حقپال، د سمې لارې لاروی او د رڼا پلټونکی وي.

دغه راز فرمايي:

﴿اَفَمَنْ شَرَحَ اللّٰهُ صَدْرَهٗ لِلْاِسْلَامِ فَهُوَ عَلٰى نُوْرٍ مِّنْ رَّبِّهٖ ۭ فَوَيْلٌ لِّلْقٰسِيَةِ قُلُوْبُهُمْ مِّنْ ذِكْرِ اللّٰهِ ۭ اُولٰۗىِٕكَ فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ﴾

"ایا نو هغه څوك چې الله تعالیٰ د هغه سینه د اسلام لپاره پرانستله او هغه د خپل رب خوا ته په یوه رڼا باندې روان دی (د هغه چا په څېر کېدای شي، چې له دغو خبرو نه یې څه درس وانخیست؟) تباهي ده د هغو خلکو لپاره چې زړونه یې د الله تعالیٰ په نصیحت سره لا زیات سخت شول، هغوی په ښکاره ګمراهۍ کې غوړ ځېدلي دي."

﴿فَمَنْ يُّرِدِ اللّٰهُ اَنْ يَّهْدِيَهٗ يَشْرَحْ صَدْرَهٗ لِلْاِسْلَامِ﴾

"نو (دا حقیقت دی) چا ته چې الله تعالیٰ د لارښوونې اراده وکړي د هغه سینه د اسلام لپاره پرانیزي."

﴿لَا تَحْزَنْ اِنَّ اللّٰهَ مَعَنَا﴾

"هر هغه څوک ویلای شي، چې زړه یې د الله تعالیٰ پر نصرت ډاډمن وي."

الله تعالیٰ فرمايي:

﴿اَلَّذِيْنَ قَالَ لَهُمُ النَّاسُ اِنَّ النَّاسَ قَدْ جَمَعُوْا لَكُمْ فَاخْشَوْهُمْ فَزَادَهُمْ اِيْمَانًا ڰ وَّقَالُوْا﴾

"هماغه کسان چې خلکو ورته وویل، چې دغه خلک ستاسې پر



k:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



ضد راتول شوي دي، له دوی څخه وډارشئ؛ نو الله تعالی د دوي ایمان لا پسې زیات او پیاوړی کړ او وېې ویل چې:

﴿حَسْبُنَا اللّٰهُ وَنِعْمَ الْوَكِيْلُ ○﴾

"زموږ لپاره الله تعالی بس دی او هماغه ډېر ښه کار ساز دی."

﴿يَاأَيُّهَا النَّبِيُّ حَسْبُكَ اللهُ وَمَنِ اتَّبَعَكَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ ○﴾

"ای پیغمبره! ستا لپاره او ستا مؤمنانو پیروانو لپاره خو یوازې الله تعالی کافي دی."

﴿وَ تَوَكَّلْ عَلَى الْحَيِّ الَّذِيْ لَا يَمُوْتُ﴾

"پر هغه الله تعالی توکل وکړه، چې ژوندی دی او هېڅکله مړکېدونکی نه دی."

مه خپه کېږه!

داسې وانګېره، ګواکې ته فقط یوه ورځ ژوند لرې؛ نو د یوې ورځې لپاره مه خپه کېږه، څکه په حدیث شریف کې راغلي دي چې:

چې کله دې سبا کړ؛ نو د ماښام انتظار مه کوه او که دې ماښام کړ؛ نو د سبا انتظار مه کوه.

په دې لړ کې یو شاعر وايي:

ما مضى فاتَ والمؤمَّل غَيْبٌ ... ولك الساعةُ التي أنت فيها

"تېر لاړ تېر شو، هيلې؛ خو ورکې خبرې دي، ستا لپاره رښتيونی وخت هماغه دی، چې ته پکې قرار لرې."

چینایي متل دی، چې وايي:

پله ته تر رسېدو له مخه پر پله مه تېرېږه!



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



له سلفو نه يو تن وايي:

اى انسانه! ته درې ورځې لرې يوه دې پرونۍ ورځ، چې هغه؛ خو لاړه تېره شوه، ستا سبانۍ ورځ چې لا نه ده راغلې او درېيمه دې نننۍ ورځ ده، چې په دې کې بايد له الله تعالیٰ څخه و وېرېږې.

## ٤٩ د الله جل جلاله پر لورنو ووياړه

ايا الله تعالیٰ ستا سينه نه ده پراخه کړې؟! ته يې له غمونو څخه نه يې ساتلی؟! او تا ته يې نېکمرغي نه ده دربښلې؟!

هو! ولې نه! الله تعالیٰ فرمايي:

﴿قُلْ يٰعِبَادِيَ الَّذِيْنَ اَسْرَفُوْا عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُوْا مِنْ رَّحْمَةِ اللّٰهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ يَغْفِرُ الذُّنُوْبَ جَمِيْعًا ؕ اِنَّهٗ هُوَ الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ ۝﴾

"اى پېغمبره!) هغو بندګانو ته مې ووايه، کومو کسانو چې پر خپلو ځانونو تېرى کړى دى، چې د الله تعالیٰ له رحمته نه نااهيلي کېږئ، په يقيني ډول الله تعالیٰ ټول ګناهونه ښښي، هغه ښښونکى او مهربان دى."

دا چې الله تعالیٰ د اسراف کوونکيو په اړه دومره درنې لورنې اعلان کړې او زېرى ورکوي؛ نو د هغو خلکو په اړه څه اټکل کوئ، چې په ګناهونو کې اسراف؛ خو لا څه چې له سره يې ګناه نه وي کړې؟!

بيا هم د الله تعالیٰ په دې وينا خوښ شه او نېکمرغي ترلاسه کړه، چې فرمايي:



ebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library


﴿وَ لَوْ اَنَّهُمْ اِذْ ظَّلَمُوْٓا اَنْفُسَهُمْ جَآءُوْكَ فَاسْتَغْفَرُوا اللّٰهَ وَ اسْتَغْفَرَ لَهُمُ الرَّسُوْلُ لَوَجَدُوا اللّٰهَ تَوَّابًا رَّحِيْمًا ○﴾

"که هغوی دا لاره غوره کړې وای، چې کله یې پر خپلو ځانونو ظلم کولی؛ نو تا ته راتلای او له الله تعالی نه یې ښښنه غوښتلای او پیغمبر هم ورته د ښښنې غوښتنه کولی، نو شك نشته، چې الله به یې ښښونکی او رحم کوونکی میندلای و."

په بل ځای کې فرمایي:

﴿وَاِنِّیْ لَغَفَّارٌ لِّمَنْ تَابَ وَاٰمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا ثُمَّ اهْتَدٰی ○﴾

"البته چا چې توبه ویستله او ایمان یې راوړ او ښه عمل یې وکړ، بیا سم روان شو، د هغه لپاره زه ډېر ښښونکي یم."

موسیٰ علیه السلام یو سړی وواژه او ویې ویل:

﴿رَبِّ اِنِّیْ ظَلَمْتُ نَفْسِیْ فَاغْفِرْ لِیْ فَغَفَرَ لَهٗ ؕ اِنَّهٗ هُوَ الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ ○﴾

"ای زما پروردګاره! ما پر خپل ځان ظلم وکړ، ماته ښښنه وکړه؛ نو الله تعالی هغه ته ښښنه وکړه، هغه ښه ښښونکی او خورا مهربان دی."

د داؤد علیه السلام د توبې په اړه فرمایي:

"بیا موږ هغه ته دغه هر څه وبښل او دی زموږ په وړاندې خورا د ښې مرتبې او مقام خاوند دی".

رحیم او کریم الله تعالی هغو کسانو ته هم خپله ښښنه او لورنه عرضه کړې، چې د تثلیث عقیده لري، لکه چې فرمایي:

﴿لَقَدْ كَفَرَ الَّذِيْنَ قَالُوْٓا اِنَّ اللّٰهَ ثَالِثُ ثَلٰثَةٍ ۘ وَ مَا مِنْ اِلٰهٍ اِلَّآ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ ؕ وَ اِنْ لَّمْ يَنْتَهُوْا عَمَّا يَقُوْلُوْنَ لَيَمَسَّنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْهُمْ عَذَابٌ


Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Uploaded By: Afghan Salar Library

﴿وَ لَوْ اَنَّهُمْ اِذْ ظَّلَمُوْٓا اَنْفُسَهُمْ جَآءُوْكَ فَاسْتَغْفَرُوا اللّٰهَ وَ اسْتَغْفَرَ لَهُمُ الرَّسُوْلُ لَوَجَدُوا اللّٰهَ تَوَّابًا رَّحِيْمًا ○﴾

"که هغوی دا لاره غوره کړې وای، چې کله یې پر خپلو ځانونو ظلم کولی؛ نو تا ته راتلای او له الله تعالیٰ نه یې ښښنه غوښتلای او پېغمبر هم ورته د ښښنې غوښتنه کولی، نو شك نشته، چې الله به یې ښښونکی او رحم کوونکی میندلای و."

په بل ځای کې فرمایي:

﴿وَاِنِّىْ لَغَفَّارٌ لِّمَنْ تَابَ وَاٰمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا ثُمَّ اهْتَدٰى ○﴾

"البته چا چې توبه وویستله او ایمان یې راوړ او ښه عمل یې وکړ، بیا سم روان شو، د هغه لپاره زه ډېر ښښونکی یم."

موسی علیه السلام یو سړی وواژه او ویې ویل:

﴿رَبِّ اِنِّىْ ظَلَمْتُ نَفْسِىْ فَاغْفِرْ لِىْ فَغَفَرَ لَهٗ ؕ اِنَّهٗ هُوَ الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ ○﴾

"ای زما پروردګاره! ما پر خپل ځان ظلم وکړ، ماته ښښنه وکړه؛ نو الله تعالیٰ هغه ته ښښنه وکړه، هغه ښه ښښونکی او خورا مهربان دی."

د داؤد علیه السلام د توبې په اړه فرمایي:

"بیا موږ هغه ته دغه هر څه وبښل او دی زموږ په وړاندې خورا د ښې مرتبې او مقام خاوند دی".

رحیم او کریم الله تعالیٰ هغو کسانو ته هم خپله ښښنه او لورنه عرضه کړې، چې د تثلیث عقیده لري، لکه چې فرمایي:

﴿لَقَدْ كَفَرَ الَّذِيْنَ قَالُوْٓا اِنَّ اللّٰهَ ثَالِثُ ثَلٰثَةٍ ۘ وَ مَا مِنْ اِلٰهٍ اِلَّآ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ ؕ وَ اِنْ لَّمْ يَنْتَهُوْا عَمَّا يَقُوْلُوْنَ لَيَمَسَّنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْهُمْ عَذَابٌ


Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

اَلِيْمٌ ○ اَفَلَا يَتُوْبُوْنَ اِلَى اللّٰهِ وَيَسْتَغْفِرُوْنَهٗ ۭ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ○﴾

"هغه خلك په يقيني توګه کافر شول چې وېې ويل الله تعالٰی په دريېو کې يو دی، په داسې حال کې چې له يوه الله پرته هېڅ کوم بل اِله نشته، که دا خلك له خپلو دغو ويناوو څخه منع نه شي؛ نو له هغوی څخه چې هر څوك کافر شوي دي هغوی ته به دردناك عذاب ورکړل شي؛ نو ايا دوی الله تعالٰی ته توبه نه باسي او له هغه نه ښښنه نه غواړي؟ الله تعالٰی ډېر ښښونکی او رحم کوونکی دی."

د اسلام ستر پېغمبرﷺ په قدسي حديث کې له الله تعالٰی څخه نقل کړی فرمايي:

"ای بني آدمه! په هر حالت دې چې له ما څخه د مغفرت غوښتنه کړې هيله دې څرګنده کړې، ما درته ښښنه کړې اوکومه پروا مې نه ده کړې! ای انسانه! که ستا ګناهونه تر آسمان پورې هم ورسېږي او بيا ته له ما څخه ښښنه وغواړې؛ نو زه به درته ښښنه وکړم! او پروا به يې هم ونه کړم!

ای انسانه! که ته د يوې نړۍ په اندازه هم ګناه وکړې او بيا ما ته د ښښنې په هيله راوګرځې؛ خو چې له ما سره دې څه شريک نه وي نيولی؛ نو زه به هم تا ته د يوې نړۍ په اندازه ښښنه وکړم".[٩]

دغه راز پېغمبرﷺ فرمايي:

"الله تعالٰی د شپې له خوا د ښښنې لاس غوړوي، چې د ورځې ګناهکار توبه وباسي، دغه راز د ورځې يې د شپې د ګناهکارو لپاره چې د شپې ګناهکار توبه وباسي او دغه لړۍ به ان تر قيامته پورې

٩ : الإتحافات السنية بالأحاديث القدسية ومعه النفحات السلفية بشرح الأحاديث القدسية (١ / ١٦٨)



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/...

Downloaded By: Afghan Salar Library



غځېدلې وي".

په قدسي حديث کې راځي، چې الله تعالی فرمايي:

"تاسې که شپه او ورځ ګناهونه وکړئ او بيا ما ته د توبې په هيله را وګرځئ؛ نو زه به هم تاسې ته بښنه وکړم".

دغه راز فرمايي:

"قسم زما د ځان پر واکمن چې که تاسې د ګناهونو د ارتکاب په صورت کې الله تعالی ته ور ونه ګرځئ! نو الله تعالی به يو بل قوم او ولس رامنځته کړي، چې ګناهونه به کوي او بيا له الله تعالی څخه بښنه غواړي او الله تعالی به ورته بښنه کوي".

دغه راز فرمايي:

"که تاسې ګناهونه ونه کړئ؛ نو و وېرېږئ تر ګناه سخت او غټ کار به وکړئ او هغه تکبر دی".

دغه راز فرمايي:

كُلُّ ابْنِ آدَمَ خَطَّاءٌ وَخَيْرُ الخَطَّائِينَ التَّوَّابُونَ

"ټول انسانان خطا کاران دي! خو غوره خطا کاران هماغه خلک دي چې توبه وباسي."(۱۰)

دغه راز فرمايي:

"الله تعالی د هغه بنده پر توبه ډېر خوښېږي، چې له خوړو او اوبو بار اوښه ترې په صحرا کې نادرکه شي، دی يې په لټون پسې ښه لالهانده اوستومانه شي، لنډه دا چې له موندو يې نهيلی شي او کرار ويده شي؛ کله چې راپورته شي؛ نو اوښه يې له خواړو او اوبو سره سرته ولاړه

۱۰: سنن الترمذي ت شاكر (٤ / ٦٥٩)



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library


وي؛ او دی بیا د ډېرې خوښۍ له امله داسې وايي:

ای الله تعالیٰ! زه ستا رب او ته زما بنده یې (یاني له خوښۍ نه یې خوله خطا شي).

دغه راز فرمايي:

«... فَاغْفِرْلِي إِنَّهُ لَا يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلَّا أَنْتَ ... « إِنَّ رَبَّكَ عَزَّوَجَلَّ يَعْجَبُ مِنْ عَبْدِهِ إِذَا قَالَ: اغْفِرْ لِي ذُنُوبِي يَعْلَمُ أَنَّهُ لَا يَغْفِرُ الذُّنُوبَ غَيْرِي».

"...یو بنده ووايي، چې ای الله تعالیٰ! ما ته زما ګناه وبښه! ځکه چې تر تا پرته بل څوک ګناه نشي ښنبلای... نو الله تعالیٰ تعجب کوي، چې زما بنده پر دې پوه دی، چې له ما پرته بل څوک د ګناهونو ښښونکی نشته".(۱۱)

## ۵۰ تقدیر

د ایمان غوښتنه پر دې عقیده لرل دي، چې ټولې ښې او بدې پېښې مخکې له مخکې په تقدیر کې لیکل شوې او الله تعالیٰ پرې خبر دی، په حدیث شریف کې راځي چې:

"د مؤمن هر کار د اريانتيا وړ دی، ځکه ښه وي، که بد؛ خو د ده لپاره سودمن وي، په دې مانا که له ستونزو سره مخ شي، مؤمن پرې صبر کوي، په دې کې هم د مؤمن ګټه ده او که لورنې پرې وشي؛ نو شکر پرې کاږي او دا خو لا پسې د مؤمن لپاره ګټوره خبره ده."

۱۱ : مسند أبي داود الطيالسي (۱ / ۱۲۰)


Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

الله تعالیٰ فرمايي:

﴿مَآ اَصَابَ مِنْ مُّصِيْبَةٍ فِى الْاَرْضِ وَلَا فِيْٓ اَنْفُسِكُمْ اِلَّا فِيْ كِتٰبٍ مِّنْ قَبْلِ اَنْ نَّبْرَاَهَا ۭ اِنَّ ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ يَسِيْرٌ ۝ۚ﴾

"هېڅ مصيبت داسې نشته، چې په ځمکه کې يا ستاسې پر خپل نفس نازلېږي او موږ هغه له پيدا کولو نه مخکې په يوه کتاب کې نه وي ليکلې، دغسې کول د الله تعالیٰ لپاره ډېر اسانه کار دی."

همدا شان فرمايي:

﴿اِنَّا كُلَّ شَيْءٍ خَلَقْنٰهُ بِقَدَرٍ ۝﴾

"موږ هرڅه له يو تقدير سره پيدا کړي دي."

• دغه راز فرمايي:

"کله چې څه غوښتنه کوې؛ نو له الله تعالیٰ څخه يې کوه او که مرسته غواړې؛ نو هم له الله تعالیٰ څخه يې غواړه او پر دې پوه شه، چې دا ټوله نړۍ تا ته د الله تعالیٰ تر ليک او تقدير پرته د يوې ذرې هومره نه ګټه رسولای شي او نه تاوان".

دغه راز فرمايي:

الله تعالیٰ چې د کوم بنده په اړه پرېکړه کوي په هغه کې د هغه لپاره خير وي.

شيخ الاسلام ابن تيميه رحمه الله د معصيت په اړه وپوښتل شو، چې ايا په دې کې هم د بنده لپاره خير وي؟هغه يې په ځواب کې وويل هو! خو په دې شرط، چې په پښېمانتيا او استغفار واوړي.

ترمذي حديث نقل کړی فرمايي:

"غوره عبادت خوښۍ ته انتظار کول دي".



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

﴿ أَلَيْسَ الصُّبْحُ بِقَرِيبٍ ۝ ﴾

"ايا سباون نږدې نه دی؟!"

د اندېښمنو سباون ښخي نږدې دی، فقط سبا ته انتظار وکړه.

الله تعالٰی فرمايي:

﴿ وَمَن يَتَّقِ اللَّهَ يَجْعَل لَّهُۥ مَخْرَجًا ۝ ﴾

"څوك چې له الله تعالٰی نه په وېرېدو کار وکړي الله تعالٰی به د هغه لپاره له ستونزو نه د وتلو کومه لاره پېدا کړي."

﴿ وَمَن يَتَّقِ اللَّهَ يُكَفِّرْ عَنْهُ سَيِّـَٔاتِهِۦ وَيُعْظِمْ لَهُۥٓ أَجْرًا ۝ ﴾

"څوك چې له الله تعالٰی نه ووېرېږي، الله تعالٰی به د هغه بدي له هغه نه ايسته کړي او هغه ته به لوی اجر ورکړي."

﴿ وَمَن يَتَّقِ اللَّهَ يَجْعَل لَّهُۥ مِنْ أَمْرِهِۦ يُسْرًا ۝ ﴾

"څوك چې له الله تعالٰی نه ووېرېږي؛ نو الله تعالٰی د هغه په کار کې اسانتيا پيدا کوي."

عرب وايي:

ډېرې اسانتياوې تر مايوسۍ او نهيلۍ وروسته رامنځته کېږي او د عرش پر خاوند باوري کسان له ازغنې ونې نه هم ګلان راټوکولای شي"

په حديث شريف کې راځي چې:

"زه د خپل بنده له اټکل سره سم يم څرنګه يې چې پر ما لري"

الله تعالٰی فرمايي:

﴿ حَتَّىٰٓ إِذَا ٱسْتَيْـَٔسَ ٱلرُّسُلُ وَظَنُّوٓا۟ أَنَّهُمْ قَدْ كُذِبُوا۟ جَآءَهُمْ نَصْرُنَا فَنُجِّىَ مَن نَّشَآءُ ﴾



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library


"له پخواينو پېغمبرانو سره هم همدا شوي دي، ان تر دې چې کله پېغمبران له خلکو نه نهيلي شول او خلکو هم دا وانګېرله، چې د عذاب په باب هغو ته درواغ ويل شوي وو؛ نو په ناڅاپي ډول به پېغمبرانو ته زموږ مرسته ورسېدله. کله چې دغسې وخت راځي؛ نو زموږ قانون دا دی، چا ته، چې زموږ خوښه شي نجات ورکوو...."

ځينو قرآنپوهانو دا حديث هم نقل کړی چې:

لَنْ يَغْلِبَ عُسْرٌ يُسْرَيْن(١٢)

"يوه سختي به هم هېڅکله پر دوو اسانتياوو لاسبرې نشي."

همدا شان الله تعالی فرمايي:

﴿فَإِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا ۝ إِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا ۝﴾

"نو حقيقت دا دی، چې له تنګسې سره پراختيا هم ده، بېشکه له تنګسې سره پراختيا هم ده."

دغه راز فرمايي:

﴿لَعَلَّ اللَّهَ يُحْدِثُ بَعْدَ ذَٰلِكَ أَمْرًا ۝ أَلَا إِنَّ نَصْرَ اللَّهِ قَرِيبٌ ۝ إِنَّ رَحْمَتَ اللَّهِ قَرِيبٌ مِّنَ الْمُحْسِنِينَ ۝﴾

"ښايي له هغه وروسته الله تعالی (د توافق) څه لاره پيدا کړي، په هغه وخت کې هغو ته ډاډېينه ورکړ شوه، چې هو! د الله تعالی مرسته نږدې ده، په يقيني توګه د الله تعالی رحمت نېکانو ته نږدې دی."

او په يوه حديث شريف کې راغلي دي چې:

"د الله تعالی مرسته له صبر او خوښي له غم سره وي".

١٢: موطأ مالك ت الأعظمي (٣ / ٦٣٣)



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

يو شاعر وايي:

إذا تضايقَ أمرٌ فانتظرْ فَرَجاً ... فأقربُ الأمرِ أدناهُ إلى الفَرَجِ

"که له تنکسي سره مخ شې؛ نو د ستونزې د هوارېدو هيله او انتظار کوه، ځکه همدغه يې د حل تر ټولو غوره لار ده"

بل يې وايي:

سهرتْ أعينٌ ونامتْ عيونُ ... في شؤونٍ تكونُ أو لا تكونُ

"د ژوند په بېلا بېلو چارو کې څه سترګې وينې او څه ويدې دي، چې وبه شي او که نه."

يو بل شاعر وايي:

دعِ المقاديرَ تجري في أعنَّتها ... ولا تنامنَّ إلا خالي البالِ

ما بينَ غمضةِ عينٍ وانتباهتِها ... يغيّرُ اللهُ مِن حالٍ إلى حالِ

"پرېږده چې تقدير خپلې پرېکړې سرته ورسوي ته بې غمه ويده شه."

د سترګې د پټېدو او وينېدو ترمنځ هم الله تعالی حالتونه بدلوي.

## ۵۱
## وقفه

مه خپه کېږه!

د خپلو زېرمو او مانيو په اړه غم او اندېښنه کول دې غم لاپسې ډېروي.

مه خپه کېږه!



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

دا چې ته خپه يې؛ نو د طبيبانو درملنې اولارښوونې درته نېکمرغي نشي دربښلای.

مه خپه کېږه!

ځکه ته د الله تعالیٰ په ستر دربار کې وزرې غوړولای او له هغه نه غوښتنې کولای شې.

مه خپه کېږه!

ځکه الله تعالیٰ دغه ټوله ځمکه ستا په واک کې درکړې او ستا لپاره يې په دغه ځمکه کې هرڅه تابع کړي دي؛ خو ته بيا هم خپه يې!!

مه خپه کېږه!

پر خوراک څښاک سربېره پر خپلو پښو مزل هم کولا شې.

له الله تعالیٰ نه ډېره بښنه وغواړه! نوح عليه السلام فرمايي:

﴿فَقُلْتُ اسْتَغْفِرُوْا رَبَّكُمْ ۚ اِنَّهٗ كَانَ غَفَّارًا ۝ يُّرْسِلِ السَّمَآءَ عَلَيْكُمْ مِّدْرَارًا ۝ وَّ يُمْدِدْكُمْ بِاَمْوَالٍ وَّ بَنِيْنَ وَ يَجْعَلْ لَّكُمْ جَنّٰتٍ وَّ يَجْعَلْ لَّكُمْ اَنْهٰرًا ۝﴾

"ما وويل له خپل رب نه بښنه وغواړئ، بېشکه چې هغه خورا ډېر بښونکی دی هغه به پر تاسې له اسمانه ښه ورښتونه وکړي تاسې ته به مالونه او اولادونه درېه برخه کړي، ستاسې لپاره به باغونه پيدا کړي او ستاسې لپاره به ويالې وبهوي."

له پورتني مبارک آيت نه همدا خبره په ډاګه کېږي، چې د استغفار په کثرت سره د زړه راحت، د روزۍ پراخي، نېکان بچي ترلاسه کېدای شي.

په حديث شريف کې راځي، څوک چې استغفار ډېر غواړي؛ نو له هر غم او تنګسې نه به يې الله راوباسي.

او د بخاري شريف د روايت له مخې سيد الاستغفار دا دی:



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

اللَّهُمَّ أَنْتَ رَبِّي لاَ إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ. خَلَقْتَنِي وَأَنَا عَبْدُكَ. وَأَنَا عَلَى عَهْدِكَ وَوَعْدِكَ مَا اسْتَطَعْتُ. أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا صَنَعْتُ. أَبُوءُ لَكَ بِنِعْمَتِكَ عَلَيَّ، وَأَبُوءُ لَكَ بِذَنْبِي فَاغْفِرْلِي. فَإِنَّهُ لاَ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلَّا أَنْتَ (١٣)

## ٥٢ همېشه د الله تعالیٰ ذکر کوه!

په ډېر استغفار ویلو روح سکون مومي او حلاله روزي پرې تر لاسه کېږي، لکه چې الله تعالیٰ فرمايي:

﴿ اَلَا بِذِكْرِ اللّٰهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوْبُ ۝ ﴾

"خبردار اوسئ! همدغه د الله تعالیٰ یاد هغه شی دی، چې په هغه سره زړونو ته ډاډېنه وربه برخه کېږي."

همدا شان فرمايي:

﴿ فَاذْكُرُوْنِيْٓ اَذْكُرْكُمْ ﴾

"تاسې ما يادوئ،زه به تاسې ياد کړم."

﴿ وَالذّٰكِرِيْنَ اللّٰهَ كَثِيْرًا وَّالذّٰكِرٰتِ ﴾

"د الله ډېر يادونکي نارينه اوښځې..."

﴿ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اذْكُرُوا اللّٰهَ ذِكْرًا كَثِيْرًا ۝ ﴾

"ای مؤمنانو! الله تعالیٰ ډېر ډېر يادوئ"

---

١٣ : صحيح البخاري (٨ / ٦٧)



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:htt... fghansalar

﴿وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ بِالْعَشِيِّ وَالْإِبْكَارِ ○﴾

"سهار او ماښام د خپل رب له ثنا ستاینې سره د هغه پاکي بیانوه!"

﴿يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تُلْهِكُمْ أَمْوَالُكُمْ وَلَا أَوْلَادُكُمْ عَنْ ذِكْرِ اللَّهِ﴾

"ای مؤمنانو! ستاسې مالونه او اولادونه دې تاسې د الله تعالی له یاده غافل نه کړي."

﴿وَاذْكُرْ رَبَّكَ إِذَا نَسِيتَ﴾

"او کله چې خپل رب در څخه هېر شي؛ نو بې له ځنډه يې را یاد کړه."

﴿وَمِنَ اللَّيْلِ فَسَبِّحْهُ وَإِدْبَارَ النُّجُومِ ○﴾

"د شپې هم د هغه پاکي بیانوه او کله چې د شپې په پای کې ستوري راکرځي په هغه وخت کې هم."

﴿يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا لَقِيتُمْ فِئَةً فَاثْبُتُوا وَاذْكُرُوا اللَّهَ كَثِيرًا لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ○﴾

"ای مؤمنانو! کله، چې له کومې ډلې سره ستاسې مقابله وي؛ نو کلك ولاړ اوسئ او الله تعالی ډېر ډېر يادوئ، هیله ده چې تاسې ته به برى درپه برخه وي."

او په حدیث شریف کې راځي چې:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم، يَسِيرُ فِي طَرِيقِ مَكَّةَ فَمَرَّ عَلَى جَبَلٍ يُقَالُ لَهُ جُمْدَانُ، فَقَالَ: «سِيرُوا هَذَا جُمْدَانُ سَبَقَ الْمُفَرِّدُونَ» قَالُوا: وَمَا الْمُفَرِّدُونَ؟ يَا رَسُولَ

Downloaded By: Afghan Salar Library

اللهِ قَالَ: «الذَّاكِرُونَ اللهَ كَثِيرًا، وَالذَّاكِرَاتُ»(١٤)

"مفردون به تر ټولو وړاندې جنت ته ورومي! یارانو یې وپوښتل. یا رسول الله! له مفردون څخه مو هدف څوک دي؟؟ هغه وفرمایل: هماغه نارینه او ښځې چې الله تعالی ډېر یادوي."

په یوه بل حدیث کې دي:

"څوک چې ډېر استغفار غواړي؛ نو دا به له هر مصیبت نه خوندي وي."

په یوه بل حدیث کې دي چې:

یو سړی رسول اللهﷺ ته راغی او ورته یې وویل، چې ای د الله رسوله! د شریعت احکام ډېر زیات دي او ما عمر خوړلی! نو ما ته یو داسې عمل وښا یاست، چې په همغه کې ورننوځم! هغهﷺ ورته وفرمایل: خپله ژبه د الله تعالی په یاد تل لونده ساته.

## ٥٣ د الله تعالی له لوري مه نهیلی کېږه!

الله سبحانه و تعالی فرمایي:

﴿وَ لَا تَايْـَٔسُوْا مِنْ رَّوْحِ اللّٰهِ ؕ اِنَّهٗ لَا يَايْـَٔسُ مِنْ رَّوْحِ اللّٰهِ اِلَّا الْقَوْمُ الْكٰفِرُوْنَ۝﴾

"د الله تعالی له رحمته مه نهیلي کېږئ، ځکه چې د الله تعالی له رحمت نه یوازې کافر قوم نا امیده کېږي."

١٤: صحیح مسلم (٤ / ٢٠٦٢)



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

﴿وَ نَجَّيْنٰهُ مِنَ الْغَمِّ ۭ وَ كَذٰلِكَ نُجِي الْمُؤْمِنِيْنَ ○﴾

"او له غم نه مو هغه وژغوره او په دغه شان موږ مؤمنان ژغورو."

د مسلمانانو په اړه الله تعالیٰ فرمايي:

"او دوی د الله تعالیٰ په اړه ډول ډول گومانونه وکړل همدغلته مؤمنان په ستر ازمېښت کې پرېوتل او سخت ولړ زول شول."

## ٥٤ له ښښنې او تېرېدنې نه کار اخلئ!

که پر تاسې څوک څه ظلم وکړي؛ نو خير دی تاسې يې وبښئ، څکه چې غچ اخستونکی او حسد کوونکی د غچ اخيستنې په فکر کې د خپل زړه وينې خوري، خپل راحت، سرور او اعصاب له لاسه ورکوي.

همدا راز غوسه ناک او کينه گر ارومرو زيان مومي او الله تعالیٰ د دغې ناروغۍ درمل او له دغه زيان څخه د ځان ساتنې په لړ کې دغه دوا ښوولې، چې غوسه تېره کړئ او له تېرېدنې نه کار واخلئ!.

الله تعالیٰ موږ ته په دې اړه داسې خبر راکوي، چې د مؤمن صفت بايد داسې وي:

﴿وَالْكٰظِمِيْنَ الْغَيْظَ وَالْعَافِيْنَ عَنِ النَّاسِ﴾

"غوسه خوري او د نورو لنډ پاري ښښي."

دغه راز الله تعالیٰ خپل پيغمبر ته فرمايي:

﴿خُذِ الْعَفْوَ وَاْمُرْ بِالْعُرْفِ وَ اَعْرِضْ عَنِ الْجٰهِلِيْنَ ○﴾

"ای پيغمبره! د نرمۍ او تېرېدنې لاره غوره کړه، د ښو چارو ښوونکی



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



اوسه او له ناپوهانو سره مه نښله.“

## ۵۵ ته ډېر څه لرې!

د الله تعالیٰ په نعمتونو کې فکر کوه او شکر پرې کاږه!

الله تعالیٰ فرمايي:

﴿وَإِن تَعُدُّوا نِعْمَتَ اللَّهِ لَا تُحْصُوهَا﴾

”که تاسې وغواړئ چې د الله تعالیٰ نعمتونه وشمېرئ؛ نو شمېرلی يې نه شئ.“

﴿أَلَمْ نَجْعَل لَّهُ عَيْنَيْنِ ۝ وَلِسَانًا وَشَفَتَيْنِ ۝ وَهَدَيْنَاهُ النَّجْدَيْنِ ۝﴾

”ايا موږ هغه ته نه دي ورکړې دوه سترګې(۸) يوه ژبه او دوه شونډې؟ (۹) او دوه ځرګندې لارې مو هغه ته (نه) وې ښودلې؟ (۱۰)“

هو! پر موږ د الله تعالیٰ بې شمېره او پرلپسې لورنې دي، لکه ژوند، صحت، د اورېدو، ليدو، د لاسونو او پښو لورنې او پر دې سربېره اسلام تر ټولو ستره لورنه ده.

يوه سړي بل ته وويل، چې دغه دواړه سترګې دې پر يوه بليون ډالرو پلورې؟؟ ايا غوږونه پر بليون ډالرو پلورې؟ زړه دې پر بليونونو ډالرو پلورې ؟ ته څومره شتمن يې؛ خو د دغو لورنو په بدل کې د الله تعالیٰ شکر نه کوې!!!



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



## ٥٦ په دنیا پسې مه خپه کېږه!

نېکمرغي دا ده چې د دنیوي ګټې له لاسه په وتو خپه نشې! ستر همت همدا دی، چې د اخرت غم وخورې.

په سلفو کې یوه تن خپل ورور ته داسې وصیت کړی و، چې دغه ټول غمونه راټول کړه او یو غم ورځخه جوړ کړه، چې هغه له الله تعالیٰ سره د مخامخ کېدو غم دی.

﴿يَوْمَئِذٍ تُعْرَضُونَ لَا تَخْفَىٰ مِنكُمْ خَافِيَةٌ ۝﴾

"هغه ورځ به وي چې تاسې وړاندې کړای شئ، ستاسې هېڅ راز به هم پټ پرې نښودل شي."

په رښتیا هم د دې نړۍ ټول غمونه د اخرت د غم په پرتله هېڅ نه دي!
الله تعالیٰ د خپلو دښمنانو منافقانو په اړه داسې فرمايي:

﴿وَطَائِفَةٌ قَدْ أَهَمَّتْهُمْ أَنفُسُهُمْ يَظُنُّونَ بِاللَّهِ غَيْرَ الْحَقِّ ظَنَّ الْجَاهِلِيَّةِ﴾

"خو يوه بله ډله چې هغوی ته يوازې همدې خپلو ګټو ارزښت درلود، د الله تعالیٰ په باب يې رنګارنګ جاهلانه ګومانونه کول."

هو! هلته تروني لاندې د پيغمبر يارانو له هغه سره د دين په خاطر په مرګ باندې بيعت کاوه! دلته يو منافق راولاړ شو او وې ويل، چې زما اوښ ورک دی، زه بايد د هغه په لټه کې ووځم! ستاسې له دغه بيعت څخه ما ته خپل اوښ مهم دی.

د اسلام ستر پيغمبرﷺ ځای پر ځای وفرمايل:

Downloaded By: Afghan Salar Library

كُلُّكُمْ مَغْفُورٌ لَهُ إِلَّا صَاحِبَ الْجَمَلِ الْأَحْمَرِ (١٥)

"په تاسې کې هر چا ته ببښنه وشوه؛ خو د سره اوښ خاوند د الله تعالیٰ په قهر اخته شو."

یوه منافق ته خپل ځان مهم ښکارېده؛ نو خپلو ملګرو ته یې وویل، چې په دې تودوښه کې جهادونه کولای شئ؟!

الله تعالیٰ یې په رد کې وفرمایل:

﴿قُلْ نَارُ جَهَنَّمَ أَشَدُّ حَرًّا﴾

"دوی ته ووایه چې د دوزخ اور تر دې زیات تود دی."

## ٥٧ مه خپه کېږه او غمونه شا ته وغورځوه!

د مؤمن لپاره راحت غفلت او بې کاري مرګ دی! ځکه وزګار خلک تر ټولو زیات اندېښمن او غمجن وي! نو له دې امله زه وایم، چې حرکت وکړه، په حرکت کې برکت وي! له هرې شېبې ګټه واخله! خپلې وسوسې او انګېرنې شا ته وغورځوه!

خپل اجر او ثواب له الله تعالیٰ نه وغواړه.

خپل نېک عمل په الله تعالیٰ پورې ځانګړی کړه او د چا د مننې انتظار مه کوه.

الله سبحانه و تعالیٰ فرمايي:

﴿يَبْتَغُونَ فَضْلًا مِّنْ رَّبِّهِمْ وَرِضْوَانًا﴾

[١٥]: المستدرك على الصحيحين للحاكم (٤ / ٩٣)



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library


”د خپل رب د فضل او د هغه د خوشالۍ په لټه کې د (کعبې) د محترم کور پر لوري ځي.“

همدا رنګه الله تعالیٰ د خپلو استازیو هغه وینا را اخلي، چې هغوی به خپل ولس ته کوله:

﴿وَمَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ﴾

”زه په دې کار باندې له تاسې نه د څه اجر غوښتونکی نه یم.“

یو شاعر وایي:

مَنْ يفعلِ الخيرَ لا يعدمْ جوازيَهُ ... لا يذهبُ العُرفُ بين الله والناسِ

”څوک چې د خیر کارونه کوي؛ نو اجر یې نه ضایع کېږي، ځکه چې نېکي د الله تعالیٰ او د وګړیو ترمنځ یو شان ارزښت لري.“

په قندهار کې یو شمېر مسلمانان په شهادت ورسېدل! نو عمر رضی الله عنه صحابه ولېږل، چې دغه وژل شوي کسان څوک وو؟؟ هغوی یې نومونه ورته واخیستل او ویې ویل، چې یو شمېر کسان پکې داسې هم ول، چې صحیح ونه پېژندل شول؛ نو د عمر رضی الله عنه له سترګو اوښکې راتوی شوې او ویې ویل، چې الله تعالیٰ یې ښه پېژني، چې دوی څوک وو؟.

په نېکانو کې یوه تن یوه ړانده ته غوره خواړه ورکړه؛ نو ښځې یې ورته وویل چې دغه ړوند؛ خو یې نه پېژني، چې څه خوري؟ سړي ورته وویل، چې الله تعالیٰ خو یې پېژني! کله چې الله تعالیٰ ستا د خیر او په نېکو چارو پوه او خبر دی؛ نو د خلکو څه پروا کوې؟!

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



## ۵۸ د خلکو پر نیوکو مه خپه کېږه!

الله تعالٰی فرمايي:

"دوی تا ته له څه سرسري اذيت پرته نور څه نشي رسولای"

که څوک سمندر ته تيږه ور وغورځوي؛ نو سمندر ته پرې څه زيان نشي اړولای، بلکې تيږه غورځوونکی به د تيږو په غورځولو ستړی شي، پکار ده چې د خلکو نیوکو ته خپله سينه، لکه سمندر پراخه کړای شي او د چا د نيوکې له امله خپل مزل ونه درول شي، بلکې د لا پرمختګ لپاره چټک ګامونه واخيستل شي!.

## ۵۹ پر بې وزلتوب مه خپه کېږه

کله چې بدني توازن غښ شي؛ نو روح وترل شي، په بېوزلتوب کې راحت او سلامتيا وي! په دنيا کې زهد هغه عاجل راحت دی، چې الله تعالٰی يې خپل يو شمېر بندګانو ته ور په برخه کوي.

﴿إِنَّا نَحْنُ نَرِثُ الْأَرْضَ وَمَنْ عَلَيْهَا﴾

"په پای کې به همدا موږ د زمکې او د هغې د ټولو شيانو وارثان يو."

په دې اړه يو شاعر وايي:

ماءٌ وخبزٌ وظِلٌّ ... ذاك النعيمُ الأجَلُّ



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

## كفرتُ نعمةَ ربّي ... إنْ قلتُ إني مُقلُّ

"اوبه، ډوډۍ او سیوري دومره ستر نعمتونه دي، چې که سره له دې هم زه ووایم چې دا لږ دي؛ نو ما به د خپل رب د لورنو ناشکري کړې وي."

امام شافعي رحمه الله وايي: که د سرنديب آسمان سره زر اووروي او د تکرور کندې سپين زر را بهر کړي؛ نو زما يې پرې څه! څکه پر ژوند مې ډوډۍ او تر مرګ وروسته مې قبر په برخه دی، زما همت د پاچايانو دی او نفس مې اصيل دی،چې ذلت تر کفر کم ګڼم."

هغه څه چې لا نه دي پېښ شوي؛ نو ته يې په اړه له مخکې نه مه اندېښمن کېږه!

په تورات کې راغلي، چې د ډېرو شيانو په اړه خلک وېره لري؛ خو هسې نه وي! په دې مانا چې وهمونه او اندېښنې تر حوادثو هم ډېرې زيانمنونکې وي! ډېر داسې اټکلونه او توقعات شته، چې له سره صحت او حقيقت نه لري!

دلته که څوک د تقدير پرېکړه بدلولای شي، د هغه لټون دې وکړي، که نه؛ نو ودې وايي، چې:

﴿وَ اُفَوِّضُ اَمۡرِیۡۤ اِلَی اللّٰهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ بَصِیۡرٌۢ بِالۡعِبَادِ ○ فَوَقٰىهُ اللّٰهُ سَیِّاٰتِ مَا مَکَرُوۡا.﴾

"او خپله معامله زه الله تعالی ته سپارم، الله تعالی د خپلو بندګانو ليدونکی دی، په پای کې (هغوکسانو چې ډېرې ناوړه دسيسې يې د هغه مؤمن پر ضد په کار واچولې)، الله تعالی له هغو ټولو نه هغه وساته."



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

## ۶۰ د باطلپالو پر نیوکو مه خپه کېږه!

ځکه تا ته د دوی د نقد او حسد له امله اجر درکړ کېږي.

یو شاعر وایي:

إن العرانين تلقاها مُحَسَّدةً ... ولا ترى لِلِئَامِ الناسِ حُسَّادا

"د لوړو پوزو له خاوندانو سره حسد کېدلای شي؛ د بدرنګه او ذلیلو خلکو سره څوک حسد کوي؟!"

یو بل شاعر وایي:

"دوی زما له عزت او درناوي سره زما تر مرګه پورې هم حسد کوي، افسوس! چې تر مرګه د دوی له حسده خلاص نه شوم"

موسی ﷺ له خپل رب نه وغوښتل، چې د ده په اړه د خلکو ژبې بندې کړي؛ نو الله تعالی ورته وفرمایل:

"ای موسی! پر دې خبره مه خپه کېږه! ما پیدا کړي او زه روزي هم ورکوم؛ خو سره له دې دوی ما ته هم کنځل کوي!!"

او هغه داسې چې په یوه قدسي حدیث کې الله تعالی فرمایي:

يقولُ اللهُ عزَّ وجلَّ: يسبُّني ابنُ آدمَ، ويشتمني ابنُ آدم، وما ينبغي له ذلك، أمَّ سبُّه إياي فإنهُ يسبُّ الدهر، وأنا الدهرُ، أقلِّبُ الليلَ والنهارَ كيف أشاءُ، وأما شتمُه إياي، فيقولُ: إنَّ لي صاحبةً وولداً، وليسَ لي صاحبةٌ ولا ولدٌ

"بني آدم ما ته کنځل کوي او دا له هغه سره نه ښايي! ما ته د هغه



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

کنځل په دې مانا، چې دوی زمانې ته کنځل کوي او زمانه خو همدا زه یم، شپه پر ورځ او ورځ پر شپه بدلووم... دغه راز ما ته د ښځې او بچي نسبت هم کوي سره له دې، چې زه له ښځې او بچي څخه پاک او منزه یم.“

یو شاعر وايي:

إذا نَطَقَ السَّفيهُ فلا تُجِبْهُ ... فخيرٌ مِنْ إجابتِهِ السكوتُ

”دکم عقل د خبرې ځواب مه ورکوه _ تر دغه ځواب چوپتیا غوره ده“

او داسې نورې بېلګې .....

شتمن خلک زیاتره په اضطراب او اندېښنو کې ژوند کوي، چې له همدې امله زیاتره د وینې د فشار او یا د وینې د کمښت په ناروغۍ اخته وي. الله تعالی فرمايي:

﴿وَيْلٌ لِّكُلِّ هُمَزَةٍ لُّمَزَةٍ ۝ الَّذِي جَمَعَ مَالًا وَعَدَّدَهُ ۝ يَحْسَبُ أَنَّ مَالَهُ أَخْلَدَهُ ۝ كَلَّا لَيُنبَذَنَّ فِي الْحُطَمَةِ ۝ وَمَا أَدْرَاكَ مَا الْحُطَمَةُ ۝ نَارُ اللَّهِ الْمُوقَدَةُ ۝ الَّتِي تَطَّلِعُ عَلَى الْأَفْئِدَةِ ۝ إِنَّهَا عَلَيْهِم مُّؤْصَدَةٌ ۝ فِي عَمَدٍ مُّمَدَّدَةٍ ۝﴾

”تباهي ده د هر هغه چا لپاره، چې (مخامخ) خلکو ته د پېغور ورکولو او (پشي شا) د بدیو کولو په عادت اخته دی _ هغه چا چې مال یې جمع کړی دی او په شمار شمېرلو یې ایښی دی _ هغه انګېري چې د هغه مال به هغه ته تل پاتې ژوند ورکړي _ هېڅکله داسې نه ده، هغه به په تنې ونې کوونکې ځای کې وغورځول شي _ او ته څه پوهېږې، چې څه دی هغه تنې ونې کوونکی ځای؟ د الله تعالی اور ښه لمبه شوی _ چې تر زړونو پورې به رسېږي _ هغه به ورباندې



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

په خوربدو سرپوښ کړای شي ـ (په داسې حال کې چې هغه به) په لوړو لوړو ستنو کې (ایسار کړای شوی وي"

یو لوېدیځوال ادیبوه وایي:

خپل کار سم و کړه او بیا هر کمزوري کره کتونکي ته شا کړه.

له تجربو نه په ډاګه ده، چې د هرې جارحانه خبرې ځواب مه وایه! ځکه چې صبر او حلم عزت دی، چوپتیا د دښمنانو پر سر د قهر څپېړه ده، ښښنه او تېرېدنه ثواب او شرافت دی!

یو حکیم وایي:

"هغه کوزه چې د ورېشو د وچې ډوډۍ سره پکې داډ او اطمنان وجود ولري، تر هغه کوره ډېر غوره دی، چې له خوندورو خوراکونو ډک؛ خو له اطمنانه تش وي."

## ۶۱ وقفه

مه خپه کېږه!

یوه ورځ به درېښه ناروغي ښه شي، ګناه به دې وبښل شي؛ قرضونه به درنه لرې شي، بندیان به په کور شي او نېستمن به شتمن شي.

مه خپه کېږه!

تورې وریځې لمنځه ځي او تورې شپې سبا کېږي، تویانونه تم کېږي! همداسې به ستا د ژوند ترخې شېبې هم په خوښۍ او سوکالۍ واوړي!

مه خپه کېږه!

د لمر تاو په یخ سیوري وژل کېږي، تږی او جل وهلې په بځو اوبو

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:ht

Uploaded By: Afghan Salar Library

خروبېږي، وری په ډوډۍ مړېږي، بې خوبي په خوب او ناروغي په روغتیا لمنځه ځي! ته لږ صبر وکړه الله تعالیٰ به خیر کړي.

مه خپه کېږه!

یوازې ته نه یې، بلکې د نړۍ ټول طبیبان، حکیمان، عالمان، ادیبان او شاعران د الله تعالیٰ د تقدیر په وړاندې سرکوزي او بېوسه دي.

علي بن جبله وايي:

عسى فرجٌ يكونُ عسى ... نعلّلُ نفسنا بعسى

"که له مرکوني غم سره لاس او ګرېوان هم شې؛ نو بیا هم مه نهیلی کېږه!..."

## ۶۲ د الله تعالیٰ په پرېکړه خوښ اوسه!

که دې الله تعالیٰ ودروي؛ نو ودرېږه او که دې کېنوي؛ نو کېنه، پر بېوزلۍ صبر وکړه او پر بداینه شکر اوباسه، ځکه چې همدا د دې عقیدې له لوازمو څخه ګڼل کېږي چې:

رَضِيت بِاللَّهِ رَبًّا وَبِالْإِسْلَامِ دِينًا وَبِمُحَمَّدٍ نَبِيًّا

"د الله تعالیٰ پر ربوبیت، د اسلام پر دین او د محمد رسول الله ﷺ پر پیغمبرۍ خوښ یم."

یو شاعر وايي:

د ځان لپاره یوازې د تدبیر په لټه کې مه اوسه! ځکه یوازې پر تدبیر تکیه کوونکي هلاک شوي دي، دا چې که موږ ستا په هکله پرېکړه وکړه؛



https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

نو له مور ښخه خوښ او راضي اوسه، څکه چې مور ستا په نسبت د پرېکړې له پلوه غوره يو.

## ۶۳ د خلکو د واکچلونو پر څارنه مه خپه کېږه!

څکه چې دوی ستا په اړه هېڅ هم په واک کې نلري!

يو شاعر وايي:

څوک چې د خلکو د واکچلونو څارنه کوي؛ نو له غمه به يې ومري!

بشار وايي:

ابن تيميه رحمه الله چې کله زندان ته واچول شو؛ نو داسې يې وويل، چې زما دښمنانو! زما په اړه څه وکړل زما جنت او زما باغونه خو زما په سينه کې دي؟! زما وژنه شهادت دی، له خپلې سيمې نه شړل کېدل زما لپاره سياحت دی او زنداني کول خلوت دی! څوک چې الله تعالی له لاسه ورکړي؛ نو هر څه يې له لاسه ورکړه!

د اسلام ستر پيغمبرﷺ فرمايي:

لأن أقولَ: سبحان اللهِ، والحمدُ للهِ، ولا إله إلا اللهُ، واللهُ أكبرُ، أحبُّ إليَّ مما طلعتْ عليه الشمسُ.

"زه چې « سبحان اللهِ، والحمدُ للهِ، ولا إله إلا اللهُ، واللهُ أكبرُ» ووايم؛ نو دا زما لپاره تر هغه څه ډېر غوره دي، چې لمر پرې راخېژي."

له سلفو نه يو تن د شتمنو په اړه وايي،چې دوی هم خوراک، څښاک کوي او موږ يې هم کوو، دوی هم کتل کوي او موږ يې هم کوو، له موږ سره



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By Afghan Salar Library
[redacted]

حساب نه کېږي او دوی سره به درونږ حساب کېږي.

يو شاعر وايي:

"د قبر لومړنۍ شپه به درنه د خورنق قصرونه او د کسرى خزانې هېرې کړي."

الله تعالیٰ فرمايي:

﴿وَلَقَدْ جِئْتُمُونَا فُرَادَىٰ كَمَا خَلَقْنَاكُمْ أَوَّلَ مَرَّةٍ﴾

"(او الله تعالیٰ به ووايي) دا دی اوس تاسې هماغسې يك تنها زموږ په وړاندې حاضر شوئ، لکه څنګه چې موږ په لومړي ځل تاسې يوازې پيدا کړي وئ."

مؤمنان وايي:

﴿صَدَقَ اللَّهُ رَسُولَهُ﴾

"الله تعالیٰ خپل رسول ته رښتيا ويلي دي."

منافقان وايي:

﴿مَّا وَعَدَنَا اللَّهُ وَرَسُولُهُ إِلَّا غُرُورًا﴾

"له موږ سره الله تعالیٰ او د هغه رسول ﷺ په دوکه ژمنه کړې."

ژوند د افکارو له صنعت نه منځته راځي او له کومو افکارو نه چې ته ګته پورته کوې، همدغه ستا پر ژوندانه اغېزمن دي، هغه نېکمرغه دي او که بد مرغه.

يو شاعر وايي:

لا يملأُ الهولُ قلبي قبل وقعتِهِ ... ولا أضيقُ به ذرعاً إذا وقعا

"چې يو کار پېښ شوی نه وي؛ نو مخکې له مخکې يې اندېښنه نه


Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

کوم؛ خو که رامنځه شي؛ نو بیا ورته ساه نه خپه کوم."

## ٦٤ له خلکو سره ښېګړې کوه!

له خلکو سره ښېګړه کول د نېکمرغۍ د ترلاسي تر ټولو پراخه لار ده.

په یوه قدسي حدیث کې دي، چې الله تعالیٰ به د قیامت په ورځ (د حساب، کتاب په ترڅ کې) خپل بنده ته داسې ووایي:

"ای انسانه زه وږی وم او تا ډوډۍ رانه کړه!!! دغه بنده به ووایي، چې ای ربه! څنګه تا ته ډوډۍ درکړم او ته رب العالمین ذات یې؟! الله تعالیٰ به ورته ووایي، چې ایا ستا تر څنګ زما پلانکی بنده وږی نه و، که هغه دې موړ کړی وای؛ نو نن به دې ګټه له ما څخه تر لاسه کړې وای..... "(١٦)

همدا شان پیغمبر ﷺ فرمایي:

"له چا سره چې لږ څه اضافي توښه وي؛ نو هغه ته دې یې ورکړي، چې له سره توښه نه لري، له چا سره چې اضافه سورلي وي؛ نو بې سورلۍ کس ته دې ورکړي."

حاتم الطايي د مېلمه موندلو په اړه خپل غلام ته سپارښتنه کوي:

"ژر شه یخه شپه ده اور بل کړه او که کوم مېلمه دې مونده کړ؛ نو له مریتوبه به ازاد شې."

خپلې ښځې ته وایي:

"چې خواړه پاخه کړې؛ نو د یوه ښه سړي انتظار کوه، ځکه چې ما

١٦ : صحیح مسلم (٤ / ١٩٩٠)



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

ته یوازې ډوډۍ خوند نه راکوي."

د عبدالله بن المبارک رحمه الله یو یهودي ګاونډي و، ابن مبارک به له خپلو بچیو نه مخکې د هغه پر خوراک، څښاک او جامې پیل کاوه!

خلکو له یهودي نه وغوښتل، چې دا کور دې پر موږ وپلوره! هغه وویل، چې د دې کور بیه دوه زره دیناره ده، چې زر دیناره د کور او زر دیناره یې د ابن المبارک د ګاونډتوب قیمت دی.

ابن المبارک دیهودي له دغه ښه دریځ څخه خبر شو؛ نو له الله تعالی نه یې د دغه یهودي د مسلمانېدو سوال وکړ او الله تعالی هغه ته د ایمان راوړو توفیق ورکړ.

دغه راز ابن المبارک له یوه کاروان سره حج ته روان و پر لاره یې یوه ښځه ولیده، چې له ډېرانه یې مرکارغه راپورته کړ! ابن المبارک غلام ورولېږه، چې په اړه یې معلومات ترلاسه کړي...... ښځې ورته وویل، چې موږ له دریو ورځو راهیسې خوراک څښاک په سترګو هم نه دي لیدلي! د دې خبرې په اورېدو د ابن المبارک سترګې رادکې شوې او امر یې وکړ، چې د کاروان ټول خوراکي او څښاکي توکي پر دغه کلي وویشئ او خپله بېرته راستون شو او په دغه کال یې حج ونه کړ! یوه شپه په خوب کې ورته چا وویل:

حج مبرور، وسعي مشکور، وذنب مغفور.

الله تعالی فرمايي:

﴿وَ يُؤْثِرُوْنَ عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ وَ لَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ﴾

"او پر خپل ځان باندې نورو ته ترجیح ورکوي، که څه هم پخپله اړ وي."

یو شاعر وايي:

"که څه هم زه له خپل ملګري نه لرې یم؛ خو له هغه سره د مرستې



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

لپاره د هغه غړ اورم او ارومرو ورسره مرسته کوم.“
په دې اړه يو بل شاعر داسې وايي:
”خير تلپاتې وي، که څه هم وخت پرې واوړي او شر ډېره ناوړه توښه ده.“

## ۶۵ د يوې ناوړه خبرې په اورېدو مه خپه کېږه!

يو شاعر وايي:
د فضايلو پر راتوللو تينګار وکړه او د حسدګرو پر ملامتويلو مه خپه کېږه؛ پر دې پوه شه، چې يوازې په ژوندانه کې د الله تعالی عبادت کېدلای شي او تر مرګ وروسته حسد هم لمنځه ځي.
له معاصرو علماوو نه د يوه تن وينا ده:
”څوک چې له نقد سره حساسيت څرګندوي، هغوی بايد د مقاديرو پر ځو اوبو خپل مازغه ساړه کړي، په دې ترتيب به له ظالمانه نقد نه خلاص ومومي.“
عرب وايي:
الله تعالی د حسد ګر په اړه څومره ښه عدالت کړی، چې تر هرڅه له مخه حسد ګر لمنځه وړي.
متنبي وايي:
د يوه انسان په ښه يادولو سره هغه نوی ژوند مومي هغه که باقي پاتې هم نشي نو بس يې دی.


Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

پوهان وايي:

بې زړه سړی په پرلپسې ډول مري، قهرمان او اتل يو ځل مري او کله چې الله تعالیٰ د خپلو بندګانو په اړه د خير اراده وکړي؛ نو د تنکسو په توپان کې هم پرې د خوب پرکالي راولي! وګوره د احد په غزا کې پر طلحهﷺ دغه ډول ډاډمنه پرکالي راغلې وه، تر دې چې توره يې څو څو ځله له لاسه پرېوتې وه!

دلته اهل بدع هم خپل ځانته پرکالي لري! وګوره نامتو اتل شبيب بن يزيد د خپلې کچرې دپاسه ويده شوی و، دغه راز د هغه ښځه " غزاله " هماغه قهرمانه ښځه چې حجاج بن يوسف يې شړلی و، د جګړې په تاوده ډګر کې پرې د خوب پرکالي راغلې وه.

يو شاعر وايي:

زمری وي خو په جګړه کې ورڅخه اوښ مارغه جوړ شي چې په يوه شپېلۍ تېښته کوي؛ ولې د غزالې په څېر مبارزه نشي کولای ؟!

الله تعالیٰ فرمايي:

﴿قُلْ هَلْ تَرَبَّصُوْنَ بِنَآ اِلَّآ اِحْدَى الْحُسْنَيَيْنِ ۭ وَنَحْنُ نَتَرَبَّصُ بِكُمْ اَنْ يُّصِيْبَكُمُ اللّٰهُ بِعَذَابٍ مِّنْ عِنْدِهٖٓ اَوْ بِاَيْدِيْنَا ڮ فَتَرَبَّصُوْٓا اِنَّا مَعَكُمْ مُّتَرَبِّصُوْنَ ○﴾

"دوی ته ووايه: تاسې چې زموږ په باب کوم شي ته سترګې په لار ياست هغه له دې پرته بل څه دی چې له دوو ښېګڼو نه يوه ده او موږ چې ستاسې په باب کوم شي ته سترګې په لار يو هغه دا دی چې الله تعالیٰ به خپله تاسې ته سزا درکوي يا يې زموږ په لاسونو درکوي، ښه نو اوس تاسې هم انتظار وکړئ او موږ هم له تاسې سره منتظر يو."

دغه راز فرمايي:



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

﴿وَمَا كَانَ لِنَفْسٍ اَنْ تَمُوْتَ اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ كِتٰبًا مُّؤَجَّلًا ۭ وَمَنْ يُّرِدْ ثَوَابَ الدُّنْيَا نُؤْتِهٖ مِنْهَا ۚ وَمَنْ يُّرِدْ ثَوَابَ الْاٰخِرَةِ نُؤْتِهٖ مِنْهَا ۭ وَسَنَجْزِي الشّٰكِرِيْنَ ۝﴾

"هېڅ ساکښ د الله تعالٰی له حکم پرته نشي مړ کېدای د مرګ نېټه لیکل شوې ده څوك چې د دنیا د ثواب په اراده کار وکړي هغه ته به موږ له همدې دنیا نه ورکړو او څوك چې د اخرت په اراده کار وکړي هغه به د اخرت ثواب ومومي او شکر ایستونکیو ته به موږ ارومرو د هغو مکافات ورکړو."

یو شاعر وايي:

په جګړو کې له قهرمانانو نه مه وېرېږه، څه چې په تقدیر کې لیکل شوي، هغه وړاندې او وروسته کېدلای نشي، له همدې امله د جګړې په میدان کې له صبر نه کار اخله، په دې نړۍ کې هېڅوک د تل لپاره نشي پاتې کېدای، د ژوندانه لباس څه د عزت او درناوي لباس نه دی، چې د یوه بد او ناوړه انسان څخه به هم کوزولای شي.

علي رضي الله عنه فرمايي:

"په کومه ورځ له مرګه تېښته وکړم؛ په هماغه ورځ چې لا نه و لیکل شوی او که په هماغه ورځ چې لیکل کېده؟! له تقدیر نه وېره نشته او نه ورڅخه تېښته کېدلای شي"

ابوبکر صدیق رضي الله عنه فرمايي:

"مرګ راپه زړه کړئ؛ نو هغه به تاسې ته ژوند وبښي"



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By Afghan Salar Library

## ٦٦ وقفه

مه خپه کېږه!

الله تعالیٰ له تا نه دفاع کوي او ملایک درله ښښنه غواړي، مؤمنان درته دعا کوي، پیغمبرﷺ دې سپارښت کوي، قرآن کریم درسره ښه ښکلې وعده کوه او پر دې سربېره الله تعالیٰ ارحم الراحمین دی.

مه خپه کېږه!

یوه نېکي له لسو څخه تر اوه سوه چنده پورې لیکل کېږي او بدي فقط په خپل مثل سره.

مه خپه کېږه!

ته د توحید د لارې لاروی او قبلوال ( اهل قبله) یې! ته د الله او رسولﷺ په مینه مست یې! په ګناه پښېمانه او پر نېکۍ خوښېږې، ځکه ته ډېر ګټور انسان یې!.

## ٦٧ صبر پر مصیبتونو د بري لار ده

مه خپه کېږه او له صبر څخه کار اخله، ځکه چې صبر د خلاصون او نېکمرغۍ لار ده؛ خو صبر باید د الله تعالیٰ په لار کې او د هغه لپاره وي، صبر باید صبر جمیل یانې ښکلی صبر وي او د مصیبت پر مهال اهلسنت له درېیو ډولو وسلو څخه کار اخلي:



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

١: صبر　　　　٢: دعا　　　　٣: د ښه ساعت تمه

لکه یو شاعر وايي:

"هغوی پر موږ د مرګ جام وڅښناوه؛ خو موږ پر مرګ هم ښه صبر کوونکي وو."

همدا شان په یوه صحیح حدیث کې دي، چې:

لَا أَحَدَ أَصْبَرُ عَلَى أَذًى يَسْمَعُهُ مِنَ اللهِ عَزَّوَجَلَّ، إِنَّهُ يُشْرَكُ بِهِ، وَيُجْعَلُ لَهُ الْوَلَدُ، ثُمَّ هُوَ يُعَافِيهِمْ وَيَرْزُقُهُمْ(١٧)

"پر اذیت باندې له الله تعالیٰ نه ډېر صبر کوونکی نشته، ځکه تاسې به اورېدلي او لیدلي وي، چې خلک د الله تعالیٰ په اړه (نعوذ بالله) وايي، چې هغه ښځه او بچي لري، سره له دې چې الله تعالیٰ له دغو شیانو پاک دی، چې خلک یې ورپورې وايي، هغه الله تعالیٰ احد او واحد ذات دی او هغه همدوی ته روغتیا او روزي ورکوي."

همدا شان په یوه بل حدیث کې دي، چې نبي کریمﷺ فرمايي:

رَحِمَ اللَّهُ مُوسَى قَدْ أُوذِيَ بِأَكْثَرَ مِنْ هَذَا فَصَبَرَ(١٨)

"الله تعالیٰ دې پر موسیٰ؈ ولوروېږي، ځکه هغه ډېرې ستونزې وزغملې او صبر یې پرې وکړ."

او همدا شان فرمايي:

وَمَنْ يَتَصَبَّرْ يُصَبِّرْهُ اللَّهُ(١٩)

---

١٧: صحیح مسلم (٤ / ٢١٦٠)
١٨ : صحیح البخاري (٤ / ٩٥)
١٩ : صحیح البخاري (٢ / ١٢٣)

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Teleg[redacted]ansur

Downloaded By: Afghan Salar Library

"څوک چې له صبر نه کار اخلي الله تعالیٰ له داسې کس نه صبرناک جوړوي."

همدا راز الله تعالیٰ خپل وروستي استازي ته د صبر په اړه فرمايي:

﴿وَ اصْبِرْ وَ مَا صَبْرُكَ اِلَّا بِاللّٰهِ وَ لَا تَحْزَنْ عَلَيْهِمْ وَ لَا تَكُ فِيْ ضَيْقٍ مِّمَّا يَمْكُرُوْنَ ○﴾

"ای محمده ﷺ! په حوصله کار کوه او ستا دغه زغم د الله تعالیٰ په توفيق سره دی، د دوی پر حرکتونو مه خورېږه او مه د دوی په دسيسو زړه تنګی کېږه!."

﴿فَصَبْرٌ جَمِيْلٌ ؕ وَ اللّٰهُ الْمُسْتَعَانُ عَلٰى مَا تَصِفُوْنَ ○﴾

"نو صبر به وکړم او په ښه شان به يې وکړم، کومه خبره چې تاسې غوته کوئ پر هغې له الله تعالیٰ نه مرسته غوښتل کېدای شي."

﴿فَاصْبِرْ صَبْرًا جَمِيْلًا ○﴾

"نو ای پېغمبره، صبر وکړه، غوره صبر."

﴿سَلٰمٌ عَلَيْكُمْ بِمَا صَبَرْتُمْ﴾

"او هغو ته به وايي، چې پر تاسې سلامتيا ده، څنګه چې تاسې په دنيا کې له صبر څخه کار واخيست."

﴿وَ اصْبِرْ عَلٰى مَآ اَصَابَكَ﴾

"او هر مصيبت چې درباندې راشيورباندې صبر وکړه."

﴿اصْبِرُوْا وَ صَابِرُوْا وَ رَابِطُوْا﴾

"له زغم نه کار واخلئ، د باطل پرستانو په مقابل کې مېړانه وښيئ، د



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



حق د خدمت لپاره ملا تینګه وتړئ."

عمرﷺ فرمايي: "موږ یوازې په صبر سره ښه ژوند تر لاسه کړ."

## ٦٨ دې ته مه ګوره، چې خلک له تا سره څه کوي، بلکې دې ته ځیر شه، چې ته له الله تعالی سره څه کوې؟!

امام احمد رحمه الله په کتاب الزهد کې یو قدسي حدیث نقل کړی، چې الله تعالی فرمايي:

"پر تا تعجب دی ای د آدم بچیه! پیدا کړی ما یې او عبادت د نورو کوې! روزي زه درکوم او شکر د نورو کوې......"

د عیسی ﷺ په سیرت کې راځي، چې د دېرشتو ناروغانو درملنه یې کړې وه او بې شمېره ړانده یې د الله تعالی په اذن بینا کړي ول او هغوی بېرته د ده دښمنۍ ته متې رابډ وهلې وې.

## ٦٩ د رزق پر تنګسیا مه خپه کېږه!

څکه هماغه احد ذات خپل ټول مخلوق ته د روزۍ رسولو دنده پر خپله غاړه اخیستې. او فرمايي:

﴿وَفِي السَّمَاءِ رِزْقُكُمْ وَمَا تُوعَدُونَ ○﴾



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ [redacted]am:https:/[redacted]fghansalar

"په همدې اسمان کې ده ستاسې روزي هم او هغه شی هم، چې له تاسې سره د هغه وعده کېږي."

دا چې د روزۍ وېشنه د الله په لاس کې ده؛ نو بیا انسان ولې انسان ته چاپلوسي او غوړمالي کوي او د روزۍ په پلټلو کې تمبلي کوي؟!

الله تعالیٰ فرمايي:

﴿وَمَا مِن دَآبَّةٍ فِي الْأَرْضِ إِلَّا عَلَى اللَّهِ رِزْقُهَا﴾

"په ځمکه کې هېڅ داسې کوم خوځنده سا کښې نشته، چې د هغه روزي د الله تعالیٰ پر غاړه نه وي."

دغه راز فرمايي:

﴿مَا يَفْتَحِ اللَّهُ لِلنَّاسِ مِن رَّحْمَةٍ فَلَا مُمْسِكَ لَهَا ۖ وَمَا يُمْسِكْ فَلَا مُرْسِلَ لَهُ مِن بَعْدِهِ ۚ وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ۝﴾

"الله تعالیٰ چې د هر رحمت دروازه د خلکو لپاره پرانیزي څوک د هغې بندوونکی نشته او کومه چې هغه وتړي له الله تعالیٰ نه وروسته بیا کوم بل څوک د هغې پرانستونکی نشته، هغه ځواکمن او د حکمت خاوند دی."

## ۷۰ ځینې عوامل مصیبتونه سپکوي

۱: له الله تعالیٰ نه د اجر او ثواب غوښتنه.

﴿إِنَّمَا يُوَفَّى الصَّابِرُونَ أَجْرَهُم بِغَيْرِ حِسَابٍ ۝﴾

صبر کوونکیو ته به خپل اجر بې حسابه ورکړشي.


https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

۲: نور غمځپلي ووينه.

یو شاعر وايي:

"که زما په خوا کې دېرې ژړاګانې نه وای؛ نو ما به له غمه خپ
ځان وژلی و، خپل ښي او کیڼ لور ته وګوره! تر تا پرته څومره خلک
غمونو کې ښکېل دي؟!"

۳: درپېښ مصیبت وړوکی وګڼه.

٤: دغه مصیبت د دین لپاره نه دی.

٥: د خوښیو په مقابل کې پر مصیبتونو خوښي د بنده ګی ستر دلیل دی

٦: د تقدیر له پېښې، تېښته نشته.

۷: د هر څه واک د رب العالمین ذات په لاس کې دی.

## ۷۱ له پردي شخصیت نه ګټه مه پورته کوه!

الله تعالی فرمايي:

﴿وَلِكُلٍّ وِجْهَةٌ هُوَ مُوَلِّيهَا فَاسْتَبِقُوا الْخَيْرَاتِ﴾

"د هر چا لپاره یو لوری دی چې هغه ته مخ اړوي؛ نو تاسې د ښېګڼو
په لوري په ځغاسته شئ."

همدا شان فرمايي:

﴿وَهُوَ الَّذِي جَعَلَكُمْ خَلَائِفَ الْأَرْضِ وَرَفَعَ بَعْضَكُمْ فَوْقَ بَعْضٍ دَرَجَاتٍ
لِيَبْلُوَكُمْ فِي مَا آتَاكُمْ ۗ إِنَّ رَبَّكَ سَرِيعُ الْعِقَابِ وَإِنَّهُ لَغَفُورٌ رَحِيمٌ ۝﴾

"هماغه ذات دی، چې هغه تاسې د ځمکې خلیفه ګان وګرځولئ



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
[redacted]ram:https://t.me/afghansalar

Uploaded By: Afghan Salar Library

او له تاسې نه يې ځينو ته د ځينو نورو په مقابل کې ډېرې لوړې درجې ورکړې، چې تاسې ته يې څه درکړي دي په هغه کې پر تاسې ازمېښت وکړي."

بېشکه ستا رب په سزا ورکولو کې هم ډېر چټك دی او ډېر بښونکی او رحم کوونکی هم دی.

انسانان د بېلابېلو ورتياوو، ذهنونو درلودونکي وي او زموږ د خواږه پيغمبر محمد رسول اللهﷺ د عظمت راز په دې کې و، چې هغه به له هر صحابي نه د هغه د ورتيا اړوند کار اخيسته، لکه عليؓ د قضاء دنده تر سره کوله، معاذؓ د علم په برخه کې، ابي بن کعب ښه خوږ غږی قاري و، خالد بن وليد د غزا په ډګر کې يو غښتلی قوماندان و، حسان بن ثابت د شاعرۍ په ډګر کې يو په زړه پورې او نوموتی شاعر و؛ نو ده ته يې دغه دنده سپارلې، همدا شان قيس بن ثابتؓ د وينډوی په فن کې مهارت لاره؛ نو ده ته يې دغه برخه ورسپارلې وه، ياني په چا کې به چې کومه ورتيا وه؛ نو د هغه له ورتيا نه به يې کار اخيست، لکه چې يو شاعر وايي:

سخا د تورې پر ځای او توره د پرخې په ځای کې کښښودل زيانمن ثابتېږي.

## ۷۲ د نورو په شخصيت کې ډوبېدل ځانوژنه ده

د انساني صفتونو او ارزښتونو ترمينځ اختلاف د الله تعالی د قدرت له نښانو څخه ګڼل کېږي! ابوبکرؓ په نرمۍ سره ملت ته ګټه ورسوله؛ او عمرؓ په خپل شدت سره اسلام ته ګټه ورسوله.


Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

﴿لَا يُكَلِّفُ اللّٰهُ نَفْسًا اِلَّا وُسْعَهَا﴾

"الله تعالیٰ هېڅ نفس ته د هغه له وسې نه پورته مسوولیت نه متوجه کوي."

د نورو په شخصیتونو کې ورکېدل او په پټو سترګو د هغوی تقلید کول د خپلو ارزښتونو خاورې کول او د خپلې ارادې وژل دي.

## ۷۳ د ګوښه ژوندانه غوره اغېز

له دغه ګوښه کېدو نه موخه له ابدي شرارت نه ګوښه کېدل دي، چې زړونو ته خوښي ورکوي او غمونه لمنځه وړي.

شیخ الاسلام ابن تیمیه ﷺ وایي:

بنده ارومرو باید د الله تعالیٰ د عبادت، ذکر او تلاوت لپاره ځان ګوښه کړي او له ځان سره حساب کتاب وکړي.

ابن الجوزي په ضید الخاطر کې په دې اړه درې خبرکې تاکلي، چې لنډیز یې په لاندې ډول دی.

ما د راحت، عزت او شرف له پلوه تر ګوښه کېدو پرته بل ښه عمل ونه لیده...

په ګوښه کېدو سره انسان له هر ډول فساد او شر نه خوندي پاتې کېږي، عزلت او ګوښه کېدل په اخرت کې د تفکر او د الله تعالیٰ د ملاقات لپاره د ځان چمتو کولو تر ټولو ښه فرصت دی ...

په عزلت کې د نفس ذهني او ژبنۍ ټولې چارې اداره کېږي.

عزلت او ګوښه کېدل، د ښېګړو لپاره پرده او فضیلت د ملغلرې لپاره



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ gram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By Afghan Salar Library

صدف دی، په یوازیتوب کې د صبر، مراقبت، فکر او تدبر لپاره ښه موکه په لاس راتلای شي، د نړۍ اتلان او تاریخ جوړونکي ستر او منلي شخصیتونه ټول د عزلت پر اوبو خړوب شوي دي؛ نو هله پر خپلو پښو ودرېدلي او د سترتوب تر پاتکي رسېدلي دي.

علي بن عبدالعزيز الجرجاني په خپله قصیده کې وايي:

خلک دې تونـد خويه بولي؛ خو دا په اصل کې له ذلت څخه گوښه کېدل دي.

. د قصيدې تر پايه...

يو بل شاعر وايي:

"ما په یواځیتوب کې راحت او سکون لاسته راوړی دی څکه له یواځیتوب سره اشنا یم."

که خلک له ما سره اړيکې وشلوي؛ نو زما پرې څه، څکه چې که پوخ هر څه کوي خو پاچا بیا هم سپور وي.

حمید وايي:

"د خلکو تا ویلې، ما ویلې څه گټه نه رارسوي؛ نو څکه ورسره ناسته او ولاړه گټوره نه بولم."

د یواځیتوب لا نورې گټې په "كتاب العزلة" کې کتلای شئ!

## ۷٤ پر سختیو مه خپه کېږه!

څکه چې سختۍ زړه غښتلی کوي او گناهونه لمنځه وړي، غرور او تکبر ته د پای ټکی ږدي، د مخلوق عاطفه او د نېکانو دعا جلبوي، انسان خپل رب ته تسلیموي او د هغه پر ورکړه راضي کېږي.



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

## ۷۵ وقفه

مه خپه کېږه!

ځکه خپګان په عبادت کې کمزوري رامنځته کوي او له جهاد نه دې پاتې کوي، پر دې سر بېره بدمرغي، بدګوماني، شکوک او شبهات رازېږوي.

مه خپه کېږه!

ځکه خپګان د رواني ناروغيو بنسټ او د دردونو سرچينه ده.

مه خپه کېږه!

چې لمونځ کوې، قرآن لولې او خلکو ته خير رسوې.

مه خپه کېږه:

د وزګارتيا او بې کارۍ له امله خپګان ته سر مه ټيټوه؛ لمونځ کوه او قران لوله! نور د خير چارې ترسره کوه او د الله تعالی په دربار کې د دعاګانو لپاره لاسونه لپه کړه.

مه خپه کېږه او د نېکمرغۍ قاعدې ولوله:

۱: که د خپلې ورځې په چوکاټ کې ژوند نشې کولای؛ نو ذهن به دې ګډوډ او چارې به دې بې نظمه وي.

۲: تېر هېر کړه، ځکه په تېر پسې زړه تړل بې عقلي ده.

۳: په راتلونکې پورې هم زړه مه تړه، ځکه هغه لا راغلې نه دی.

٤: له نقد او نيوکو نه مه وېرېږه، ځکه نقد ستا ارزښت خوندي ساتي.

٥: په الله تعالی ايمان ساته او نېک عمل کوه، ځکه همدغه سپېڅلی ژوند دی.

Downloaded By: Afghan Salar Library



۶: د الله تعالیٰ ذکر کوه، څکه په دې سره زړه ډاډمنېږي.
۷: هر څه ته د تقدیر په سترګه ګوره.
۸: د چا د منني انتظار مه کوه.
۹: د سختو چارو د ترسره کولو لپاره ځان چمتوکړه.
۱۰: هغه څه چې ستا په واک دي په همدې کې ستا خیر دی.
۱۱: د مسلمان لپاره په څه کې خیر وي.
۱۲: ته په شته حال هم تر ډېرو غوره یې.
۱۳: په نعمتونو کې فکر وکړه او شکرېرې اوباسه.
۱۴: ساعت په ساعت خوښي محسوسوه.
۱۵: په مصیبتونو کې دعاګانې ښې قبلېږي.
۱۶: مصیبتونه د سترګو مرهم او د زړه غښتلتیا ده.
۱۷: له تنګسې سره اسانتیا مله وي.
۱۸: د ځان په اړه ناوړه پرېکړه مه کوه.
۱۹: ستا رب د پراخه مغفرت خاوند دی.
۲۰: له غوسې نه ډډه وکړه.
۲۱: ژوند: ډوډۍ، اوبه او سیوری دی؛ نو فکر مه کوه.
۲۲: ستاسې روزي له آسمانه ده.
۲۳: آسمان چې څومره غورېږي هغومره نه ورېږي.
۲۴: له نورو غمځپلیو نه پند واخله.
۲۵: الله تعالیٰ ته ګران خلک پر مصیبتونو اخته وي.
۲۶: د غمونو د له منځه وړلو دعاګانې تکرار کړه.
۲۷: ګټور عمل وکړه او له وزګارتوبه ډډه وکړه.
۲۸: تا ویلې ما ویلې پرېږده.



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

۲۹: له چا نه د غچ اخیستنې په لټه کې مه اوسه.
۳۰: ستا مصیبت ستا د ګناهونو کفاره ده.

## ۷۶ له شپږ ډوله درملو درلودو سره هم خپه یې؟!

د "الفرج بعد الشدة" لیکوال لیکي چې:

په پوهانو کې یو تن په یوه سخت مصیبت اخته شو؛ نو خپل خپلوان یې پوښتنې ته ورغلل او ویې پوښت، چې څه دارو، درمل دې خوړلي که نه؟ هغه یې په خوب کې وویل، چې هو! له شپږو شیانو څخه جوړ دارو مې کارولي! خپلوانو یې په اریانتیا سره د دارو په اړه وپوښت، چې له کومو شپږو ډوله شیانو نه جوړ شوي درمل دې خوړلي؟

ناروغ یې په خوب کې وویل:

لومړنی شی یې پر الله تعالی باور دی.

دویم یې پر دې خبره پوهېدل، چې د تقدیر پرېکړه حق ده.

درېیم دا چې صبر تر هغه څه غوره دی چې ممتحنین یې کاروي.

څلورم دا چې که زه صبر ونه کړم؛ نو څه به وکړم؟

پنځم یې دا اټکل، چې کېدای شي، تر دې لا زیات په شر کې پرېوځم.

شپږم یې دا چې ساعت په ساعت خوښي راتلای شي.


Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ [redacted]gram:https:/[redacted]salar

Downloaded By: Afghan Salar Library

## ۷۷ مه خپه کېږه! له صبر نه کار واخله

یو شاعر وايي:

ای زمانې! که له تا سره څه نور غمونه وي؛ نو هغه هم راوړه او پر ما يې انبار کړه!

متنبي وايي:

زمانې دومره غمونه را کړل، چې زما زړه يې د غشو په پرده کې راونغښت اوس، چې غشي راځي؛ نو پر غشي لګېږي او ماتېږي.

ابوالمظفر الابيوردي وايي:

زمانه زما لپاره نا اشنا شوه او په دې نه پوهېږي، چې زه عزتمن يم او د زمانې د پښو په پرتله سپک نه يم، زمانه د خپل تېريو زور راښيي او زه ورته خپل زغم.

له عزت سره د وريښو دوړۍ او کېږدۍ (خېمه) تر هغه قصر او مانۍ زر ځلې غوره ده، چې بې ابې پکې وي.

د محنتونو په زوال کې بيړه نه ده پکار، کېدای شي لاپسې زيات شي.

## ۷۸ وقفه

﴿لَا تَقۡنَطُواْ مِن رَّحۡمَةِ ٱللَّهِۚ﴾

"د الله تعالی له رحمته مه نهيلي کېږئ....."

﴿وَمَن يَقۡنَطُ مِن رَّحۡمَةِ رَبِّهِۦٓ إِلَّا ٱلضَّآلُّونَ ۝﴾



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

”د الله تعالی له رحمت نه یوازې بېلارې خلک نهیلي کېږي....“

﴿إِنَّ رَحْمَتَ اللَّهِ قَرِيبٌ مِّنَ الْمُحْسِنِينَ ۝﴾

”د الله تعالی رحمت نېکانو ته نږدې دی.“

﴿إِنَّ رَبَّكَ وَاسِعُ الْمَغْفِرَةِ﴾

”زما رحمت هر څه ته پراخه دی.“

﴿لَا تَحْزَنْ إِنَّ اللَّهَ مَعَنَا﴾

”مه خپه کېږه! الله تعالی له موږ سره دی.“

یو شاعر وايي:

کله چې دوی تا ته د دنیا صفت شروع کړي، چې ته د دنیا له مزاج سره اشنا نه اوسې؛ نو په همدې کې ستا ګټه ده....

## ۷۹ کتاب ښه ملګری دی

د ښکمرغۍ د ترلاسي یوه ډېره مهمه وسیله د کتاب مطالعه ده!

جاحظ په دې اړه داسې وايي:

کتاب یو داسې خوږ او خواخوږی ملګری دی، چې نه دې کبرجن کوي، نه دې خپه کوي او نه دې په نیمه لار کې پرېږدي، یو داسې ملګری دی، چې نه درنه څه غواړي، نه درته دروغ وايي، نه درسره دوکه، ټګي او خیانت کوي، نه دې په چاپلوسۍ مال هضموي او یو داسې ګاونډي دی چې تر تا ځکې کېدل هم نه غواړي،



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Teleg[redacted]tps://t.me/[redacted]

کتاب لوستنه خوښي زياتوي، ذهن تېزوي او ژبه پاکوي، زړه ډاډمنوي او سينه پراخوي!

کتاب د شپې، ورځې، سفر او د حضر ملګرى دى، دا هماغه يواځينى ښوونکى دى، چې که ورته اړ شوې؛ نو له پلوه‌دې لاس نه اخلي!

کتاب د وزګار وخت د ډکولو لپاره تر ټولو غوره وسيله ده او پر دې سربېره دنيوي او ديني چارې پرې ښې سمبالېږي.

ابو عبيده وايي:

مهلب په خپل وصيت کې زامنو ته ويلي وو، چې په بازارونو کې يوازې په دوو ځايونو کې تم کېدای شئ.

۱: چېرته چې خواړه تيارېږي.

۲: چېرته چې کتابونه پوښل کېږي او جوړېږي.

يوه ملګري راته کيسه کوله، چې د يو شامي عالم په وړاندې مې يو داسې کتاب ولوست، چې د غطفان کارنامې پکې وې! هغه راته وويل، چې کارنامې لمنځه تللي؛ خو په کتابونو کې لا هماغسې خوندي پاتې دي.

حسن اللولوي وايي:

ما څلوېښت کاله له کتاب سره تېنګه ملګرتيا کړې.

ابن الجهم وايي:

کله که بې وخته راباندې خوب يرغل کړي؛ نو له کتابه مې مرسته غوښتې او هغه مې ښه کلکه پلوي او ملاتړ کړی.

تر ټولو ستر، عظيم او شريف کتاب:

﴿ كِتٰبٌ اُنْزِلَ اِلَيْكَ فَلَا يَكُنْ فِيْ صَدْرِكَ حَرَجٌ مِّنْهُ لِتُنْذِرَ بِهٖ وَ ذِكْرٰى لِلْمُؤْمِنِيْنَ ○ ﴾

"دا يو کتاب دى چې تا ته درلېږل شوى دى؛ نو اى محمده ﷺ! ستا



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

په زړه کې دې له ده نه څه اندېښنه نه وي، د ده له نازلولو نه هدف
دا دی چې ته د ده په وسیله (منکران) وویروې او د مؤمنانو لپاره
یادونه وي."

## ۸۰ د کتاب لوستنې ګټې

۱: وسوسې، غمونه او اندېښنې لمنځه وړي.
۲: په باطل کې د وردننه کېدو مخه نیسي.
۳: عقل ته وده ورکوي او زړه پاکوي.
٤: د کتاب په مرسته د خلکو د تجربو او د علماوو له استنباطاتو څخه لاس
راوړنې کېږي.
٥: کتاب داسې ستر واعظ دی، چې ایمان قوي کوي.
٦: ۷د علومو د استدراک لپاره ډېره ښه ملکه ده.
۷: د ذهن، زړه او وخت دریوارو پلوي او ساتنه کوي.
۸: د علم لمن پراخوي او د معلوماتو پانګه زیاتوي.
۹: د بې کاره خلکو له ناستې ولاړې نه دې ساتي.
۱۰: تېروتنې دې اصلاح کوي، فصاحت او بلاغت در په برخه کوي.
۱۱: د خبرو پر فهم، د عبارت پر هدف، د جملو پر مدلول او حکمت باندې
پوهېدو رسوخ منځته راوړي.

د یوه شاعر په وینا:

د الفاظو او معانیوو پر موخه پوهېدل تر ټولو ډېر خوندور کار دی؛ ن
خوړو او اوبو د خښتې ډکول.

## ۸۱ وقفه

ابوبکر صدیق‌ رضي الله عنه ناروغ شو! خلک یې پوښتنې ته راغلل او ورته یې وویل:

طبیب درته راولو!

ـ طبیب کتلی یم!

ـ څه یې درته وویل؟!

ـ وې ویل: چې زه هماغه کار کوم څه ته چې اراده وکړم.

## ۸۲ مه خپه کېږه! دلته یوه بله ننداره، بل ژوند او بله ورځ هم شته

چې الله تعالی پکې محکمې او وروستنې تول خلک راټولوي، د چا که په دنیا کې مال سلب شوي وي؛ نو په اخرت کې به یې تر لاسه کړي، چا که دلته پر چا تېری کړی وي، هلته به یې عذاب وګالي!

یو جرمنی فیلسوف «کانت» وایي:

د نړیوال ژوند درامه همدلته پای ته رسېږي؛ نو اورمرو موږ باید یوې بلې ننداري ته سترګې په لار شو! څکه په دې نړۍ کې موږ ظالم او مظلوم، دواړه ولیدل؛ خو انصاف مو ونه لیده، غالب او مغلوب مو هم ولیدل، خو غچ اخیستل مو ونه لیده! پکار ده یوه داسې نړۍ هم ووینو، چې هلته عدالت هم وي او انصاف هم.

Downloaded By: Afghan Salar Library



شیخ علي طنطاوي د تعلیق پر بنسټ وايي:

د دغه فیلوسف پورتنی وینا ضمناً د قیامت په ورځ اعتراف کول دي!

د یو شاعر به وینا:

کله چې وزیر، کاتبان او قاضیان یې له یوې مخې ظالمان وي؛ نو د آسمان د قاضي له لوري د ځمکې د دغه ډول قاضیانو لپاره تباهي، بیا هم تباهي او بیا هم تباهي ده.

الله تعالی فرمايي:

"نن ورځ به په چا ظلم ونه شي او الله تعالی ډېر ژر حساب کونکی دی"

## ۸۳ نرۍ والې خبرې

روبرت لویس استیفن لیکې:

هر انسان د یوې ورځې تر پایه له ګران نه ګران کار کولای شي او خوښ هم پاتې کېدای شي، چې همدغه د ښه ژوند مفهوم دی.

یو بل فیلسوف وايي:

ستا ژوند فقط یوه ورځ ده! پرون تېر شو او سبا لا راغلی نه دی.

استیفن لیکوک وايي:

کوچنی وايي، چې کله هلک شم، هلکی وايي. چې کله زلمی شم، زلمی وايي اوس نو زه واده کوم، ښه نو تر واده وروسته بیا څه کول په کار دي؟!

او تر دغو ټولو پړاونو وهلو وروسته؛ نو بیا څه کول پکار دي؟! کله چې وخت تېر شي؛ نو هله پرې سړی پوه شي، چې ډېر ارزښتمن شی مو له لاسه



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library


ورکړی، همدغه د هغو خلکو حال دی چې د توبې په ويستو کې نن او سبا کوي.

په سلفوکې يو عالم وايي:

"زه تاسې د سَوْف (ډېر ژر) له توري ځخه وېروم! ځکه دا يوه داسې کلمه ده چې تل يې د خير او صلاح چارې ځنډولي دي."

الله تعالىٰ فرمايي:

﴿ذَرْهُمْ يَأْكُلُوا وَيَتَمَتَّعُوا وَيُلْهِهِمُ الْأَمَلُ فَسَوْفَ يَعْلَمُونَ﴾

"پرېږده دوی چې وخوري و ځښبي، خوندونه واخلي او دروغجنې هيلې يې په هېره کې واچوي، ډېر ژر به دوی ته معلومه شي"

فرانسوي فيلسوف مونين وايي:

زما ژوند بدمرغيو ډېر چټل کړی او کله يې هم له ترحم ځخه کار نه دی اخيستی.

دانتې وايي:

نننۍ ورځ بيا نه راځي، زه وايم تر دې هم قوي او ښه خبره د پيغمبر عليه الصلاة والسلام خبره ده چې فرمايي:

صَلِّ صَلَاةَ مُوَدِّعٍ

داسې لمونځ وکړه ګواکې همدغه ستا وروستی لمونځ دی

مشهور هندي ممثل او ډرامه ليکونکی کاليد اسا ليکي:

سباون ته سلام، دغې ورځې ته وګوره! ځکه چې دا ژوند دی، د ژوند په دغه لنډه موده کې به ستا د وجود بېلابېل حقيقتونه ترلاسه شي، د نمو نعمت، ښه کار، د بري زېرې، ځکه چې تېر شوی پرون يو خوب و، راتلونکی په تمه خوړل کېږي؛ له دې امله همدغه نننۍ ورځې ته ځير شه،


Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

چې همدغه د سباوون سلام دی.

## ۸٤ له ځانه دغه پوښتنې وکړه

په تېر او راتلونکي پسې وسپنيزې دروازې وتړه! د همدغې ورځې په لحظو کې ژوند وکړه او ځان وپوښته، چې:

۱: ايا نننی ژوند د راتلونکي په اړه له اضطراب او اندېښنو څخه ځغورلای شم؟

۲: ايا خپل نن د تېرو ترخو په را يادولو تريخ او بې خونده کړم؟

۳: ايا سهار وختي د دې لپاره راپورته شوی يم، چې د څلورويشتو ساعتو په اوږدو کې له دغې ورځې څخه ګټه واخلم؟

٤: ايا د دقيقو په حساب مې د دغې ورځې له ژوندانه څخه ګټه پورته کړې؟

٥: دغه چارې به کله پيلوم ؟ نن؟؟ سبا؟؟ او که په راتلونکي کې؟!

٦: ځان وپوښته، چې داسې کومه پېښه رامنځته شوې، چې ته پر هغې خوربدلی نه اوسې او تر دې ناوړه پېښه بله کومه کېدلای شي؟

د دغه ډول پېښو ځغملو ته ځان چمتو کړه.



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

## ۸۵ غم او اندېښنه ځواکمني له مينځه وړي او بدن له ګوابښونو سره مخ کوي

دوکتور «الکسيس کيرل» چې په طب کې يې د نوبل جايزه اخيستې وايي:

هغه کار ګران ډېر ژر مري، چې پر ستونزو غور نشي کولای.

زه وايم:

هرڅه د الله تعالیٰ په تقدير پورې اړه لري؛ خو د کاريل خبره له دې پلوه سمه ده، چې غمونه او اندېښنې د ژوند لپاره ناوړه ګواښونه دي - غمونه تېرونه شنوي!

دوکتور «جوزيف ايف مونتکيو» په خپل کتاب "عصبي ستونزه" کې وايي:

تپ له دې امله نه رامنځته کېږي، چې ته څه خورې، بلکې له دې امله رامنځته کېږي،چې تا څه خوري!

متنبي وايي:

غمونه او اندېښنې انسان ډنګروي او بې وخته يې زړوي.

دوکتور «ايدوربودولسکي» په خپل کتاب (قلق پرېږده او د افضل خوا ته ولاړ شه) کې ليکي:

قلق پر زړه څه اغېز کوي؟

د وينې فشار له همدې امله منځته راځي.

د روماتيزم ناروغي رامنځته کوي او داسې نور .....

دوکتور «کارل مانينګر» د رواني ناروغيو متخصص په خپل کتاب «


Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

انسان د خپل ځان پر ضد» کې وايي:

دوکتور مانینکر تا ته له اضطرابه د ځان ژغورنې په اړه هېڅ هم نشي درکولای، بلکې یو بو ګنونکی راپور درکوي، چې موږ خپل بدنونه عقلونه او فکرونه څه ډول د اضطراب او اندېښنو ښکاره کړل؟

فرانسوي فیلسوف «مونتین» وايي:

زه ستاسې ستونزې په خپل لاس هوارول غواړم، نه په زړه او ځیګر سره (لکه د پښتو متل دی، چې له زړه نه د پښتو تناکې ښې دي_ هلال).

دوکتور «راسل سیسل» د «دکورنیل» پوهنتون له طب پوهنځي نه د مفاصلو او بندونو د التهاب او دردونو په اړه څلور لاملونه په ګوته کوي

۱: ناکام واده.

۲: مادي اضطراب او اندېښنې.

۳: نفسي اضطراب او تنهايي.

٤: حقارت او حسد.

دوکتور «ولیم مالک ګوینګل» په امریکا کې د غاښونو د ډاکترانو اتحادیې ته په وینا کې داسې وویل:

اضطراب، اندېښنه، وېره او خوف امکان لري چې په بدن کې د کالسیوم په خپرولو کې رول ولوبوي او د غاښونو د تلف کېدو په لور منتج شي.

## ۸۹ خپلې معاملې په ډاډه زړه حل کړه

ډیل کارینګي وايي:

په جنوبي سیمو کې زنګیان او چینایان ډېر لږ د زړه پر ناروغیو اخته کېږي او د دې لامل همدا دی، چې دوی خپلې چارې په ډاډه زړه سرته رسوي.



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

هغه امریکایان چې انتحار کوي د دوی شمېر د هغو کسانو په پرتله ډېر زيات دي، چې د پنځو غټو ناروغيو له امله خپل ژوند له لاسه ورکوي!
دا يو تريخ حقيقت دی ښايي ډېر خلک به يې ونه مني.

## ۸۷ د خپل رب په اړه ښه اټکل ولره!

«وليم جايمس» وايي:
الله تعالی زموږ ګناهونه ببښي؛ خو زموږ اعصاب هېڅکله هم داسې نه کوي.
ابن الوزير په خپل کتاب «العواصم او القواصم» کې ليکي:
د الله تعالی رحمت ته سترګې په لار کېدل د بنده لپاره د اميدونو تولې لارې پرانيزي او د الله تعالی پر اطاعت باندې يې کلکوي او د ثوابي چارو په سرته رسولو کې يې مرسته کوي.
زه وايم: دا سمه خبره ده ځکه چې ځينې نفسونه د الله تعالی له ذکر، توبې او عفوې څخه په بل څه نشي اصلاح کېدلای.

## ۸۸ کله دې چې خيالات زوروي

«تهامس هډسن» وايي:
له تفکر څخه د تېښتې لپاره هېڅ داسې وسيله نشته، چې انسان ورته پناه يوسي! خو د يوه ګټور عمل په اړه فکر کول فکر اداره کوي.



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



## ۸۹ له مثبت او جوړونکي نقد نه مه ویرېږه!

«اندریه مورو» وایي:

هغه څه چې زموږ له شخصي غوښتنو سره سمون خوري، موږ ته حقیقي ښکاري او تر هغې پرته پر نور څه موږ غوسه کېږو.

زه وایم:

هو! نقد او نصیحت همداسې وي، زیاتره داسې وي، چې موږ خپله ستاینه خوښوو، هغه که پر باطله هم وي او تنقید ته په بده سترګه ګورو، که څه هم پر ځای او سم وي، چې دا لوی عیب دی.

الله تعالیٰ فرمایي:

"کله به چې دوی الله او د هغه رسول ته راوبلل شول، چې د هغوی ترمنځ پرېکړه وکړي، ناڅاپه له دوی څخه یوې ډلې به سرغړونه وکړه"

«ولیم جیمس» وایي:

په کومه ورځ چې کومه پرېکړه وشي؛ نو په هماغه ورځ یې پلي کول پکار دي، چې په دې توګه به یې په کلي توګه غم خلاص شي.

یو شاعر وایي:

"د کمزورې ارادې خاوند به ټول عمر لالهانده وي، نه به کامیابي په لاس ورځي او نه ناکامي"

یو بل شاعر وایي:



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

...ded By: Afghan Salar Library

"که ته د رای او نظر خاوند يې؛ نو د عزيمت خاوند هم اووسه، ځکه چې دوه زړه توب د رای او نظر ناوړه پايلې رامنځته کوي.

الله تعالیٰ فرمايي:

﴿طَاعَةٌ وَّقَوْلٌ مَّعْرُوْفٌ ۚ فَإِذَا عَزَمَ الْأَمْرُ ۚ فَلَوْ صَدَقُوا اللّٰهَ لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ ۚ﴾

(د هغو پر ژبه) خو د اطاعت اقرار او ښې ښې خبري دي؛ خو کله چې غوڅ حکم ورکړ شو که په هغه وخت کې له الله تعالیٰ سره په خپله ژمنه کې د هغو رېښتينولي ثابته شوې وای نو د همغو لپاره ښه وه.

## ۹۰ د اريانتيا پر ځای کار وکړه!

د هارفرد د پوهنتون استاد دوکتور «ريچارد کابوت» په خپل کتاب «انسان بايد ځنګه ژوند وکړي» کې ليکي:

زه د يوه طبيب په حيث هغو ناروغانو ته، چې د شک او دوه زړه توب په رنځ اخته دي نصيحت کوم، چې کار وکړي او پر ځان باور ولري.

جورج برنارد شو وايي:

د بدمرغۍ راز په همدې کې دی، چې کله تا ته څه وخت په لاس درشي؛ نو په هغې کې د خپلې بدمرغۍ او نېک مرغۍ په فکرونو کې اخته شي، سره له دې چې په دغه اړه فکر کول مهم نه دی، بلکې مهمه دا ده چې بايد په کار کې بوخت اووسې، ځکه چې د بوختيا په دغه صورت کې وينه په بدن کې جريان پيدا کوي او عقل په تفکير کې او همدغه د ځمکې پر مخ تر ټولو ښه او اسان درمل دي.



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



## ۹۱ ډېرې خپروني صحت او حقيقت نلري

هندي نژاد جنرال «جورج کورک» د امريکا په تاريخ کې دغه ستر هندي جنګيالي د خپلو يادښتونو د کتاب په (۷۷) مخ کې داسې ليکي:

"د هندوانو د انديښنو او ګډوډۍ بنسټي لاملونه د هغوی ناوړه تخيلات دي، چې هېڅ حقيقت نه لري"

د کولومبيا پوهنتون استاد هوکس په دې اړه وايي:

"د ځمکې پر مخ هر درد دوا لري او يا يې نه لري، که يې لري؛ نو کوښښ وکړه، چې ترلاسه يې کړې او که يې نه لرې؛ نو بيا ارزښت مه ورکوه"

## ۹۲ نرمي انسان له ډېرو ستونزو ژغوري

يو جاپاني استاد خپلو شاګردانو ته وويل:

انځنا او ښکته کېدل د «صفصاف» نومې ونې ته ورته والی دی او بېخي مقاومت نه کول له «بلوط» نومې ونې سره مشابهت دی.

په حديث کې راځي چې:

"مؤمن هماغه نرم بوټي ته ورته دی، چې باد يې ښي او کيڼ لور ته اړوي راړوي؛ خو ماتولای يې تويان هم نشي."

﴿لِكَيْلَا تَأْسَوْا عَلَىٰ مَا فَاتَكُمْ وَلَا تَفْرَحُوا بِمَا آتَاكُمْ ۗ وَاللَّهُ لَا يُحِبُّ كُلَّ



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



مُخۡتَالٖ فَخُورٍ ۝﴾

"(دا هر څه د دې لپاره دي) چې تاسې ته که هر زيان وي چې پر هغه باندې زړه ماتي نشئ او څه چې الله تعالی تاسې ته درکوي پر هغه ونه غوړېږئ، الله تعالی داسې خلك نه خوښوي، چې خپل ځان لوی شی ګڼي او وياړېږي."

دوکتور "بول براندوني" ودرېد ، د شيدو ګيلاس يې پر ځمکه راوويشت او ويې ويل:

په تويو شېدو پسې مه ژاړه! او دا تولنلې خبره ده، چې څه په قسمت کې نه وي هغه نه ترلاسه کېږي.

ادمعليه السلام موسیعليه السلام ته وويل:

د يوه داسې شي په اړه ما ملامتوې، چې الله تعالی زما په اړه زما تر پيدا کېدو څلوېښت کاله وړاندې ليکلي و؟

رسول اللهﷺ په دې اړه داسې فرمايي:

فَحَجَّ آدَمُ مُوسَىٰ ..... الحديث

د دليل له پلوه آدمعليه السلام پر موسی لاسبری شو.

په ځان کې نېکمرغي ولټوه!

انګليسي شاعر «ميلتون» وايي:

"عقل په خپل ځای کولای شي له جنت نه دوزخ او له دوزخه جنت جوړ کړي."

متنبي وايي:

د علم او عقل خاوندان په نعمتونو کې هم بدمرغه دي سره له دې، چې جاهل په خپله ناپوهۍ کې، چې دغه يوه ستره بدمرغي ده؛ خو بيا هم نېکمرغه دی.



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



ناپلیون په «سانت هلینا» کې وویل:

ما په خپل ژوند کې شپږ ورځې نېکمرغي هم نه ده لیدلې.

هشام بن عبد الملک وایي:

ما ته په ټول ژوند کې دیارلس ورځې نېکمرغه ښکاره شوې.

نامتو عالم او زاهد «سعید بن المسیب» وایي:

شکر دی چې دوی زموږ لور ته راتښتي او موږ د دوی لور ته نه ورتښتو.

پیاوړی خطیب او واعظ ابن سماک د هارون الرشید په دربار کې حاضر شو؛ نو هارون الرشید تږی شو او اوبه یې وغوښتلې؛ نو ابن سماک ورته وویل، چې که دغه اوبه درڅخه ایسارې کړای شي؛ نو دې ته چمتو یې، چې خپله نیمه پاچاهي ورکړې؟؟ هغه ورته وویل: هو! کله یې چې اوبه وڅښلې؛ نو ابن سماک ورته وویل: که د دغو اوبو وتل له تا څخه ایسارې کړای شي؛ نو ایا دې ته چمتو یې، چې د خپلې نیمې پاچاهۍ په بدل یې اخراج کړې؟ هغه وویل: هو! ابن سماک ورته وویل: بیا نو په داسې پاچاهۍ څه، چې د یو غړپ اوبو هومره ارزښت هم نه لري.

د ختیځ شاعر علامه اقبال وایي:

”له ایمان پرته امان نشته، د دینداري په نشتوالي کې د جهان نشتوالی دی“

«امرسون» د خپلې مقالې ”پر ځان باور“ کې لیکي، چې سیاسي مرسته، د ناروغۍ درملنه، د مزدورۍ دېرښت، یا د نېکمرغو ورځو راستنېدل، دغه یو یې هم تا ته د ادمني نشي دربښلای، د ادمني په همدې کې ده، چې پر ځان باور وکړې.



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:[redacted]afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



## ۹۳

## وقفه

مه خپه کېږه:

ځکه خپګان دې په تېر غمجنوي، له راتلونکي دې داروي او نننی ورځ دې له لاسه وباسي.

مه خپه کېږه!

ځکه خپګان پر زړه برید کوي، پر تندي ګونځې جوړوي او هیلې خاورې کوي.

مه خپه کېږه!

ځکه په خپګان دې دښمن خوشحالېږي، دوست خپه کېږي او حقایق دریاندې ګډوډېږي.

مه خپه کېږه!

ځکه خپګان له قضا سره سرجنګي، له تقدیر سره جګړه او له انسانیت نه سرغړونه ده.

مه خپه کېږه!

ځکه په خپه کېدو ورک شی نه تر لاسه کېږي، نه پرې مړي را ژوندي کېږي او نه د تقدیر پرېکړه بدلولای شي.



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

## ۹٤ چې پر الله باوري يې؛ نو مه خپه کېږه!

ايمان د خوښۍ او نېکمرغۍ راز دی، شکونه او شبهې لويه بدمرغي ده، ما ډېر داسې قهرمانان ليدلي، چې زړونه يې د ايمان له رڼاکانو څخه بې برخې دي؛ نو ژبو يې د اسلامي شريعت په اړه د سرغړونې په درشل ودرولې دي.

ابو العلاء المعرى د شريعت په اړه وايي:

په شريعت کې تناقض دی موږ بايد د هغې په وړاندې سکوت غوره کړو.

امام رازي وايي:

"د عقلونو د اقدام پای سرغړونه ده"

جويني وايي:

"ما ته جوته نشوه، چې الله تعالٰی چېرته دی؟؟ زه همدې په ارباننتيا کې غورځولی يم"

ابن سينا وايي:

إنَّ العقل الفعَّال هو المؤثِّرُ في الكونِ

کارنده عقل پر کايناتو اغېز ښندي(؟)

ايليا ابو ماضي وايي:

"زه راغلی يم؛ خو خبر نه يم، چې له کومه ځايه راغلی يم؛ خو کله چې مې لار ليدلې؛ نو تلل مې پرې پيل کړي.

او داسې نورې ويناوې، چې څه يې حق ته نږدې او څه يې له حقه بېخي



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ [redacted]elegram:http[redacted]fghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



لري دي! خو زه پردې حقيقت پوهيدلی يم، چې د چا ايمان پياوړی شو، هغه نبکمرغي ترلاسه کړه او څوک، چې په شکونو او شبهو کې پرېوت بدمرغه شو.

د سر غړونکيو دغه وروستی طرحې د همدغو تورو زېږنده ده، چې د تاريخ د ستر سر غړاند فرعون له خولې راوتلې، چې الله تعالی ورته داسې اشاره کړې.

﴿مَا عَلِمۡتُ لَكُم مِّنۡ إِلَٰهٍ غَيۡرِي﴾

"زه له ځانه پرته ستاسې کوم بل خدای نه پېژنم."

دغه راز وايي:

﴿أَنَا۠ رَبُّكُمُ ٱلۡأَعۡلَىٰ ۝﴾

" زه ستاسې تر ټولو لوی رب يم."

د دغو باطلو افکارو او د هغې د اغېز په اړه الله تعالی فرمايي:

﴿بَلۡ ظَنَنتُمۡ أَن لَّن يَنقَلِبَ ٱلرَّسُولُ وَٱلۡمُؤۡمِنُونَ إِلَىٰٓ أَهۡلِيهِمۡ أَبَدٗا وَزُيِّنَ ذَٰلِكَ فِي قُلُوبِكُمۡ وَظَنَنتُمۡ ظَنَّ ٱلسَّوۡءِ وَكُنتُمۡ قَوۡمَۢا بُورٗا ۝﴾

"بلکې تاسې داسې وګڼله، چې پېغمبر او مؤمنان به خپلو کورنيو ته بېرته هېڅکله راونشي ګرځېدلی او دغه ګومان ستاسې په زړونو ډېرښه ولګېده او تاسې ډېر بدګومان وکړ او تاسې سخت بد باطنه هلاکېدونکي خلك ياست."

دغه راز فرمايي:

﴿وَطَآئِفَةٞ قَدۡ أَهَمَّتۡهُمۡ أَنفُسُهُمۡ يَظُنُّونَ بِٱللَّهِ غَيۡرَ ٱلۡحَقِّ ظَنَّ ٱلۡجَٰهِلِيَّةِۖ يَقُولُونَ هَل لَّنَا مِنَ ٱلۡأَمۡرِ مِن شَيۡءٖۗ قُلۡ إِنَّ ٱلۡأَمۡرَ كُلَّهُۥ لِلَّهِ﴾



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



''خو يوه بله ډله چې هغې ته يوازې همدې خپلې ګټې ارزښت درلود، د الله په باب يې رنګا رنګ جاهلانه انګېرنې کولې چې سرتر پايه د حق خلاف وې، دا خلك اوس وايي چې ايا، د دې کار په سرته رسولو کې زموږ هم څه برخه شته؟، دوی ته ووايه (د هېچا پکې هېڅ برخه نشته) د دې کار ټولې واکمنۍ د الله تعالی په لاس کې دي.''

« جيمس الين» وايي:

هر هغه څه چې انسان د هغې د تحقق لپاره هڅه کوي، هغه په مباشر ډول د هغه د ځانګړيو افکارو پايله وي؛ انسان کولای شي پورته شي، بری او د اهدافو تحقق يې د افکارو په ترڅ کې سرته رسېږي او که دغه هر څه شا ته وغورځوي؛ نو ضعيف او ناکام دی.

د دغسې يو صادقانه فکر په اړه الله تعالی فرمايي:

﴿لَوْ كَانَ عَرَضًا قَرِيبًا وَسَفَرًا قَاصِدًا لَّاتَّبَعُوكَ وَلَٰكِن بَعُدَتْ عَلَيْهِمُ الشُّقَّةُ ۚ وَسَيَحْلِفُونَ بِاللَّهِ لَوِ اسْتَطَعْنَا لَخَرَجْنَا مَعَكُمْ يُهْلِكُونَ أَنفُسَهُمْ ۚ وَاللَّهُ يَعْلَمُ إِنَّهُمْ لَكَاذِبُونَ ○﴾

'' ای پېغمبره! که ګټه بې کړاوه لاس ته راتلې او سفر اسانه وای؛ نو هغوی ارومرو په تا پسې تلو ته چمتو کېدل، مګر پر هغو خو دا لاره ډېره ستغه شوه اوس هغوی پر خدای قسمونه خوري او وايي چې که موږ تلای شوی؛ نو ارومرو به له تاسې سره تللي وو، هغوی په خپله خپل ځانونه په هلاکت کې غورځوي، الله تعالی ښه پوهېږي چې هغوی دروغجن دي.''



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ [redacted]legram:https://t.m[redacted]salar

Downloaded By: Afghan Salar Library


دغه راز فرمايي:

﴿وَ لَوْ عَلِمَ اللّٰهُ فِيْهِمْ خَيْرًا لَّاَسْمَعَهُمْ ؕ وَ لَوْ اَسْمَعَهُمْ لَتَوَلَّوْا وَّ هُمْ مُّعْرِضُوْنَ ○﴾

"که الله تعالیٰ دا ګڼلې واى، چې په دوى کې يو څه ښه توب هم شته؛ نو ارومرو به يې دوى ته د اورېدو وس ورکړى و (خو له ښه توب نه پرته) که يې دوى اورولي واى؛ نو په بې پروايي سره يې ورڅخه مخ اړوه."

دغه راز فرمايي:

﴿فَعَلِمَ مَا فِيْ قُلُوْبِهِمْ فَاَنْزَلَ السَّكِيْنَةَ عَلَيْهِمْ﴾

"د هغو د زړونو حال هغه ته معلوم دى له دې امله يې پر هغو ډاډېينه نازله کړه."

## ۹۵ پر ورو ورو خبرو مه خپه کېږه!

په ښکانو کې يو تن له ورېي زمري سره پنجرې ته واچول شو؛ خو الله تعالیٰ نجات ورکړ! چا ورېوښت چې دغه وخت تا څه فکر کاوه؟

هغه يې په خواب کې ووېل، چې دغه وخت زه په دې فکر کې وم، چې د زمري لاړې به پاکې وي او که چټلې!! او علماء په دغه اړه څه وايي؟

يو شاعر وايي:

کله چې اتلان د تبرو غشو څخه وېرېږي؛ نو دغه وخت زه الله تعالیٰ را په زړه کړم او د دنيا ټول خوندونه شا ته وغورځوم.


Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

الله تعالی د صحابه وو تر منځ هم د مقاصدو له پلوه درجه بندي کړې لکه چې فرمايي:

﴿مِنكُم مَّن يُرِيدُ الدُّنْيَا وَمِنكُم مَّن يُرِيدُ الْآخِرَةَ﴾

" له تاسې ځخه ځينې خلك د دنيا غوښتونکي وو او ځينو د اخرت هيله لرله."

شيخ الاسلام ابن القيم رحمه الله فرمايي:

"د انسان ارزښت د هغه له همت ځخه ځرګندېږي"

يو حکيم وايي:

د يوه سړي د اهتمام او زړه راښکونتيا په اړه ما ته خبر راکړئ، زه به در ته ووايم، چې هغه څه ډول سړی دی؟!

د يوه شاعر په وينا چې وايي:

که چا ځر ځايونو ته د ورتلو هڅه کړې؛ نو الله تعالی هلته رسولی او که چا يې اطرافو ته د ورتلو هڅه کړې؛ نو اطرافو ته يې رسولی.

يو بل شاعر وايي:

دغه خلک له خپلو سورليو او جامو سره راغله او موږ له پاچايانو سره يو ځای په زولنو کې تړلي راغلو.

يوه کښتۍ په سمندرکې واوښته؛ يوه عابد اوبو ته له رسېدو سره سم په اوداسه لاس پورې کړ؛ چا ورته ووی، چې دا ولې؟؟ هغه وويل، چې په اوداسه مړ شم.

يو شاعر وايي:

ستا پر حال خوښي ده، ځکه چې په لاسونو کې دې ولچک پراته دي؛ بيا هم خپل رب يادوې؛ مرګ ستا تر بنو پورې در ورسېد؛ خو سترګې دې



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

[redacted] By: Afghan Salar Library


هم ونه ړيولې.

امام احمد رحمه الله د مرګ په پنجو کې نښتی و، خلکو اودس ورکاوه؛ نو هغه خپلې ږيرې ته په اشارې سره وويل، چې زما ږيره خلال کړئ!! (يعنې ګوتې پکې ووهئ)

﴿فَآتَاهُمُ اللَّهُ ثَوَابَ الدُّنْيَا وَحُسْنَ ثَوَابِ الْآخِرَةِ﴾

"په پای کې الله تعالی هغو ته د دنيا ثواب هم ورکړ او له هغه نه غوره ثواب يې په اخرت کې هم وريه برخه کړ."

## ۹۶ ښښنه او تېرېدنه

انسان دې ته نه وايي، چې له سره نه تېر وځي او يا به غلطي ترې نه کېږي، بلکې انسان دې ته وايي، چې تېر وځي به؛ خو د خپلو تېروتنو د اصلاح په فکر کې به وي، لکه چې نبي کريمﷺ فرمايي:

كُلُّ بَنِي آدَمَ خَطَّاءٌ. وَخَيْرُ الْخَطَّائِينَ التَّوَّابُونَ (٢٠)

د ادمعليه السلام ټول بچي (ياني انسانان) تېروتونکي دي؛ خو غوره تېروتونکي هغه دي، چې پر خپلو تېروتنو توبه اوباسي.

او له تېروتنو نه خلاصون يوه ناشونې خبره ده؛ خو د يو چا غلطی له پامه غورځول د عزت او درنښت لامل دی.

شکسپير وايي:

د دښمن لپاره د اور داسې لمبې مه بلوه، چې خپله هم پکې وسوزېږې.

۲۰: سنن ابن ماجه (۲ / ۱۴۲۰)



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



یوه کس ابوبکرصدیقﷺ ته وویل، چې زه به تا ته داسې کنځا وکړم هغهﷺ ورته وفرمایل، چې ستا دغه کنځاوې له ما سره قبر ته نه درومي بلکې له تا سره به ستا قبر ته ځي، ګوره دومره جلیل القدر صحابي او د اسلام لومړي خلیفه د هغه کس دومره غټې بد اخلاقۍ ته ونه کتل.

یو شاعر وايي:

دردمنو سترګو ته وواېه، ډېرې داسې سترګې شته، چې مطلع صفاوي او که ګردجنه؛ خو دوی لمر لیدلای کتلای شي، د هغو سترګو په اړه چې الله تعالٰی یې بصیرت اخیستی وي، له تسامح نه کار واخله، چې نه یې پرانیستلای او نه یې راټولولای شي.

یو چا سالم بن عبدالله بن عمر تابعي عالم ته وویل، چې ته ډېر بد سړی یې! هغه ورته ووی، بس هم تا وپېژندم!

یو امریکایي ادیب وايي:

کوتکونه او تیږې زما هډونه ماتولای شي؛ خو کلمات او خبرې ما ته هېڅ زیان نشي رسولای.

یوه سړي عمرو بن العاصﷺ ته وویل، چې ارومرو به ستا د جګړې لپاره ځان چمتو کړم، هغه ورته په ځواب کې وویل، چې اوس دې ایله کار وموند.

جنرال "ایزنهاور" وايي:

کوم خلک چې موږ نه خوښوو، د هغوی په اړه فکر کول د وخت ضایع کول دي.

غوماشي د خرما ونې ته ووی، چې بس دی درنه الوځم او تا پرېږدم! خرما ورته وویل، چې زه دې په ناسته نه یم پوه شوې ؛ نو پر الوتو به دې څه پوه شم؟! او ستا ناسته ما ته څه کته او الوتل دې څه زیان رارسولای شي؟

له همدې امله الله تعالٰی په قرآن کریم کې له بې ګټې چارو نه د سلام



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library


په کولو د تېرېدنې امر فرمايلی دی:

﴿وَإِذَا خَاطَبَهُمُ الْجَاهِلُونَ قَالُوا سَلَامًا﴾

"او که جاهلان يې مخې ته راشي؛ نو سلام ورته کوي."

حاتم طايي وايي:

د شريف او سخي سړي تېروتنې د هغه د شرافت او سخاوت له امله ببنم او د رذيل او سپک سړي له کنځلو نه د خپل شرف او عزت لپاره مخ اړوم.

الله سبحانه و تعالی فرمايي:

﴿وَالَّذِينَ لَا يَشْهَدُونَ الزُّورَ وَإِذَا مَرُّوا بِاللَّغْوِ مَرُّوا كِرَامًا﴾

(او د رحمان بندګان هغه دي) چې د دروغو شاهدي نه وايي او که پر کوم بابېزه شي ورشي؛ نو د شريفو انسانانو په څېر ورڅخه تېرېږي.

کنفو شيوس وايي:

غوسه ناک سړی تل له زهرو ډک وي.

په يوه حديث کې راغلي چې:

"غوسه د اور سکروټه ده"

شيطان په درېيو وختونو کې پر انسان يرغل کوي، د غوسې پر مهال د شهوت پرستۍ پر مهال، د غفلت پر مهال.

## ۹۷ نړۍ له همداسې خلکو ډکه ده

روماني امپراتور او حکمت پوه مارکوس او يليوس يوه ورځ ووېل نن ورځ به زه له يو شمېر داسې خلکو سره مخ شم چې ډېر غږېږي، پر ځان


[redacted]book:https://www[redacted]ook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

مین او مغرور دي؛ خو زه څکه نه خپه کېږم، چې دنیا له همداسې خلکو ډکه ده.

ارسطو وايي:

مثالي سړی د داسې چارو په انجامولو خوشېږي، چې د نورو په ګټه وي او په دې ورته ځان ښه نه ښکاري، چې نور خلک د ده کاروکړي او لامل یې همدا دی، چې له نورو سره ښېګڼه کول د سر لوړی دلیل دی او د نورو په تمه کېدل د ناکامۍ نښه ده.

بس چې یوه مړۍ ډوډۍ یو غړپ اوبه او جامې لرې؛ نو مه خپه کېږه! لکه د اطلس په سمندر کې یوه بېړۍ وان لار ورکه کړه او یوویشت ورځې لاهانده و؛ کله یې چې نجات ترلاسه کړ؛ نو خلکو د دغې عبرتناکې پېښې او تجربې په اړه وپوښت، هغه وویل، چې له دغې ترخې تجربې نه مې دا درس واخیست، چې پاکې اوبه او پوره خواړه درسره وي؛ نو بیخي غم مه کوه!

چا څومره ښه ویلي چې:

ژوند فقط یوه مړۍ ډوډۍ، یو ګوټ اوبه دي او نور چې څه دي هغه اضافه دي.

ابن الوردي وايي:

د کسرى پاچاهي هم یوې مړۍ ډوډۍ او یو ګوټ اوبو ته اړتیا لري.

جوناتن سویفټ وايي:

د نړۍ تر ټولو ستر ډاکټران، له رحم، ډاډ او خوښۍ څخه عبارت دي! یانې له خوښۍ او ډاډمنۍ سره لږ خواړه کارول ښه علاج دی.


Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Tele[redacted]

Downloaded By: Afghan Salar Library

## ۹۸ له ازمېښتونو مه وېرېږه!

ځکه همدغه ازمېښتونه کله نا کله لورنه هم کېدای شي.

دوکتور صموییل جانسن وايي:

د هرې پېښې مثبت او ښه اړخ ته ځیر کېدل تر دې غوره دي، چې د یوه کال په اوږدو کې هره ورځ دېرې پیسې ترلاسه کړې.

الله تعالی فرمايي:

﴿اَوَ لَا يَرَوْنَ اَنَّهُمْ يُفْتَنُوْنَ فِيْ كُلِّ عَامٍ مَّرَّةً اَوْ مَرَّتَيْنِ ثُمَّ لَا يَتُوْبُوْنَ وَ لَا هُمْ يَذَّكَّرُوْنَ ○﴾

"ایا دوی نه ګوري چې هر کال یو دوه ځلي په ازمېښت کې اچول کېږي؟؛ خو په دې سره بیا هم توبه نه باسي او نه کوم درس اخلي."

معاویه وايي:

حلیم هغه څوک دی، چې تجربه ولري.

ابو تمام د افشین په اړه وايي:

"د الله تعالی ځومره نعمتونه له هغه سره و؛ خو داسې برېښېده چې هغه په نا اشنايي او زولنو کې ژوند کاوه."

په سلفوکې یوه تن یوه شتمن ته وویل:

زه ستا په اړه یوه لورنه ګورم! هغه په شکر را ایساره کړه.



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



## ۹۹ انسان خپله یوه کوچنۍ نړۍ ده

که ته د پلانکي او پلانکي په څېر نه یې؛ نو باک نه کوي، ځکه چې ته یو جلا څوک یې!

دوکتور جیمس گوردن گیلکي وايي:

دا خبره چې ته یو جلا او ځانگړی شخصیت یې، دومره زړه او لرغونې ده څومره چې بشري تاریخ لرغونی او زوړ دی.

یو بل حکیم وايي:

ای انسانه! ته په خلقت او پیداښت کې یو ځانته شی یې! نه ته چا نه ورته یې او نه تا ته څوک ورته دي! ځکه چې د کایناتو خالق دغه امتیاز یوازې تا ته دربښلی.

الله سبحانه و تعالٰی فرمايي:

﴿إِنَّ سَعْيَكُمْ لَشَتَّىٰ ۝﴾

"په حقیقت کې ستاسې هڅې په بېلابېلو ډولونو سره دي."

د ماشوم د روزنې پر سکالو «اینگلو پیتر» دیارلس کتابونه او په زرگونو مقالې لیکلي دي، دی وايي:

تر هغه بل بدمرغه نشته، چې پردی ښېنې کوي، ځان د نورو په څېر جوړوي او پردی فکر راخپلوي.

الله سبحانه و تعالٰی فرمايي:

﴿أَنزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَسَالَتْ أَوْدِيَةٌۢ بِقَدَرِهَا﴾

"الله تعالٰی له اسمانه اوبه ورولې او هر لښتي، ویالې د خپل ظرفیت



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



په تناسب را واخیستي.“

هر څوک خپل خپل ځانته مواهب او ارزښتونه لري؛ يو په بل کې ويلي کېدلای نشي.

د يوه شاعر په وينا:

تاسې ته ځانګړې ورتياوې درپه برخه دي، چې له خپلو ځانګړيو ورتياوو سره څه وکړای شئ.

”پر خپل ځان باور“ تر سر ليک لاندې «ايمرسن» په خپله يوه مقاله کې وايي:

هغه وخت به راشي چې د انسان علم پر دې حقيقت ګواهي ورکړي، چې کينه ناپوهي او تقليد ځان وژنه ده، انسان بايد په هر ډول ظروفو او شرايطو کې پر خپل ځان باور ولري.

﴿وَقُلِ اعْمَلُوا فَسَيَرَى اللَّهُ عَمَلَكُمْ وَرَسُولُهُ وَالْمُؤْمِنُونَ﴾

”او ای پېغمبره! دوی ته ووايه چې تاسې عمل کوئ، الله تعالی او د هغه پېغمبر او مؤمنان ټول به وګوري چې ستاسې کړه وړه اوس څه دي.“

## ۱۰۰ ځينې مصيبتونه ګټور هم وي

وليم جيمس وايي:

تر ډېره بريده نا اټکله افتونه او مصيبتونه له موږ سره مرسته کوي! که «دوستو وسکي» او «تولستوي» د ژوند ترخې نه وای ګاللې؛ نو دغسې په زړه پورې ناولونه يې نشو ليکلای، نېستي، بېوزلتوب او يتيمي ښېبرې پرمخ



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

خوړل کله نا کله د علم او معرفت په ډگر کې د نبوغ وسیله گرځي.

یو شاعر وایي:

کله نا کله په سترو سترو بلوی گانو کې نعمتونه نغښتل شوي وي او ځیني خلک بیا په نعمتونو کې بدمرغه وي، د دې پر عکس کله شتمني او زامن د بدمرغۍ لامل گرځي.

الله تعالیٰ فرمایي:

﴿فَلَا تُعْجِبْكَ اَمْوَالُهُمْ وَ لَآ اَوْلَادُهُمْ ۭ اِنَّمَا يُرِيْدُ اللّٰهُ لِيُعَذِّبَهُمْ بِهَا فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَتَزْهَقَ اَنْفُسُهُمْ وَهُمْ كٰفِرُوْنَ ۝﴾

"د دوی د مالونو او شتمنۍ او د دوی د اولادونو د زیاتوالي په لیدلو مه غولېږه! الله تعالیٰ دا غواړي، چې د همدې شیانو په وسیله دوی په دنیوي ژوندانه کې هم په عذاب اخته کړي او چې دوی ومري هم؛ نو له حق نه د منکرتوب په حالت کې ومري."

وگوره علماو او پوهانو ته:

ابن الاثیر خپل نوموتي اثار، لکه: جامع الاصول او انهایة په داسې حال کې ولیکل، چې له ځایه نشو خوځېدلای.

سرخسي پنځلس توکه "المبسوط" په داسې حال کې ولیکه، چې په یوه ژوره کنده کې بندي و.

شیخ الاسلام ابن القیم رحمه الله "زاد المعاد" په مسافرۍ کې ولیکه.

امام قرطبي د مسلم شرحه په کښتۍ کې ولیکله.

شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله خپله دېرش توکه فتاوی په زندان کې ولیکله.

ما ته مې ورور خبر راکړ، چې په زندان کې یې قرآن کریم حفظ کړ او



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

خلوښت توکه کتابونه يې ولوستل.

ابو العلا المعری خپل دیوانونه او کتابونه په داسې حال کې ولیکل چې په ستړکو ړوند و.

طه حسين خپل مذكرات او مولفات په داسې حال کې وليكل، چې په سترګو ړوند و.

فرانسوي فيلسوف "بايكون" وايي:

لږه فلسفه انسان دالحاد لور ته بيا يې؛ دا په داسې حال کې، چې په فلسفه کې ژوره مطالعه، بيا انسان دين ته راکاږي.

الله سبحانه و تعالٰی فرمايي:

﴿وَمَا يَعۡقِلُهَآ اِلَّا الۡعٰلِمُوۡنَ ۝﴾

"خو پر دې باندې هماغه کسان پوهېږي، چې د علم خاوندان دي،"

﴿اِنَّمَا يَخۡشَى اللّٰهَ مِنۡ عِبَادِهِ الۡعُلَمٰٓؤُا﴾

"له الله تعالٰی نه د هغه په بندګانو کې علماء وېرېږي. "

دوكتور «ای ای بريل» وايي:

هېڅ کله به هم يو رښتينی مسلمان په رواني ناروغيو اخته نشي.

الله تعالٰی فرمايي:

﴿اِنَّ الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ سَيَجۡعَلُ لَهُمُ الرَّحۡمٰنُ وُدًّا ۝﴾

"دا باوري ده کومو خلکو چې ايمان راوړی دی او ښه عملونه يې کړي دي ډېر ژر به رحمن ذات د هغو لپاره په زړونو کې مينه پيدا کړي."

دغه راز فرمايي:


Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

﴿وَ إِنَّ اللّٰهَ لَهَادِ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا إِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ۝﴾

"بېشکه الله تعالٰی ایمان راوړونکیو ته همېشه سمه لاره ښيي"

## ١٠١ ایمان ښه درملنه ده

د رواني ناروغیو متخصص دوکتور کارل جانګ د خپل کتاب «نوی انسان د روح په لټه کې» په (٢٦٣) مخ کې وايي:

د تېرو دېرشو کلونو په اوږدو کې له نړۍ نه یو شمېر اشخاص د مشورې لپاره ما ته راغلل! ما د سلګونو خلکو درملنه کړې، چې زیاتره پکې هماغه کسان وو، چې منځمهاله عمرونه يې درلودل، یانې عمرونه يې له پینځه دېرشت کلنۍ نه اوښتي وو، په دوی کې د هر چا ستونزه همدا وه چې هغه د یوې دیني پناګاه په لټه کې و، چې له دغې لارې نه صحیح ژوند وکړي! زه دا ویلای شم چې هر یو يې ناروغ و، ځکه دغو ناروغانو هماغه څه له لاسه ورکړي وو، چې دین يې مسلمانانو ته ورکوي! او چې رښتینی ایمان ترلاسه نه کړي؛ نو دوی رغېدلای نشي.

## ١٠٢ الله تعالٰی د اړ مشرک دعا هم قبلوي

الله تعالٰی د یوه مجبور مشرک دعا هم قبلوي، پاتې لا د مواحد مؤمن دعا. تر بودا وروسته نامتو زعیم « مهاتما ګاندي» وايي:

که زه پوجا پاټ (د هندوانو د عبادت یوه بڼه ده) ونه کړم، نو لېونی


Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:http[redacted]alar

Downloaded By: Afghan Salar Library


کېږم،سره له دې چې ګاندي مسلمان هم نه و، بلکې په ګمراهۍ کې پروت و، خو يو مذهبي سړی و.
الله سبحانه وتعالٰی فرمايي:

﴿فَإِذَا رَكِبُوا فِي الْفُلْكِ دَعَوُا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ﴾

کله چې دغه خلك په بېړۍ کې سپرېږي؛ نو له الله تعالٰی نه په خالصې عقيدې سره دعا غواړي.

دغه راز فرمايي:

"تر الله تعالٰی پرته څوک کولای شي دکوم مضطر دعاګانې قبولې کړي؟)

دغه راز فرمايي:

"او کومان يې وکړ، چې دوی راګير کړای شول؛ نو الله تعالٰی ته يې دعاګانې پيل کړې او دين يې په هغه پورې خاص او ځانګړی کړ"

ما د ډېرو علماوو، تاريخپوهانو او ادبپوهانو ويناوې وڅېړلې؛ خو له چا سره مې هم د رواني ناروغيو د درملنې لپاره دغسې يوه کره خبره ترلاسه نه کړه، ځکه چې هغوی له خپل دين سره په امن او سوکالۍ کې له تعقيد او تکليف څخه لرې ژوند کاوه.
الله سبحانه و تعالٰی فرمايي:

﴿وَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَآمَنُوا بِمَا نُزِّلَ عَلَىٰ مُحَمَّدٍ وَهُوَ الْحَقُّ مِن رَّبِّهِمْ ۙ كَفَّرَ عَنْهُمْ سَيِّئَاتِهِمْ وَأَصْلَحَ بَالَهُمْ ○﴾

"او کومو کسانو چې ايمان راوړ او ښې چارې يې سرته ورسولې او هغه شی (قرآن) يې ومانه چې پر محمدﷺ باندې نازل شوی دی او د هغو د رب لخوا سر تر پايه حق دی الله تعالٰی د هغو بدۍ له هغو نه


https://www.[illegible]ok.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



ایسته کړې او د هغو حالت یې سم کړ."

د ابو حازم خبره واوره! هغه وايي:

زما او د پاچایانو ترمنځ فقط د یوې ورځې توپیر دی، د پرون خوند ورته نه دی ترلاسه شوی! او د سبا په اړه اندېښمن دي! البته همدغه نننی ورځ ده او دغه نننی ورځ هم...؟!

پېغمبر ﷺ به هم داسې دعا غوښتله چې:

"ای الله! زه له تا څخه د دغې نننی ورځې خیر او برکت غواړم ..."

ثابت بن زهیر چې په "تابط شرا" پېژندل کېده، په دې اړه یوه اوږده قصیده ویلې ده:

که یو انسان له ډېرې هڅې او زیار سره بیا هم خپله موخه ترلاسه نه کړي؛ نو زیار یې ضایع او لمنځه تللی دی، دی به شا واړوي او نور زیار به هم وکالي.....

یو بل شاعر وايي:

که د زمانې ورځې د راحتونو او زحمتونو تر منځ اوښتل راوښتل ونه کړي او حوادث هم خپل کارونه سرته ونه رسوي؛ نو زموږ د فطرت کړلېچونه او سختۍ هم لمنځه نشي تلای...

## ۱۰۳ مه خپه کیږه! ژوند زموږ تر تصوره هم لنډ دی.

دوکتور ډیل کارینګي د یو چا کیسه کوي، چې په کولمو کې یې زخم پیدا شو او د غه ناروغي یې د خطر تر وروستي پړاوه ورسېده! ډاکټرانو خواب



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Telegr[redacted]afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



کړ، چې ته د رغبدو نه يې ، ناڅاپه د «هاني» په نامه دغه ناروغ له ځانه سره فکر کوي، چې هسې هم په دې نړۍ کې د څو شپږو مهلمه يې؛ نو راشه له دغو څو شپږو نه ګټه پورته کړه او د مرګ تر راتلو وړاندې په ټوله نړۍ راوګرځه! لنډه دا چې د سفر تابيا يې وکړه، د سفر تذکره او ټکټ يې ترلاسه کړ! خو دا وخت هم خپلو ډاکټرانو ورته ګواښ وکړ چې که پر دغه سفر بوخت شوې؛ نو ښايي چې د درياب په کوم ژور ځای کې ښخ شې!!! خو هغه ورته وويل، چې نه! ما ته مې خپلوانو ډاډ راکړی، چې که هر چېرې مړ شې؛ نو موږ به دې خپلې پلرنۍ هديرې ته راوړو! دا دی هاني د سفر په بېړۍ کې د خيام د دغو شعرونو په زمزمه کولو سپور شو.

"راشه چې د انسانيت يوه کيسه درته وکړم او د عمر مراندې د شپې په محفل کې لنډې کړو، ځکه چې خوب عمر زياتولای شي او نه د شپې په ويښه تېرولو عمر لنډېږي."

لنډه دا چې هغه سړي په خوښۍ خپل سفر پيل کړ او د خپلې مېرمنې په نامه يې يو داسې ليک واستاوه چې:

ما د بېړۍ پر شا په مره ګېډه خوندور خوراک او څښاک وکړ او ډېرې قصيدې مې جوړې کړې! په دغه زمانه کې مې دومره خوښي او نېکمرغي ترلاسه کړې، چې په ټول ژوند کې مې نه وه په برخه شوې!

ښه نو بيا څه وشول؟!

دوکتور ډيل کارينګي وايي، چې دغه سړی له وريښنې ناروغۍ نه روغ رمټ شو، کوم اسلوب چې ده پرې تله راتله وکړل هغه د ناروغيو په لمنځه وړو کې بېخي برياليٰ و!! زه د عمر خيام له ادبياتو سره همغږی نه يم! ځکه چې په هغې کې له الهي منهجه سرغړاوی ليدل کېږي! البته له دغې کيسې څخه هدف دا دی، چې خوښي له ډېرو طبي درملو څخه ګټوره ده.



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



## ۱۰٤ ډاډه او قانع اوسه!

ابن الرومي د شعر په ژبه داسې وايي:

حرص انسان د بدمرغۍ په درشل ودروي او همدغه د بدمرغۍ ستره وسيله ده، د هماغې کافي روزۍ هرکلی وکړه، چې په اسانۍ سره تر لاسه کېدای شي؛ په مشقت او خواريو کې مو نه ښکېلوي.

الله سبحانه و تعالی فرمايي:

﴿وَ مَآ اَمْوَالُكُمْ وَ لَآ اَوْلَادُكُمْ بِالَّتِيْ تُقَرِّبُكُمْ عِنْدَنَا زُلْفٰى اِلَّا مَنْ اٰمَنَ وَ عَمِلَ صَالِحًا فَاُولٰٓئِكَ لَهُمْ جَزَآءُ الضِّعْفِ بِمَا عَمِلُوْا وَ هُمْ فِى الْغُرُفٰتِ اٰمِنُوْنَ ○﴾

"دا ستاسې شتمني او ستاسې اولادونه هغه څه نه دي چې تاسې موږ ته نږدې کوي. هو! خو څوك چې ايمان راوړي او ښه عمل وکړي، همدغه خلك دي چې د هغو لپاره د هغو د عمل دوچند مکافات دي او هغوی به په دنګو او هسکو ماڼيو کې په ډاډېنه اوسېږي. "

دکتور ډيل کارينګي وايي:

د امريکا په متحده ايالاتو کې يوې شمېرنې دا په ډاګه کړې، چې قلق او اضطراب په امريکا کې تر ټولو لوی قاتل دی، ياني په امريکا کې ډېر خلك له همدې امله مري، د دويمې نړيوالې جګړې په اوږدو کې زموږ درې ميلونه زامن ووژل شول! او په هماغه زمانه کې د زړه درد زموږ پر دوو ميلونو ځوانانو بريد وکړ، په عين حال کې يو ميلون ځوانان د قلق، اضطراب او عصبي توازن د ګډوډېدو له امله خاورې شول.

دوکتور "دلکسس کاريل" وايي:



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

[redacted]ed By: Afghan Salar Library

چې د زړه ناروغي د دغو تلفاتو په لړ کې د يوه بنسټي لامل په توګه پېژندل کېږي! هماغه کسان چې له قلق او اضطراب سره مقاومت کولای نشي له وخت نه مخکې مري.

خو لوی لامل يې دا دی:

﴿وَمَا كَانَ لِنَفْسٍ اَنْ تَمُوْتَ اِلَّا بِاِذْنِ اللهِ كِتٰبًا مُّؤَجَّلًا﴾

"هېڅ سا کښ د الله تعالٰی له حکم پرته نشي مړ کېدای د مرګ نېټه ليکل شوې ده."

ډېر لږ تور پوستي په امريکا او ډېر لږ چينايان په چين کې د زړه پر ناروغۍ اخته کېږي، ځکه چې دوی د خپل ژوند پر اسانو تګلارو تله راتله کوي!

موږ وينو چې خپله ډېر طبيبان هم د زړه د سکتې له امله مري او د دوی شمېر د هغو بزګرانو په پرتله، چې پر همدغه ناروغۍ مري شل برخې زيات دی، ځکه چې د ډاکټرانو ژوند تل له دغو نفسي او عصبي ګواښونو سره مخ وي!!

يو طبيب د خلکو درملنه کوي؛ خو خپله هم ناروغ دی.

## ۱۰۵ د رب پر پرېکړه خوښي ټول غمونه لمنځه وړي

په حديث شريف کې دي چې:

وَلَا نَقُول الا مَا يَرضَىٰ رَبنَا


[redacted]https://www.[redacted]ok.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

"موږ به هماغه څه وایو، چې رب پرې راضي کېږي."

انسان باید حقیقتونو ته سر تیټ کړي او په سړه سینه یې ومني، ځکه چې همدغه د نېستۍ او دربدرۍ په لمنځه وړو کې رول لوبولای شي.

یو شاعر وايي:

کله چې مې په خپل سر کې سپین ویښتان ولیدل؛ نو ما یې هرکلی وکړ، ځکه چې تر دې پرته بله چاره نه وه...

## ۱۰۶ د تقدیر پرېکړه نه بدلېږي، که ته مرې او که چوې!!

ایمرسن په خپل کتاب «د یوه کار په ترسره کولو ځواکمني» کې یوه پوښتنه مطرح کړې چې:

دغه فکر موږ ته له کومه راغی، چې ناوړمن او نېکمرغه ژوند لوی او نېکمرغه خلک رامنځته کوي! سره له دې چې خبره پر عکس ده.

څوک چې تل د ځان په اړه د ویر په کولو عادي وي، هغوی به دغه ویر کوي، که څه هم د ورېښمو له پاسه څملي او ښې پستې جامې وا غوندي.

تاریخ ګواه دی، چې عظمت او نېکمرغي په بېلابېلو پړګنو کې د هماغو خلکو په برخه شوي، چې څیرې ګریوانونه او بیله پښې به ګرځېدل او همدغسې خلکو سترې کارنامې سرته رسولي دي.

هو! هماغه کسان چې د محمدي دعوت په لومړنیو شپو کې یې د هدایت رڼې(بېرغ) رپانده ساته، ازاد شوي غلامان، فقیران او بېوزلان وو او د دغه دعوت پر ضد را پورته شوي خلک د اولس مشران وو.....



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

[redacted]

الله سبحانه و تعالی فرمايي:

﴿وَ اِذَا تُتۡلٰی عَلَیۡهِمۡ اٰیٰتُنَا بَیِّنٰتٍ قَالَ الَّذِیۡنَ كَفَرُوۡا لِلَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡۤا ۙ اَیُّ الۡفَرِیۡقَیۡنِ خَیۡرٌ مَّقَامًا وَّ اَحۡسَنُ نَدِیًّا ۝﴾

"دوی ته چې كله زمونږ روښانه روښانه ايتونه اوروول كېږي؛ نو منكران مؤمنانوته وايي "وښيا ياست له مونږ دواړو ډلو نه كومه يوه په ښه حالت كې ده او د چا غونډې زياتې شانداري دي؟."

او داسې نورې بېلگې...

په دې لړ كې د عنتره دغه شعر د يادونې وړ دی.

إن كنتُ فإني سيدٌ كَرَماً ... أوْ أسود اللونِ إني أبيضُ الخُلُقِ

"كه خلک راته يو تور پوستی غلام وايي؛ نو څه وشو؟ زه په خوی سپين او د كارنامو له پلوه د قوم سردار يم."

## ١٠٧ د يوه غړي له لاسه په وركولو پر نورو شكر وكړه!

ابن عباس رضي الله عنهما هم د شعر په ژبه وايي:

"كه الله تعالی زما د ستركو رڼا واخيسته؛ نو زما په ژبه او غوږونو كې؛ خو لا تر اوسه رڼا شته! په زړه كې مې ذكاوت او عقل مې له كږلېچونو پاک دی او كه څه افت را نازل شي؛ نو ستركې پرې پټوم په دې هيله، چې يوه ورځ به ختم شي".

بشار بن برد وايي:



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

[redacted]

"دښمنان مې را ته پېغور راکوي، سره له دې چې دوی خپله عيبجن دي او ما ته په سترګو ړوندېدل څه عيب نه ښکاري"

د قصيدې تر پايه...

وګوره د عبدالله بن عباس، بشار بن برد او د صالح بن عبدالقدوس په خبرو کې څومره توپير ليدل کېږي؟!

عمر بن عبد العزيز ميمون بن مهران ته وليکل چې:

تا د عبدالملک په وسيله زما تعزيت کاوه! دا يو داسې کار و، چې ما يې انتظار نه کاوه؛ خو پرې خپه هم نه يم.

## ۱۰۸ وخت اوړي راوړي

امام احمد بن حنبل رحمه الله د بقی بن مخلد پوښتنې ته ورغی؛ نو داسې يې ورته ووېل، چې ای ابو عبدالرحمنه! په هر حال کې يانې په روغتيا او ناروغتيا دواړو کې د الله تعالٰی شکر کوه!...

مانا دا چې انسان روغ وي؛ نو هېڅ د ناروغۍ فکر او اتکل ورسره نه وي؛ نو ځکه د انسان ارادې هم پياوړې او ډېرې ارزوګانې يې په زړه کې وي؛ خو د دې پر عکس د سختې ناورغۍ په شپو ورځو کې له انسان سره د رغېدو تمه نه وي؛ نو ځکه يې همت کمزوری او ارمانونه يې راکمېږي.

د امام احمد رحمه الله دغه وينا له دغه مبارک آيت نه راخيستل شوې:

﴿وَ لَئِنۡ اَذَقۡنَا الۡاِنۡسَانَ مِنَّا رَحۡمَةً ثُمَّ نَزَعۡنٰهَا مِنۡهُ ۚ اِنَّهٗ لَيَـُٔوۡسٌ كَفُوۡرٌ ○﴾

"او که چېرې موږ انسان ته خپل رحمت په برخه کړو او بيا يې


Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ [redacted]e/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library


بېرته ورڅخه واخلو؛ نو هغه نهیلې کېږي او په ناشکرۍ لاس پورې کوي.

حافظ ابن کثیر رحمه الله وايي:

"الله تعالیٰ موږ ته د انسان او د هغه د صفتونو په اړه خبر راکوي! پرته له هغو مؤمنانو، چې الله تعالیٰ خپل رحم پرې کړی وي، انسان چې تر بله ساعت وروسته په مصیبتونو اخته شي؛ نو ټول تېر نعمتونه یې هېر شي او داسې شي، لکه چې هېڅ خیر یې نه وي لیدلی! خو هماغه بندګان، چې الله تعالیٰ پرې رحم وکړي او له صبر څخه کار واخلي"

## ۱۰۹ په نړۍ کې وګرځئ!

یو فیلوسوف وايي، چې سفر د اندېښنو لمنځه وړونکی دی.

حافظ عبدالرحمان الرامهرمزي په خپل کتاب « المحدث الفاصل بین الراوی والواعی» کې د علم په طلب کې د سفر بدي بیانوونکیو نیوکې ردوي او وايي:

که دغو نیوکو کوونکیو ته معلومه شي، چې په سفر بوخت خلک په حقیقت کې څومره خوندور ژوند کوي؛ په بل وطن کې هغوی په مسافرۍ کې څومره خوش دي؛ پړاو پر پړاو د بېلابېلو هېوادونو پر لوړو او ژورو ګرځېدل، باغونه او طبعي منظرې لیدل او د هېوادونو عجائبات ننداره کول انسان ته څومره خوښي او سکون وربښي...

په حقیقت کې د نړۍ خوندونه د همدغو ننداړو په محاسنو کې را خلاصه شوي.


Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

wnloaded By: Afghan Salar Library

یو شاعر وايي:

چېرته دې چې سپکاوې کېږي، له هغه ځایه خپلې کېږدۍ (خېمه) رانغاړه او ترې درومه!

## ۱۱۰ د ژوند په وروستیو شېبو کې هم خوښ اوسه!

ابو ریحان البیروني چې په (۱٤۰هـ) مړ دی نوموړی اته اویا کاله په زده کړه بوخت و او د کتابونو تصنیف ته یې ګونډه وهلې وه، په علومو کې یې دقیق او ژور مباحث سرته ورسول، نوې نوې دروازې یې پرانیستلې، تل یې په لاس کې قلم او سترګې یې په کتابونو کې ور ښخې وې.

فقیه ابو الحسن علي بن عیسی وايي:

ابو ریحان د مرګ په ناروغۍ پروت و، زه یې پوښتنې ته ورغلم! هغه په دغسې حالت کې ما ته سر را پورته کړ او ویې ویل:

ـ ستا به یاد وي، چې یوه ورځ دې زه د میراث په مسئله کې د لرې نیاګانو په اړه پوښتلی وم او دا هماغه دي، چې د مور له طرفه وي؟!

ـ (د شفقت له مخې) په دې حالت کې هم دغه ډول پوښتنه او ځواب؟!

ـ له دغې نړۍ سره په داسې حال کې الله په اماني وکړم، چې زه پر دغه مسئله پوه اوسم او بل چا ته دې یې ونه رسوم؟!

هماغه و چې له خپلې ژمنې سره سم یې زه پر هغه مسئله پوه کړم! چې زه ترې راولاړشوم او د باندې راووتم؛ نو له دننه د ژړا غږ راپورته شو.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

عمر فاروق﵁ د مرګ په پنجو کې نښتی و او له ټپونو یې وینې بهېدلې؛ خو بیا یې هم صحابه پوښتل، چې لمونځ مې بشپړ کړی او که نه؟!

سعید بن الربیع د احد په غزا کې په خپلو وینو کې لت پت پروت د رسول الله ﷺ په اړه پوښتنه کوي، چې هغه ﷺ څنګه دی؟

ابراهیم بن الجراح وايي:

د قاضي ابو یوسف پوښتنې ته ورغلم، ګورم چې بې هوښه پروت دی! چې را په سد شو؛ نو ما ته یې وویل، چې په دغه مسئله کې څه وایې؟ ما ورته وویل، چې ته په دغسې حال کې هم د مسئلو په اړه غږېږې؟ هغه وویل، چې باک نه کوي، خپل درد پرې دوا کوو!

بیا یې وویل:

ابراهیمه! د جمراتو په ویشتو کې کوم یو یې غوره دی، یانې پلي ویشتل غوره دي او که پر سورلۍ؟

ـ پر سورلۍ!

ـ تېر وتلې.

ـ پلي

ـ تېر وتلې.

ـ ښه نو کوم یو یې غوره دي؟

ـ د نږدې ولاړ کس لپاره یې پلي ویشتل او لرې کس لپاره سپور ویشتل یې غوره دي! په دې سره جوخت زه راولاړ شوم، تر دروازې لا نه وم رسېدلی، چې د هغه د مرګ غږ مې واورېد.

او داسې نور بېلګې...



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

## ۱۱۱ د مصیبتونو رازونه

نامتو تاریخپوه او ادیپوه مصري لیکوال احمد بن یوسف په خپل نوموړي اثر «مکافات او ښه عواقب» کې داسې لیکي:

انسان په دې پوهېږي، چې د غم تورې وریځې ارومرو لمنځه تلونکي دي، دغه توره شپه سبا کېږي، په همدې ترتیب غمونه او اندېښنې هم انتها او پای لري!

هو! حتی ده چې په حوادثو کې انساني طبیعت له لوږو او ژورو سره مخ کېږي؛ که درملنه یې ونشي؛ نو همداسې ناروغ به پروت وي او تکلیف به یې لاپسې زیات شي، ځکه چې که د سختیو او تنکسیو پر مهال د نفس تجدید او تقویه صورت ونه نیسي؛ نو انسان له نهیلۍ سره لاس او ګرېوان کېږي!

څوک که پرمصیبت اخته شوی دی او صبر یې پرې کړی؛ نو د صبر ډېره خوږه مېوه په لاس ورغلې.

اپلاتون وایي:

سختې او مصیبتونه چې څومره عیش و عشرت کموي؛ نو هماغسې نفسونه هم اصلاح کوي، همدا راز وایي، چې سختیو او مصیبتونو درکړې دوستان راکلک کړئ او قدر یې وکړئ، د دې پرعکس نعمتونو او سوکالیو درکړي دوستان له یاده اوباسئ.

ارد شېر وایي:

د شدت او سختۍ په رنجو تورې سترګې هغه څه لیدلای شي، چې په نعمتونو او لورنو کې دوبې سترګې یې نشي لیدلای...



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library


ما د مشهور عالم التنوخي کتاب «تر تنګسې وروسته اسانتيا» تکراراً لوستی او درې خبرې مې ورڅخه را خپلې کړې دي.

۱: تر تنګسې وروسته اسانتيا يو لرغونې سنت او تولمنلې قضيه ده او دا داسې ده، لکه په شپې پسې چې د سبا راتلل يوه حتمي او باوري خبره ده.

۲: ډېر ځله مصيبتونه د يوه بنده لپاره له ديني او دنيوي دوارو پلوه ګټور وي.

۳: دګټې او تاوان جلبول او دفع کول په حقيقت کې د الله تعالیٰ په واک کې دي.

## ۱۱۲ د دنيا ټيټ ارزښت

عبدالله بن مبارک رحمه الله فرمايي:

ما ته د عدي بن زيد هغه قصيده د امير طاهر بن الحسين له مانۍ نه ډېر ارزښت لري، چې د ځينو بيتونو مفهوم يې داسې دی:

"ای د نورو پر مصيبتونو خوښېدونکيه انسانه!ايا له تا سره کومه ژمنه شوې، چې دغه ډول مصيبتونه به پر تا نه راځي؟"

په يوه حديث کې دي چې:

"که دنيا د الله تعالیٰ په اند د غوماشي د وزر هومره ارزښت هم درلودلای؛ نو کافر به ورڅخه د اوبو د غړپ په اندازه هم ګټه هم نه وای پورته کړې"

دغه مبارک حديث همدا خبره په ډاګه کوي، چې د الله تعالیٰ په اند دنيا د غوماشي تر وزره هم سپکه ده؛ نو بيا د دغسې يوه بې ارزښته شي لپاره



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

دومره جزعي فزعي ولې وشي؟!

## ۱۱۳ د ايمان ارزښت

الله سبحانه و تعالیٰ فرمايي:

﴿بَلِ اللّٰهُ يَمُنُّ عَلَيْكُمْ اَنْ هَدٰىكُمْ لِلْاِيْمَانِ﴾

"بلکې الله تعالیٰ پر تاسې احسان باروي، چې هغه تاسې ته د ايمان لارښوونه وکړه."

هماغه ستر نعمت او لورنه چې يوازې هوښياران پرې پوهېږي دا ده، چې: د يوه کافر په ليدو په ايمان شکر وکړي، چې دې پر خپل رب کافر او منکر نه دی او د هغه د قدرت، اسماوو او صفاتو په وړاندې مبارزې ته نه دی راپورته شوی!

الله سبحانه و تعالیٰ فرمايي:

﴿اَفَمَنْ كَانَ مُؤْمِنًا كَمَنْ كَانَ فَاسِقًا ۘ لَا يَسْتَوٗنَ ۝﴾

"ښه نو ايا دا کېدای شي، څوك چې مؤمن وي هغه دې د هغه چا په څېر شي چې فاسق وي، دغه دواړه نشي برابرېدای."

## ۱۱٤ وقفه

لااله الاالله: الله سبحانه و تعالیٰ د الوهيت او کمال پر ټولو صفاتو متصف دی.



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghans

Downloaded By: Afghan Salar Library

د دغې کلمې راز دا دی، چې د الوهیت ټول صفتونه یوازې په هماغه ذات پورې خاص دي، له هغه پرته بل څوک د عبادت او بنده ګۍ وړ نه دی، په عبادت، توکل، انابت، رغبت، محبت، رهبت، جلال، تعظیم، وېرې، تمې او داسې نورو کې یوازې د الله تعالیٰ په ستر دربار کې د عاجزۍ وزرې غوړول کېږي او همده ته د منښتې سر ټیټېږي.

## ۱۱۵ غمځپلي

د «عکاظ» نومي جریدې د(۱۰۳۶۲) ګڼې په ضمیمه کې چه په (۷/۴/۱۴۱۵ هجري قمري) کې صادر شوې د یو ړانده ادیب او ژورنالست محمود بن محمد المدني سره کړې مرکه یې خپره کړې، نوموړي د ادب کتابونه د نورو په سترګو لوستي! د تاریخ کتابونه، مجلې او جرائد یې له ډېرو خلکو څخه اورېدلي! کله نا کله به یې کوم ملګری دې ته اړ کاوه، چې د شپې تر درېیو بجو پورې ورته څه ولولي، تر دې چې داسې وخت هم راغی، چې په علم او ادب کې یې د یوې سترې مرجع حیثیت غوره کړ، مصطفی امین د «الشرق الاوسط» جریدې په خپل ځانګړي کالم (فکرة) کې د نوموړي ادبپوه خبره داسې راخیستې:

د تېریکړو پر تېري، د چلبازانو پر چل او د زوروړ پر زور فقط پنځه دقیقې صبر وکړه! ډېر ژر به تازینې پرخمکه پرېوځي او زولنې به ماتې شي، بندي به له بنده راخوشې شي؛ تیاره به لاړه شي او روڼ سباوون به راښکاره شي! ته فقط صبر وکړه.

د یوه شاعر په وینا:

"څومره مصیبتونه، چې پر انسان راځي او د هغه د غمونو لامل ګرځي



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



بالاخره الله تعالی انسان ته له هغې خلاصون ور په برخه کوي."

ما په ریاض کې د البانیا له هغه مفتي سره وکتل، چې په البانیا کې کمونستانو په پنځه ویشت کلني بند محکوم کړی و نوموړي راته خپله کیسه داسې بیان کړه:

ما دکمونستانو په زندان کې ډېرې لوړې او ژورې وګاللې! له دې امله ما خپل زړه ته په لمانځه ډاډ ورکاوه، چې د کمونستانو د وېرې له امله به مې د تشناب په یوه کونج کې ادا کاوه، تر دې، چې الله تعالی د خلاصون لاره پیدا کړه.

﴿فَانْقَلَبُوْا بِنِعْمَةٍ مِّنَ اللهِ وَ فَضْلٍ﴾

"په پای کې هغوی د الله تعالی له نعمت او لورنې سره بېرته ستانه شول."

هلته د جنوبي افریقا رئیس «ویلسن منډیلا» چې پوره اوه ویشت کاله یې په زندان کې تېر کړه! نوموړي له تېري او استبداد څخه د خپل ولس او ډلې د خلاصون لپاره ډېرې چیغې ووهلې؛ تر دې چې بالاخره خپله دنیوي موخه یې ترلاسه کړه.

﴿نُوَفِّ اِلَيْهِمْ اَعْمَالَهُمْ فِيْهَا﴾

"د هغو د کړو وړو توله مېوه موږ همدلته ورکوو."

دغه راز الله تعالی فرمايي:

﴿اِنْ تَكُوْنُوْا تَاْلَمُوْنَ فَاِنَّهُمْ يَاْلَمُوْنَ كَمَا تَاْلَمُوْنَ ۚ وَ تَرْجُوْنَ مِنَ اللهِ مَا لَا يَرْجُوْنَ﴾

"که تاسې کړاو ګالئ؛ نو ستاسې په شان هغوی هم کړاو ګالي او تاسې له الله تعالی نه د هغه څه هیله من یاست، چې هغوی یې هیله

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:[redacted]nsala[redacted]

Downloaded By: Afghan Salar Library



من نه دي."

دغه راز فرمايي:

﴿إِن يَمْسَسْكُمْ قَرْحٌ فَقَدْ مَسَّ الْقَوْمَ قَرْحٌ مِّثْلُهُ﴾

"اوس که تاسې ټپي شوي يئ؛ نو له دې نه مخکې ستاسې دښمنه ډله هم همداسې ټپيان شوي دي."

## ١١٦ چې مسلمان يې، نو بيا مه خپه کېږه!

هغه څومره بدمرغه خلک دي، چې اسلام له سره نه پېژني او پر دغه لار نه درومي!

اسلام له دې امله چې يو ستر خبر دی د خپلو پلويانو له پلوه نړيوال اعلان ته اړتيا لري! ځکه چې د انسانيت نېکمرغي له دې پرته په بل څه کې نشته!

﴿وَمَن يَبْتَغِ غَيْرَ الْإِسْلَامِ دِينًا فَلَن يُقْبَلَ مِنْهُ﴾

"له اسلام نه پرته چې هر څوك كوم بل دين غوره كړي هېڅكله به ورڅخه قبول نه كړى شي."

يو مسلمان داعي د المان د ميونخ په ښار کې استوګن شو، ښار ته د ننه کېدو په صورت کې يوه ستره اعلاميه لوحه ځړېدلې وه او داسې پرې ليکل شوي وو:

ايا ته د يوکوهاما ټايرونه نه پېژنې؟! همدغه داعي راپاڅېد او د دغه لوحې په مقابل کې يې تر دې هم پر يوه ستره لوحه وليکل، چې ايا ته اسلام



[redacted]ook:https:/[redacted]acebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

بالاخره الله تعالیٰ انسان ته له هغې خلاصون ور په برخه کوي.“

ما په ریاض کې د البانیا له هغه مفتي سره وکتل، چې په البانیا کې کمونستانو په پنځه ویشت کلني بند محکوم کړی و نوموړي راته خپله کیسه داسې بیان کړه:

ما دکمونستانو په زندان کې ډېرې لوږې او ژورې وګاللې! له دې امله ما خپل زړه ته په لمانځه ډاډ ورکاوه، چې د کمونستانو د وېرې له امله به مې د تشناب په یوه کونج کې ادا کاوه، تر دې، چې الله تعالیٰ د خلاصون لاره پیدا کړه.

﴿فَانْقَلَبُوْا بِنِعْمَةٍ مِّنَ اللّٰهِ وَفَضْلٍ﴾

”په پای کې هغوی د الله تعالیٰ له نعمت او لورنې سره بېرته ستانه شول.“

هلته د جنوبي افریقا رئیس «ویلسن منډیلا» چې پوره اوه ویشت کاله یې په زندان کې تېر کړه! نوموړي له تېري او استبداد څخه د خپل ولس او ډلې د خلاصون لپاره ډېرې چیغې ووهلې؛ تر دې چې بالاخره خپله دنیوي موخه یې ترلاسه کړه.

﴿نُوَفِّ اِلَيْهِمْ اَعْمَالَهُمْ فِيْهَا﴾

”د هغو د کړو وړو تول مېوه موږ همدلته ورکوو.“

دغه راز الله تعالیٰ فرمايي:

﴿اِنْ تَكُوْنُوْا تَاْلَمُوْنَ فَاِنَّهُمْ يَاْلَمُوْنَ كَمَا تَاْلَمُوْنَ ۚ وَتَرْجُوْنَ مِنَ اللّٰهِ مَا لَا يَرْجُوْنَ﴾

”که تاسې کړاو ګالئ؛ نو ستاسې په شان هغوی هم کړاو ګالي او تاسې له الله تعالیٰ نه د هغه څه هیله من یاست، چې هغوی یې هیله

Downloaded By: Afghan Salar Library



من نه دي.“

دغه راز فرمايي:

﴿إِن يَمْسَسْكُمْ قَرْحٌ فَقَدْ مَسَّ الْقَوْمَ قَرْحٌ مِّثْلُهُ﴾

”اوس که تاسې ټپي شوي يئ؛ نو له دې نه مخکې ستاسې دښمنه ډله هم همداسې ټپيان شوي دي.“

## ۱۱۶ چې مسلمان يې، نو بيا مه خپه کېږه!

هغه څومره بدمرغه خلک دي، چې اسلام له سره نه پېژني او پر دغه لار نه درومي!

اسلام له دې امله چې يو ستر خبر دی د خپلو پلويانو له پلوه نړيوال اعلان ته اړتيا لري! ځکه چې د انسانيت نېکمرغي له دې پرته په بل څه کې نشته!

﴿وَمَن يَبْتَغِ غَيْرَ الْإِسْلَامِ دِينًا فَلَن يُقْبَلَ مِنْهُ﴾

”له اسلام نه پرته چې هر څوك کوم بل دين غوره کړي هېڅکله به ورڅخه قبول نه کړی شي.“

يو مسلمان داعي د المان د ميونخ په ښار کې استوګن شو، ښار ته د ننه کېدو په صورت کې يوه ستره اعلاميه لوحه ځړېدلې وه او داسې پرې ليکل شوي وو:

ايا ته د يوکوهاما ټايرونه نه پېژنې؟! همدغه داعي راپاڅېد او د دغه لوحې په مقابل کې يې تر دې هم پر يوه ستره لوحه وليکل، چې ايا ته اسلام



k:https://ww[redacted]ook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

نه پېژني؟! که غوارې اسلام وپېژني؛ نو له مور سره په دغو شمېرو اړيکه ونيسئ!

د المان له ښارونو، کليو او باندو څخه تيليفوني اړيکې ونيول شوې، تر دې چې د يوکال په اوږدو کې يو لک المانيان ښځې او سړي د همده په لاس مسلمانان شول؛ يو لوی جومات او ستر اسلامي مرکز يې هلته جوړ کړ.

انسانيت په رښتيا هم دغه سپېڅلي دين ته اړ دی؛ ځکه چې دغه دين د انسانيت د هر اړخيزه ډاډمنيو ضامن دی.

الله سبحانه و تعالی فرمايي:

﴿يَّهۡدِيۡ بِهِ اللّٰهُ مَنِ اتَّبَعَ رِضۡوَانَهٗ سُبُلَ السَّلٰمِ وَ يُخۡرِجُهُمۡ مِّنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى النُّوۡرِ بِاِذۡنِهٖ وَيَهۡدِيۡهِمۡ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسۡتَقِيۡمٍ ۝﴾

"چې د هغه په وسيله الله تعالی هغو خلکو ته چې د هغه د رضا غوښتونکي دي د سلامتيا لارې ښيي او په خپل امر سره هغوی له تررميو څخه راباسي د رڼا لوري ته يې راولي او د سمې لارې په لوري د هغو رهبري کوي."

يو عابد وايي:

زه فکر نه کوم په نړۍ کې به داسې څوک هم وي، چې د غيرالله عبادت کوي!.

خو الله سبحانه و تعالی فرمايي:

﴿وَ قَلِيۡلٌ مِّنۡ عِبَادِيَ الشَّكُوۡرُ ۝﴾

"زما په بندګانو کې ببخي لږ شکر ويستونکي دي."

يو عالم راته کيسه کوله چې:

يو کليوال سوداني د سودان پلازمينې خرطوم ته راغی او هلته يې د



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Telegra[redacted]s://t.me/afgh[redacted]

Downloaded By: Afghan Salar Library

انګلیسي ښکېلاک په دوره کې د يوې څلور لارې په سر يو برطانوي ترافيک ولېد؛ نو دغه مسلمان ورڅخه پوښتنه وکړه

_ ته څوک يې؟

_ زه کافر يم!

_ د چا په اړه کافر يې؟

_ د الله په اړه!

_ ايا د الله تعالیٰ په اړه هم څوک کافر کېږي؟! له دې سره يې په خپله ښېته لاس کېښود او کانګې يې وکړې او بېرته خپل ځلي ته ستون شو.

﴿فَمَا لَهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ﴾

"بيا پر دې خلکو څه شوي دي، چې ايمان نه راوړي."

اصمعي وايي:

يوه بانديچي د يوه قاري له خولې دغه مبارک ايت واورېد چې:

﴿فَوَرَبِّ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ إِنَّهُ لَحَقٌّ مِّثْلَ مَا أَنَّكُمْ تَنطِقُونَ﴾

"نو قسم دی د اسمان او ځمکې په مالك باندې، دا خبره حقه ده، همداسې يقيني ده، لکه چې تاسې غږېږئ."

بانديچي وويل،چې سبحان الله! الله تعالیٰ چا قسم کولو ته اړ کړ؟ دا ښه ګومان، د الله تعالیٰ رحمت او مهرباني لطف اوکرم دی.

که څوک د سيرت کتابونه ولولي او د رجالو د ژوند پر حالاتو ځان پوه کړي؛ نو ډېر مسائل به په ډاګه کړي، چې يو څو يې په لاندې ډول دي.

۱: علی بن ابي طالب رضی الله عنه وايي چې د انسان پوهه، ادب، خوی او اخلاق په حقيقت کې د هغه ارزښت په ډاګه کوي؛ نه د هغه صورت او اندامونه!


https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



﴿وَلَعَبْدٌ مُّؤْمِنٌ خَيْرٌ مِّن مُّشْرِكٍ وَلَوْ أَعْجَبَكُمْ﴾

"يو مسلمان مریه له اصیل مشرك نه ډېر ښه دی که څه هم هغه ستاسې ډېر خوښ وي."

۲: د انسان همت او زیار د هغه امکان په ډاګه کولای شي؛ خو مجد او عظمت نشي وربښلای.

د خرما په اړه چې ته یې خورې د مجد او عظمت اټکل مه کوه.

۳: انسان هماغه څوک دی چې د وړ او ناوړه چارو له امله خپل تاریخ خپله جوړوي.

﴿وَنَكْتُبُ مَا قَدَّمُوا وَآثَارَهُمْ﴾

"کومې چارې چې هغوی سر ته رسولې دي مونږ هغه ټولې لیکو."

٤: د انسان عمر ېېخي لنډ دی، ډېر ژر لمنځه ځي، باید پر غمونو او ګناهونو لاپسې را لنډ نه کړای شي، لکه چې یو شاعر وایي:

دا ژوند خو زمونږ کم د محبت لپاره هم دی
حیران یم، چې نفرت ته وزګارېږي خلک څنګه
[ژباړن]

بیا به داسې اټکل وکړي چې:

﴿لَمْ يَلْبَثُوا إِلَّا عَشِيَّةً أَوْ ضُحَاهَا﴾

"(په دې دنیا کې یا د مرګ په حالت کې یې) فقط د یوې ورځې ورروستی یا لومړی برخه یې تېره کړې ده."

﴿قَالُوا لَبِثْنَا يَوْمًا أَوْ بَعْضَ يَوْمٍ فَاسْأَلِ الْعَادِّينَ﴾

"هغوی به ووایي مونږ یوه ورځ یا د یوې ورځې یو څه برخه هلته

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Tele[redacted]https://t.me/afgh

Uploaded By: Afghan Salar Library


اوسېدلي يو، له شمار کوونکيو څخه پوښتنه وکړه."

د يوه شاعر په وينا:

د غم لپاره همدا بس ده چې ژوند يې تريخ کړی، په پايله کې يې داسې عمل نه کورم چې الله تعالٰی پرې خوښ شي.

## ۱۱۷ د نېکمرغۍ له اسبابو څخه

۱: نېک عمل دی:

﴿مَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِّنْ ذَكَرٍ اَوْ اُنْثٰى وَ هُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهٗ حَيٰوةً طَيِّبَةً﴾

"هر څوك چې ښه عمل وکړي، هغه نارينه وي او که ښځه، په دې شرط چې مؤمن وي، پر هغه به موږ په دنيا کې سپېڅلی ژوند تېرکړو."

۲: نېکه ښځه ده:

﴿رَبَّنَا هَبْ لَنَا مِنْ اَزْوَاجِنَا وَ ذُرِّيّٰتِنَا قُرَّةَ اَعْيُنٍ﴾

"ای زموږ ربه! موږ ته له خپلو مېرمنو او اولادونو څخه د سترګو يخوالی راکړه"

۳: پراخه کور:

پېغمبرﷺ هم الله تعالٰی ته داسې دعا کوي:

"ای الله تعالٰی زما کور پراخه کړه"

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library


٤: سپېڅلی کسب:

لکه چې پېغمبر ﷺ فرمايي:

"الله تعالیٰ سپېڅلی دی او سپېڅلی کار خوښوي"

٥: ښه خوی او له خلکو سره مینه:

الله تعالیٰ فرمايي:

"او زه يې په هر ځای کې مبارک او بختور ګرځولی يم"

٦: له پور او بد خرڅۍ نه په امن کېدل:

الله تعالیٰ فرمايي:

﴿وَالَّذِينَ إِذَآ أَنفَقُواْ لَمْ يُسْرِفُواْ وَلَمْ يَقْتُرُواْ﴾

"هغه کسان چې کله لګښت کوي؛ نو نه بېځايه لګښت کوي او نه بخيلي."

## ١١٨ د نېکمرغۍ عناصر

شکر کوونکې زړه، صبرناک بدن او ذاکره ژبه د نېکمرغۍ مهم عناصر دي.

يو شاعر وايي:

شكر و ذكر و صبر فيها نعيم و اجر

"په شکر، ذکر او صبر کې نعمتونه او اجرونه دواړه شته."

که د نېکمرغۍ په اړه د ټولو علماوو علم، د حکماوو حکمت، د شعراوو قصيدې درته راټولې کړی شي، تا ته نېکمرغي نشي دربښلای، تر هغې چې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

د نېکمرغۍ په ترلاسه کولو کې له کلک هوډ نه کار واخلې.

د راز ساتل او د خپلو چارو تدبیر هم د نېکمرغۍ یوه برخه ده.

ویل کېږي چې یو باندیچي د لسو اشرفیو په بدل د یو راز په خوندي ساتلو کې امین وګڼل شو! خو هغه راز یې هضم نشو کړای؛ نو د اشرفیو خاوند ته ورغی او ورته یې ووی، چې اشرفۍ دې درواخله نور دې راز نشم ساتلای! ځکه چې د راز ساتل صبر او زغم غواړي.

﴿لَا تَقْصُصْ رُءْيَاكَ عَلَىٰٓ إِخْوَتِكَ﴾

"دا خوب دې خپلو وروڼو ته مه وایه!"

په یوه انسان کې کمزورې نکته همدا ده، چې خپل راز بل ته په ډاګه کړي او دا یو زوړ مرض دی، چې له پخوا راهیسې را روان دی.

الله تعالی فرمايي:

﴿وَلْيَتَلَطَّفْ وَلَا يُشْعِرَنَّ بِكُمْ أَحَدًا﴾

"هسې نه چې هغه څوك ستاسې له دلته استوګنې نه خبر کړي."

## ۱۱۹ بې اجله مرګ نشته

﴿فَإِذَا جَآءَ أَجَلُهُمْ لَا يَسْتَأْخِرُونَ سَاعَةً وَلَا يَسْتَقْدِمُونَ ۝﴾

"بیا چې کله د کوم قوم وخت او نېټه پوره کېږي یو ساعت وروسته والی او مخکې والی به هم پکې نه راځي. (او دا خبره الله تعالی د مخلوق پیدا کولو په پیل کې په ډاګه ښکاره کړې وه)"

دغه مبارک ایت د هماغه بې زړو خلکو لپاره تسلي او ډاډ دی چې له



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

مرګه مخکې څو څو ځله مري! دوی باید په دې وپوهېږي، چې مرګ په تاکلې نېټه راځي او هېڅ وړاندې او وروسته والی پکې نشي راتلای.

﴿وَجَآءَتۡ سَكۡرَةُ ٱلۡمَوۡتِ بِٱلۡحَقِّ﴾

"او هغه د ځنکدن سلګۍ په حقه راغلې."

پر دې باید باور ولرو، چې له غیر الله سره اړیکه بد مرغي ده.

الله سبحانه و تعالی فرمايي:

﴿فَمَا كَانَ لَهٗ مِنۡ فِئَةٍ يَّنۡصُرُوۡنَهٗ مِنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ ۚ وَ مَا كَانَ مِنَ الۡمُنۡتَصِرِيۡنَ ۝﴾

"بیا د هغه د مرسته کوونکیو هېڅ کومه ډله نه وه، چې د الله تعالی په مقابل کې یې مرستې ته راغلې وای او نه یې خپله مرسته ځپله وکړای شوه."

سیر اعلام النبلاء په شلو ټوکونو کې د امام ذهبي شهکار کتاب دی، چې د پاچایانو، امیرانو، وزیرانو، بډایانو، شاعرانو او د عالمانو حالات یې پکې بیان کړي دي، د دغه کتاب په لوستو به ته له دوو حقیقتونو سره ارومرو مخ شې.

لومړی : چا چې د مال اولاد، منصب او کار له پلوه د الله تعالی پر ځای له بل چا سره اړیکې ټینګې کړې؛ نو الله تعالی به یې همغه ته وسپاري او همدغه به یې د بدمرغۍ ستر لامل وي.

الله سبحانه و تعالی فرمايي:

﴿وَاِنَّهُمۡ لَيَصُدُّوۡنَهُمۡ عَنِ السَّبِيۡلِ وَيَحۡسَبُوۡنَ اَنَّهُمۡ مُّهۡتَدُوۡنَ ۝﴾

"دا شیطانان دغسې خلك پر سمه لاره باندې له تلو نه منع کوي او هغوی له ځانه سره دا ګومان کوي، چې موږ سم روان یو."



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library


فرعون او د هغه سلطنت، قارون او د هغه مال، امیه بن خلف او د هغه سوداګري، ولید او د هغه زامن يې ځلا ببلګې دي.

﴿ذَرْنِي وَمَنْ خَلَقْتُ وَحِيدًا﴾

"پرېږده ما او هغه څوك، چې ما هغه يوازې پيدا کړ."

ابوجهل او د هغه جاه او جلال، ابولهب او نسب، ابو مسلم او سلطه، متنبي او شهرت، حجاج او په څمکه کې علو، ابن الفرات او وزارت يې نورې ځلانده ببلګې دي.

دويم: چا چې په الله تعالىٰ سره د عزت لټون وکړه او د هغه د نږدېکت لپاره يې عمل وکړ؛ نو الله تعالىٰ به يې عزيز او سر لوړی کړي؛ که څه هم منصب، نسب، مال او بچي ونه لري، بلال او اذان، سلمان او اخرت، صهيب او سربښندنه، عطاء او پوهه يې روښانه ببلګې دي.

﴿وَجَعَلَ كَلِمَةَ الَّذِينَ كَفَرُوا السُّفْلَىٰ ۗ وَكَلِمَةُ اللَّهِ هِيَ الْعُلْيَا﴾

"او د کافرانو وينا يې ټيټه کړه او هماغه د الله تعالىٰ وينا لوړه ده."

## ۱۲۰ يا ذالجلال والاكرام

په يوه صحيح حديث کې نبي کريمﷺ فرمايي:

اَلِظُّوا بِيَا ذَا الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ

"د يا ذالجلال والاكرام په ذکر کولو مستمر پاتې شئ."

تر دغه هم لوی ذکر «ياحی يا قيوم»دی او علماوو همدغه ذکر اسم اعظم بللی دی، اسم اعظم د الله سبحانه وتعالى هغه ستر نوم دی، چې الله تعالىٰ



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



پرې دعاګانې قبلوي.

﴿إِذْ تَسْتَغِيثُونَ رَبَّكُمْ فَاسْتَجَابَ لَكُمْ أَنِّي مُمِدُّكُم بِأَلْفٍ مِّنَ الْمَلَائِكَةِ مُرْدِفِينَ﴾

"هغه وخت چې کله تاسې خپل پروردګار ته فریاد کاوه په ځواب کې هغه وفرمایل چې زه ستاسې د مرستې لپاره پرلپسې یو زر پرښتې درلېږم."

## ۱۲۱ د مسلمان په ژوندانه کې درې اخترونه وي.

۱: هغه ورځ چې فرض لمونځونه پکې په جمعې جومات سره ادا کړي او له ګناهونو نه پکې ځان وساتي.

الله سبحانه و تعالی فرمايي:

﴿اسْتَجِيبُوا لِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ إِذَا دَعَاكُمْ لِمَا يُحْيِيكُمْ﴾

"د الله او د هغه د پېغمبر بلنې ته لبیك ووایئ چې کله پېغمبر تاسې ته د هغه شي په لوري بلنه درکړي، چې تاسې ته ژوند ښښونکی دی."

۲: هغه ورځ چې دی پکې له ګناهونو نه په رښتني زړه توبه اوباسي او خپل رب ته راوګرځي.

همدا رنګه الله جل جلاله فرمايي:

﴿ثُمَّ تَابَ عَلَيْهِمْ لِيَتُوبُوا﴾



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



"نو الله تعالیٰ په خپلې مهربانۍ سره د هغو لوري ته رجوع وکړه، چې هغوی د هغه لوري ته راوګرځي."

۳: هغه ورځ چې د نبي خاتمې په پایله کې له خپل رب سره مخ کېږي، پیغمبر علیه الصلاة والسلام فرمایي:

﴿مَنْ أَحَبَّ لِقَاءَ اللّٰهِ أَحَبَّ اللّٰهُ لِقَاءَهُ﴾

"څوک چې د الله تعالیٰ ملاقات ته لېوال وي، الله تعالیٰ هم د ده لیدو او کتو ته لېوال وي."

د یو شاعر په وینا:

زما ارزوګانې ما ته د دوو خبرو زېرى راکوي: یو د کور زېرى چې هغه دنیا ده او بل د ورځې زېرى، چې هغه زمانه ده.

ما د صحابه کرامو وو سیرت مطالعه کړ! د دوی په ژوندانه کې پنځه داسې مسایل په لاس راغلل چې د نورو په پرتله امتیاز لري:

۱: سادګي او بې تکلفه ژوند:

﴿وَنُيَسِّرُكَ لِلْيُسْرَىٰ﴾

"او موږ به تا ته د اسانه لارې اسانتیا درکړو."

۲: زور علم او پیوسته عمل:

﴿إِنَّمَا يَخْشَى اللَّهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمَاءُ﴾

"حقیقت دا دی، چې د الله تعالیٰ له بندګانو نه یوازې عالمان له هغه نه وېرېږي."

۳: اخلاص او پر الله تعالیٰ توکل:

﴿فَعَلِمَ مَا فِي قُلُوبِهِمْ﴾



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

"د هغو د زړونو حال هغه ته معلوم دی."

٤: له دنیا نه مخ اړونه او اخرت ته لېوالتیا:

﴿وَمَنْ أَرَادَ الْآخِرَةَ وَسَعَىٰ لَهَا سَعْيَهَا﴾

"او څوك چې د اخرت هیله من وي او د هغه لپاره هلې ځلې وكړي هغسې هلې ځلې چې د هغه لپاره ښكار دي."

٥: پر نورو اعمالو جهاد ته غوره‌والی وركول:

﴿وَالَّذِينَ جَاهَدُوا فِينَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا ۚ وَإِنَّ اللَّهَ لَمَعَ الْمُحْسِنِينَ ○﴾

"كوم كسان چې زموږ لپاره مجاهده وكړي، هغوی ته به موږ خپلې لیارې وروښییو او په باوري ډول الله تعالٰی د ښكو كارانو ملګری دی."

په قرآن كریم كې دغه ډول حقایق، چې د انسانیت په ښكمرغۍ كې رول لوبوي ښخې زیات دي، چې یو څو یې په لاندې ډول دي.

څوك چې له الله نه مرسته وغواړي؛ نو الله سبحانه و تعالٰی به یې مرسته وكړي.

الله جل جلاله ی فرمايي:

﴿إِن تَنصُرُوا اللَّهَ يَنصُرْكُمْ وَيُثَبِّتْ أَقْدَامَكُمْ ○﴾

"كه تاسې له الله تعالٰی (دین) سره مرسته وكړئ؛ نو هغه به له تاسې سره مرسته وكړي او ستاسې قدمونه به كلك كړي."

څوك چې الله تعالٰی ته توبه وباسي؛ نو الله تعالٰی یې توبه قبلوي.

الله تعالٰی فرمايي:

﴿وَهُوَ الَّذِي يَقْبَلُ التَّوْبَةَ عَنْ عِبَادِهِ﴾



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

"الله تعالی هماغه ذات دی، چې د خپلو بندګانو توبه قبلوي."

څوک چې پر الله سبحانه و تعالی توکل وکړي؛ نو الله جل جلاله يې کافي کېږي، لکه چې فرمايي:

﴿وَمَن يَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ فَهُوَ حَسْبُهُ﴾

"څوك چې پر الله تعالی توکل وکړي د هغه لپاره هغه جل جلاله کافي دی."

## ۱۲۲ درې شيان. ناوړه شيان

درې شيان هومره ناوړه دي چې د هغې سزا الله تعالی په چټکۍ سره ورکوي

۱: بغاوت:

الله تعالی فرمايي:

﴿إِنَّمَا بَغْيُكُمْ عَلَىٰ أَنفُسِكُم﴾

"ستاسې دا سرغړاوی همدا ستاسې په زيان تمام شوی دی."

۲: بې ژبې يعنې د ژمنې ماتول:

الله تعالی فرمايي:

﴿فَمَن نَّكَثَ فَإِنَّمَا يَنكُثُ عَلَىٰ نَفْسِهِ﴾

"اوس چې څوك دغه ژمنه ماته کړي، د هغه د تعهد ماتولو وبــال به په خپله پر همغه باندې وي."



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



۳: مکر او فریب:

الله تعالیٰ فرمايي:

﴿لَا يَحِيقُ الْمَكْرُ السَّيِّئُ إِلَّا بِأَهْلِهِ﴾

"په داسې حال کې چې ناوړه دسیسې همدې خپلو کار اچوونکیو ته ورغاړې وځي."

٤: ظالم د الله تعالیٰ له رانیولو څخه خوندي نشي پاتې کېدلای:

الله تعالیٰ فرمايي:

﴿فَتِلْكَ بُيُوتُهُمْ خَاوِيَةً بِمَا ظَلَمُوا﴾

"دغه د هغوی تش پراته کورونه دي، د هغه ظلم له امله چې هغوی کاوه."

٥: نېک عمل او عاجله مېوه لاسته راوړل:

الله تعالیٰ فرمايي:

﴿فَآتَاهُمُ اللَّهُ ثَوَابَ الدُّنْيَا وَحُسْنَ ثَوَابِ الْآخِرَةِ﴾

"په پای کې الله تعالیٰ هغو ته د دنیا ثواب هم ورکړ او له هغه نه غوره ثواب یې په اخرت کې هم ور په برخه کړ."

٦: څوک چې د الله تعالیٰ اطاعت کوي، هغوی الله تعالیٰ ته خوښ وي.

الله تعالیٰ فرمايي:

﴿فَاتَّبِعُونِي يُحْبِبْكُمُ اللَّهُ﴾

"زما تابعداري وکړئ؛ نو الله تعالیٰ به درسره مینه وکړي."

پراخه روزي به ورکړي او مرسته به یې وکړي:

الله تعالیٰ فرمايي:



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

﴿إِنَّ اللَّهَ هُوَ الرَّزَّاقُ . وَمَا النَّصْرُ إِلَّا مِنْ عِندِ اللَّهِ﴾

"الله تعالیٰ خو په خپله ښه روزي رسان دی او مرسته هر څه چې دي د هغه الله تعالیٰ له خوا دي."

قرآني نصوص

ښښنه به ورته وکړي:

﴿وَإِنِّي لَغَفَّارٌ لِّمَن تَابَ﴾

"او بیشکه زه ډېر ښښونکی یم د هغه چا لپاره چې توبه یې وویستله."

﴿هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ ○﴾

"بیشکه هغه ښه توبه قبلوونکی او د رحمت خاوند دی."

﴿إِنَّا مُنتَقِمُونَ ○﴾

"بیشکه موږ غچ اخیستونکي یو."

شیخ عبدالرحمن بن سعدي رحمه الله یوه ارزښتمنه رساله "الوسائل المفیده، فی الحیاة السعیدة" لیکلې چې د نېکمرغه ژوند ګټور وسایل نومېږي! نوموړی په خپله رساله کې لیکي:

د نېکمرغۍ له اسبابو څخه دا دي، چې انسان کله د الله پاک نعمتونو او لورنو ته وګوري؛ نو دی به ویوهېږي، چې دی له څومره خلکو نه لوړ دی. هو! آن په دیني امورو او عباداتو کې هم.

﴿وَأَسْبَغَ عَلَيْكُمْ نِعَمَهُ ظَاهِرَةً وَبَاطِنَةً﴾

"او خپل ښکاره او پټ نعمتونه یې پرتاسې تمام کړي دي."



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

## ۱۲۳ وقفه

اسماء بنت عمیس رضی الله عنها فرمايي:

ما ته رسول اللهﷺ وفرمایل، چې ایا داسې څه کلمات دروښیم چې د غمونو او دردونو په وخت کې دې پکار راشي؟اهغه دا دي چې: "اللّٰهُ اللّٰهُ رَبِّي لا أُشرِكُ به شيئاً" وایه؛ نو غمونه به دې لرې شي.

دلته په دې غمجنه نړۍ کې ډېرې داسې چارې شته، چې پر زړونو تورې وربځې راخوروي؛ کله چې انسان ورڅخه خپل رب ته پناه یوسي؛ نو برى او خلاصون به يې په برخه شي.

یو شاعر وايي:

که زموږ ارواوې سلامتې وي؛ نو د مال او حال په بایللو څه پروا، د روح او نفس په سلامتیا به مال او عزت دواړه تر لاسه شي..

## ۱۲٤ له حسدګر نه وېرېدونکی

۱: معوذات (وروستي دوه سورتونه) له اذکارو او دعاګانو سره یو ځای لوله: الله تعالیٰ فرمايي:

﴿وَمِن شَرِّ حَاسِدٍ إِذَا حَسَدَ﴾

"او د حسدګر له شره چې کله هغه حسد وکړي"

۲: خپل کار او معامله د حاسدینو په وړاندې مه برسېره کوه:



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegra...://t.me/afgh...

Downloaded By: Afghan Salar Library

الله جل جلاله فرمايي:

﴿لَا تَدۡخُلُوۡا مِنۡ بَابٍ وَّاحِدٍ وَّادۡخُلُوۡا مِنۡ اَبۡوَابٍ مُّتَفَرِّقَةٍ﴾

"له یوې دروازې مه ننوځئ؛ بلکې له بېلا بېلو دروازو ورشئ."

۳: له حاسدینو څخه لرې کېدل:

الله سبحانه و تعالی فرمايي:

﴿وَاِنۡ لَّمۡ تُؤۡمِنُوۡا لِیۡ فَاعۡتَزِلُوۡنِ﴾

"که تاسې زما خبره نه منئ؛ نو پر ما باندې له لاس پورته کولو نه ډډه وکړئ."

٤: د هغه له ضرر نه د ځان ژغورنې په نیت ور سره ښېګڼه کول:

الله تعالی فرمايي:

﴿اِدۡفَعۡ بِالَّتِیۡ هِیَ اَحۡسَنُ﴾

"د بدۍ مخنیوی په هغه توګه وکړه چې ډېره ښه وي."

## ۱۲۵ خپل خوی سم کړه!

ښه خوی نېکمرغي او بد خوی بدمرغي ده.

یو مسلمان کولای شي په ښه خوی د روژه دار مقام ترلاسه کړي.

پېغمبر ﷺ فرمايي:

"د مجلس له پلوه ما ته د قیامت په ورځ محبوب ترین او نږدې ترین نېک خویه خلک دي"



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



الله تعالیٰ د پیغمبرﷺ په اړه فرمايي:

﴿وَإِنَّكَ لَعَلَىٰ خُلُقٍ عَظِيمٍ ۝﴾

"او بېشکه ته د لوړواخلاقو مرتبه لرې."

دغه راز فرمايي:

﴿فَبِمَا رَحْمَةٍ مِّنَ اللَّهِ لِنتَ لَهُمْ ۖ وَلَوْ كُنتَ فَظًّا غَلِيظَ الْقَلْبِ لَانفَضُّوا مِنْ حَوْلِكَ﴾

"ای پیغمبره!) دا د الله تعالیٰ لوی رحمت دی، چې ته د دې خلکو لپاره ډېر نرم خويه جوړ شوی يې، که داسې نه وای او ته توند خويه او سخت زړی وای؛ نو دا ټول به ستا له شا و خوا نه خواره شوي وو."

دغه راز فرمايي:

﴿وَقُولُوا لِلنَّاسِ حُسْنًا﴾

"خلکو ته ښې خبرې کوئ."

ام المؤمنين عايشه رضی الله عنها د پیغمبرﷺ په اړه فرمايي:

كَانَ خُلُقُهُ الْقرآن

"د هغهﷺ خوی قرآن کريم و."

## ۱۲۶ اندېښنه مه کوه!

د اندېښنو درملنه:

۱: شرعي اذکار:



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library


﴿ اَلَا بِذِكْرِ اللّٰهِ تَطْمَىِٕنُّ الْقُلُوْبُ ﴾

"خبردار! همدغه د الله تعالیٰ په یاد زړونه ډاډ مومي."

۲: د ورځې له خوبه ډډه کول؛ خو چې اړتیا ورته ولیدل شي.

﴿ وَّ جَعَلْنَا النَّهَارَ مَعَاشًا ﴾

"او ورځ مو د ژوند وخت ګرځولې دی."

۳: لیک او لوست تر هغې ، چې خوب درشي:

﴿ وَ قُلْ رَّبِّ زِدْنِیْ عِلْمًا ﴾

"او دعا وکړه چې ای ربه! ما ته لا زیات علم راکړه."

٤: په یو کښور کارباندې ځان سترې کول:

﴿ وَّ جَعَلَ النَّهَارَ نُشُوْرًا ﴾

"او ورځ یې د پاځېدو وخت وګرځاوه."

٥: قهوه او چای لږ څښل.

یو شاعر وايي:

موږ خپلو دوستانو ته د شپې د اوږدوالي له امله شکایت وکړ، هغوی وویل، چې شپې بېخې لنډې دي او زموږ خوب نه پوره کېږي؛ د دې لامل دا دی، چې دوی ته خوب ورځي او زموږ له سترګو نه تښتي.

د ګناه ترخه د طاعت له خوږو او د ایمان له بشاشت سره منافي دی.

شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله فرمايي:

ګناه زړه له دې څخه را ایساروي، چې د توحید په فضا کې چکر ووهي.

الله تعالیٰ فرمايي:

﴿ قُلِ انْظُرُوْا مَاذَا فِی السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضِ ﴾


Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

"دوی ته ووایه: په اسمانونو او ځمکه کې څه دي هغه په غږېدلو سترګو وګورئ!."

## ۱۲۷ د ګناهونو پایلې

۱: په ګناهونو سره د بنده او رب ترمنځ پرده حایلېږي:
الله تعالی فرمايي:

﴿كَلَّآ إِنَّهُمْ عَن رَّبِّهِمْ يَوْمَئِذٍ لَّمَحْجُوبُونَ﴾

"داسې نه ده، دوی به په دغه ورځ د خپل رب په اړه په پرده کې پټ شوي وي."

۲: مخلوق د خپل خالق په اړه په وحشت کې پرېوځي، ځکه چې کله د انسان بدعملي زياته شي؛ نو بدګوماني يې هم ورسره زياته شي.

۳: همېشنۍ او دايمي اندېښنه:
الله تعالی فرمايي:

﴿لَا يَزَالُ بُنْيَانُهُمُ الَّذِي بَنَوْا رِيبَةً فِي قُلُوبِهِمْ﴾

"کوم عمارت چې دوی ودان کړی تل د دوی په زړونو کې وېره او اضطراب غورځوي."

٤: په زړه کې وېره او اندېښنې پيدا کوي:

﴿سَنُلْقِي فِي قُلُوبِ الَّذِينَ كَفَرُوا الرُّعْبَ﴾

"هغه وخت ډېر ژر راتلونکی دی چې موږ د حق د منکرينو په



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

[redacted]

زړونو کې وېره وغورځوو."

۵: د ژوند چارې به يې تنگې شي:

﴿فَإِنَّ لَهُۥ مَعِيشَةً ضَنكًا﴾

"بېشکه د هغه ژوند چارې به تنگې شي"

۶: په گناهونو زړونه توربېږي او سختېږي:

﴿وَجَعَلْنَا قُلُوبَهُمْ قَٰسِيَةً﴾

"او د هغو زړونه مو سخت کړل."

۷: مخ به يې تور او تريو شي:

﴿وَتَسْوَدُّ وُجُوهٌ ۚ فَأَمَّا ٱلَّذِينَ ٱسْوَدَّتْ وُجُوهُهُمْ﴾

"هماغه چې مخونه يې تور وي دوی هماغه کسان دي، چې کفر يې کړی."

۸: په زړونو کې بغض او کرکه را پيدا کوي:

"أنتم شهداءُ اللهِ في أرضِهِ"

"تاسې په ځمکه کې د الله تعالیٰ گواهان ياست"

۹: د رزق له تنگسې سره به مخامخ شي:

﴿وَلَوْ أَنَّهُمْ أَقَامُوا ٱلتَّوْرَىٰةَ وَٱلْإِنجِيلَ وَمَآ أُنزِلَ إِلَيْهِم مِّن رَّبِّهِمْ لَأَكَلُوا۟ مِن فَوْقِهِمْ وَمِن تَحْتِ أَرْجُلِهِم﴾

"کاشکې دوی تورات او انجيل او هغه نور کتابونه نافذ کړي وای، چې د دوی د رب له لوري دوی ته لېږل شوي وو. که داسې يې کړي وای؛ نو د دوی لپاره به له پاسه روزي ورېدله او له لاندې به


http://w[redacted]k.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

راخوتېدله."

۱۰: په ګناه سره ایمان زیان مومي، غمونه او مصیبتونه زیاتېږي او الله تعالٰی پرې غوسه کېږي.

﴿فَبَآءُوْ بِغَضَبٍ عَلٰى غَضَبٍ﴾

"دوی د غضب د پاسه پر غضب اخته شول."

﴿بَلْ ۜ رَانَ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ مَّا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ○﴾

"بلکې د هغوی د ناوړه چارو له امله د هغوی پر زړونو زنګ لګېدلی دی."

﴿وَقَالُوْا قُلُوْبُنَا غُلْفٌ﴾

"هغوی وویل: زموږ زړونه په پردو کې پوښل شوي."

## ۱۲۸ په روزۍ پسې مه لالهانده کېږه!

ځکه الله تعالٰی داسې روزي رسان دی، چې په خته کې چینجي ته روزي ورکوي:

﴿وَمَا مِنْ دَآبَّةٍ فِى الْاَرْضِ اِلَّا عَلَى اللّٰهِ رِزْقُهَا﴾

"په ځمکه کې هېڅ داسې کوم خوځنده ساکښ نشته، چې د هغه روزي د الله جل جلاله پر غاړه نه وي."

﴿يُطْعِمُ وَلَا يُطْعَمُ﴾

"روزي ورکوي، روزي اخلي نه."



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



ای انسانه! ته له چینجي، کب او مارغه نه ډېر غوره او ښه یې؛ نو بیا ولې د روزۍ په اړه خپه کېږې؟!

زه ډېر داسې خلک پېژنم، چې له الله تعالیٰ څخه د لرې والي له امله پر نېستۍ او بېوزلتوب اخته او په غمونو ککړ دي.

﴿وَمَنْ اَعْرَضَ عَنْ ذِكْرِيْ فَاِنَّ لَهٗ مَعِيْشَةً ضَنْكًا﴾

"څوك چې زما له ذكر(قرآن) نه مخ واړوي د هغه لپاره به په دنیا کې تنګ ژوند وي."

دغه راز فرمایي:

﴿ذٰلِكَ بِاَنَّ اللّٰهَ لَمْ يَكُ مُغَيِّرًا نِّعْمَةً اَنْعَمَهَا عَلٰى قَوْمٍ حَتّٰى يُغَيِّرُوْا مَا بِاَنْفُسِهِمْ﴾

"دا د الله سبحانه و تعالیٰ له دې عادت سره سم وشول، چې هغه هېڅ یو نعمت چې کوم قوم ته یې ور په برخه کړی وي، تر هغه پورې نه بدلوي، چې هغه قوم خپله کړنلاره او کړنچاره نه وي بدله کړې."

د یوه شاعر په وینا:

ای پر لیلی میینه! ته په لیلی پسې ژړېږې او لیلی خو تا پخپله وژلې!!!

## ۱۲۹ د هدایت راز

﴿اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ﴾

"موږ ته نېغه (سمه) لار وښییه!"

نېکمرغي، لورنې او پېرزوینې د هماغه چا برخه وي، چې پر صراط



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

المستقیم یانې پر هغه سمه لار تله راتله کوي، چې الله تعالی او د هغه رسولﷺ موږ ته ښوولې او راساً جنت ته تللې ده!

﴿وَّ لَهَدَيْنٰهُمْ صِرَاطًا مُّسْتَقِيْمًا﴾

"او دوی ته به مو سمه لاره ښودلې وای."

د نېغې لارې د لاروي نېکمرغي همدا ده، چې هغه د خپلې پایلې په اړه ډاډمن وي.

الله تعالی فرمايي:

﴿لَهٗ مُعَقِّبٰتٌ مِّنْ بَيْنِ يَدَيْهِ وَمِنْ خَلْفِهٖ يَحْفَظُوْنَهٗ مِنْ اَمْرِ اللّٰهِ﴾

"د هر چا وړاندې وروسته ټاکل شوي څارونکي دي، چې د الله تعالی په امر د هغه څارنه ساتنه کوي."

دغه راز فرمايي:

﴿ذٰلِكَ هُدَى اللّٰهِ يَهْدِيْ بِهٖ مَنْ يَّشَآءُ﴾

"دا د الله تعالی هدايت دی، په دې سره چې هغه چا ته وغواړي لارښوونه کوي."

د يو شاعر په وينا:

أين ما يُدعى ظلاماً يا رفيق الدربِ أينا ... إنَّ نور اللهِ في قلبي وهذا ما أراهُ.

"ای زما د سفر ملګریه! ته چې يې تیارې بولې هغه چېرته دي! ما ته خو په خپل زړه کې فقط د الله سبحانه و تعالی نور په نظر راځي."

صراط دوه ډوله دی:

الف- معنوي: چې دا د ايمان او هدايت سمه لار ده.



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Tele[redacted]ttps://t.me/[redacted]

Downloaded By: Afghan Salar Library

[redacted]

ب- حسي: دا هغه پل دی، چې پر دوزخ ايښی دی او د مرکونديو په څېر ازغن پل دی، چې دغه پړاو فقط د ايمان او عقيدې پر بنسټ وهل کېدای شي.

## ۱۳۰ که سپېڅلی ژوند غواړې نو دغه لس کارونه وکړه

۱: نيمه شپه راپاڅه او له الله تعالیٰ نه بښنه وغواړه!

الله تعالیٰ فرمايي:

﴿وَالْمُسْتَغْفِرِيْنَ بِالْاَسْحَارِ ۝﴾

"او د شپې په وروستيو شېبو (سحر) کې له الله تعالیٰ نه د بښنې دعاګانې غواړي."

۲: د فکر کولو لپاره ګوښه کېدل:

﴿اَلَّذِيْنَ يَذْكُرُوْنَ اللّٰهَ قِيٰمًا وَّ قُعُوْدًا وَّ عَلٰى جُنُوْبِهِمْ وَ يَتَفَكَّرُوْنَ فِيْ خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضِ ۚ رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ هٰذَا بَاطِلًا ۚ سُبْحٰنَكَ فَقِنَا عَذَابَ النَّارِ ۝﴾

"چې په ولاړې، ناستې او ملاستې هر حالت کې الله تعالیٰ يادوي او د اسمانونو او ځمکې په پيدايښت کې غور او فکر کوي (هغوی په غير ارادي توګه غږ کوي چې) زمونږ ربه ! دا ټول شيان تا بې ګټې او بې مقصده نه دي پيدا کړي، ته له دې نه پاك يې چې عبث کار وکړې؛ نو ای ربه! موږ د دوزخ له عذابه وژغوره!."



Facebook:https://www.[redacted]ook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

۳: له نېکانو سر ناسته ولاړه:

﴿وَ اصْبِرْ نَفْسَكَ مَعَ الَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ رَبَّهُمْ بِالْغَدٰوةِ وَ الْعَشِيِّ يُرِيْدُوْنَ وَجْهَهٗ وَلَا تَعْدُ عَيْنٰكَ عَنْهُمْ﴾

"او خپل زړه د هغو خلکو په ملګرتیا داده کړه، چې د خپل روزونکي پالونکي واکوال د خوښې غوښتونکي، سبا او ماښام هغه ته بلنه ورکوي، او له هغو نه هېڅکله سترګې مه اړوه."

٤: الله تعالٰی یاد کړه:

﴿اذْكُرُوا اللّٰهَ ذِكْرًا كَثِيْرًا﴾

"الله تعالٰی ډېر ډېر یادوئ!"

٥: په خشوع او عاجزۍ سره دوه رکعته لمونځ کول:

﴿الَّذِيْنَ هُمْ فِيْ صَلَاتِهِمْ خٰشِعُوْنَ﴾

"مؤمنان هغه خلک دي، چې په خپل لمانځه کې عاجزي کوي."

٦- په تدبر سره تلاوت کول:

﴿اَفَلَا يَتَدَبَّرُوْنَ الْقُرْاٰنَ﴾

"ایا دوی په قرآن کریم کې فکر نه کوي."

٧- په ګرمۍ کې روژه نیول:

په دې اړه رسول اللهﷺ داسې فرمايي:

يدع طعامه وشرابه وشهواته منْ أجلي

"دوی زما لپاره خوراک، څښاک او شهوات پرېږدي..."

٨- پټه صدقه کول:



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

حتی لا تعلم شمالهُ ما تنفقُ یمینُه

"ان تر دې چې د ښي لاس پر ورکړه يې کيڼ لاس هم ونه پوهېږي."

۹- د مسلمان ورور غم او درد دوا کول، لکه چې نبي کریمﷺ فرمايي:

منْ فرَّج عنْ مسلمٍ کربةً منْ کُربِ الدنیا فرَّج اللهُ عنه کربةً منْ کربِ یومِ القیامةِ

"که چا په دغه نړۍ کې دکوم مسلمان غم او درد دوا کړ، نو الله تعالی به يې په هغه نړۍ کې غمونه او دردونه دوا کړي."

۱۰- زهد:

﴿وَالْاٰخِرَةُ خَيْرٌ وَّ اَبْقٰى﴾

"په داسې حال کې چې اخرت ډېر غوره او پاتي کېدونکی دی."

دغه پوره لس خبرې شوې.

د نوحﷺ د زوی بدمرغۍ ته ځیر شئ! چې ویل يې:

﴿سَاٰوِيْٓ اِلٰى جَبَلٍ يَّعْصِمُنِيْ مِنَ الْمَآءِ﴾

"زه همدا اوس پر يوه غره خېژم، چې ما له اوبو نه وژغوري."

خو که د غره پر ځای يې د غره خالق او مالک ته پناه وروړې وای، نو بېشکه به بریالی شوی وای.

د نمرود بدمرغۍ ته وګورئ، چې وايي:

أنا أُحیي وأُمیتُ

"مړه کول او ژوندي کول زه هم کولای شم!"

پردی کمیس اغوندي او پر هغه صفت ځان متصف کوي چې ورسره سمون نه خوري.



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

﴿فَاَخَذَهُ اللّٰهُ نَكَالَ الْاٰخِرَةِ وَالْاُوْلٰى﴾

"نو الله تعالی راونيو او په دنيا او اخرت کې يې سزا ورکړه."

يوه وړه کلمه د نېکمرغۍ کيلي ده او يو وړوکی عبارت د ملت ميراث دی او د بري رڼې هم همدغه يوه جمله ده چې: "لااله الاالله محمد رسول الله" د دغه کلمې د ويونکي نېکمرغي د اسمان اوسېدونکي هم تصديقوي.

﴿الَّذِیْ جَآءَ بِالصِّدْقِ وَصَدَّقَ بِهٖۤ﴾

"او کوم سړي چې رېښتينولي راوړه او کومو کسانو چې هغه رېښتوني وګڼله."

## ۱۳۱ پر دغه کلمه عمل کوونکي په دنيا او اخرت کې برياليي دي.

لکه چې الله تعالی فرمايي:

﴿وَيُنَجِّى اللّٰهُ الَّذِيْنَ اتَّقَوْا بِمَفَازَتِهِمْ﴾

"الله تعالی متقيانو ته نجات او برى ور په برخه کوي."

او هماغه څوک هم نېکمرغه دی چې د دغې کلمې لور ته بلنه کوي او نېکمرغي يې دا ده چې الله تعالی به يې نصرت او ياري وکړي، لکه چې الله تعالی فرمايي:

﴿وَاِنَّ جُنْدَنَا لَهُمُ الْغٰلِبُوْنَ﴾

"او همدا زموږ لښکر به لاسبرى شي."



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

بلال د غلامۍ په حالت کې د دغې کلمې تصدیق وکړ؛ نو ازادي یې په برخه شوه:

الله تعالی فرمايي:

﴿وَيُخْرِجُهُم مِّنَ الظُّلُمَٰتِ إِلَى النُّورِ﴾

"او هغوی له تیارمیو نه رڼا ته راوباسي"

ابولهب الهاشمي، چې د دغې کلمې له ویلو انکار وکړ خوار او ذلیل شو.

﴿وَمَن يُهِنِ اللَّهُ فَمَا لَهُ مِن مُّكْرِمٍ﴾

"او الله تعالی چې څوك ذلیل او رسوا کړي هغه ته بیا څوک عزت ورکوونکی نشته."

دغه کلمه هماغه اکسیر دی چې انسانیت د ایمان لوړو پوړیو ته خېژوي، لکه چې الله سبحانه و تعالی فرمايي:

﴿وَلَٰكِن جَعَلْنَٰهُ نُورًا نَّهْدِى بِهِۦ مَن نَّشَآءُ مِنْ عِبَادِنَا﴾

"خو هغه روح (قرآن) موږ یوه رڼا وګرځوله چې په هغې سره موږ له خپلو بندګانو نه چې چا ته مو خوښه شي لار ښییو."

پر هغه زاوزاد مه خوښېږه چې تا له الهي تګلارې څخه بېلارې کوي، ځکه چې دغه بېلارېتوب ستره رسوايي او ذلت دی.

الله تعالی فرمايي

﴿وَضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ الذِّلَّةُ وَالْمَسْكَنَةُ﴾

"په پای کې خبره دې ته ورسېده، چې ذلت او خواري بېوزلي او بده ورځ ورباندې راغله."

د د داسې مالونو په راټولولو مه خوښېږه! چې ستا مصیر د بدۍ لور ته



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

اړوي، ځکه چې داستره تباهي ده.

الله تعالی فرمايي:

﴿وَلَعَذَابُ الْاٰخِرَةِ اَخْزٰى﴾

"او د اخرت عذاب خو له دې نه هم زيات رسوا کوونکی دی."

## ۱۳۲ وقفه

يَا حَيُّ يَا قَيُّومُ بِرَحْمَتِكَ أَسْتَغِيثُ

په دغه مبارکه دعا کې يو ډېر ناشنا مناسبت ليدل کېږي، هغه دا چې د "حيات" په صفت کې د کمال ټولې ماناوې پرتې دي او د علماوو په اند همدغه د الله «اسم اعظم» دی چې دعاګانې پرې قبلېږي.

د يو شاعر په وينا:

قسم په الله! هر هغه شی ناوړه نه دی، چې ته ورڅخه په وېره او اندېښنه کې يې او نه هر هغه شی ښه دی، چې ته يې غواړې، له ډېرو شيانو نه خلک وېرېږي؛ خو هغسې نه وي، بيا نو په دې اړه غم او اندېښنه څه ګټه لري؟.

## ۱۳۳ حقيقت او واقعيت ومنه نو بې غمه به شې

ګران کار اسان وګڼه، نو اسان به شي او د نهيلی په صورت کې به تسلي ومومې. الله تعالی فرمايي:



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

﴿سَيُؤْتِينَا اللَّهُ مِن فَضْلِهِ وَرَسُولُهُ إِنَّا إِلَى اللَّهِ رَاغِبُونَ ○﴾

"ډېر ژر به الله تعالی او د هغه رسول په خپلو مهربانیو سره موږ ونازوي، بېشکه موږ خپل الله تعالی ته رغبت لرونکي یو."

ما د یوه سړي کیسه ولوسته چې له کړکۍ نه یې توپ واهه، په کیڼ لاس یې ګوتمه وه، ګوتمه یې د کړکۍ په یو میخ کې ونښته، د سړي له لوېدو سره سم یې ګوته او ګوتمه دواړه همالته په کړکۍ پورې نښتې پاتې شوې او سړی له څلورو ګوتو سره ښکته پرېووت، نو د ځان په اړه یې وویل:

زه دا فکر نه کوم، چې زما فقط همدغه څلور ګوتې دي او یا دا چې کومه ګوته مې له لاسه ورکړې! خو دا چې کله هغه پېښه را په زړه کړم! زما کار چلېږي او زړه مې ډاډه دی. "قدّر اللّهُ وما شاء فعل"

ما یو سړی پېژانده، چې د یوې ناروغۍ له امله یې کیڼ لاس په بېخ کې غوڅ شوی و، هغه واده وکړ او د بچیو پلار شو، په اسانه توګه به یې خپل موټر چلاوه او خپلې چارې به یې په خوښۍ تر سره کولې.

پېغمبرﷺ فرمایي:

ارض بما قسم اللهُ لك، تكنْ أغنى الناس.

د الله تعالی پر وېش راضي اوسه؛ نو بډایتوب او غنا به در په برخه شي.

یو شاعر وایي:

خپل ځان وپوښته، چې ایا په ژړا او انګولا به هغه ورک ارزښتمن شی تر لاسه کړې، چې زړه ته دې پرې ډاډ رسېږي ؟

موږ ډېر ژر له خپل واقعیت سره اشنا او له چاپېریال سره بلد شوو! پنځوس کاله وراندې خلک په کور کې پر پوزې کېناستل، د اوبو منګی، د خاورو کټوی، کاسې او لوټې وې، چې ژوند پرې ښه تېرېده، موږ له همدغسې ژوند



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

سره عادي او پرې خوښ و، د يوه شاعر په وينا:

نفس ته چې څومره څه ورکوم، هماغومره نور هم غواړي او که لږ ته يې واړوم؛ نو په لږو هم قانع کېږي.

دکوفې په جامع جومات کې د دوو قبيلو تر منځ څه شخړه راغله! خلکو تورو او ليندو ته لاس کړ او يوه لويه غوغا جوړه شوه، نږدې وه چې ډېر سرونه خاورې شوي واى.... ناڅاپه يو سړى له صحنې راووت او د ستر مصلح احنف بن قيس په لټه کې شو او هغه يې په خپل کور کې په داسې حال کې وموند، چې خپلې مېږې يې لوشلې، يو معمولي څادر يې پر اوږو پروت و، کږې وږې پښې او د کمزوري بدن خاوند وا خلکو د پېښې له جريانه خبر کړ، د خبر په اورېدو يې غوږ نه شو، څکه چې هغه د دغه ډول پېښو سره اشنا و، خلکو ته يې وويل، چې مه وار خطا کېږئ! الله تعالى به خيرکړي! په دغه وخت کې ورته روژه ماتي راوړل شو، روژه ماتي يې څه و، فقط ډوډۍ، مالګه، د زيتون تېل او يوه پياله اوبه وې..

د بسم الله په ويلو يې د ډوډۍ پر خوړو لاس پورې کړ او بيا يې داسې وويل:

غنم د عراق دي، زيتون د شام، اوبه د دجلې، مالګه د مروه او همدغه د الله تعالى ستره لورنه ده! بيا يې خپلې جامې بدلې کړې او امسا يې را واخېسته، کله چې جومات ته راورسېد؛ نو څېر شو چې غاړې د همده لور ته پورته او سترګې ورته پرانستل شوي دي، د سولې پر موضوع يې عالمانه او ارزښتناکې خبرې وکړې او بيا يې له خلکو څخه وغوښتل، چې تيت او پرک او په سړه سينه خپلو کورونو ته ولاړ شي! په دې توګه احنف بن قيس د جګړې پر بلو لمبو د سولې يخې اوبه توى کړې.

يو شاعر وايي:

هماغه زلمى د ډېر لوى شرف او عزت خاوند دى، چې کميس يې زوړ



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

او په ګرېوانه کې یې پیوندونه لګېدلي وي.

## ۱۳٤ له دې کیسې نه دغه درس ترلاسه کېدای شي

لوړتیا، ستر شان او شوکت په نویو مودونو، د ننني اصطلاح اړوند په مادرن جامو کې نه دی! بیوزلتوب د بدمرغۍ او شتمني د نېکمرغۍ نښه نه ده.

الله سبحانه و تعالیٰ فرمايي:

﴿فَأَمَّا الْإِنسَانُ إِذَا مَا ابْتَلَاهُ رَبُّهُ فَأَكْرَمَهُ وَنَعَّمَهُ فَيَقُولُ رَبِّي أَكْرَمَنِ ۝ وَأَمَّا إِذَا مَا ابْتَلَاهُ فَقَدَرَ عَلَيْهِ رِزْقَهُ فَيَقُولُ رَبِّي أَهَانَنِ ۝﴾

"خو د انسان حال دا دی چې د هغه رب کله هغه په ازمېښت کې واچوي او هغه ته عزت او نعمت ورکړي؛ نو هغه وايي چې زما رب زه د عزت خاوند کړم او کله چې یې په ازمېښت کې واچوي او د هغه روزي پر هغه ورتنګه کړي؛ نو هغه وايي زما رب زه ذلیله کړم."

وړتیاوې خپله د انسان ارزښت څرګندوي، که څه هم ښه څادر، ښې څپلۍ او ښې جامې ونه لري.

﴿إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ﴾

"په حقیقت کې د الله تعالیٰ په اند په تاسې کې تر ټولو زیات عزتمن هغه څوک دی، چې په تاسې کې تر ټولو زیات پرهېزګاره وي."

زموږ له موضوع سره د دې خبرې تړاو دا دی چې نېکمرغي په ډنګو



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

مانیو او شتمنیو کې نه ده، بلکې په دې کې ده چې د انسان زړه پر ایمان او د الله تعالیٰ پر خوښۍ ډاډه شي.

الله جل جلاله فرمايي:

﴿فَلَا تُعْجِبْكَ أَمْوَالُهُمْ وَلَآ أَوْلَادُهُمْ﴾

"د دوی د مالونو، شتمنۍ او د دوی د اولادونو د زياتوالي په ليدو مه غولېږه!"

د الله تعالیٰ پر لورنه او مهربانۍ خوښ اوسه، دا تر هغه څه چې دوی يې راټولوي ډېر غوره دي.

له دې امله ځان قضاء اوقدر ته وسپاره! او که دا کار ونه کړې؛ نو څه به وکړې، هېڅ هم نشې کولای، ځکه نه اسمان ته ختلای شې او نه په ځمکه کې تونل ويستلای شې؟! او که دغه کار هم وکړې؛ نو بيا هم د قضا او قدر په وړاندې درته هېڅ ګټه نشي رسولای.

هواری يې څه دي؟

هو! هواری يې دا دي چې: (رضينا وسلمنا)

﴿أَيْنَ مَا تَكُونُوا يُدْرِككُّمُ الْمَوْتُ وَلَوْ كُنتُمْ فِي بُرُوجٍ مُّشَيَّدَةٍ﴾

"پاتې شو مرګ؛ نو چېرته چې یاست هغه په هر صورت درتلونکی دی، که تاسې په هر څومره محکمو کلا ګانو کې هم اوسئ."

زما په ژوندانه کې تر ټولو سخت ساعت هماغه و، چې ډاکټر راغی او ما ته يې زما د ورور محمدﷺ د لاس غوڅولو خبره وکړه! دغه خبر که څه هم پر ما تر اسماني تندر کم نه و؛ خو ما خپل زړه ته د الله تعالیٰ پردغه وينا ډاډ ورکړ چې:

﴿مَآ أَصَابَ مِن مُّصِيبَةٍ إِلَّا بِإِذْنِ اللَّهِ ۗ وَمَن يُؤْمِن بِاللَّهِ يَهْدِ قَلْبَهُ﴾



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

"هېڅ يو مصيبت هېڅکله نه راځي؛ خو د الله تعالیٰ په اذن سره، څوك چې پر الله تعالیٰ ايمان ولري الله تعالیٰ د هغه زړه ته هدايت وربښي."

دا او دغسې نور آياتونه مې ولوستل او روح مې ارام شو، ځکه چې له ايمان پرته بله چاره نشته!

الله تعالیٰ فرمايي:

﴿أَمْ أَبْرَمُوٓا۟ أَمْرًا فَإِنَّا مُبْرِمُونَ ۝﴾

"ايا دوی پرېکړه کونکي دي او که موږ؟"

﴿وَاللَّهُ غَالِبٌ عَلَىٰٓ أَمْرِهِۦ﴾

"الله تعالیٰ پر خپل کار لاسبرى دى."

﴿وَإِذَا قَضَىٰٓ أَمْرًا فَإِنَّمَا يَقُولُ لَهُۥ كُن فَيَكُونُ ۝﴾

"الله تعالیٰ چې دکوم کار په اړه اراده وکړي؛ نو هغه د «کن» په لفظ سرته رسوي."

د قادسيې په پيښه کې خنسا نخعيه رضی الله عنها ته په يوه وار د څلورو زامنو د شهادت خبر ورسېد؛ خو هغې د الحمدلله په ويلو د دغه خبر هر کلی وکړ او د الله تعالیٰ پر قضا يې خوښي څرګنده کړه.

حديث کې راځي چې څوک د الله تعالیٰ پر پرېکړه خوښ شو، هغه ته به د الله تعالیٰ رضا ورپه برخه شي او څوک چې پرې نا خوښه شو، الله تعالیٰ به هم ورځخه ناراضه شي.

دغه ډول ستونزې او مصيبتونه بايد د الله تعالیٰ په دغه وينا سره استقبال کړای شي:



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

﴿إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ﴾

"موږ ټول د الله تعالیٰ مخلوق او د هغه ملکیت یو او هم هغه ته ورستنېږو."

یو شاعر وايي:

"زما نفس د داسې شیانو په اړه واکمن دی چې لمنځه تلونکي دي، پر دغسې شیانو نو بیا ژړا د څه لپاره؟!"

الله تعالیٰ فرمايي:

﴿كُلُّ شَيْءٍ هَالِكٌ إِلَّا وَجْهَهُ﴾

"هر شی هلاکېږي؛ خو یوازې د الله تعالیٰ ذات پاتې دی."

﴿كُلُّ مَنْ عَلَيْهَا فَانٍ﴾

"دغه راز پر دغه ځمکه هرڅه فنا کېدونکي دي."

﴿إِنَّكَ مَيِّتٌ وَإِنَّهُم مَّيِّتُونَ﴾

"بېشکه ته مړ کېدونکی یې او دوی هم مړه کېدونکي دي."

په ناڅاپي توګه که د خپل کور د سوځېدو، د زوی د مړينې او د مال د لمنځه تلو خبر ترلاسه کړې؛ نو باید څه وکړې؟ همدا اوس خپل نفس کابو کړه او تېښته درته کومه ګټه نشي رسولای، پېښې ته تسلیم شه، پر قضاء او قدر خوښ شه، واقعیت په سړه سینه ومنه! او له دې پرته د دغې حتمي خبرې په اړه نور هېڅ هم نشي کولای او نه درڅخه دغه ډول پېښه مخ اړولای شي!

الله تعالیٰ فرمايي:

﴿فَلْيَمْدُدْ بِسَبَبٍ إِلَى السَّمَاءِ ثُمَّ لْيَقْطَعْ فَلْيَنظُرْ هَلْ يُذْهِبَنَّ كَيْدُهُ مَا



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

يَغِيظُ ۝﴾

"هغه ته په کار ده، چې د يوې رسۍ په وسيله تر اسمانه ځان ورسوي، بيا دې غوڅه کړي، بيا دې وګوري چې ايا د هغه تدبير د يوه داسې شي مخنيوی کولای شي چې د هغه بد ايسي؟"

## ١٣٥ د څه شي په اړه، چې انديښنه لرې، ښايي هغه لمنځه ولاړ شي.

د مرګ له څپېړې ښخي خلاصون نشته، ظالم، مظلوم، پاچا، ګدا، غښتلی، کمزوری، لوی او وړوکی ټول پرې يوه نا يوه ورځ خاخخا وهل کېږي! او که ته مرې نو دا څه نوې خبره نه ده، تر تا له مخه ډېر امتونه او ولسونه، پرګنې او قومونه لمنځه تللي او له تا وروسته به هم ځي.

ابن بطوطة وايي، چې په شمال کې يوه داسې هديره ده، چې لږ تر لږه زر پاچايان پکې ښخ شوي؛ ورته څېرمه پر يوه لويه لوحه دا شعر ليکل شوی چې:

وسلاطينُهم سلِ الطين عنهمُ ... والرؤوسُ العظامُ صارتْ عظاماً

د پاچايانو په اړه يې له خاورو څخه وپوښته، چې له غټو سرونو او هډونو سره يې څه وکړل؟!

انسان له دغې فنا نه بې پروا دی او فکر کوي، ګوندې تل به دی وي او تل دغه دنيا!!! خو الله تعالی فرمايي:

﴿يَاأَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمْ ۚ إِنَّ زَلْزَلَةَ السَّاعَةِ شَيْءٌ عَظِيمٌ ۝﴾

"ای خلکو! له خپل رب څخه ووېرېږئ او باور ولرئ، چې د قيامت



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

د ورځې زلزله یو لوی شی دی."

دغه راز فرمايي:

﴿اقْتَرَبَ لِلنَّاسِ حِسَابُهُمْ وَهُمْ فِي غَفْلَةٍ مُّعْرِضُونَ ۞﴾

"خلکو ته د هغوی د حساب کتاب ورځ «قیمت» را نږدې شوې او دوی د غفلت په حالت کې ډډه کونکي دي."

## ۱۳٦ اندېښنه د بدمرغۍ لاره ده

د «المسلمون» جریدې د (۱٤۱۰ه) کال په (۲٤۰) ګڼه کې لیکلي چې په نړۍ کې لس میلیونه انسانان د اندېښنې په رنځ اخته دي! دغه رنځ له نړۍ نه غبرګه راچاپېره کړې د ختیځ او لویدیځ ټول شتمن او نېستمن يې سره پکې رانغښتي دي...

د اندېښنې دغه ناروغي په پای کې په انتحار او ځانوژنه اوړي!!

انتحار او ځانوژنه نوم او منصب ته نه ګوري! ځینو شمېرنو دا په ډاګه کړې، چې په نننۍ نړۍ کې د انتحار د قربانیانو شمېر تر دوو سوو میلیونو اوښتی دی؛ یا په بل عبارت په هرو لسو کسانو کې یو تن يې اروړمرو اندېښمن دی او خامخا ځانوژنې ته زړه ښه کوي.

اندېښنه د ځانوژنې لپاره د یوه وره پرانستل دي.

الله تعالی فرمايي:

﴿وَلَا تَقْتُلُوا أَنفُسَكُمْ﴾

"او خپل ځانونه مه وژنئ."



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



﴿وَلَا تُلْقُوا بِأَيْدِيكُمْ إِلَى التَّهْلُكَةِ﴾

"او په خپلو لاسونو خپل ځانونه (په سر او مال سره د جهاد په پرېښودو) په هلاکت کې مه غورځوئ."

خبري اژانسونو دا په ډاګه کړې چې د امریکا د متحده ایالاتو پخوانی رئیس "رونا لدریګن" هم د اندېښنې او عصبي فشار له امله د ځمکې تل ته ورسېد.

﴿وَلَوْ كُنتُمْ فِي بُرُوجٍ مُّشَيَّدَةٍ﴾

"که تاسې په هر څومره مضبوطو کلاګانو کې هم اوسئ."

یوازې دا نه، بلکې ستر نړیوال شاعر (صلاح جاهین) هم د اندېښنې له امله مړ شو.

ویل کېږي چې د ستر اروپایي فاتح ناپلیون بونا برت ساه هم د اندېښنو له امله وتلې.

﴿وَتَزْهَقَ أَنفُسُهُمْ وَهُمْ كَافِرُونَ ۝﴾

"او د هغو ساګانې په داسې حال کې وباسي، چې هغوی کافران وي."

دغه راز خبري سرچینو دا خبره هم په ډاګه کړې، چې یوه الماني نژاده مور د اندېښنې په رنځ اخته شوه؛ نو خپل درې زامن یې ووژل.

هلته په کال (۱۹۸۱ع) کې د نفسي اندېښنو دکنفرانس رئیس په هغه غونډه کې چې د شیکاګو په ایالت کې جوړه شوې وه اعلان وکړ،چې دلته یوازې په پرمخ تللیو هېوادونو کې د نفسي اضطراب او اندېښنو پر ناروغیو د اخته کسانو شمېر سل میلیونو ته رسېږي!!!

﴿أَوَلَا يَرَوْنَ أَنَّهُمْ يُفْتَنُونَ فِي كُلِّ عَامٍ مَّرَّةً أَوْ مَرَّتَيْنِ﴾

"ایا دوی نه ګوري، چې هر کال یو دوه ځلې په ازمېښت کې اچول



[redacted] https://www.f[redacted]com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

کېږي؟"

متل دی چې وايي له غره سره سر مه جنګوه!

يو شاعر وايي:

چې څه نشې کولای؛ نو پرې يې ږده! او هماغه څه وکړه چې کولای يې شې.

دغه راز متل دی:

وړه مه وړه کوه!

دغه راز انګليسي متل دی:

اره شوی مه اره کوه!

مانا دا چې له کومو چارو نه فارغ شوی يې، پر هغې بيا ځان مه اخته کوه! ځکه دا هم د نفسي اضطراب او انديښنو لامل ګرځي.

دلته د وزګار او بېکاره خلکو په وړاندې ډېر کارونه شته چې بايد سرته يې ورسوي، لکه:

خيريه کارونه کول، د ناروغانو پوښتنه، د قبرونو زيارت، د دوستانو په بنداړونو کې ګډون او داسې نور...

﴿إِنَّكَ كَادِحٌ إِلَىٰ رَبِّكَ كَدْحًا فَمُلَاقِيهِ ۝﴾

"ته په منډو ترړو او غورځو پرځو د خپل رب لوري ته ورتلونکی او له هغه سره مخامخ کېدونکی يې."

ای انسانه! ته خپل رب ته د ورتګ هلې ځلې کونکی يې؛ نو اورومرو له هغه سره مخامخ کېدونکی يې.

تاريخ ولوله! او له عبرتناکو کيسو نه پند واخله! د پيغمبرانو او د اصحابو، د وليانو، عالمانو، د شاعرانو او اديبانو کيسې ولوله.



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

الله تعالیٰ فرمایي:

﴿وَكُلًّا نَّقُصُّ عَلَيْكَ مِنْ أَنۢبَآءِ الرُّسُلِ مَا نُثَبِّتُ بِهِۦ فُؤَادَكَ﴾

"دا د پیغمبرانو کیسې، چې موږ یې تا ته اوروو دا هغه شیان دي، چې د هغو په وسیله ستا زړه ډاډه کوو."

﴿لَقَدْ كَانَ فِي قَصَصِهِمْ عِبْرَةٌ﴾

"د مخکنیو خلکو په دغو کیسو کې عبرت دی."

﴿فَاقْصُصِ الْقَصَصَ لَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُونَ ۝﴾

ته دا کیسې دوی ته اوروه، ښایي چې دوی څه غور او پاملرنه وکړي.

عمر رضي الله عنه فرمایي:

"زه په داسې حال کې سبا کوم چې د تقدیر له پرېکړو نه ګټه واخلم" مانا دا چې پروا نه لري که په هره سورلۍ سپرېږم! که فقر وي؛ نو له صبر څخه کارا خلم او که بډایتوب وي؛ نو له شکر څخه به کار واخلم.

د ابو ذوئب الهذلي د یو کال په اوږدوکې اته زامن په طاعون ناروغۍ باندې مړه شول، څه یې وکړه؟! همدا چې د خپل رب قضا ته یې د منښتې سر ټیټ کړ.

د عروه بن الزبیر پښه پرېکړې شوه او په همدغه ورځ یې یو زوی هم مړ شو! نو هغه داسې وویل: الحمدلله، تا راکړی و او تا واخیست.

الله تعالیٰ فرمایي:

﴿وَجَزَٰهُم بِمَا صَبَرُوا۟ جَنَّةً وَحَرِيرًا ۝﴾

"او د هغو د صبر په بدل کې به هغو ته جنت او ورېښمین کالي ورکړي."



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

﴿سَلٰمٌ عَلَيْكُمْ بِمَا صَبَرْتُمْ﴾

"هغو ته به وواېي، چې پر تاسې سلامتيا ده، څنګه چې تاسې په دنيا کې له صبر څخه کار واخيست."

## ۱۳۷ په استغفار بند قلفونه پرانستل کېږي

شيخ الاسلام حافظ ابن تيميه واېي:

هره ستونزه چې رامنځته شي؛ نو زر وارې (استغفرالله) ووايم الله تعالیٰ يې ايسته هواره کړي.

الله تعالیٰ فرمايي:

﴿فَقُلْتُ اسْتَغْفِرُوْا رَبَّكُمْ ۙ اِنَّهٗ كَانَ غَفَّارًا ۝﴾

"ما وويل له خپل رب نه بښنه وغواړئ، بېشکه چې هغه خورا ډېر بښونکی دی."

ډېرې ستونزې کله نا کله د انسان په ګټو بدلېږي! الله تعالیٰ چې د انسان په اړه څه پرېکړه کوي، په هغې کې د انسان خير او ښه وي، زه د تاريخ سترو شخصيتونو ته ښخي حيران يم، چې مصيبتونو، لوړو او ژورو به يې لکه د بارانه د څاڅکو هر کلی کاوه!

وګورئ د اسلام ستر پيغمبرﷺ د بدر په ستره تاريخي پېښه کې له خپلې څغرې سره د جګړې په ډګر کې ولاړ داسې فرمايي:

﴿سَيُهْزَمُ الْجَمْعُ وَيُوَلُّوْنَ الدُّبُرَ ۝﴾



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

"ډېر ژر به دغې ډلې ته ماتې ورکړ شي او دوی ټول به شا اړوونکي تښتېدونکي ولیدل شي."

د احد په غمجنه پېښه کې یې تر ټپي کېدو وروسته خپلو یارانو ته وویل، زما تر شا کتارونه جوړ کړئ، د خپل رب حمد او ثنا ووایو.

هو! دا نبوي همت و، چې تر اسمانه لوړ و او همدغه نبوي عزم و چې غرونه یې لړزول.

قیس بن عاصم المنقري یو ډېر حلیم سړی و!

یوه ورځ یې خلکو ته کیسه کوله، چې یو سړی راغی او ورته یې وویل: زوی دې وژل شوی او پلانۍ ښځې دې زوی وواژه! کیسه یې لا پای ته نه وه رسېدلې، چې خلکو ته یې وویل: زما زوی ته غسل او کفن ورکړئ او د جنازې د لمانځه لپاره بیا ما ته خبر وکړئ!

الله تعالی فرمايي:

﴿وَالصّٰبِرِيْنَ فِى الْبَأْسَآءِ وَالضَّرَّآءِ وَحِيْنَ الْبَأْسِ﴾

"د تنګسې او غمونو په وخت کې او د حق او د باطل په جګړه کې صبر وکړي."

عکرمه بن ابي جهل رضي الله عنه د مرګ له سکراتو سره مخ و، چې اوبه ورته وړاندې شوې، هغه وویل چې حارث بن هشام ته یې ورکړه، هغه وویل: پلانکي ته..... هغه وویل: پلانکي ته آن تر دې چې ټول صحابه رضی الله عنهم تږي شهیدان شول.

پوه او هوښیار هماغه څوک دي، چې داسې فکر وکړي چې ټول خلک د ده په حق کې نه دي، ارومرو به یې مخالفت رامخ ته کېږي! دی باید مطلقاً پر چا تکیا ونه کړي! له خلکو سره اړیکې او ملګرتیا خپل ځانته حدود لري، چې له هغې نه باید تجاوز ونشي او په هماغو حدودوکې د قربانۍ لپا



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

ره ځان چمتو کړي.

د رسول الله ﷺ د لور زوی حسین بن علي رضي الله عنه ووژل شو؛ خو امت پرې تندی هم تریو نه کړ او نه یې پرې څه وویل، بلکې قاتلانو یې د سر په غوڅولو د تکبیر او تهلیل نعرې وهلې او فکر یې کاوه چې ګنې ستره مېړانه او بری یې ترلاسه کړ.

د یوه شاعر په وینا:

ای د محمد د لور بچیه! دوی ستا به وینو لړلی سر د تکبیرونو په بدرګه راوړ او دا یې یوه لویه کارنامه وبلله! دا په داسې حال کې، چې دوی په حقیقت کې تکبیرونه او تهلیلونه ژوبل کړي او وژلي یې دي.

هلته احمد بن حنبل رحمه الله زندان ته بیول کېږي او په زندان کې په تازینو وهل کېږي، لنډه دا چې په مرګ مشرف شي؛ خو چا یې هم ملګرتیا ونه کړه.

هلته شیخ الاسلام ابن تیمیه نیول کېږي او پر کچره سپور مصر ته بیول کېږي؛ خو د خلکو هغه ډله او ټپله نه تر سترګو کېږي، چې جنازې ته یې سوب شوې وه، ځکه دلته ټاکلي حدود دي، چې تر هغې اخوا یو پل هم څوک نشي کېښودلای، یانې دغه د تقدیر پرېکړې دي څوک یې نشي بدلولای.

الله تعالی فرمایي:

﴿وَلَا يَمْلِكُونَ لِأَنفُسِهِمْ ضَرًّا وَلَا نَفْعًا وَلَا يَمْلِكُونَ مَوْتًا وَلَا حَيَوٰةً وَلَا نُشُورًا﴾

"په خپله د خپل ځان لپاره هم دڅه ګټې یا زیان واك نلري، نه د وژلو وس لري نه د ژوندي کولو، نه مړه شوي بیا راپاڅولی شي."

همدا راز الله تعالی فرمایي:



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

﴿يَاَيُّهَا النَّبِيُّ حَسْبُكَ اللّٰهُ وَمَنِ اتَّبَعَكَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ ○﴾

"ای پېغمبره! ستا لپاره او ستا مؤمنانو پيروانو لپاره خو يوازې الله تعالٰی کافي دی."

﴿وَ تَوَكَّلْ عَلَى الْحَيِّ الَّذِيْ لَا يَمُوْتُ﴾

"ای محمده! پرهغه خدای توکل وکړه چې ژوندی دی او هېڅکله مړکېدونکی نه دی د هغه له ستاينې سره د هغه پاکي بيان کړه. د خپلو بندګانو له ګناهونو څخه يوازې د همغه باخبرتوب کافي دی."

بيا فرمايي:

﴿اِنَّهُمْ لَنْ يُّغْنُوْا عَنْكَ مِنَ اللّٰهِ شَيْئًا﴾

"د الله تعالٰی په مقابل کې هغوی تا ته هېڅ په درد نشي خوړلای."

دغه راز فرمايي:

يو شاعر وايي:

د الله تعالٰی پر رسۍ منګولې کلکې کړه، ځکه چې همدغه يو قوی رکن دی، که نور ټول ارکان له تا سره تګي او خيانت وکړي.

## ۱۳۸ په لګښت کې له اقتصاده کار واخله

نبي کريمﷺ فرمايي:

الِاقْتِصَادُ فِي النَّفَقَةِ نِصْفُ الْمَعِيشَةِ [۲۱]

۲۱: شعب الإيمان (۸ / ۵۰۴)



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

"په لکښت کې له اقتصاده کار اخیستل نیم ژوند دی."

یو شاعر وايي:

مال راټول کړه، ځکه چې په مال عزت او درناوی ترلاسه کېږي او په دغه صورت کې؛ نو بیا ته کاکا او ماما ته هېڅ اړتیا نه لرې.

هغه فلسفه ناسمه ده، چې تا د مال په لګولو کې اسراف (بد خرځی) ته اړ باسي، ځکه دغه د جوګیانو او صوفیانو خرافات دي او سپېڅلی اسلام تا پاک کار او د پاک مال تر لاسه کولو ته رابولي او بیا یې په پاک ځای کې د لګولو امر کوي.

د اسلام ستر پیغمبر ﷺ فرمایي چې:

نِعم المالُ الصالحُ في يدِ الرجلِ الصالحِ

"د یوه نېک سړي په لاس کې صالح مال خورا ښه خبره ده."

هغه چې د غمونو او اندېښنو لامل ګرځي هغه درانه قرضونه او بېوزلتوب دی! ایا تاسې د داسې شتمنۍ په تمه یاست، چې ستاسې د سرغړونې لامل ګرځي او یا د داسې بېوزلتوب، چې له الله تعالی څخه په غفلت کې پرېوځئ.

د اسلام ستر پیغمبر ﷺ به فرمایل:

اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْكُفْرِ وَالْفَقْرِ وَكَادَ الفَقر ان يَكُونَ كُفراً

"ای الله! تا ته له کفر او بېوزلتوبه پناه دروړم، ځکه چې نېستي انسان کفر ته اړ باسي."

د ابن ماجه په حدیث کې دي:

ازْهَدْ فِي الدُّنْيَا يُحِبَّكَ اللَّهُ وَازْهَدْ فِيمَا عِنْدَ النَّاسِ يُحِبُّكَ النَّاسِ

"په دنیا کې له زهد نه کار واخله؛ نو د الله تعالی به خوښ اوسې، دغه راز د خلکو د شتمنیو په اړه زاهد اوسه؛ نو خلکو ته به خوښ



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

[redacted]

اوسي."

دغه حدیث کې یوڅه ضعف لیدل کېږي.

دلته یې مانا دا ده، چې شریف النفس او مستغني اوسه؛ نو الله تعالی به دې غني او شتمن کړي.

په یوه بل حدیث کې راځي، چې که خپل وارثان بدایان پرېږدې، تر دې غوره دي، چې بېوزله یې پرېږدې او خلکو ته اړ وي.

یو شاعر وایي:

د مال په وسیله ترکومې اندازې چې زما وس وي د خلکو هماغه حقوق ادا کولای شم کوم چې تلف شوي.

یو بل شاعر وایي:

د (واخله) تکی د (راکړه) تر تکي ډېر غوره دی.

په حدیث شریف کې هم همدغه خبره په دې تکیو کې بیان شوې:

الیدُ العلیا خیرٌ من الیدِ السُّفلی

"برنی لاس تر ښکتني لاس غوره دی."

پورتنی لاس هماغه چې ورکړه کوي، ښکتنی لاس غوښتونکي لاس ته ویل کېږي.

الله تعالی فرمایي:

﴿يَحْسَبُهُمُ الْجَاهِلُ أَغْنِيَاءَ مِنَ التَّعَفُّفِ﴾

"د هغو د استغناء په لیدو بې خبره خلك گومان کوي چې دوی شتمن دي."

یانې دا چې د روزۍ لپاره د انسانیت په وړاندې چاپلوسي نکوي.

﴿أَيَبْتَغُونَ عِندَهُمُ الْعِزَّةَ فَإِنَّ الْعِزَّةَ لِلَّهِ جَمِيعًا﴾



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



"ایا دا خلك د عزت لاسته راوړو لپاره هغو ته ورځي؟ په داسې حال کې چې هر راز عزت یوازې د الله تعالی لپاره دی."

ابن الوردي په یوه شعر کې وايي:

زه د يو چا لاس ښکولو ته لېوال نه يم، تر دغه کار ما ته د هغه لاس پرېکول غوره دي، که څوک ما نازوي نو زه يې غلامي کوم او که نه نو ما ته له دغه کاره شرم راځي.

## ١٣٩ له غيرالله سره اړيکې مه ساتئ!

دا چې د مرګ او ژوند، د خير او شر او د روزۍ واک یوازې له الله جل جلاله سره دی؛ نو بیا له خلکو نه وېره د څه لپاره؟!

ډېر خلک ما لیدلي چې غمونه او اندېښنې یې له همدې امله لاسته راوړي، چې د الله تعالی په خپه کولو یې خلک خوشحاله کړي او همدا د توحيد په عقیده کې یو ډول کمزوري ده.

یو شاعر وايي:

دا چې ژوند تریخ دی نو کاش چې! ته خوږ وای؛ دا چې خلک خپه دي، کاش چې ته خوښ وای، که د ربښتوني محبت پر مفهوم وپوهېږې؛ نو هر څه به اسان شي، ځکه د خاورې پر سر چې څه دي ټول خاورې دي.

شیخ الاسلام ابن القيم رحمه الله د سینې د پراختیا په برخه کې یو لړ مسایلو ته اشاره کړې، چې موږ یې دلته راوړو:

١: توحيد دی:

توحيد د خپلو صفاتو له امله د سينې په پراختيا کې لوی رول لري؛ ځکه



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

چې د مشرک ژوند له سره د اعتبار وړ نه دی.

الله تعالٰی فرمايي:

﴿وَمَنْ اَعْرَضَ عَنْ ذِكْرِيْ فَاِنَّ لَهٗ مَعِيْشَةً ضَنْكًا﴾

"او څوك چې زما له "ذکر" د نصيحت له درس، نه مخ واړوي د هغه لپاره به په دنيا کې تنگ ژوند وي..."

﴿اَفَمَنْ شَرَحَ اللّٰهُ صَدْرَهٗ لِلْاِسْلَامِ فَهُوَ عَلٰی نُوْرٍ مِّنْ رَّبِّهٖ﴾

"ايا نو هغه څوك چې الله تعالٰی د هغه سينه د اسلام لپاره پرانستله او هغه د خپل رب خوا ته په يوه رڼا باندې روان دی."

۲: گټور علم دی:

کوم علماء چې نبوي ميراث په لاس کې لري د هغوی سينې د هر چا په پرتله پراخه وي.

﴿فَاعْلَمْ اَنَّهٗ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ﴾

"نبه وپوهېږه! چې له الله سبحانه و تعالٰی پرته بل هېڅوك د عبادت وړ نه دی."

۳: نېک عمل دی:

چې په زړه کې رڼا، په مخ کې ځلا او په روزۍ کې پراختيا را پيدا کوي.

٤: مرتنوب او اتلولي ده:

زړه او نور بدني غړي سره غښتلي او پياوړي کوي او د رحمن ذات طرف ته يې ژر اړوي، په دغه صورت کې بيا هغه ته پېښې او حوادث څه ارزښت نه لري.



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

۵: له ګناهونو ډډه کول دي:

څکه چې ګناهونه خرابوالی، تیارې او وحشت رامنځته کوي.

یو شاعر وايي:

ما لیدلي چې ګناهونه ژوندي زړونه وژني او په میراث کې رسوايي او سپکاوی د انسان په برخه کوي.

٦: له ډېرو خبرو، خوړو، خوب او اختلاطه ډډه کول:

الله تعالیٰ فرمايي:

﴿وَالَّذِيْنَ هُمْ عَنِ اللَّغْوِ مُعْرِضُوْنَ ۝﴾

"او دوی له بې ګټې چارو څخه ډډه کوي."

دغه راز فرمايي:

﴿مَا يَلْفِظُ مِنْ قَوْلٍ اِلَّا لَدَيْهِ رَقِيْبٌ عَتِيْدٌ ۝﴾

"هېڅ داسې لفظ د هغه له خولې نه راوزي، چې د هغه د محفوظ ساتلو لپاره یو حاضر باش څارونکی ورسره موجود نه وي."

په غمونو اخته یو ناروغ یو طبیب د اضطراب او اندېښنې په اړه وپوښت؛ هغه ورته په څواب کې ووی، چې په دغه نړۍ کې هر څوښت د الله تعالیٰ په اذن منځته راځي، هېڅ غم مه کوه!.

متنبي شاعر وايي:

د وړوکي انسان تر سترګو وړوکی شی هم غټ راځي او د غټو خلکو په سترګو کې غټ شیان هم واړه ښکاري.



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

## ۱۴۰ د ازادۍ خوند

شیخ راشد په خپل کتاب (المسار) کې وايي:

هغه څوک چې درې سوه شپېته ورځې، یوه ډبه غوړي او شپاړس سوه خرماوې ولري؛ نو داسې کس هېڅوک نشي غلام کولای، همدا راز په سلفو کې له یوه تن نه نقل دي، چې که څوک په اوبو او سپوره ډوډۍ اکتفاء وکړي؛ نو له الله جل جلاله نه غیر به د هیڅ چا غلامۍ ته نه غاړه کېږدي او نه به پرې د چا احسان بار وي

یو شاعر وايي:

ما د خپلې تمې غلامي وکړه؛ نو له خپلواکۍ یې لرې وغورځولم؛ خو که قناعت مې کړی وای؛ نو اوس به اصیل او ازاد وم.

## ۱۴۱ سفیان ثوري او خاورینه تکیه

د حج پر مهال په مزدلفه کې نامتو حدیثپوه سفیان ثوري د ځان لپاره له خاورو یو بالښت جوړ کړ او هغه ته به یې ډډه وهله! چا ورته ووی، چې د نړۍ یو لوی حدیثپوه او خاورو ته ډډه وهل؟ هغه یې په ځواب کې وویل:

دغه خاورینه تکیه ما ته د خلیفه منصور تر وریښمینو بالښتونو ډېره غوره ده.

الله تعالٰی فرمايي:

﴿قُل لَّن يُصِيبَنَآ إِلَّا مَا كَتَبَ ٱللَّهُ﴾



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

"دوی ته روایه: موږ ته هېڅکله څه (ضرر یا ښېګڼه) نه رسېږي مګر هغه چې الله تعالی لیکلي دي.

درواغجنې ژمنې او ناوړه اټکلونه شیطاني وهمونه دي، چې ډېر خلک یې په اندېښنو کې غورځولي دي."

﴿ اَلشَّیْطٰنُ یَعِدُكُمُ الْفَقْرَ وَ یَاْمُرُكُمْ بِالْفَحْشَآءِ ۚ وَ اللّٰهُ یَعِدُكُمْ مَّغْفِرَةً مِّنْهُ وَ فَضْلًا ؕ وَ اللّٰهُ وَاسِعٌ عَلِیْمٌ ۟ۙ ﴾

"شیطان تاسې له بېوزلۍ نه وېروي او شرمناك چلن غوره کولو ته مو هڅوي؛ خو الله تعالی خپل بخشش او پېرزوینې ته تاسې هیله من کوي، الله تعالی د ډېر پراخ لاس خاوند او پوه ذات دی."

## ۱۴۲ د چا کنځاوې در ته هېڅ زیان نشي رسولای

د امریکا د متحده ایالاتو پخواني رئیس: (ابراهم لنکن) وایي:

له ګډوډو او کنځاوو ډک لیکونه چې ما ته راستول کېږي زه یې پاکټونه هم نه پرانېزم، پاتې خو لا دا چې ځواب ورته ووایم! ځکه که زه په دې ځان بوخت کړم؛ نو خپل ولس ته هېڅ نشم وړاندې کولای.....

الله سبحانه و تعالی فرمایي:

﴿ فَاَعْرِضْ عَنْهُمْ ﴾

"ښه نو دوی په خپل حال پرېږده!."



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



﴿فَاصْفَحِ الصَّفْحَ الْجَمِيْلَ ۝﴾

"ته (د دغو خلکو پر بابېزه چارو) له شریفانه تېرېدنې څخه کار واخله."

﴿فَاصْفَحْ عَنْهُمْ وَقُلْ سَلٰمٌ﴾

"له دوی نه مخ واړوه او ووایه، چې سلام دی تاسې ته (ستاسې له شره سلامتیا غواړم)"

حسان وايي:

دا باک نه کوي که ما ته څوک مخامخ ډنډوره غږوي او یا پټې شا کنځل کوي.

یانې دا چې د رذیلو او سپکو خلکو پر ناوړه خبره د عزتمنو او درنو خلکو د بریت یو ویښته هم نشي کږېدلای.

یو امریکایي قومندان خپلو اتباعو او پلویانو ته (چې تل به یې ورته ستغې او سپورې ویلې) وینا کوله:

وروسته له دغو غورځو پرځو زه په دې وپوهېدم، چې د یو چا پر ناوړه خبرو د چا عظمت او پرتم نشي نړېدلای او نه مضبوط دېوالونه نړولای شي.

یو شاعر وايي:

اوس شاعران له ما نه څه غواړي؟ زما عمر خو له څلوېښتو کالو هم واوښت.

د عیسی علیه السلام وینا ده:

"له خپلو دښمنانو سره هم ناوړه چلن مه کوئ"



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

## ۱۴۳ په کايناتو کې ښکلا وځارئ!

د کايناتو دغه غوړول شوي کتاب ته ځير کېدل د سينې په پراختيا کې رول لري.

الله تعالیٰ د خپل بې ساري قدرت په اړه فرمايي:

﴿هٰذَا خَلْقُ اللّٰهِ فَاَرُوْنِیْ مَاذَا خَلَقَ الَّذِیْنَ مِنْ دُوْنِهٖ﴾

"دا خو دي د الله تعالیٰ پيدا کول، اوس ما ته راوښيئ، له هغه پرته دغو نورو څه پيدا کړي دي؟."

دغه راز فرمايي:

﴿قُلِ انْظُرُوْا مَاذَا فِی السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ﴾

"دوی ته ووايه: په اسمانونو او ځمکه کې څه دي هغه په غړېدلو سترګو وګورئ."

دغه راز فرمايي:

﴿فَاَنْۢبَتْنَا بِهٖ حَدَآئِقَ ذَاتَ بَهْجَةٍ﴾

"بيا موږ د هغو په وسيله هغه ښايسته باغونه زرغون کړل."

وړاندې به موږ د کايناتو په اړه هغه خبرې راوړو چې د الله تعالیٰ پر عظمت او حکمت دلالت کوي.

﴿قَالَ رَبُّنَا الَّذِیْۤ اَعْطٰی كُلَّ شَیْءٍ خَلْقَهٗ ثُمَّ هَدٰی ۝﴾

"هغه ذات دی چې هر شي ته يې د هغه خپل ساختمان ورکړ، بيا يې ورته لار روښودله."



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Teleg[redacted]https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

يو شاعر وايي:

د قضاء په کتاب کې مې هغه څه ولوستل، چې په خپل کتاب کې مې نه و لوستي.

يو شاعر وايي:

وفي كلِّ شيءٍ لهُ آيةٌ ... تدلُّ على أنَّه الواحدُ

"په هرڅه کې د هغه د قدرت نښې څلانده دي او د هغه پر وحدانيت دلالت کوي."

﴿أَفَلَا يَنظُرُونَ إِلَى ٱلْإِبِلِ كَيْفَ خُلِقَتْ ۝﴾

"نو ايا دوي اوښانو ته نه ګوري چې څنګه پيدا کړی شوي دي"

اين ستاين وايي:

که څوک کايناتو ته ځير شي؛ نو پوه به شي، چې د کايناتو خالق څه د شطرنج لوبه نه ده کړې بلکې:

﴿ٱلَّذِيٓ أَحۡسَنَ كُلَّ شَيۡءٍ خَلَقَهُۥ﴾

"هغه چې هرڅه پيدا کړي ډېر ښه يې پيدا کړي دي."

﴿مَا خَلَقۡنَٰهُمَآ إِلَّا بِٱلۡحَقِّ﴾

"موږ دا په حقه پيدا کړي دي."

دغه راز فرمايي:

﴿أَفَحَسِبۡتُمۡ أَنَّمَا خَلَقۡنَٰكُمۡ عَبَثٗا﴾

"ايا تاسې انګېرلې وه، چې موږ تاسې بابېزه پيدا کړي ياست."



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

## ۱٤٤ په حرص کې څه ګټه نشته

د اسلام ستر پیغمبرﷺ فرمايي:

لنْ تموتَ نفسٌ حتى تستكمل رزْقها وأجلَها

"هېڅ يو سا کښ تر هغې نه مري، چې رزق يې بشپړ شوی نه وي."

الله تعالٰی فرمايي:

﴿وَكُلُّ شَيْءٍ عِندَهُ بِمِقْدَارٍ ○﴾

"د هر شي لپاره يې يوه اندازه ټاکلې ده."

پيغمبرﷺ فرمايي:

ما يصيبُ المؤمنَ منْ همٍّ، ولا غمٍّ، ولا وصبٍ، ولا نصبٍ، ولا مرضٍ، حتى الشوكةُ يُشاكُها، إلا كفَّر اللهُ بها منْ خطاياهُ

"هر مصيبت، غم، اندېښنه، لوږه او ژوره چې يو مسلمان ورسره مخ کېږي، ان تر ازغي پورې، چې دی يې له خپلې پښې وباسي، الله تعالٰی يې له امله د هغه ګناهونه لمنځه وړي."

ابن المعز وايي:

پر الله تعالٰی له توکل نه بله ښه سورلي نشته او څوک چې پر الله تعالٰی اعتماد کوي تر دې چټک سفر بل نشته.

متنبي په خپلو حکيمانه شعرونو کې وايي:

ستا په بدن کې سا شته؛ نو له زمانې سره په بې پراويۍ مخ کېږه! او کوم شی چې تا ته خوښي ښيي هغه تل نشي پاتې کېدای او نه غم کوم غايب



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library


لوټلای شي!

الله تعالی فرمايي:

﴿لِّكَيْلَا تَأْسَوْا عَلَىٰ مَا فَاتَكُمْ وَلَا تَفْرَحُوا بِمَا آتَاكُمْ﴾

"دا هر څه د دې لپاره دي) چې تاسې ته که هر زيان وي، چې پر هغه باندې زړه ماتي نشئ او څه چې الله تعالی تاسې ته درکوي پر هغه ونه غوړېږئ."

## ۱۴۵ د نېکمرغۍ عناصر

امام ترمذي وايي:

که څوک په وجود روغ او د يوې ورځې خواړه ولري؛ نو داسې دې يې وګڼي، چې د ټولې نړۍ شيان او ښکلاوې ور سره دي.

الله تعالی د خپل پېغمبرﷺ په اړه فرمايي:

﴿وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي﴾

"او خپل نعمت مې پر تاسې پوره کړی دی."

هغه کومه لورنه وه، چې د پېغمبرﷺ په اړه بشپړه شوې وه؟ ايا هغه ماده وه او که کاغذ؟! ماڼۍ وې او که کورونه؟! سره زر وو او که سپين زر؟! پېغمبرﷺ د دغو څيزونو په اړه څه واکمني نه درلوده!

دغه قدرمن پېغمبرﷺ د ختو په يوه داسې کوټه کې ويده کېده، چې پر چت يې د خرماوو لښتې پرتې وې، د يو څو کيلو وريشو په بدل يې له يوه يهودي سره خپله ځغره ګرو کړې وه؛ درې ورځې وګی ګرځېده او درې



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

خرماوې يې هم نشوې ترلاسه کولای.

ما په دغه اړه په خپله قصيده کې داسې ويلي:

ته له دغې نړۍ نه په داسې حال کې رخصت شوې چې د خو کيلو وريشو په بدل دې له هغه سره د ځغرې د ګروۍ نښته هم لا پای ته نه وه رسېدلې!!!

هم ته د يتيمۍ پر مانا او مفهوم ښه برابر وې؛ تر دې چې ته د پلار مړو او مور مړو د يو ښه کفيل په توګه وپېژندل شوې، ستا لپاره د سترو مانيو په پرتله د ختو کوټه او يا د علم سمڅ بس ده! تا د فضايلو مضبوط برجونه جوړ کړل او له شانداره خېمو نه د فضايلو ستر مرکزونه.

الله تعالی فرمايي:

﴿وَ لَلْاٰخِرَةُ خَيْرٌ لَّكَ مِنَ الْاُوْلٰى﴾

"او اورومرو ستا لپاره وروستی دور له لومړي دور څخه ډېر ښه دی."

﴿وَ لَسَوْفَ يُعْطِيْكَ رَبُّكَ فَتَرْضٰى﴾

"او ډېر ژر به ستا رب تا ته دومره درکړي چې ته خوشحاله شې."

﴿اِنَّاۤ اَعْطَيْنٰكَ الْكَوْثَرَ﴾

"(ای پېغمبره!) بېشکه موږ تا ته کوثر درکړی دی."

## ۱۴٦ مقام او منصب

مقام او منصب د نړۍ په ژوندانه کې د ستړيا يو ستر عامل دی، څومره چې لوړ مقام ته رسېږې؛ نو هومره به نېکانو نه لرې وځې.



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

ابن الوردي وايي:

د نړۍ جاه او جلال خو زما د مخ پوستکی هم را نری کړ، د رذیلو خلکو دارمدار زښت زیات ورړ بولم.

د امارت غوښتنه مه کوه! تی ورکونکي ښځه ترټي بېلونکي غوره ده.

﴿هَلَكَ عَنِّي سُلْطَٰنِيَهْ ۝﴾

"زما ټول حکومت لمنځه لاړ."

یو شاعر وايي:

فرض کړه دغه ټوله نړۍ تا ته ورپيا په لاس درغله! خو پايله يې تر زوال پرته نور څه کېدای شي!

﴿وَّيَبْقَىٰ وَجْهُ رَبِّكَ ذُو الْجَلَٰلِ وَالْإِكْرَامِ ۝﴾

"او يوازې ستا د رب جليل او كريم ذات باقي پاتې كېدونكی دی."

يوه نېک سړي خپل زوی ته په نصيحت کې داسې وويل:

بچيه! مشرۍ ته زړه مه ښه کوه، ځکه مشري له دردونو او تکليفونو ډکه وي! مشري مه غواړه، ځکه په مشرۍ کې له کنځاوو، نيوکو، تا ويلو ما ويلو سره مخامخ کېدل دي.

د يو شاعر په وينا:

هغه څوک چې قدرت ته ورسېږي، که څه هم عدالت او انصاف وکړي؛ خو بيا به يې هم نيم خلک پر دښمنۍ راپورته کېږي.



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



## ۱٤۷ راځئ چې لمانځه ته ولاړ شو

الله سبحانه و تعالیٰ فرمايي:

﴿وَاسْتَعِينُوا بِالصَّبْرِ وَالصَّلَوٰةِ ۚ وَإِنَّهَا لَكَبِيرَةٌ إِلَّا عَلَى الْخَٰشِعِينَ﴾

"په صبر او لمانځه سره مرسته وغواړئ، په دې کې شك نشته چې لمونځ يو ډېر سخت کار دی؛ خو هغو امر منونکيو بندګانو ته سخت نه دی."

د اسلام د ستر او قدرمن پيغمبر ﷺ مبارک عادت دا و، چې څه ستونزه به ورپيښه شوه؛ نو بلال رضي الله عنه ته به يې امر وکړ، چې:

أرِحنْا بِها يا بلالُ

"ای بلاله! (په لمانځه) مو دمه کړه!"

جُعلت قرَّةُ عيني في الصلاةِ

"زما د سترګو يخوالی په لمانځه کې نغښتی دی!"

حافظ ابن حجر العسقلاني په مصر کې د يوې کلا لور ته ورغی، هلته غلو راونيو، چې غلو راونيو؛ نو له واره پر لمانځه ودرېد، چې پدې ډول الله تعالیٰ د غلو له ګوابښ او شره وساته.

ابن عساکر او ابن القيم ويلي دي چې:

يو نېک سړی شام ته روان و، په لار کښې يو وسله وال غله راونيو او د مرګ ګوابښونه يې ورته وکړل! هغه ورته وويل، چې که ته همدومره وخت راکړې، چې فقط دوه رکعته لمونځ وکړم، په دې ډول هغه پر لمانځه ودرېد او



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library


د الله تعالیٰ دغه وینا یې چې:

﴿ اَمَّنۡ یُّجِیۡبُ الۡمُضۡطَرَّ اِذَا دَعَاهُ ﴾

"څوك دی چې د بېکس بېوس دعا اوري."

په مکرر ډول ولوسته... نو له اسمانه یوه پرښته له یوې برچې سره راغله او غل یې وواژه او ویې ویل، چې زه د هماغه چا استازی یم چې د بېوسه او بې کسه پلوي او ملاتړ کوي.

الله تعالیٰ فرمایي:

﴿ وَ اۡمُرۡ اَهۡلَكَ بِالصَّلٰوةِ وَ اصۡطَبِرۡ عَلَیۡهَا ؕ لَا نَسۡـَٔلُكَ رِزۡقًا ؕ نَحۡنُ نَرۡزُقُكَ ؕ وَ الۡعَاقِبَةُ لِلتَّقۡوٰی ۝ ﴾

"خپلې کورنۍ ته د لمانځه توصیه وکړه او په خپله هم د هغه پابند اوسه موږ له تا نه کومه روزي نه غواړو، روزي خو موږ تا ته درکوو او د عاقبت ښېګنه د پرهېزګارۍ لپاره ده."

﴿ فَاِذَا قَضَیۡتُمُ الصَّلٰوةَ فَاذۡکُرُوا اللّٰهَ قِیٰمًا وَّ قُعُوۡدًا وَّ عَلٰی جُنُوۡبِکُمۡ ۚ فَاِذَا اطۡمَاۡنَنۡتُمۡ فَاَقِیۡمُوا الصَّلٰوةَ ۚ اِنَّ الصَّلٰوةَ کَانَتۡ عَلَی الۡمُؤۡمِنِیۡنَ کِتٰبًا مَّوۡقُوۡتًا ۝ ﴾

"بیا کله چې له لمانځه څخه وزګار شئ؛ نو د ولاړې او ناستې او ملاستې په هر حالت کې الله تعالیٰ یادوئ او کله چې ډاډه شئ نو پوره لمونځ ادا کړئ لمونځ په حقیقت کې یو داسې فرض دی چې د وخت له پابندۍ سره پر مؤمنانو لازم کړای شوی دی."

دغه راز هغه څه چې د سینې په پراختیا او د اندېښنو په لمنځه وړلو کې ستر رول لري، هغه پر پېغمبر ﷺ درود ویل دي.


Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



الله سبحانه وتعالیٰ فرمايي:

﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا صَلُّوا عَلَيْهِ وَسَلِّمُوا تَسْلِيمًا ﴾

''ای مؤمنانو! پر پیغمبر درود اوسلام ووایاست.

په حدیث شریف کې راغلي چې''

مَنْ صلّى عليَّ صلاةً واحدةً صلّى اللهُ عليهِ بها عَشْراً

''څوک که پر ما یو ځل درود ووايي؛ نو الله تعالیٰ به پرې لس ځله درود ووايي.''

په یوه بل حدیث کې راغلي دي چې:

أكثِروا من الصلاةِ عليَّ ليلة الجمعةِ ويوم الجمعةِ، فإنَّ صلاتكمْ معروضةٌ عليَّ

''تاسې د جمعې په شپه او ورځ پر ما باندې زيات درود وايئ، ځکه چې ستاسې درود ما ته وړاندې کولای شي.''

صحابه وو وپوښتل: زموږ درود او سلام تا ته څه ډول وړاندې کولای شي چې ستاسې هډونه به هم خاورې شوي وي؟!

هغه ﷺ وفرمايل:

''الله تعالیٰ پر ځمکه د انبياوو جسدونه خوړل حرام کړي دي.''

شيخ اسلام حافظ ابن تيميه رحمه الله وايي چې:

بشپړ درود همدغه ابراهيمي درود دی چې:

اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ اللَّهُمَّ بَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا بَارَكْتَ وَعَلَى إِبْرَاهِيمَ وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library


حَمِيدٌ مَجِيدٌ

یو شاعر وايي:

ستا په محبت کې موږ ټول ارزښتمن شيان هېرکړل، ځکه چې تر ټولو ارزښتمنه متاع یوازې هم ته يې، ستا په محبت کې پر موږ پړه غورځول کېږي؛ خو موږ د هېڅ ډول پړې او ملامتیا پروا نه ده کړې.

## ۱٤۸ صدقه او خیرات سینه پراخوي

د صدقې او خیرات ورکول نېکمرغي جلبوي او غمونه لرې باسي.

الله سبحانه وتعالٰی فرمايي:

﴿ أَنفِقُوا مِمَّا رَزَقْنَاكُم ﴾

"زموږ له درکړي مال او شتمنۍ نه لګښت وکړئ."

دغه راز فرمايي:

﴿ وَالْمُتَصَدِّقِينَ وَالْمُتَصَدِّقَاتِ ﴾

"ریښتیني نارینه او ریښتونې ښځې."

د اسلام ستر پیغمبر ﷺ فرمايي:

بخیل او سخي هماغو دوو سړیو ته ورته دي، چې دوه چپنې يې اغوستې وي! سخي سړی تل سخاوت کوي او له دغه امله يې پر چپنه او زغره کې هم پراخي رامنځته کېږي، تر دې چې د تنګسيا هېڅ نښه او اثر يې پاتې نشي! او بخیل چې خپل لاس کلک نیولی وي، تر دې چې چپن او زغره يې پرې هومره ورتنګه شي چې سا يې ورخپه کړي.


Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



الله جل جلاله فرمايي:

﴿ وَ مَثَلُ الَّذِيْنَ يُنْفِقُوْنَ اَمْوَالَهُمُ ابْتِغَآءَ مَرْضَاتِ اللّٰهِ وَ تَثْبِيْتًا مِّنْ اَنْفُسِهِمْ كَمَثَلِ جَنَّةٍۭ بِرَبْوَةٍ اَصَابَهَا وَابِلٌ فَاٰتَتْ اُكُلَهَا ضِعْفَيْنِ ۚ فَاِنْ لَّمْ يُصِبْهَا وَابِلٌ فَطَلٌّ ؕ ﴾

"د دې پر خلاف کوم خلك چې خپل مالونه يوازې د الله تعالىٰ د خوشالولو لپاره په ډاډه زړه او ثبات لګوي، د هغو د لګښت مثال داسې دى، لکه چې په کومه هسکه کې يو بڼ وي که شېبه باران پرې وورېږي؛ نو دوه چنده مېوې نيسي او که جړی پرې ونه ورېږي هم نو يوه رڼنۍ پرخه ورته کافي وي تاسې چې هرڅه کوئ الله تعالىٰ د هغو ليدونکی دی."

﴿ وَلَا تَجْعَلْ يَدَكَ مَغْلُوْلَةً اِلٰى عُنُقِكَ ﴾

"مه خپل لاس تر غاړې تړه او مه يې بېخي داسې غځولی پرېږده، چې پر او بېوسی پاتې شې."

﴿ اِنْ تُقْرِضُوا اللّٰهَ قَرْضًا حَسَنًا يُّضٰعِفْهُ لَكُمْ وَ يَغْفِرْ لَكُمْ ﴾

"که تاسې الله تعالىٰ ته حسنه پور ورکړئ؛ نو دوه چنده اجر به يې درکړي او ښننه به هم درته وکړي."

حاتم وايي:

قسم پر عالم الغيب ذات! هماغه چې خاورې شوې هډوکي را ژوندي کوي، چې کوم کمينه او ليم پر ناشولته خبره خوله ونه خوځوي، د اشتهامنو خوړو موجوديت کې مې بيا هم خپله خېټه راټوله کړې اوسي.



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:[redacted]//t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

## ۱۴۹ وقفه

شیخ الاسلام ابن القیم‌رحمه الله فرمايي:

ټول عارفان او ولیان په دې خبره همغږي دي، چې رسوايي همدا ده چې الله تعالی یو انسان خپل نفس ته وسپاري او د دوارو تر منځ اړیکې پرې شي! او توفیق دا دی چې الله تعالی یې خپل ځان ته حواله کړي، له هغه سره مل او ملګری شي، په دې ډول بندګان د توفیق او د نه توفیق ترمنځ اوړي او راوړي، بلکې په یوه ساعت کې دننه دننه خپله برخه هم له دې څخه اخلي او هم له هغې څخه، یانې د الله تعالی په توفیق سره د هغه اطاعت کوي او شکر یې پر ځای کوي، بیا یې نافرمانی او مخالفت ته ملا تړي، چې د ده د خذلان لامل ګرځي؛ نو کله چې یو بنده له دغه ډول دریځ سره پر خپله اړتیا وپوهېږي، چې د سترګو په رپ کې هم د الله تعالی توفیق ته اړتیا لري او که د الله تعالی توفیق یې لاس نیوی ونکړي؛ نو د هغه د ایمان هسک به پر ځمکه راپرېوځي او یوازې د اسمانونو رب یې ژغورلای شي.

## ۱۵۰ قرآن یو برکتي کتاب دی

د الله تعالی کتاب ښه په فکر او دقت سره لولئ، ځکه دا د هدایت او نور کتاب دی، په دې کې د سینو د ناروغیو درمل شته.

علماء فرمايي، چې د قرآن کریم تلاوت هم مبارک دی او عمل کول پرې لا د نېکمرغۍ لامل کېږي.

یوه ورځ زه ډېر غمجن وم؛ نو قران مجید مې پرانست او په تلاوت یې



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



بوخت شوم، الله تعالیٰ هغه غم زما له زړه نه وویست او زما سینه یې له خوښیو ډکه کړه.

## ۱۵۱ شهرت په ترلاسه کولو ټینګار مه کوه!

هغه چې د زړه سپېڅلتیا او ټیکاو ته ستر ټکان ورکوي شهرت طلبي او د خلکو خوښي لاسته راوړل دي، چې دا د ښو خلکو صفت نه دی، ښه خلک هماغه دي چې:

﴿لَا يُرِيدُونَ عُلُوًّا فِي الْأَرْضِ وَلَا فَسَادًا﴾

"چې په ځمکه کې خپله لویي نه غواړي او نه د فساد کولو اراده لري."

یو شاعر وايي:

نوم ورکي خلک له همدې پلوه ژوند او روحاني ځواکمني لاسته راوړي، چې د هغوی شپې په اضطراب او اندېښنو کې نه تېرېږي، ځکه اصول دا دي، چې توند او تېز باد لوړې ونې راغورځي.

په یو حدیث شریف کې راغلي دي چې:

"څوک، چې ریاکاري کوي او شهرت غواړي فقط همدغه څه به ترلاسه کړي."

الله تعالیٰ فرمايي:

﴿يُرَآءُونَ النَّاسَ﴾

"خلکو ته د ښودنې لپاره مړ ژوندي پاځېږي."



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

﴿وَّيُحِبُّوْنَ اَنْ يُّحْمَدُوْا بِمَا لَمْ يَفْعَلُوْا﴾

"چې په خپلو کړنو خوشاله دي او هيله من دي په داسې چارو کې يې ستاينه وشي چې په واقع کې هغوی نه دي کړي."

﴿وَلَا تَكُوْنُوْا كَالَّذِيْنَ خَرَجُوْا مِنْ دِيَارِهِمْ بَطَرًا وَّ رِئَآءَ النَّاسِ﴾

"او تاسې د هغو خلکو غوندې مه کېږئ چې له خپلو کورونو څخه وياړلي او خلکو ته د ښودنې لپاره راووتل."

يو شاعر وايي:

ثوبُ الرياءِ يشِفُّ عمَّا تحتهُ ... فإذا التحفْت بهِ فإنَّك عاري

"د رياء جامې څيرې او شلېدلې دي، که ته پرې خپل ځان پټول غواړې؛ نو نشې يې پټولای."

## ۱۵۲ سپېڅلی ژوند

د نېکمرغۍ د لاسته راوړلو په اسبابو کې پر رب العالمين ذات ايمان او باور لرل پياوړی رول لري! تر دې پرته نور ټول اسباب او لاملونه د يو چا په واک کې ورکړه دا چې په الله تعالیٰ ايمان نه لري ورته هېڅ ګټه نشي رسولای او هسې دې د هغې په لټون کې ځان نه ستړی کوي

د اقبال لاهوري په وينا:

دکافر پېژندنه په همدې سره ده چې په آفاق کې ورک دی او مؤمن هماغه دی چې افاق په ده کې ورک وي.

دلته سپېڅلی ژوند ترلاسه کول دوه شرطونه لري:



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



۱: پر الله تعالیٰ ایمان:

۲: نېک عمل:

الله تعالیٰ فرمايي:

﴿ كَلَّا ۚ لَا تُطِعْهُ وَاسْجُدْ وَاقْتَرِبْ ۩ ﴾

"هېڅکله داسې نه ده، د هغه خبره مه منه او سجده وکړه او (د خپل رب) نږدېوالی وګټه."

دغه راز دوې ګټې:

۱: سپېڅلی ژوند په دنيا کې:

۲: سپېڅلی ژوند په اخرت کې:

الله تعالیٰ فرمايي:

﴿ لَهُمُ الْبُشْرَىٰ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَفِي الْآخِرَةِ ﴾

"د دنيا او اخرت دواړو په ژوندانه کې د هغو لپاره زېرې زېرې دي."

## ۱۵۳ له ستونزو او پېښو مه وېرېږه!

په حديث شريف کې راغي چې:

إن الله إذا أحبَّ قوماً ابتلاهم. فمنْ رضي فلهُ الرضا. ومنْ سخط فَلَهُ السخطُ

"الله تعالیٰ چې کوم اولس په دوستۍ نيول غواړي؛ نو په ازمېښتونو کې يې ښکېل کړي، نو څوک چې پرې خوښ شو، الله تعالیٰ به هم ورڅخه خوښ شي او څوک چې پرې غوسه شو؛ نو الله تعالیٰ به هم



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

پرې غوسه شي.“

## ۱۵٤ د بندګۍ غوښتنې

د ایمان له لوازمو څخه دا ده چې ته باید د قدر په خیر او شر راضي اووسې.
الله تعالٰی فرمايي:

﴿وَلَنَبْلُوَنَّكُمْ بِشَيْءٍ مِّنَ الْخَوْفِ وَالْجُوعِ وَنَقْصٍ مِّنَ الْأَمْوَالِ وَالْأَنفُسِ وَالثَّمَرَاتِ ۗ وَبَشِّرِ الصَّابِرِينَ﴾

”موږ به ارومرو په ویره، خطر، لوږه، د سر او مال په تاوان او د عایداتو په خساره کې په اخته کولو پر تاسې ازمېښت کوو، ای پېغمبره! هغو کسانو ته زېری ورکړه چې په دې حالاتو کې صبر وکړي.“

د قضاء او قدر په اړه موږ د عبدیت په مقام کې قرار لرو، د څه وړاندیز کولو حیثیت نه لرو، د هربنده په اړه ازمېښت د هغه د ایمان په اندازه وي.
په حدیث شریف کې راغلي دي چې:

أشدُّ الناسِ بلاءً الأنبياءُ، ثمَّ الصالحون

”سخت او درانه ازمېښتونه پر پېغمبرانو راغلي و، بیا پر نېکانو.“
الله تعالٰی فرمايي:

﴿فَاصْبِرْ كَمَا صَبَرَ أُولُوا الْعَزْمِ مِنَ الرُّسُلِ﴾

”ای پېغمبره صبر وکړه لکه چې اولو العزمو پېغمبرانو صبر کړی دی.“



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



## ۱۵۵ له پاچاهۍ نه تر نجارۍ پورې

عباسي خلیفه علي بن المامون په یوه ستره او شانداره ماڼۍ کې اوسېده د هېڅ شي کمی ورسره نه و! یوه ورځ یې د ماڼۍ له کړکۍ نه ولیدل چې یو خواري کښ به کرۍ ورځ کار کاوه، کله به چې ځاښت شو؛ نو اودس به یې وکړ او د دجلې د سیند پرغاړه به یې دوه رکعته لمونځ وکړ، بیا به یې کار ته دوام ورکړ، ماښام ته څېرمه به خپل کورته لاړ، یوه ورځ خلیفه راوغوښت او د ژوند د چارو په اړه یې وپوښت؛ نو ورته جوته شوه، چې دی دوه خویندې او یوه مور لري، هره ورځ روژه نیسي او پر هماغه ورځني کسب کړي روزۍ یې ماتوي!

خلیفه ورته وویل: څه شکایت یا څه اړتیا لري؟

هغه ورته وویل: نه (الحمدلله رب العالمین) د دې خبرو په اورېدو سره خلیفه ماڼۍ او امارت دواړه پرېښودل او په یو اضطرابي حالت کې دباندې ووت او په خپله مخه لاړ.

څوکاله پس یې مړی په داسې حال وموندل شو چې د خراسان لورته یې د لرګیو په کوم تل کې یې نجاري کوله.

هو! دی چې د کومې نېکمرغۍ په لټه کې و هغه یې په امارت او ماڼۍ کې نه، بلکې په نجارۍ کې ومونده.

الله سبحانه وتعالی فرمايي:

﴿وَالَّذِينَ اهْتَدَوْا زَادَهُمْ هُدًى وَآتَاهُمْ تَقْوَاهُمْ ۝﴾



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



"پاتې شول هغه کسان چې هغوی هدایت موندلی دی الله تعالٰی هغو ته لا زیات هدایت ورپه برخه کوي او هغو ته د هغو برخه تقوی ورکوي."

ما ته د اصحاب الکهف (د سمڅې د یارانو) کیسه رایاده شي چې:

دوی په سترو سترو مانیو کې اوسېدل؛ خو دغه لوی مانۍ پرې د کفر له امله ورتنګې شوې، له اضطراب او اندېښنو سره لاس او ګریوان شول، ولاړل او دکوم غره په یوه سمڅه کې یې سره ځانونه خوندي کړل.

الله سبحانه وتعالٰی فرمايي:

﴿وَ اِذِ اعْتَزَلْتُمُوْهُمْ وَ مَا يَعْبُدُوْنَ اِلَّا اللّٰهَ فَاْوٗا اِلَى الْكَهْفِ يَنْشُرْ لَكُمْ رَبُّكُمْ مِّنْ رَّحْمَتِهٖ وَيُهَيِّئْ لَكُمْ مِّنْ اَمْرِكُمْ مِّرْفَقًا۝﴾

"کله چې اوس تاسې له هغو او د هغو له غیر الله معبودانو څخه خپلې اړیکې پرېکړې دي، نو ځئ فلانۍ څمڅې ته پناه یوسئ ستاسې رب به پر تاسې د خپل رحمت لمن پراخه کړي او ستاسې د کار لپاره به لارې چارې برابرې کړي."

د یو شاعر په وینا:

په کوم ځای کې چې یخه او تازه هوا لږېږي هغه ځای ما ته تر قصرونو هم غوره دی.

عربي متل دی چې وايي:

سَمُّ الخِياطِ مع الأحبابِ ميدانُ ...

"د ستنې سپم او سوری له خپلو یارانو سره تر میدان هم پراخه دی"



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



# ۱۵٦ له احمقانو سره ناسته ولاړه د اندېښنو لامل ده!

امام احمد رحمه الله وايي:

سخت زړي خلک همدغه پر بدعاتو اخته خلک دي او احمقان همدغه د ناوړه لاسوهنو خاوندان دي.

لکه د قرآن کریم په ژبه:

﴿كَأَنَّهُمْ خُشُبٌ مُّسَنَّدَةٌ﴾ ﴿لَا يَكَادُونَ يَفْقَهُونَ حَدِيثًا﴾

"خو په اصل کې دوی ګواکې د لرګي کُندې دي چې له دېوال سره په مرتب ډول درول شوې وي) (چې په هېڅ خبره نه پوهېږي)."

امام شافعي رحمه الله فرمايي:

احمق سړی چې ما ته څېرمه کېني، زه داسې اټکل کوم چې ځمکه هم هماغه لور ته کږېږي، چېرته چې دی ناست وي.

اعمش به چې سخت زړی او احمق انسان ليده؛ نو دغه مبارک ايت به يې لوسته:

﴿رَبَّنَا اكْشِفْ عَنَّا الْعَذَابَ إِنَّا مُؤْمِنُونَ ۝﴾

"(اوس وايي چې) ربه، له موږ څخه دغه عذاب ايسته کړه موږ ايمان راوړونکي يو."

يو شاعر وايي:

په قوم کې د افرادو طول او قصر ته مه ګوره! په دوی کې داسې خلک شته چې بدنونه يې دکچرو او عقلونه يې د چنچنو دي.



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله وايي:

له احمقانو سره ناسته او ولاړه، کټ مټ سرې تبې ته ورته ده.

الله سبحانه وتعالٰی فرمايي:

﴿وَإِذَا رَأَيْتَ الَّذِينَ يَخُوضُونَ فِي آيَاتِنَا فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ﴾

"او ای محمده! کله چې ته وکورې چې خلك زموږ په ایتونو کې نکتې لټوي نو د هغو له څنګه پاڅېږه."

﴿فَلَا تَقْعُدُوا مَعَهُمْ﴾

"له هغو سره مه کېنئ."

د اسلام ستر پیغمبرﷺ فرمايي:

مثلُ الجليسِ السيّئِ كنافخ الكيرِ

"له بدانو سره ناسته او ولاړه د اهنګر بنۍ ته ورته ده چې د سپرغیو له الوتلو څخه يې خوندي پاتې کېدلای نشي."

يو شاعر وايي:

أنت يا هذا ثقيلٌ وثقيلٌ وثقيلْ ... أنت في المنظرِ إنسانٌ وفي الميزان فِيلْ

"زه درته وایم چې ته زما په پرتله ثقیل او بیخي زیات ثقیل يې، په شکل انسان او په تله فیل يې."

شیخ الاسلام ابن القيم رحمه الله فرمايي:

کله چې له کوم ثقیل، سخت زړي او احمق سره مخ شې، نو خپل جسم ورته سپاره او روح ترې جلا کوه او چېرته لرې ترې څه او يا دا چې ړوند او کوڼ د هغه په وړاندې کېنه، چې الله تعالٰی تا ته پر هغه بريا



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

در په برخه کړي.

الله سبحانه وتعالیٰ فرمايي:

﴿وَ لَا تُطِعْ مَنْ اَغْفَلْنَا قَلْبَهٗ عَنْ ذِكْرِنَا وَ اتَّبَعَ هَوٰىهُ وَ كَانَ اَمْرُهٗ فُرُطًا۝﴾

"له هغه څخه چې زړه يې زموږ د ذکر په اړه په غفلت کې پروت دی او د خپل هوس پلوي کوي او معامله يې پر افراط او تفريط ولاړه وي له سره پلوي ونه کړې."

## ۱۵۷ د توحيد مناظر

د ستونزو او مشکلاتو پر مهال د توحيد مناظر له دغو چارو څخه عبارت دي.

۱: د بښنې منظره:

يانې مسلمان بايد له بښنې او تېرېدنې نه کار واخلي، له خلکو سره د بدو پر ځای ښه وکړي او په زړه کې چا ته کوندې ونه لري، له خپلو بدخواړو سره هم خواخوږي ولري.

لکه چې الله سبحانه وتعالیٰ فرمايي:

﴿فَمَنْ عَفَا وَ اَصْلَحَ فَاَجْرُهٗ عَلَى اللّٰهِ﴾

"چا چې عفوه او سوله وکړه؛ نو اجر يې پر الله تعالیٰ دی."

۲: د تقدير او قضاء منظره:

يانې ته پر دې باور ولرې، چې دغه ستونزې او مشکلات د تقدير يو



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

برخه ده، بنده سبب دی قضاوت د الله تعالیٰ په لاس کې دی، نو خپل مولا ته ځان تسلیم کړه.

۳: د ګناهونو د کفارې منظره:

او هغه په دې مانا، چې دغه ستونزې او مشکلات په اصل کې ستا د ګناهونو کفاره او د مرتبې د لوړتیا لاملونه دي.

الله تعالیٰ فرمايي:

"هماغه کسانو چې هجرت يې وکړ او له خپلو کورونو څخه وويستل شول او زما په لار کې وربړول شول، قتال يې وکړ او ووژل شول، نو ارومرو به يې موږ ګناهونه لمنځه يوسو".

يو زيات شمېر مسلمانانو ته الله تعالیٰ دغه حکمت وريه برخه کړی چې اصلا په زړونو کې دښمنۍ او اينډې ته له سره ځای نه ورکوي او عداوتونه په حکيمانه اسلوبو پای ته رسوي.

﴿ادْفَعْ بِالَّتِيْ هِيَ اَحْسَنُ فَاِذَا الَّذِيْ بَيْنَكَ وَ بَيْنَهٗ عَدَاوَةٌ كَاَنَّهٗ وَلِيٌّ حَمِيْمٌ○﴾

"چې هغه ډېره ښه وي ته به وګورې له تا سره چې د چا دښمني لوېدلې وه هغه دې لکه صميمي دوست ګرځېدلی دی."

په حديث شريف کې راځي چې:

المسلمُ من سلِم المسلمونُ من لِسانِهِ ويَدِهِ، والمؤمنُ من أمِنَهُ الناسُ على دمائِهم وأموالِهم

"پوره مسلمان هماغه څوک دی، چې نور مسلمانان يې د لاس او ژبې له زيانه خوندي پاتې شي."



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

الله تعالی فرمايي:

﴿وَ قُلْ لِّعِبَادِيْ يَقُوْلُوا الَّتِيْ هِيَ اَحْسَنُ ؕ اِنَّ الشَّيْطٰنَ يَنْزَغُ بَيْنَهُمْ ؕ اِنَّ الشَّيْطٰنَ كَانَ لِلْاِنْسَانِ عَدُوًّا مُّبِيْنًا ۝﴾

"او ای محمده! زما بندګانو ته ووايه چې له ژبې نه هغه خبره راوباسي چې ډېره ښه وي، په اصل کې دا شيطان دی چې د انسانانو په مينځ کې د فساد اچولو هڅه کوي، حقيقت دا دی چې شيطان د انسان ښکاره دښمن دی."

د يوه شاعر په وينا:

تل خنده رويه او خوښ اوسه، ځکه چې همدغه د يو اصيل انسان د اصالت صفحه او همدغه يې سر ليک دی.

٤: خپله نيمګړتيا منل:

ياني ته پر دې اعتراف وکړې، چې ستا په اړه دغه ناوړه تسلط ستا د ګناهونو پايله ده.

الله سبحانه وتعالی فرمايي:

﴿وَمَآ اَصَابَكُمْ مِّنْ مُّصِيْبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتْ اَيْدِيْكُمْ وَ يَعْفُوْا عَنْ كَثِيْرٍ ۝ؕ﴾

"پر تاسې چې هر مصيبت راغلی دی، ستاسې د خپلو لاسونو له عملونو نه راغلی دی او له ډېرو ګناهونو څخه هغه همداسې تېرېږي."

٥: عاطفه او ترحم کول:

ياني د ظالم د ناوړه عمل په بدل کې غبرګون نه ښايي، بلکې له عاطفې او ترحم نه به کار اخلې، چې هغه د ظلم او اذيت څخه لاس واخلي.

په حديث شريف کې راځي چې:



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

"له خپل مسلمان وروړ سره مرسته وکړه، هغه ظالم وي او که مظلوم."

وګوره ابوبکر صدیقﷺ ته د هغه لور (عائشيﷺ) په اړه د "مسطح" له پلوه چې یو ببوزله سړی و اذیت ورسېد، ابوبکر پرې خپله ورکړه بنده کړه، نو الله له بره نه پرېکړه راولېږله چې:

﴿وَ لَا یَاْتَلِ اُولُوا الْفَضْلِ مِنْكُمْ وَ السَّعَةِ اَنْ یُّؤْتُوْۤا اُولِی الْقُرْبٰی وَ الْمَسٰكِیْنَ وَ الْمُهٰجِرِیْنَ فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ ۪ۖ وَ لْیَعْفُوْا وَ لْیَصْفَحُوْا ؕ اَلَا تُحِبُّوْنَ اَنْ یَّغْفِرَ اللّٰهُ لَكُمْ ؕ وَ اللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِیْمٌ ○﴾

"له تاسې نه چې کوم کسان د مالي وس او قدرت خاوندان دي هغوی دې د دې خبرې لوړه نه کوي چې له خپلوانو، مسکینانو د الله تعالیٰ د لارې له مهاجرینو سره مرسته ونه کړي، هغوی باید عفوه وکړي او ورڅخه تېر دې شي. ایا تاسې نه غواړئ چې الله تاسې ته بښنه وکړي؟ او د الله صفت دا دی چې هغه بښونکی مهربان دی."

ابوبکر صدیق وویل: هو! ولې نه! نو بېرته یې د هغه په اړه خپلو ورکړو ته دوام ورکړ.

هلته د عیینه بن حصین او عمرﷺ ترمنځ څه تاو تریخوالی رامنځته شو او ناندرۍ یې سره وویلې، نو عمر د هغه د وهلو اراده وکړه، دا وخت حر بن قیس د قرآن کریم دغه ایت ورته ولوست چې:

﴿خُذِ الْعَفْوَ وَ اْمُرْ بِالْعُرْفِ وَ اَعْرِضْ عَنِ الْجٰهِلِیْنَ ○﴾

"ای پېغمبره! د نرمۍ او تېریدنې لاره غوره کړه، د ښو چارو ښوونکی اوسه او له ناپوهانو سره مه نښله."



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

راوي وايي چې د دغه آيت په اورېدو عمر رضی الله عنه پر خپل ځای
تينګ ودرېد.
هلته يوسفﷺ د خپلو ورونو د ناځونمردانه کړنې پر ارتباط هم داسې
وويل:
"نن ورځ پر تاسې څه پړه نه غورځوم، الله تعالی دې تاسې وبښي او
هغه تر هر چا زيات مهربان دی"
کټ مټ همدغه راز خبره د اسلام ستر پيغمبرﷺ د مکې د قريشو يوې
درنې ډلې ته هم کړې وه.

اذْهَبُوا فَأَنْتُمُ الطُّلَقَاءُ

"ورځئ تاسې ازاد ياست."
ابن المبارک رحمه الله وايي:
"که له يو چا سره دوستانه اړيکې ساتې؛ نو د خپلولۍ، صله رحمۍ او
شفقت معامله ورسره کوه! او پر يوه وړه تېروتنه ځوک تر ستوني کلک مه
رانيسه ګني هيڅ ملګری او دوست به پيدا نکړې"
هندوان وايي:
اتل او قهرمان هماغه ځوک دی چې پر خپل نفس قهر وکړي، نه دا چې
کوم ښار فتحه کړي.
الله سبحانه وتعالی فرمايي:

﴿إِنَّ النَّفْسَ لَأَمَّارَةٌ بِالسُّوءِ إِلَّا مَا رَحِمَ رَبِّي﴾

"نفس خو پر بدۍ هڅوونکی دی مګر دا چې پر چا زما د رب
رحمت وي."



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

[redacted]

## ۱۵۸ وقفه

د یونس ﷺ په دعا کې د رب العالمین ذات په اړه بشپړ توحید او پر خپلو ګناهونو د یو بنده اعتراف کول ښیي د کمال په درجه کې دي، چې دغه ډول دریغ د غمونو او اندېښنو په لمنځه وړلو کې ستر رول لري او تل د برې په لور اوړي.

## ۱۵۹ خپل ظاهر او باطن دواړو ته پاملرنه وکړه

پاکې جامې د پاک نفسي نښه ده! ځینې پوهان وايي:
د چا چې جامې خیرنې وي؛ نو زړه یې هم خیرن وي.
امام ترمذي رحمه الله حدیث نقل کړی چې:

إِنَّ اللَّهَ نَظِيفٌ يُحِبُّ النَّظَافَةَ
"الله تعالی سپېځلی دی او سپېځلتیا خوښوي."

د مسلم شریف حدیث دی:

إِنَّ اللَّهَ جَمِيلٌ يُحِبُّ الْجَمَالَ
"الله تعالی ښکلی دی او ښکلا خوښوي."

امام بخاري رحمه الله حدیث نقل کړی چې:
پر مسلمان لازم دي چې هره اونۍ غسل وکړي خپل سر او بدن پاک


[redacted]ook:https://[redacted]acebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

کړي او دا يې تر ټولو ټيټه اندازه ده! ګڼې د ځينو نېکانو عمل دا و چې هره ورځ به يې لامبل، لکه عثمان بن عفان رضي الله عنه نه روايت دی :

هَذَا مُغْتَسَلٌ بَارِدٌ وَشَرَابٌ

"دغه يخې او صفا اوبه د لامبلو او څښلو لپاره ښې مناسبې دي."

له بله پلوه فطري سنت د ږيرې پرېښودل، د بريتو لنډول، د نوکانو غوڅول، له بدن څخه د اضافي ويښتو لرې کول، مسواک وهل او د عطرو مښل، خپل ظاهري منظر جوړول ټول هماغه شيان دي، چې د نېکمرغۍ په ترلاسه کولو او د سينې په پراختيا کې رول لري، بيا په تېره د سپينې جامې کارول، په حديث کې راځي چې:

سپينې جامې واغوندئ او خپلو مړو ته يې کفن کړئ.

امام بخاري رحمه الله په دغه برخه کې ترجمة الباب لري:

باب لبس البياض «ان الملائكة تنزل بثياب بيض عليهم عمائم بيض»

پرېښتې له سپينو جامو او سپينو پګړيو سره رانښکته کېږي.

"دغه راز د يادښتونو په يوه وړوکې کتابچه کې د مواعيدو ترتيب، د وخت تنظيم او داسې نور...."

الله سبحانه وتعالی فرمايي:

﴿لِكُلِّ أَجَلٍ كِتَابٌ﴾ ﴿وَإِن مِّن شَيْءٍ إِلَّا عِندَنَا خَزَائِنُهُ وَمَا نُنَزِّلُهُ إِلَّا بِقَدَرٍ مَّعْلُومٍ ۝﴾

"(د هر وخت لپاره يو کتاب دی) (هيڅ شی داسې نشته چې د هغه زېرمې له موږ سره نه وي، او موږ چې هر شی نازلوو په يوه ټاکلې اندازه کې يې نازلوو)"



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



## ١٦٠ الله ته پناه يوسه

الله تعالیٰ اعرف المعارف، جليل القدر او عظيم الشان نوم او ستر حقيقت دی، په دې مانا کې يې لطافت دي.

علماء وايي:

الله تعالیٰ له (اله) څخه اخيستل شوی، په دې مانا چې زړونه ورته ميلان کوي او ډاډمني ترلاسه کوي.

همدا لامل دی چې د اسلام ستر پيغمبرﷺ خپلې لور فاطمې رضی الله عنها ته د غمونو زغملو په لړ کې دغه دعا ښوولې وه:

اللَّهِ اللَّهِ رَبِّي وَلَا أُشْرِكُ بِهِ شَيْئًا

الله تعالیٰ فرمايي:

﴿اَللّٰهُ لَطِيْفٌۢ بِعِبَادِهٖ﴾

"الله تعالیٰ پر خپلو بندګانو ډېر مهربان دی."

## ١٦١ پر الله تعالیٰ توکل کول

پر رب توکل د بنده نېکمرغي او خوښي لاپسې زياتوي او د هغه پر رعايت، حفاظت او حراست باور ولري.

الله سبحانه وتعالیٰ فرمايي:

﴿اَلَآ اِنَّ اَوْلِيَآءَ اللّٰهِ لَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ۝﴾



[redacted]k:https://ww[redacted]ook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

"پوه اوسئ چې د الله تعالیٰ پر ولیانو به هېڅ خوف او وېره، غم او اندېښنه نه وي."

## ۱۶۲ درې متفق علیه څېزونه

ما د اضطراب، غم او اندېښنې په اړه د هر لیکوال او ادیب، سیاستپوه او تاریخپوه، ښوونکیو او روزونکیو، ختیځوالې او لوېدیځوالې لیکنې او څېړنې له نظره تېرې کړې، نو دې پایلې ته ورسېدم، چې ټول سره په دې خبره متفق دي چې د سینې د پراختیا، شفاء او روغتیا د لاسته راوړلو بنسټ پر درېیو شیانو کېښودل شوی.

۱: له الله تعالیٰ سره اړیکې ټینګول او د هغه عبادت ته چمتو کېدل:

﴿فَاعْبُدْهُ وَاصْطَبِرْ لِعِبَادَتِهِ﴾

"نو ته د هغه بندګي وکړه او د همغه په بندګۍ باندې کلك اوسه."

۲: د ماضي دوسیه بنده کړه او له سره نوی ژوند پیل کړه.

۳: د یوه نامعلوم او غایب مستقبل په لور خپلې هیلې او توقعات شا ته وغورځوه او نن راټینګ کړه.

## ۱۶۳ ظالم الله ته وسپاره

د ظالم او مظلوم دواړو لپاره همدا خبره بس ده، چې یوه داسې ورځ را روانه ده، چې دوی به د الله تعالیٰ مخې ته ودرېږي او په دغه ورځ به هېڅ



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library

تېرى پر چا نه کېږي، ځکه په دغه ورځ به الله تعالی قاضيوي او ملايک به ګواهي ورکوي.

## ۱٦٤ کسرى او بوډۍ

د فارس حکيم بزر جمهور وايي:

يوه ايرانۍ بوډۍ له خپلې يوې چرګې سره دکسرى د ماڼۍ ترڅنګ په يوه جونګړه کې اوسېده، يوه ورځ يې کوم بل ځاى ته د تلو په تکل له خپلې چرګې سره الله په اماني وکړه، چې پناه شوه، نو کسرى راولګېد د خپل قصر او باغ د پراخۍ په خاطر يې د بوډۍ جونګړه ړنګه او چرګه يې ور ذبحه کړه!

بوډۍ چې کله راغله او پر خپله ورانه او ويجاړه جونګړه يې سترګې ولګېدلې؛ نو اسمان ته يې وکتل او داسې يې وويل، چې اى زما ربه! زه خو نه وم؛ نو ته چېرته وې؟ ظالمانو زما جونګړه او چرګه دواړه لمنځه وړي؟!

نو الله تعالی له هغې سره انصاف وکړ او له سرغړونکي کسرى څخه يې غچ واخيست، هغه داسې چې خپل زوى دى په چاړه وواهه او په ځاى يې مړ کړ.

الله تعالی فرمايي:

﴿ أَلَيْسَ اللَّهُ بِكَافٍ عَبْدَهُ ۖ وَيُخَوِّفُونَكَ بِالَّذِينَ مِن دُونِهِ ۚ وَمَن يُضْلِلِ اللَّهُ فَمَا لَهُ مِنْ هَادٍ ﴾

"(اى پيغمبره!) ايا الله تعالی د خپل بنده لپاره کافي نه دى؟ دوى له هغه پرته له نورو څخه تا وېروي، الله تعالی چې څوك په ګمراهۍ کې



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



وغورځوي د هغه لپاره کوم لا رښوونکي نشته.“

کاش! موږ ټول داسې شو، لکه د آدم علیه السلام هماغه زوی چې خپل متجاوز ورور ته يې وويل:

﴿لَئِنۢ بَسَطتَ إِلَيَّ يَدَكَ لِتَقۡتُلَنِي مَآ أَنَا۠ بِبَاسِطٖ يَدِيَ إِلَيۡكَ لِأَقۡتُلَكَ﴾

”که ته زما د وژلو لپاره لاس پورته کړې نو زه ستا د وژلو لپاره لاس نه پورته کوم.“

په یوه حدیث شریف کې راغلي چې:

”د الله يو مقتول بنده اووسه خو قاتل نه“

## ۱٦٥ کله نا کله نیمګړتیا هم کمال وي

الله سبحانه وتعالی فرمايي:

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ جَآءُو بِٱلۡإِفۡكِ عُصۡبَةٞ مِّنكُمۡۚ لَا تَحۡسَبُوهُ شَرّٗا لَّكُمۖ بَلۡ هُوَ خَيۡرٞ لَّكُمۡۚ لِكُلِّ ٱمۡرِيٕٖ مِّنۡهُم مَّا ٱكۡتَسَبَ مِنَ ٱلۡإِثۡمِۚ وَٱلَّذِي تَوَلَّىٰ كِبۡرَهُۥ مِنۡهُمۡ لَهُۥ عَذَابٌ عَظِيمٞ ۝﴾

”کومو کسانو چې دغه بهتان جوړ کړی دی هغوی ستاسې له منځه یوه ډله ده، دغه پېښه د ځان په باب شر مه ګڼئ، بلکې دا هم ستاسې لپاره خیر دی، چا چې په دې کې هر څومره برخه واخیستله هغه هماغومره ګناه راغونډه کړه او چا چې د دې مسوولیت لویه برخه پر غاړه واخیستله د هغه لپاره خو لوی عذاب دی.“

ځینې قهرمانانو د یوې عارضي نیمګړتیا له امله د کمترۍ احساس له



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram: https://t.me/afghans

Downloaded By: Afghan Salar Library



ځانه سره پیدا کوي! سره له دې، چې ډېر علماء لکه: سعید بن جبیر، قتاده، بخاري، ترمذي، ابوحنیفه، ازاد شوي غلامان وو، ډېر پوهان او د شریعت دریابونه لکه: ابن عباس، قتاده، ابن ام مکتوم، اعمش او یزید بن هارون په سترګو ړانده شوي وو.

او له متاخرینو علماوو څخه لکه:

محمد بن ابراهیم الشیخ عبدالله بن حمید، شیخ عبدالعزیز بن باز او داسې نور علماء او مخترعین داسې و چې د چا سترګې نه وې، څوک پر پښو شل و، څوک ګوډ او څوک کانه و؛ خو بیا هم د علومو، اختراعاتو او انکشافاتو له پلوه یې د انساني ژوند تورې تیارې پر ځلانده وړانګو بدلې کړې وې.

﴿وَيَجْعَل لَّكُمْ نُورًا تَمْشُونَ بِهِۦ﴾

"او تاسې ته به هغه نور په برخه کړي چې د هغه په رڼا کې به تاسې ځئ."

دلته دا ضروري نه ده چې یو عالم او داعي دې خامخا نړیوالې شهادت نامې دوکتوره او ماستري ولري!!!

موږ ډېر علماء او دعوتګر، ښوونکي او روزونکي ولیدل چې هېڅ ډول نړیوالې شهادتنامې یا بري لیکونه یې نه درلودل، مګر د علم او ثقافت د میدان اتلان او شهسواران ګڼل کېدل، د ساري په توګه: شیخ ابن باز، ماک بن نبي، عباس محمود العقاد، طنطاوي، ابو زهره، مودودي، ندوي او داسې نور پوهان!

د دې پر خلاف په نړۍ کې په زرګونو دکتوران او ماستران شته چې له سره یې نوم او نښه نه پېژندل کېږي او نه یې له ډاکترۍ او ماسترۍ نه چا ته څه ګټه رسېدلې، قناعت تر ټولو ستره خزانه ده او هماغه څوک ستر شتمن دی، چې د الله تعالی پر وېش خوښ شو.


Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

ما ته د یو سوداګر په اړه خبر را رسېدلی چې په میلیاردونو ډالر او په لس ګونو مانۍ یې درلودې؛ خو په انتهايي درجه کې بدخويه او زړه تنګی و، پایله یې دا شوه، چې له خپلې ښځې او بچیو نه په غربت او جلا وطنۍ کې مړ شو، ځکه چې د الله تعالی پر ورکړه راضي نه و، غوښتل یې دومره مال باید نور هم ولري.

﴿ثُمَّ يَطْمَعُ أَنْ أَزِيدَ ۝ كَلَّا ۖ إِنَّهُ كَانَ لِآيَاتِنَا عَنِيدًا ۝﴾

"بیا هغه تمه لري چې زه ورته نور لا زیات ورکړم هېڅکله نه، هغه زموږ د آیتونو دښمن دی."

ځوانیو عربو به د زړه راحت او سوکالي په صحرا او دښتو کې لټوله.

یو شاعر وایي:

د لېوه له غپا او کوکو سره رو ؛ خو نږدې ده، چې د انسان له اواز څخه بېخي والوځم او تېښته وکړم.

هلته ابو ذر غفاري رضي الله عنه کلي او ول ن پرېښود او ربذې نه ووت...

سفیان الثوري وایي:

"زما دا خبره خوښه ده چې د خپل ایمان او عقیدې د ساتنې په خاطر لرې چېرته په سر درو کې ا وسېږم او هېڅوک مې ونه پېژني"

په یوه حدیث شریف کې راغلي دي:

"داسې زمانه به راشي چې د یو مسلمان غوره مال به همدغه مېږې او وزې وي چې په غرونو او د وورښت په ځایونو کې به یې پیايي، له خپل دین او عقیدې سره به له فتنو نه خوندي پاتې کېږي"

د فساد او فتنې د رامنځته کېدو په صورت کې د یو مسلمان بنده لپاره خوندي لار همدا ده، چې د تېښتې او هجرت لار راخپله کړي، لکه



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Te... https://t.me/afg...

Downloaded By: Afghan Salar Library

د عثمانﷺ د وژل کېدو پر وخت چې عبدالله بن عمر، اسامه بن زید او محمد بن مسلمه رضي الله عنهم دغه کار کړی و.

زه ډېر داسې خلک پېژنم، چې له مال او شتمنیو څخه یې کڅوړې او بانکونه ډک وو؛ خو په ډول ډول غمونو او اندېښنو، فقر او غربت اخته شوي! لامل یې همدا دی چې د الله تعالیٰ له اطاعته یې اعراض کړی، د سترو او غټو ګناهونو ارتکاب یې کړی او په لمانځه کې یې سستي او تمبلي کړې، پایله یې دا شوه، چې الله تعالیٰ یې بدني عافیت ورڅخه سلب کړ او د رزق دروازې پرې ورتنګې کړې او په غمونو یې مبتلا کړي، یوه ستونزه یې لاپای ته نه وي رسېدلي چې پر بله اخته شوی وي.

الله سبحانه وتعالیٰ فرمایي:

﴿وَّاَنْ لَّوِ اسْتَقَامُوْا عَلَى الطَّرِيْقَةِ لَاَسْقَيْنٰهُمْ مَّآءً غَدَقًا﴾

"او (ای پیغمبره! ووایه ما ته دا وحې شوې چې) که خلك په ثبات سره پر سمه لاره تللی وای نو موږ به هغوی ښه خړوبه کړي وو."

زما دا خبره ښه ایسي چې یوه مجربه نسخه په لاس کې ولرم او ستاسې پر ویرجنو ټپونو یې کېږدم!

خو له کومه به یې کړم؟!

هو! د ملت د علماوو او د اسلامي شریعت د پوهانو له روغتون څخه پوه پاکه او صفا نسخه په لاس کې شته او هغه دا چې: د خپل خالق عبادت وکړه، د هغه پر وېش راضي اوسه، د هغه قضاء ته تسلیم شه او خپل امیدونه رالنډ کړه.

نامتو امریکایي ارواپوه «ولیم جایمس» وایي:

موږ انسانان د هغه څه په اړه فکر او اندېښنه کوو چې په واک کې یې نه لرو او هغه چې په واک کې یې لرو شکر پرې نه اوباسو... د خپل ژوند



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



تیاره اړخ ته ګورو او روښانه اړخ ته یې نه ګورو.

واعوذ با الله من نفس لاتشبع

په یوه حدیث کې راغلي دي:

"چا که په داسې حال کې سبا کړ چې د اخرت فکر ورسره و؛ نو الله تعالی به یې ټولې تیتې او پرکې ځواکمنۍ سره راټولې کړي، بډایتوب او غناء به یې په زړه کې ور واچوي او دنیا به ورته په ګونډو شي او د چا چې ستره موخه او لوی غم همدغه دنیا وي، نو ځواکمني به یې لاپسې تیت او پرک شي، فقر او بې وزلتوب به یې ورته د سترګو په وړاندې ونبودل شي او له دنیا نه به هماغومره په لاس ورشي څومره چې ورته لیکل شوي"

الله تعالی فرمايي:

﴿وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّنْ خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ لَيَقُولُنَّ اللَّهُ ۖ فَأَنَّىٰ يُؤْفَكُونَ ۝﴾

"که ته له دغو خلکو نه پوښتنه وکړې چې اسمانونه او ځمکه چا پیدا کړي دي، لمر او سپوږمۍ چا ښکېل کړي دي؛ نو ارومرو به ووايي چې الله تعالی، بیا نو دوی له کوم لوري غولول کېږي؟"

## ۱۶۶ هغوی هم ومنله

مشهور روسي ساینسپوه سخروف په دې خاطر سایبیریا ته وشړل شو؛ چې له کمونستي الحادي افکارو سره یې مخالفت درلود او دا خبره یې کوله:



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

يو مافوق الفطرت هستي شته، چې د نړۍ نظام چلوي.

کمونستان وايي:

الله تعالىٰ نشته او ژوند له مادې نه عبارت دی! د دغه روسي ساينسپوه نظر همدا خبره تايدوي چې انسانان د توحيد په فطرت پيدا شوي دي.

﴿فِطْرَتَ اللّٰهِ الَّتِيْ فَطَرَ النَّاسَ عَلَيْهَا﴾

"پر هغه فطرت محکم شه! چې پر هغه باندې الله تعالىٰ انسانان پيدا کړي دي."

ملحد انسان په هېڅ ځای کې ځای نه لري ځکه د هغه فطرت معکوس، ضمير يې مړ، وجود يې بې مقصده دی او اراده يې د الله جل جلاله د نظام مخالفه ده.

دکمونيزم تر سقوط دوه کاله وړاندې په واشنګټن کې د الفکر الاسلامي په معهد کې له يوه مسلمان پروفيسر سره مخ شوم، هغه راته د قرآن کريم د دغو مبارکو آيتونو په لوستو ووېل، چې دا پر کمونستانو ډېر ښه تطبيق دي:

﴿وَ نُقَلِّبُ اَفْئِدَتَهُمْ وَ اَبْصَارَهُمْ كَمَا لَمْ يُؤْمِنُوْا بِهٖۤ اَوَّلَ مَرَّةٍ وَّ نَذَرُهُمْ فِيْ طُغْيَانِهِمْ يَعْمَهُوْنَ۝﴾ ﴿بَغْتَةً وَّ هُمْ لَا يَشْعُرُوْنَ۝﴾

"موږ به هماغه شان د دوی زړونه او نظر اړوو لکه ځنګه چې دوی لومړی ځل پرې ايمان نه و راوړی. موږ دوی د دوی په همدې سرکشۍ کې لا ټانده پرېږدو"

"چې هغه په ناڅاپي ډول پر هغو باندې راځي او هغوی ناخبره وي"



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

## ۱٦٧ ځو شيبې له احمقانو سره

روسانو چې کله خپله فضايي بېړۍ سپوږمۍ ته ولېږدوله او بېرته راغله؛ نو يوه بېړيوان يې د روس د کمونست ګوند په مشهوره جريده «برېويدو» کې يوه داسې مقاله وليکله:

موږ خو اسمان ته ولاړو، هلته نه خدای و او نه پرښتې، نه جنت و او نه دوزخ!!

د نومووړي پر دغه خبره استاد "الحسن الزيات" په الرساله مجله کې پرې يوه ډېره ژوندۍ ليکنه وکړه، چې لنډيز يې په لاندې ډول دی:

افسوس! پر تاسې ای خرو! تاسې څه فکر کوئ چې تاسې به خپل رب د عرش د پاسه په ښکاره توګه وګورئ! په جنت کې به په وربښمينو جامو کې پوښل شوې حورې ووينئ، د کوثر د اوبو شنهار به واورئ! په دوزخ کې به د سوځېدنکيو بوی حس کړئ! ستاسې د دغه حماقت او ضلالت له دې پرته بله څه توجيه کېدلای شي چې ووايو: ستاسې سرونه او ماغزه له خناس کمونيزمه ډک دي او کمونيزم يوه داسې شپه ده چې سبا نه لري، يوه داسې ځمکه ده چې اسمان نه لري، يو داسې عمل دی چې پای نه لري او يوه داسې هڅه ده، چې پايله نه لري.

الله سبحانه وتعالی فرمايي:

﴿ لَهُمْ قُلُوبٌ لَّا يَفْقَهُونَ بِهَا وَ لَهُمْ اَعْيُنٌ لَّا يُبْصِرُونَ بِهَا وَ لَهُمْ اٰذَانٌ لَّا يَسْمَعُونَ بِهَا ﴾

"د هغوی زړونه شته خو هغوی ورباندې فکر نه کوي. د هغو سترګې شته خو څه ورباندې نه ويني. د هغوی غوږونه شته خو څه



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

[redacted]

پرې نه اوري."

﴿أَمْ تَحْسَبُ أَنَّ أَكْثَرَهُمْ يَسْمَعُونَ أَوْ يَعْقِلُونَ ۚ إِنْ هُمْ إِلَّا كَالْأَنْعَامِ ۖ بَلْ هُمْ أَضَلُّ سَبِيلًا ○﴾

"ايا ته انګېرې چې له دوی نه زياتره کسان اوري او پوهېږي؟ دوی خو د څارويو په شان دي بلکې له هغو نه هم ها خوا لار ورکي دي."

عقاد په خپل کتاب: "د ناروغيو مذهب" کې وايي:

سليم فطرت د اسلام حق دين مني مګر عقلي بيماران او د پوچو افکارو خاوندان الحاد او انکار کوي.

﴿طُبِعَ عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ فَهُمْ لَا يَفْقَهُونَ ○﴾

"او د هغو پر زړونو مهر ووهل شو، ځکه خو هغوی اوس په هېڅ نه پوهېږي."

همداراز الله جل جلاله فرمايي:

﴿أَفِي اللَّهِ شَكٌّ فَاطِرِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ﴾

"ايا د الله په باب شك دی، چې د اسمانونو او ځمکې پيدا کوونکی دی؟"

شيخ الاسلام ابن تيميه رحمه الله وايي:

په ظاهري او ثابت ډول له فرعون پرته هېڅچا هم له الله نه انکار نه دی کړی، دا په داسې حال کې چې فرعون هم په باطن کې د الله تعالی پر ربوبيت معترف وا

همدا لامل و چې موسی ﷺ فرعون ته ويلي وو:

﴿لَقَدْ عَلِمْتَ مَا أَنزَلَ هَٰؤُلَاءِ إِلَّا رَبُّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ بَصَائِرَ وَإِنِّي لَأَظُنُّكَ



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

يٰفِرۡعَوۡنُ مَثۡبُوۡرًا ۝﴾

”ته ښه پوهېږې چې دغه ستر کې پرانستونکي نښانې د اسمانونو او ځمکې له رب نه پرته بل چا نه دي نازلې کړي او زما ګومان دا دی چې ای فرعونه ستا هلاکت اوکم بختي راغلې ده.“

مګر فرعون د ژوند په وروستيو اضطراري شيبو کې د زړه پر همدغه خبره چيغه پورته کړې وه چې:

﴿اٰمَنۡتُ اَنَّهٗ لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا الَّذِیۡۤ اٰمَنَتۡ بِهٖ بَنُوۡۤا اِسۡرَآءِیۡلَ وَ اَنَا مِنَ الۡمُسۡلِمِیۡنَ ۝﴾

”ما ومنله چې له هغه ذات پرته بل حقيقي اله نشته چې پر هغه بني اسرايلو ايمان راوړی دی او زه هم د اطاعت سر ټيټوونکيو څخه يم.“

## ۱۶۸ فقط ايمان د خلاصون لاره ده

په کتاب: (الله يتجلى في عصر العلم) او دغه راز په کتاب: (الطب محراب الايمان) کې دا حقيقت په ډاګه شوی، چه پر الله تعالیٰ ايمان او باور يواځينی شی دی، چه له يوه بنده سره د هغه د غمونو او پريشانيو په ختمولو کې غته مرسته کوي.

﴿وَ مَنۡ یُّؤۡمِنۡۢ بِاللّٰهِ یَهۡدِ قَلۡبَهٗ﴾

”څوك چه پر الله تعالیٰ ايمان ولري الله تعالیٰ د هغه زړ ته هدايت وربښي.“

څوک که پر دې وپوهېږي، چې دغه هر څه د الله تعالیٰ د قضاء او تقدير په بنياد منځته راغلي دي؛ نو د هغه زړه د رضاء او تسليم طرف ته اوړي.



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

الله تعالیٰ فرمائي:

"په دې توګه موږ له هغوی څخه د هغوی پر اوږو بار او غاړو ته پرتې بیړۍ او ځنځیرونه بشکته کړل"

یو شاعر وائي:

"زه پوهېږم څه چې راته د الله تعالیٰ له طرفه رارسېدلي دي، هغه تر ما د مخه خلکو ته هم رسیدلي دي."

د نفسیانو په اړه لویدیځ مشهور لیکوالان لکه: کرسي مریسون، الکس کاریل او ډیل کارینګي دا خبره مني چې: د غرب لپاره چې په چټکۍ سره ئې د اخلاقو مانۍ نړېږي او پر خپل ژوند ستومانه دي، د ځان ژغورنې د پاره تر دې غیر بله لاره نه لري، چې باید پر الله تعالیٰ ایمان راوړي! په لویدیځ کې د انتحاري حوادثو د رامنځته کېدو اصلي سبب الحاد او له الله تعالیٰ نه مخ اړونه ده.

الله تعالیٰ فرمائي:

﴿لَهُمْ عَذَابٌ شَدِيدٌۢ بِمَا نَسُوا۟ يَوْمَ ٱلْحِسَابِ ۝﴾

"په یقیني ډول د هغو لپاره سخته سزا ده چې د حساب ورځ یې هېره کړه."

﴿وَمَن يُشْرِكْ بِٱللَّهِ فَكَأَنَّمَا خَرَّ مِنَ ٱلسَّمَآءِ فَتَخْطَفُهُ ٱلطَّيْرُ أَوْ تَهْوِى بِهِ ٱلرِّيحُ فِى مَكَانٍ سَحِيقٍ ۝﴾

"او څوک چې له الله تعالیٰ سره شریك ونیسي؛ نو داسې وګڼه چې هغه له اسمانه راپریووت، اوس به یا هغه الوتونکي په الوځولو وتښتوي یا به یې باد داسې ژور ځاے ته یوسي او وبه یې غورځوي، چې هلته هغه ټکوري لاړ شي."



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

د "الشرق الاوسط" جريدې د (۲۱/ ٤/ ١٤١٥ هجري) تاريخ په يوه ګڼه کې
د امريکا د پخواني ولس مشر "جورج بوش" په ارتباط وليکل چې:
نومړي څو ځو ځله پر ځانوژنه اقدام کړی.
يوه ورځ يې کوښښ وکړ، چې خپل موټر کومې کندې ته ګذار کړي.
بيايې کوښښ وکړ، چې ځان ځندۍ کړي.

## ۱٦٩ کفار هم درجې لري

د امريکا جمهور رئيس «جورج بوش» په خپله خاصه کتابچه کې د «وړاندې سفر» تر سر ليک لاندې يادونه کړې، چه دی د پخواني شوروي اتحاد جمهور رئيس «برژنيف» د جنازې مراسمو ته حاضرشو! بوش وايي:
زه مسکو ته لاړم او هلته مې د برژنيف د جنازې په مراسمو کې ګډون وکړ؛ څو داسې بې خونده او بې رنګه، بې روحه او بې ايمانه جنازه ما په خپل ژوند کې چيرته نه وه ليدلې دا ځکه چه بوش نصراني او برژنيف ملحد او کمونست و.
او الله تعالیٰ په قرآن کريم کې د دوی په اړه فرمايي:

﴿وَلَتَجِدَنَّ أَقْرَبَهُمْ مَّوَدَّةً لِّلَّذِينَ آمَنُوا الَّذِينَ قَالُوا إِنَّا نَصَارَىٰ﴾

"او د مؤمنانو لپاره به په دوستۍ کې ډېر نږدې هغه خلك ومومې چې هغوی ويلي وو چې موږ نصارا يو."
همدارنګه فرمايي:

﴿وَمَن يَبْتَغِ غَيْرَ الْإِسْلَامِ دِينًا فَلَن يُقْبَلَ مِنْهُ وَهُوَ فِي الْآخِرَةِ مِنَ



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegra... ps://t.me/afghansalar

الْخٰسِرِيْنَ ○﴾

"له اسلام نه غير چې هر څوك كوم بل دين غوره كړي هيڅكله په ورڅخه قبول نكړاى شي او په اخرت كې به هغه ناكام او تاواني وي."

له دې سره ما ته د شيخ الاسلام حافظ ابن تيميه رحمه الله هغه خبره را ياده شوه چې وايي:

د صوفيانو د "بطاحيه" بېلارې ډلې يو تن شيخ الاسلام ته وويل: څه وجه چې كله موږ دلته تا ته راشو؛ نو زموږ كرامت او عزت بېخي ختم شي او كله چې تاتاريانو ته ورشو؛ نو هلته زموږ كرامت او عزمت بېرته په ډاګه او ځلانده شي؟! ابن تيميه رحمه الله ورته وويل، چه زموږ او ستاسې مثال سپينو، بركو او تورو اسونو ته ورته دى، موږ سپين يو، تاسې برګ ياست او تاتاريان تک تور دي! برګ چې كله په تورو كې ګډ شي؛ نو سپين ښكاري او كله چې په سپينو كې ورګډ شي نو بيا تور ښكاري! زموږ د اهل السنة والجماعة رڼا او نور بېخي زيات دى، په دلته راتلو تاسې ته ستاسې تيارې او توروالى درښكاره شي او تاسې د دغه لږ نور له امله بيا د كفارو ترمنځ ځلانده ښكارئ.

الله سبحانه وتعالى فرمائي:

﴿وَ اَمَّا الَّذِيْنَ ابْيَضَّتْ وُجُوْهُهُمْ فَفِيْ رَحْمَةِ اللّٰهِ ؕ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ○﴾

"پاتې شول د ځلانده څېرو خاوندان، هغوى به د الله تعالى د رحمت په غېږ كې ځاى ومومي او د همېشه لپاره به هغوى په همدې حالت كې اوسېږي."



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

## ۱۷۰ پولادي عزم

يو مسلمان محصل د علم حاصلولو لپاره لندن ته لاړ، هلته له يوې اټالوي کفري کورنۍ سره يې استوګنه غوره کړه، د دې لپاره چې انګليسي ژبه زر او ښه زده کړي! دا چې محصل ديندار او پرهېزګاره سړی و، سهار به لمانځه ته وختي راپورته کېده او لمونځ به يې کاوه.

په دغه کور کې يوه بوډۍ ښځه وه، چې دې به يې همېشه څاره! يوه ورځ يې ورته وويل:

_ دا ته څه کوې؟

_ ما ته زما دين او ايمان امر کوي، چې دا کار وکړم!

_ که لږ ناوخته راپورته کېږې؛ نو خوب به دې پوره کېږي!

_ که زه ناوخته راپاڅم؛ نو زما رب بيا زما لمونځ نه قبلوي.

بوډۍ د سر په ښنډولو وويل:

"داسې اراده ده، چې اوسپنې ماتوي"

دغه محصل په کافرانو کې هم خپل دين ښکاره کړه او خپله کلکه اراده يې ورښکاره کړه او هغوی يې هک پک کړل او موږ ته ګوره، چه مسلمانان هم يو او په اسلامي هېوادونو کې اوسېږو؛ خو بيا هم لمونځونه قضا کوو او هيڅ پروا يې نه کوو؛ نو دا څومره حيرانوونکې خبره ده.

## ۱۷۱ د الله تعالی طرف ته

کله چې تورتم زيات شي، توپان را والوځي، تندرونه په ګرزاري لاس



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library
[redacted]

پورې کړي او له هر طرفه د مرګ ګواښونه متوجه شي، نو انساني فطرت راويښ شي او د ځان د خلاصون لپاره الله تعالی ته پر زاريو او دعاګانو لاس پورې کړي او کله يې چې هدف حاصل شي؛ نو بېرته پر خپله پخوانۍ دده کوږ شي.

﴿يُخَٰدِعُونَ ٱللَّهَ وَهُوَ خَٰدِعُهُمۡ﴾

"له الله تعالی سره د غولونې کار کوي په داسې حال کې چې په حقيقت کې الله تعالی هغوی په غوليدنه کې غورځولي دي."

مګر دغه وخت د فرعون شاګردانو ته بيا هيڅ هم په لاس نه ورځي.

فرعون ته الله جل جلاله وفرمايل:

﴿ءَآلۡـَٰٔنَ وَقَدۡ عَصَيۡتَ قَبۡلُ وَكُنتَ مِنَ ٱلۡمُفۡسِدِينَ ۝﴾

"(ځواب ورکړ شو) اوس ايمان راوړې! په داسې حال کې چې له دې نه لږ مخکې پورې؛ خو دې نافرماني کوله او له فساد کوونکيو څخه وې."

کله چې عراق پر کويټ يرغل وکړ او اشغال يې کړ، دا وخت د انګلستان لومړۍ وزيره "ميرمن تيچر" د امريکا د "کلورادو" په ايالت کې وه، سمدستي راپاڅېده او کليسا ته وتښتيده او هلته پر سجده پرېوته! دا د دې دليل دی چې انسانان اصلاً په ايماني فطرت پيدا شوي دي.

كُلُّ مَوْلُودٍ يُولَدُ عَلَى الْفِطْرَةِ

"هر ماشوم په اسلامي فطرت پيدا کېږي"



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

## ۱۷۲ د روزۍ پر ځنډېدو مه خپه کېږه

هغه چې د رزق په اړه د خپلې برخې د ترلاسه کولو په خاطر بېړه او عجله کوي داسې ده لکه یو څوک چې په لمانځه کې تر امام دمخه سلام ګرځوي.

امور او ارزاق دا مقدر دي، د انسان تر پیدا کېدو پنځوس زره کاله وړاندې لیکل شوي.

دلته د هیچا په وس پوره نه ده ترڅو د الله تعالیٰ پرېکړه وړاندې او یا وروسته کړای شي.

عمر رضي الله عنه دعا کړې:

ای الله! د فاجر د چټکۍ او هڅې او د باوري کس له بې همتۍ او تمبلۍ څخه تا ته پناه دروړم.

څومره په زړه پورې او زبردسته دعاء!

هلته ولید بن مغیره بن، امیه بن خلف او عاص بن وائل خپل مالونه د اسلام د ستر پیغمبر ﷺ او حق دین سره په دښمنۍ کې مصرفول.

الله تعالیٰ فرمايي:

"دېر ژر به دوی خپل مالونه صرف کړي؛ خو افسوس به وکړي او د ناکامۍ څپېړه به يې هم پرمخ ولږېږي"

مګر افسوس د یو شمېر مسلمانانو پر حال هم چې د ایمان د عمارت او د فضیلت د ودانیو د استحکام او سر لوړۍ په برخه کې مال د مصرفولو په اړه له بخل او کنجوسۍ نه کار اخلي!

﴿وَمَنْ يَبْخَلْ فَإِنَّمَا يَبْخَلُ عَنْ نَفْسِهِ﴾



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



"او هغوی چې بخیلي کوي په حقیقت کې خپله له خپل ځان سره بخیلي کوي."

د «ګوالډ مایر» په ځاني کتابچه کې د «اینډې» تر سر ټکي لاندې دا خبره په ډاګه شوې چې هغې د خپل ژوند په یوه مرحله کې پوره شپاړلس ساعته مسلسل کار کاوه؛ د خپل باطل هدف د تحقق لپاره یې له بن ګوریان سره ملګرتیا ټینګه کړه او بالاخره د یو یهودي ریاست په رامنځته کولو بریالۍ شوه! افسوس زموږ د یو شمېر ځوانانو په اړه چې که د یو کار په سرته رسولو کې یې امین وګرځوې، نو یو ساعت کار هم په صحیح توګه نه کوي! فقط په لهو لعب، خوراک څښناک او خوب وخت ضایع کوي.

الله تعالیٰ فرمايي:

"(دا پر تاسې څه شوي کله چې درته وویل شي چې د الله تعالیٰ په لاره کې ووځئ نو خپل ځانونه د ځمکې سره لیمخې کړئ؟!)"

عمر رضي الله عنه د کارونو په سرته رسولوکې ډېر هڅانده و؛ شپه او ورځ به یې کار کاوه، ښځې یې ورته وویل: ایا تاسې خوب نه کوئ؟؟ هغه وویل: که د شپې خوب کوم؛ نو خپله ضایع کېږم او که د ورځې خوب کوم؛ نو رعیت ضایع کېږي.

"موشي دایان" د خپلو یادښتونو په کتابچه کې د "تورې حکمت" تر سر ټکي لاندې په ډاګه کوي چې: شپه او ورځ په کارونو کې مصروف او مشغول، له یوه هېواد نه بل هېواد ته او د بل نه بل ته سفرونه، غونډې او اجتماعات او داسې نورې هلې ځلې! زه وایم افسوس د بیزوګانو او سرکوزو د ورونو پر هڅو او کړندیو ګامونو او د یو شمېر مسلمانانو پر عجز او تمبلۍ.

د یو شاعر په قول:

موږ د لقیطه کورنۍ د شیبان زاو زاد پاخه لټان یو؛ که زه د مازن د



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

خاوندانو څخه وای، نو زما اوښ به نه لټ کېده.

عمرﷺ د لټۍ او تمبلۍ پر ضد سخته مبارزه کړې! يو شمېر ځوانان په جومات کې اوسېدل ورغی او ويې وهل او ورته يې وويل: ووځئ او روزي ولټوئ، ځکه چې آسمان سره زر او سپين زر نه ورو ي! بېکاري او لټي وسوسې او رواني ناروغۍ رامنځته کوي او نېکمرغي لمنځه وړي، له دې امله په ځانو کې خوښي او نشاطات را پيدا کړئ.

الله تعالیٰ فرمايي:

(وَ قُلِ اعْمَلُوْا)(فَانْتَشِرُوْا فِی الْاَرْضِ)(سَابِقُوْٓا)او(وَ سَارِعُوْٓا)

(دوی ته ووايه چې تاسې عمل کوئ) (نو په ځمکه کې خواره شئ) (وځغلئ) (پر هغه لاره په منډه منډه وځغلئ).

او داسې نورې بېلګې...

شيخ راشد په خپل کتاب: «د ژوند جوړول» کې وايي:

ډېر خلک په ظاهره ژوندي ښکاري؛ خو په حقيقت کې مړه دي او د ژوندانه په راز له سره خبر نه دي، امت څه چې د خپل مستقبل لپاره هېڅ هم له ځانه سره نه لري.

﴿رَضُوْا بِاَنْ يَّكُوْنُوْا مَعَ الْخَوَالِفِ﴾

"هغوی په کور ناستو کسانو کې شاملېدل غوره کړل."

﴿لَا يَسْتَوِی الْقٰعِدُوْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ غَيْرُ اُولِی الضَّرَرِ وَ الْمُجٰهِدُوْنَ فِیْ سَبِيْلِ اللّٰهِ﴾

"له مسلمانانو څخه هغه کسان چې بې عذره په خپلو کورونو کې ناست دي او هغه کسان چې د الله تعالیٰ په لار کې په سر او مال جهاد کوي، د دواړو حيثيت يو شان نه دی."



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

هماغه توږپوستي ښځه چې د رسول اللهﷺ په جومات کې به یې جارو وهله، هغه د خپل ژوند په راجوړولو او پر همدغه عمل جنت ته د تلو ور وکرځیده.

دغه راز هماغه غلام چې رسول اللهﷺ ته یې منبر جوړ کړ او د نجارۍ مزدوري یې لاس ته راوړه، هغه هم خپل ژوند جوړ کړی و!

الله سبحانه وتعالیٰ فرمایي:

﴿وَالَّذِينَ لَا يَجِدُونَ إِلَّا جُهْدَهُمْ﴾

"له دې پرته نور څه نشته چې هغوی پر خپل ځان تکلیف تېروي او لګښت کوي."

د امریکا په متحده ایالاتو کې په ۱۹۸۵ م کال یو شمېر اسلامي دعوتګرو ته اجازه ورکړه، چې د هغوی بندیخانو ته وردننه شي او له زندانیانو سره وګوري؛ چې دغه کار د ډېرو امریکايي مجرمانو، قاتلانو د اسلام راوړلو او هدایت لامل شو او په خپلو ټولنو کې یې د نورو د هدایت لپاره کار وکړ...!

دلته د حوادثو او پېښو په وړاندې له یو مسلمان سره دغه دوه دعاګانې چې د اسلام د ستر پیغمبرﷺ له مبارکې خولې څخه نقل شوي په زړه پورې مرسته کولای شي:

اللَّهُمَّ اهْدِنِي وَسَدِّدْنِي [راوه مسلم]

اللَّهُمَّ أَلْهِمْنِي رُشْدِي ، وَأَعِذْنِي مِنْ شَرِّ نَفْسِي. [رواه ابوداود]

د یو شاعر په وینا:

که له یو بنده سره د الله تعالیٰ مرسته نه وي؛ نو د هغه اجتهاد او هلې ځلې ناسمې هم ثابتېدلای شي.

د دغې نړۍ پر ژوندانه حرص او ټینګار او سترې سترې ارزوګانې،



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

انسان له ډول ډول اندېښنو او رنځونو سره مخ کوي.

الله تعالیٰ فرمايي:

﴿وَ لَتَجِدَنَّهُمْ اَحْرَصَ النَّاسِ عَلٰى حَيٰوةٍ ۚ وَ مِنَ الَّذِيْنَ اَشْرَكُوْا ۚ يَوَدُّ اَحَدُهُمْ لَوْ يُعَمَّرُ اَلْفَ سَنَةٍ ۚ وَمَا هُوَ بِمُزَحْزِحِهٖ مِنَ الْعَذَابِ اَنْ يُّعَمَّرَ ؕ وَاللّٰهُ بَصِيْرٌۢ بِمَا يَعْمَلُوْنَ ۝﴾

"ته به ارومرو دوی له بل هر چا نه د ژوند حريصان ومومې آن تر دې چې دوی په دې کار کې له مشرکانو نه هم وړاندې شوي دي د دوی هر يو دا غواړي چې کاشکې زرکاله ژوند وکړي په داسې حال کې چې اوږد عمر خو دوی له عذابه لرې غورځولای نه شي څه عملونه چې دوی کوي الله تعالیٰ هغهويني."

## ۱۷۳ د ژوند ارزښتمنې شيبې

د مصر نامتو عالم طنطاوي د خپل يادښت په کتابچه کې ليکلي دي، چې زه په ژوند کې له دوو اريانوونکيو پېښو سره مخ شوی يم:

۱: يو هغه مهال چې ما د لبنان په سمندرګي کې لمبل؛ نو بې هوښه شوم، روغتون ته يوړل شوم؛ نو زه الله تعالیٰ ته په زارو وم، چې لږ نور وخت راکړه، چې نېکۍ پکې وکړم او نېکۍ مې ډېرې شي.

۲: د حج په تکل له يوه کاروانه سره مل شوم؛ خو کله چې سعودي ته ورننوتو؛ نو په دښته کې مو لار ورکه کړه، تر درېيو ورځو پورې په دغه صحرا کې سر وهلي بر وهلي سرګردانه يو خوا او بل خوا ګرځېدو، تر دې چې له لوږې مو مرګ په خپلو سترګو وليد، نږدې وه چې له لوږې مړ وای،



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



ما په دغه وخت کې د رخصتۍ خطبه پیل کړه، په دې خاطر، چې نېکۍ مو یو څه ډېرې شي، د همدغې وینا برکت و، چې د ټولو ایمان تر عروجه ورسېد.

## ١٧٤ غوره بدله

ام سلمةرضي الله عنها وايي چې:

سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِﷺ، يَقُولُ: " مَا مِنْ مُسْلِمٍ تُصِيبُهُ مُصِيبَةٌ، فَيَقُولُ مَا أَمَرَهُ اللهُ: {إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ} [البقرة: ١٥٦]، اللهُمَّ أْجُرْنِي فِي مُصِيبَتِي، وَأَخْلِفْ لِي خَيْرًا مِنْهَا، إِلَّا أَخْلَفَ اللهُ لَهُ خَيْرًا مِنْهَا "، قَالَتْ: فَلَمَّا مَاتَ أَبُو سَلَمَةَ، قُلْتُ: أَيُّ الْمُسْلِمِينَ خَيْرٌمِنْ أَبِي سَلَمَةَ؟ أَوَّلُ بَيْتٍ هَاجَرَإِلَى رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم، ثُمَّ إِنِّي قُلْتُهَا، فَأَخْلَفَ اللهُ لِي رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم » [٢٢]

"ما له نبيﷺ څخه اورېدلي دي، چې ویل یې، هېڅ یو داسې مسلمان نشته، چې هغه ته مصیبت ورسېږي او هغه پرې {إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ} او اللهُمَّ أْجُرْنِي فِي مُصِيبَتِي، وَأَخْلِفْ لِي خَيْرًا مِنْهَا ووایي؛ نو الله تعالی به ورته تر دې غوره بدله ورکړي، امه سلمة رضی الله عنها وایي، کله چې زما مېړه ابو سلمهﷺ مړ شو؛ نو زما دا گومان هم نه و، چې گوندې تر هغه غوره به هم څوک وي، ځکه دا لومړنی کور و، چې نبيﷺ ته یې هجرت کړی و؛ نو ما بیا هم دا کلمات وویل؛ نو

[٢٢]: صحیح مسلم (٢ / ٦٣١)



[redacted]ttps://www.fa[redacted]k.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



الله تعالیٰ ما ته نبيﷺ په نکاح را کړه."

همدا راز ابوهریرةﷺ فرمايي:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضی الله عنه، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم: " مَا كَرَبَنِي أَمْرٌ إِلَّا تَمَثَّلَ لِي جِبْرِيلُ عليه السلام، فَقَالَ: يَا مُحَمَّدُ، قُلْ: تَوَكَّلْتُ عَلَى الْحَيِّ الَّذِي لَا يَمُوتُ، وَالْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي لَمْ يَتَّخِذْ وَلَدًا، وَلَمْ يَكُنْ لَهُ شَرِيكٌ فِي الْمُلْكِ، وَلَمْ يَكُنْ لَهُ وَلِيٌّ مِنَ الذُّلِّ وَكَبِّرْهُ تَكْبِيرًا «هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحُ الْإِسْنَادِ، وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ»

"ابو هریرةﷺ وايي نبيﷺ فرمايلي دي، چې زه هيڅ يو کار نه يم غمجن کړی، مگر جبريلﷺ به راتله او ما ته به يې ويل، چې ای محمدهﷺ! دا کلمې وايه:

تَوَكَّلْتُ عَلَى الْحَيِّ الَّذِي لَا يَمُوتُ، وَالْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي لَمْ يَتَّخِذْ وَلَدًا، وَلَمْ يَكُنْ لَهُ شَرِيكٌ فِي الْمُلْكِ، وَلَمْ يَكُنْ لَهُ وَلِيٌّ مِنَ الذُّلِّ وَكَبِّرْهُ تَكْبِيرًا."

## ۱۷۵ د ښو چارو په ترسره کولو خوښي ترلاسه کېږي

د حاتم طايي په ديوان کې دغه خبره زما ډېره زياته خوښه شوې چې وايي: که شرارت پرېښودل ستا درد دوا کولای شي؛ نو ولې يې نه پرېږدې؟!.

الله سبحانه وتعالیٰ فرمايي:

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library

﴿فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ﴾ ﴿وَدَعْ أَذَاهُمْ﴾

له هغو سره غرض مه کوه) (د هغو د ضرر رسولو هېڅ پروا مه کوه).

له خلکو سره د خیر رسوونې مینه او ولوله الهي ډالۍ او بختوره ورکړه ده.

عبدالله بن عباس رضي الله عنه د الله تعالٰی پر دغه لورنه داسې اعتراف کوي:

"په ما کې درې خویونه دي، یو دا چې په هر ځای کې باران وشي؛ نو زه پرې خوښېږم او د الله تعالٰی شکر پرې کوم، که څه هم هلته زما کوم اوښ او پسه نه وي.

دویم دا چې په هرځای کې دکوم عادل قاضي په اړه څه واورم؛ نو دعا ورته کوم؛ که څه هم زما هېڅ کومه قضیه ورته نه وي وړاندې شوې.

دریم دا چې د الله تعالٰی کتاب پر کوم آیت پوهېدلی یم؛ نو غواړم، چې ټول خلک پرې زما په څېر وپوهېږي"

یو شاعر وايي:

فلا نزلتْ عليَّ ولا بأرضي ... سحائِبُ ليس تنْتَظِمُ البلادا

"هغه باراني وریځ، چې ټولو ښارونو او سیمو ته عامه نه وي یوازې یې د خپل ځان لپاره نه غواړم."

## ۱۷۶ ګټور علم او زیاني علم

اصلاً علم په دوه ډوله وېشلای شوی:

۱: ایماني علم.

۲: کفري علم.

الله تعالٰی د خپلو دښمنینو په اړه فرمایي:



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

﴿يَعۡلَمُونَ ظَٰهِرٗا مِّنَ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَهُمۡ عَنِ ٱلۡأٓخِرَةِ هُمۡ غَٰفِلُونَ ۝﴾

"دوی یوازې د دنیا د ژوند په ظاهري اړخ باندې پوهېږي او له اخرت نه په خپله هماغوی غافل دي."

بیا د دوی په اړه فرمايي:

"د دوی علمي رسد او درک فقط همدومره دی"

او داسې نورې بېلگې.....

په همدې ترتیب الله تعالٰی د یهودو د پوهې په اړه فرمايي:

﴿كَمَثَلِ ٱلۡحِمَارِ يَحۡمِلُ أَسۡفَارَۢا﴾

"د هغو مثال د هغه خره په څېر دی، چې کتابونه پرې بارکړای شوي وي."

دغه راز فرمايي:

﴿وَٱتَّبَعَ هَوَىٰهُۚ فَمَثَلُهُۥ كَمَثَلِ ٱلۡكَلۡبِ﴾

"او د خپل نفس پیروي يې وکړه؛ نو د هغه حالت د سپي په څېر شو.

دغه ډول علم، علم دی؛ خو لارښوونه نشي کولای."

برهان دی؛ خو روغتیا ښوونکی نه دی.

حجت دی؛ خو قاطع نه دی.

نقل دی؛ خو صادق نه دی.

کلام دی؛ خو حق نه دی.

ښوونه ده؛ خو د سر غړونې لور ته.

پاملرنه ده؛ خو د سر غړونې لور ته.

تاسې ووایئ، چې د دغه ډول علم خاوندان به څنگه نېکمرغي ترلاسه کړي؟!



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

الله سبحانه وتعالیٰ فرمايي:

﴿فَاسْتَحَبُّوا الْعَمٰى عَلَى الْهُدٰى﴾

"هغوی د لارې لیدو پر ځای (د ګمراهی) روند توب غوره کړ."

هو! کوم علم او پوهه، چې د الله تعالیٰ د معرفت په لور منتج کېږي، همدغه ايماني علم او پوهه ده، چې خاوند يې د لويې برخې واكمن بلل کېږي.

الله جل جلاله فرمايي:

﴿وَمَنْ يُّؤْتَ الْحِكْمَةَ فَقَدْ اُوْتِيَ خَيْرًا كَثِيْرًا﴾

"او چا ته چې حکمت ورکړ شي، هغه ته په حقيقت کې ستر دولت ورکړ شو."

ماپه واشنګټن کې د کانګرس لوی کتابتون وليد، چې د هر هنر، د هر ولس د تمدن او کلتور له لکونو کتابونو څخه ډک و؛ خو په تاسف سره بايد ووايو، چې دغه ستر کتابتون د يوه داسې ولس په واک کې و، چې له خپل پالونکي او پيدا کوونکي منکر دي.

الله تعالیٰ د دوی په اړه داسې فرمايي:

﴿وجعلنا لهم سمعا وابصارا وافئدة فما اغنى عنهم سمعهم ولا ابصارهم ولا افئدتهم من شئ﴾

"دوی ته موږ داسې زړونه، سترګې او غوږونه ورکړي وو، چې هيڅ ګټه يې دوی ته ونشوه رسولای."

چمن تک شين دی؛ خو پسه ناروغ دی او نه څري!

اوبه ښې خوږې دي؛ خو د خولو خوند تريخ او بد دي!

الله سبحانه وتعالیٰ فرمايي:



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



”د قدرت څومره نښې مو هغوی ته په ډاګه کړې؛ خو ورځخه مخ اړولی“

## ۱۷۷ پراخه معلومات او ژور فکر

هغه چې د سینې په پراختیا کې رول لري، زیاته پوهه، ژوره څېړنه، پراخه کلتور، ژور فکر، پراخه نظر، د مقاصدو ادراک او د حقائقو انکشاف دی.

الله سبحانه وتعالیٰ فرمایي:

﴿وَمِنَ النَّاسِ وَالدَّوَآبِّ وَالْأَنْعَامِ مُخْتَلِفٌ أَلْوَانُهُ كَذَٰلِكَ ۗ إِنَّمَا يَخْشَى اللَّهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمَاءُ ۗ إِنَّ اللَّهَ عَزِيزٌ غَفُورٌ ○﴾

”او په همدې ډول د انسانانو، ځناورو او ځارویو رنګونه هم بېلابېل دي، حقیقت دا دی چې د الله تعالیٰ له بندګانو نه یوازې عالمان له هغه نه وېرېږي. بېشکه الله تعالیٰ لاسبرى او ښښونکی دی.“

دغه راز فرمایي:

﴿بَلْ كَذَّبُوا بِمَا لَمْ يُحِيطُوا بِعِلْمِهِ وَلَمَّا يَأْتِهِمْ تَأْوِيلُهُ ۚ كَذَٰلِكَ كَذَّبَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ ۖ فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الظَّالِمِينَ ○﴾

”اصلي خبره دا ده چې کوم شی چې د دوی د علم په احاطه کې نه دی راغلی او د کوم شي راتلونکی چې د دوی تر نظر لاندې نه ده راغلې دوی هغه (ارومرو په اټکلي ډول) دروغ وګڼه په همدې ډول خو له دوی نه مخکې خلکو هم د دروغو نسبتونه کړي دي؛ نو وګوره



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

[redacted]

د هغو ظالمانو څه عاقبت شو."

عالم هماغه دی، چې پراخه سینه او پراخه ظرفیت، پریمانه علم، دادمن زړه ولري.

یو شاعر وايي:

په زیات انفاق او صرف کولو سره مال لاپسې زیاتیږي او د لاس په نیولو کمیږي.

یو غربي مفکر وايي:

زما پر میز باندې یوه دوسیه پرته ده، چې پر پښتۍ یې لیکل شوي دي:

په دغه دوسیه کې زه خپلې ټولې هغه خطاګانې او تېروتنې، چې د ځلرویشتو ساعتو په اوږدو کې له ما څخه صادریږي لیکم.

زه وایم:

له تا نه مخکې دغه کار سلفو علماوو هم له خپل ځان سره د محاسبې په شکل کړي.

الله جل جلاله فرمايي:

﴿وَلَآ أُقۡسِمُ بِٱلنَّفۡسِ ٱللَّوَّامَةِ ۝﴾

"او نه، زه قسم خورم په ملامتوونکي نفس باندې."

حسن بصري رحمه الله وايي:

یو مسلمان باید د خپل شریکوال په اړه له خپل ځان سره محاسبه وکړي.

ربیع بن خیثم به له یوې جُمعې نه تر بلې پورې خپلې ټولې خبرې لیکلې، که ښه خبره به یې پکې وموندله؛ نو د الله تعالیٰ شکر به یې پرې کاوه او که ناوړه خبره به یې پکې تر سترګو شوه؛ نو له الله تعالیٰ نه به یې بښنه وغوښته.



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



له سلفو علماوو نه یو تن وایي:

د ځلوېښتو کالو راهیسې زه د خپلې یوې ګناه په اړه له الله تعالی څخه بښنه غواړم.

الله سبحانه وتعالی فرمایي:

﴿وَالَّذِينَ يُؤْتُونَ مَآ ءَاتَوا۟ وَّقُلُوبُهُمْ وَجِلَةٌ أَنَّهُمْ إِلَىٰ رَبِّهِمْ رَٰجِعُونَ﴾

"او د هغو دا حال دی، چې ورکوي هر څه چې ورکوي او زړونه یې له دې فکر نه لړزېږي، چې د خپل رب لور ته زموږ ورګرځېدل دي."

## ۱۷۸ له ځانه سره حساب وکړه!

له ځانه سره د یادښتونو یوه جیبي کتابچه ولرئ او په هغې کې خپل ګناهونه لیکه او تر ویده کېدو له مخه یې د سمون او اصلاح په هڅه کې اوسه.

عمر رضي الله عنه فرمایي:

حَاسِبُوا أَنْفُسَكُمْ قَبْلَ أَنْ تُحَاسَبُوا [۲۳]

"له خپل ځانه سره پخوا تر دې محاسبه وکړئ، چې له تاسې سره حساب وشي او پخوا تر دې چې هغه وتلل شي په خپله یې وتلئ."

درې ډوله خطاګانې زموږ په ورځني ژوند کې تکرارېږي:

۱: د وخت له لاسه ورکول.

۲: بې ګټې خبرې کول.

---

۲۳: سنن الترمذي ت شاكر (٤ / ٦٣٨)



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

۳: وسوسو او وهمونو ته ارزښت ورکول.

نامتو عربي شاعر امرء القیس وايي:

"زړو غونډیو! هر سهار تاسې ته سلام کوم، وواییځ، چې د تېرې زمانې خلک روغ رمټ دي او که څنګه؟ روغ رمټ خو به هماغه خلک وي چې لورنې پرې شوي، غمونه یې لږ او شپې یې نېکمرغه وي."

د اسلام ستر پیغمبرﷺ خپل تره ته د دنیا او اخرت د نېکمرغۍ د لاسته راوړلو په خاطر دغه دعا ښودلې وه.

## اللهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الْعَفْوَ وَالْعَافِيَةَ

"ای الله! له تا نه د ښښنې او بشپړ صحت غوښتونکی یم."

او دا په رښتیا هم، چې یوه هر اړخیزه او روغتیا ښونکې دعاء ده.

په حدیث شریف کې دي:

له بدګومانۍ نه ځان وساتئ، ځکه بدګوماني تر ټولو غټ دروغ دی.

(۲) د یو چا نیمګړتیاوې مه پلټئ (۳) څارګري مه کوئ (٤) له یو بل نه د بې ځایه مخکې کېدو هوس مه کوئ (٥) حسد مه کوئ (٦) کینه مه کوئ (۷) غیبت مه کوئ.

دا هغه اووه ناوړه زهرجن شیان دي، چې د امت کتارونه ړنګوي او ټولنه زیانمنوي؛ نو له دې امله ترې ډېر ځان ساتل پکار دي او د هغه ښه صفت راخپلول پکار دي، چې ټولنه پرې جوړېږي او هغه دا دی، چې:

## كُونُوا عِبَادَ اللَّهِ إِخْوَانًا [۲٤]

"د الله تعالی بندګانو سره ورونه شئ."

---

۲٤: صحیح البخاري (۸ / ۱۹)



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



## ۱۷۹ دفاعي سامان آلات ترلاسه کړئ

د انسان نېکمرغي په دې کې ده، چې پر الله تعالیٰ د توکل ترڅنګ وسایل او اسباب هم په کار واچوي.

سیدالمتوکلین ﷺ به په غزا ګانو کې له ځانه د دفاع لپاره زغره کاروله!

یوه صحابي وپوښتل، چې ای د الله تعالیٰ رسوله! یوازې توکل وکړم او که خپله سورلۍ هم چمتو کړم؟!

هغه ﷺ ورته وفرمایل، چې خپله سورلي چمتو کړه او بیا توکل وکړه.

د اسبابو ترلاسه کول او پر الله تعالیٰ توکل کول د توحید اصل او روح دی.

بې اسبابو توکل کول له دین څخه ناخبري ده او یوازې پر اسبابو تکیا له توحید څخه نا خبري ده.

ابن الجوزي رحمه الله وايي:

یوه سړي له احتیاطه کار وانخیست، خپل نوک یې پرېکړه، په بدو واوښت، لنډه دا چې ورڅخه مړشو.

یوه سړي په بې احتیاطۍ سره پر خره باندې د سپرېدو هڅه وکړه، خره په خېټه کې وواهه؛ نو مړ شو.

مشهور مصري لیکوال "طه حسین" خپل ډرېور ته وویل:

تېز مه ځه، چې په وخت ورسېږو.

د یو شاعر په وینا:

کله نا کله چټکتوب د ښوېدو لامل شي او صبرناک خلک بیا هم هدف ته رسېږي، یانې احتیاطي تدابیر کارول، ځان ساتنه او وقایه د تقدیر منافي عمل نه دی، بلکې دا هم له تقدیر څخه ګڼل کېږي.



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

الله تعالی فرمایي:

﴿وَلْيَتَلَطَّفْ﴾

"او باید چې لږ په هوښیارۍ او نرمۍ سره کار وکړي."

دغه راز:

تَقِيْكُمُ الْحَرَّ وَسَرَابِيْلَ تَقِيْكُمْ بَأْسَكُمْ

"او تاسې ته یې داسې پوښاکونه در په برخه کړي چې تاسې له ګرمۍ نه ساتي او ځینې نور پوښاکونه چې په خپل منځي جګړو کې ستاسې ساتنه کوي."

## ۱۸۰ خلک راخپل کړه

د يوه انسان د نېکمرغۍ لپاره يو شرط دا هم دی، چې داسې ځواکمني په ځان کې پيدا کړي، چې د خلکو عاطفه او مينه ځانته جلب کړي.

ابراهیم علیه السلام فرمایلي وو:

﴿وَاجْعَلْ لِّيْ لِسَانَ صِدْقٍ فِي الْاٰخِرِيْنَ﴾

"او په وروسته نسلونو کې ریښتیانی نومیالیتوب راپه برخه کړه."

د موسی علیه السلام په اړه الله تعالی فرمایي:

﴿وَاَلْقَيْتُ عَلَيْكَ مَحَبَّةً مِّنِّيْ﴾

"ما له خپل لوري نه پر تا مينه خوره کړه."

په يو حديث کې راغلي چې:



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

إِذَا أَحَبَّ اللَّهُ العَبْدَ نَادَى جِبْرِيلَ: إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ فُلاَنًا فَأَحْبِبْهُ، فَيُحِبُّهُ جِبْرِيلُ، فَيُنَادِي جِبْرِيلُ فِي أَهْلِ السَّمَاءِ: إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ فُلاَنًا فَأَحِبُّوهُ، فَيُحِبُّهُ أَهْلُ السَّمَاءِ، ثُمَّ يُوضَعُ لَهُ القَبُولُ فِي الأَرْضِ [25]

"کله چې يو بنده د الله تعالیٰ خوښ شي؛ نو جبريل ته غږ وکړي، چې (ای جبريله!) الله تعالیٰ له پلانکي بنده سره مينه کوي؛ نو ته هم ورسره مينه ولره؛ نو جبريل هم ورسره مينه پيل کړي، بيا جبريل ﷺ اسمان والاوو ته غږ وکړي، چې الله تعالیٰ له پلانکي بنده سره مينه لري، تاسې هم ورسره مينه وکړئ؛ نو په دې ډول د اسمان والا هم له دغه بنده سره مينه شروع کړي، ان تر دې چې په دنيا کې هم د خلکو تر سترګو ښه راځي"

په حديث کې دا هم راغلي دي چې:

أنتم شهداءُ اللهِ في الأرض

"تاسې په ځمکه کې د الله تعالیٰ ګواهان یاست."

او

وألسنةُ الخلْقِ أقلامُ الحقِّ

"د خلکو نېکخويه ژبې د حق قلمونه دي"

د محبت او دوستانه اړيکو د پراختيا په سترو عواملو کې بشاشت، نرمي او ښه خوی اساسي رول لري.

په حديث شريف کې راځي چې:

من يُحرم الرفق، يُحرم الخيرَ كلّه

---

[25]: صحيح البخاري (٤ / ١١١)



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

d By: Afghan Salar Library



"څوک چې له نرمۍ څخه بې برخې دی، هغه له بشپړ خیر نه بې برخې دی."

هوښیاران وايي:

مار هم له سوړې نه په نرمۍ راویستل کېدای شي.

غربیان وايي:

شات ترلاسه کړه؛ خو کتوری پسې مات نکړې.

## ١٨١ وګرځه او د الله تعالیٰ د قدرت نښې وګوره!

د بېلابېلو هېوادونو او ښارونو لیدل خوښي او نېکمرغي جلبوي.
د قرآن کریم یو شمېر آیتونه هم دغې خبرې ته داسې اشاره کوي، لکه چې الله تعالیٰ فرمايي:

﴿قُلْ سِيْرُوْا فِى الْاَرْضِ﴾

"دوی ته ووایه، د ځمکې پر مخ وګرځئ راوګرځئ"

دغه راز فرمايي:

﴿فَسِيحُوا فِي الْاَرْضِ﴾

"نو تاسې په ځمکه کې وګرځئ."

﴿حَتّٰى اِذَا بَلَغَ مَغْرِبَ الشَّمْسِ﴾

"ان تر دې پورې چې کله هغه د لمر پرېواته تر حده ورسېده."



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

﴿لَآ اَبۡرَحُ حَتّٰۤى اَبۡلُغَ مَجۡمَعَ الۡبَحۡرَيۡنِ اَوۡ اَمۡضِىَ حُقُبًا﴾

"زه به تر هغه خپل سفر پای ته ونه رسوم، چې د دواړو سیندونو یو ځای کېدو حد ته ونه رسېږم، که نه نو زه به تر ډېره وخته پورې همداسې روان یم."

په دې اړه پیاوړي عربي شاعر ابو تمام وايي:

په شام کې مې مېرمن او په بغداد کې مې ارزو، زه په خپله په رقمتین او په فسطاط کې مې همسایه او ګاونډیان استوګن دي.

## ۱۸۲ غم او اندېښنه

غم او اندېښنه دواړه خور و ورور دي او دواړه روح ته زحمت ورکوي، په دواړو کې فقط همدومره توپیر دی، چې اندېښنه د راتلونکي په اړه وي او غم پر تېرو وي، یا د محبوب له لاسه په ورکولو منځته راځي، چې دغه دواړه پر روح د پلکونو ګذارونه کوي، له دغو دواړو نه د خلاصون لپاره لاندینۍ دعا سبا او بېګا وظیفه کول پکار دي:

اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الْعَفْوَ وَالْعَافِيَةَ فِي الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ، اللَّهُمَّ أَسْأَلُكَ الْعَفْوَ وَالْعَافِيَةَ فِي دِينِي وَدُنْيَايَ وَأَهْلِي وَمَالِي، اللَّهُمَّ اسْتُرْ عَوْرَاتِي، وَآمِنْ رَوْعَاتِي، وَاحْفَظْنِي مِنْ بَيْنِ يَدَيَّ، وَمِنْ خَلْفِي، وَعَنْ يَمِينِي، وَعَنْ شِمَالِي، وَمِنْ فَوْقِي، وَأَعُوذُ بِكَ أَنْ أُغْتَالَ مِنْ تَحْتِي [۲۶]

---

۲۶: سنن ابن ماجه (۲ / ۱۲۷۳)



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



یو شاعر وایي:

الله تعالٰی ستا په اړه خپلې زړې او نوې لورنې نه دي ګنلې، له دې امله ځان پر رنځونو او غمونو مه اخته کوه. ځکه چې رنځونه او غمونه همېشه نه وي، ښايي دغه توره شپه په رڼا سبا بدله شي او الله تعالٰی درته د رحمت په نظر وګوري.

## ۱۸۳ د جنت قیمت

د دنيا ټول سره او سپین زر، چې راټول کړې؛ نو د یوې اوښکې ارزښت نلري، لکه په حديث شريف کې دي، چې:

دنيا او هر هغه څه، چې په دنیا کې دي پرته د الله تعالٰی له ذکر، عالم او طالب نه نور ټول شیان لعنتي دي، دا د میلونونو پيسو ځمکې او جایدادونه، ښکلې مانۍ لوړ بيه موټرې او داسې نور ټول شیان که سره راټول کړی شي؛ نو بيا هم د مرګ تاکل شوی وخت یوه لحظه هم نشي تمبولای.

حسن بصري رحمه الله فرمايي:

د ځان ارزښت له جنت پرته بل هېڅ شی نشي پوره کولای، ځکه د مؤمن ځان ډېر ارزښتمن دی؛ خو له بده مرغه ځینې خلک پر یوه موټي خاورې سر وبايلي، ځکه دا خلک د مال او شته پر ختمېدو ژاړي؛ خو د نېکۍ له لاسه په وتلو نه خپه کېږي، د ایمان په نیمګړتیا هم نه خپه کېږي او دوی به د قيامت په ورځ ویوهېږي، چې دوی په څومره سپکو شيانو خواشيني ښکاره کوله او پرې اندېښمن کېدل.

په ابن کثیر تفسیر کې دي: رسول الله ﷺ فرمايي، چې یو دوزخي به زر کاله ژړا او چيغې وهي، چې یا منانه! او ای حنانه! نو الله تعالٰی به زر کاله



[redacted]ook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



وروسته جبریل علیه السلام ته وفرمایي، چې لاړ شه وګوره دا څه وایي، جبریل علیه السلام چې ورشي، وبه ګوري، چې ټول دوزخیان سرکوزي، په ژړا او فریاد سر دي؛ نو بېرته به الله تعالی ته ورشي او د دوی حال به ورته واوروي؛ نو الله تعالی به جبریل علیه السلام ته امر وکړي، چې لاړ شه د دوزخ په پلاني ځای کې پلانی کس دی، هغه راوله، جبریل علیه السلام به لاړ شي او هغه کس به راولي؛ نو الله تعالی به یې وپوښتي، چې په څنګه ځای کې وې؟ دوزخي به عرض وکړي، چې د اوسېدو لپاره ډېر بد ځای دی؛ نو الله تعالی به ورته وفرمایي، چې دا بېرته خپل ځای ته ورولئ؛ نو دوزخي به په ژړا عرض وکړي، چې ای ارحم الرحمینه! کله چې تا زه له دوزخه راوویستم؛ نو ته داسې ذات نه یې، چې بېرته به مې هغه ځای ته ورستون کړې، څکه ډېر رحیم ذات یې او زه له تا نه د لورنې هیله من یم، چې ته به پر ما لورېږې اوس پر ما ولورېږه، څکه تا چې زه له دوزخه راوویستم؛ نو زما هیله پیدا شوه، چې بېرته به مې نه ورستنوې او زه پر دې راوتو ډېر خوشحاله شوم؛ نو ارحم الرحمین الله تعالی به هم پرې ولورېږي او امر به وکړي، چې زما بنده پرېږدئ.

امام غزالي وایي:

داسې وخت را روان دی، چې خلک به له پنځو شیانو سره مینه کوي او پنځه شیان به له یامه وغورځوي:

١: له دنیا سره به مینه کوي او اخرت به له یامه وغورځوي.

٢: له مال سره به مینه کوي او حساب کتاب به له یامه وغورځوي.

٣: له مخلوق سره به مینه کوي او خالق به هېر کړي.

٤: د ګناه له شیانو سره به مینه کوي او توبه به هېره کړي.

٥: له دنګو دنګو ماڼیو سره به مینه کوي او قبر به هېر کړي.



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Te[redacted]ttps://t.me/afg

Downloaded By: Afghan Salar Library

## ۱۸۴ ريښتوني مينه

د الله تعالیٰ ولیان شيءِ، چې نېکمرغي مو په برخه شي او تر ټولو نېکمرغه خلک هماغه دي، چې له الله تعالیٰ سره مینه کوي او د هغه لپاره مینه کوي.

رسول الله ﷺ د علي رضي الله عنه پر سر تاج کېښود، په دې معنی، چې دا له الله تعالیٰ سره مینه کوي او الله تعالیٰ له ده سره مینه کوي.

همدا شان یوه صحابي له سورة اخلاص سره ډېره مینه لرله او په هر لمانځه کې به یې لوسته، ځکه چې دغه سورة د الله تعالیٰ له صفتونو څخه ډک دی؛ نو رسول الله ﷺ ورته وفرمایل، له دې سورة مینې ته جنت ته ننویستې.

تاسې ته ښکاره ده، چې قارون له مال سره، فرعون له واکمنۍ سره مینه لرله او د دې په مقابل کې صحابه وو له الله تعالیٰ او د هغه له رسول الله ﷺ سره مینه لرله، تاسې ته په دواړو مینو کې د ځمکې او اسمان توپیر په ډاګه دی.

## ۱۸۵ د ځانوژنې پېښې

په امریکا کې هر کال (۳۰۰) پولیسي چارواکي ځانوژني او له ۱۹۸۷ م کال را په دېخوا خبره تر دغه شمېرې هم اوښتې.

دولت د دغې کار د څارنې لپاره یوه کمېټه جوړه کړه، چې د دغو ځانوژنو لامل معلوم کړي، په پایله کې یې خبرندویانو د دې دوه لاملونه وښودل:

۱: د ناوړه پېښو او غیر عادي حالاتو په لیدو سره خپل عصبي توازن له لاسه ورکوي.



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



۲: له دوی سره وسله په لاس کې وي، چې له امله يې دوی هر وخت ځان وژلای شي.

## ۱۸۶ د راحت بنسټونه

دوکتور حسان شمسي پاچا د «اهلا و سهلا» د مجلې په يوه مقاله کې ليکي:

تقدير ليکل شوی، هرڅه د تقدير د پرېکړې پر بنسټ ترسره کېږي! د روزۍ دروازې له اسمانه پرانستل کېږي؛ له الله تعالی پرته د بل چا واک پکې نه چلېږي، نه يې څوک چا ته ورکولای او نه يې څوک له چا اخيستلای شي، بس دغه هر څه د يو الله تعالی په واک کې دي.

ماضي له خپلو غمونو سره لاړه او بېرته نشي راستنېدلای! مستقبل په يوه غيبي نړۍ کې پټ دی او تر اوسه لا نه دی راغلی! له خلکو سره ښېګڼه او احسان کول زړه ته سرور او سينې ته پراختيا ښيي.

ما د شعر په ژبه داسې ويلي چې:

فعلام تَحْرِقُ أدمُعاً قد وُضِّئَتْ ... ويظلُّ يُقْلِقُ قلْبَك الإرهابُ

وكِّلْ بها ربّاً جليلاً كلَّما ... نام الخليُّ تَفتَّحتْ أبوابُ

ته دا ترمې ترمې اوښکې د څه لپاره څڅوې؟؟ ستا زړه د ترهګرۍ له امله له انديښنو سره مخ کېږي؛ معامله همداسې الله تعالی ته پرېږده او وګوره چې د برې دروازې څنګه پرانستل کېږي.



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

## ۱۸۷ مجازي مينه

له مجازي عشق نه ځان وساتئ، ځکه چې دا زړه غمجنوي او د عصبي ناروغيو لامل کېږي؛ نو د مسلمان نېکمرغي په دې کې ده، چې له دې ناروغۍ نه ځان په ډېره وساتي

## ۱۸۸ د مجازي عشق لاملونه

۱: کله چې زړه د الله تعالی له مينې، عبادت او ياده تش وي؛ نو مجازي مينه پر دغه تشيال قبضه کوي.

۲: د نظر ناسمه کارونه، ځکه شريعت د نظر ساتنې په اړه ډېر ټينګار کړی، چې په لومړي ګام کې يې له ناوړه شي څخه را وڅغوري او خبره پسې ونه غځېږي.

۳: د الله تعالی په عبادت کې کمی زياتی کول.

پر همدغو پورتنيو نصيحتونو عمل کولو باندې انسان له دغې ناروغۍ نه خلاصېدای شي، ځکه يوسف عليه السلام هم د همدغو اصولو پر بنسټ له دې ناوړه ناروغۍ څخه خوندي شوی و؛ نو له دې امله پکار ده، چې موږ او تاسې له الله تعالی نه پر غوښتنې سربېره د خپل نظر واکي په واک کې ولرو، پر چا چې مين شوي يو له هغه سره ليدنه، کتنه او هغه ته ورتلل پرېږدو، د خپل محبوب له چمه کډه وکړو، ځان په نېکو چارو کې بوختول او نکاح کول د دغې ناروغۍ له ښکېلاکه انسان خلاصوي.


Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



## ۱۸۹ د ورونو حقونه

که تاسې خپل ورونه په ښو نومونو رابلئ؛ نو په دې سره هغوی خوښېږي او په خوره ټنده ستاسې خبرې ته غوږ نیسي او پر دې سربېره له یوه مسلمان ورور سره په خوره ټنده مخ کېدل صدقه هم ده، یانې په دې کې دوې ګټې دي، چې یوه یې دنیوي او بله یې اخروي او نبي کریمﷺ فرمايي:

لَا تَحْقِرَنَّ مِنَ الْمَعْرُوفِ شَيْئًا، وَلَوْ أَنْ تَلْقَى أَخَاكَ بِوَجْهٍ طَلْقٍ [۲۷]

"نېکي سپکه مه ګڼئ هغه که له یوه ورور سره په ورین تندي مخ کېدل ولې نه وي (یانې دا نېکي هم سپکه مه ګڼئ، چې له مسلمان ورور سره په خوره ټنده مخ شې."

## ۱۹۰ الله تعالی رازق دی

په ختې کې چینجي ته، په اوبو کې ماهي ته، په هوا کې مرغانو ته او پر ځمکه انسانانو ته روزي څوک ورکوي؟؟ دا ټوله د هماغه رازق ذات لورنه ده، چې مسلمان او کافر ټولو ته روزي ورکوي او د زر ډوله مخلوق ته خپل خپل خواړه ورکوي.

ابن الجوزي وايي، په یوه ونه کې یوه ړنده مرغۍ ناسته وه، چې هره ورځ به یوې بلې مرغۍ ورته خواړه راوړه او په خوله کې به یې ورکول.

همدا شان مریمؑ ته یې په محراب کې ډول ډول بې موسمه مېوې

---

۲۷: صحیح مسلم (٤ / ۲۰۲٦)



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



ورکړي دي؛ نو ځکه په روزۍ پسې مه سرسامه کېږئ، دا خو يې ستاسې په تقدير کې ليکلي دي، چې دومره څه به خورې او هومره، چې دې په تقدير کې ليکل شوي دي، هغه به ارومرو در رسېږي او چې په تقدير کې دې نه وي، که څومره منډې ترړې هم پسې ووهې؛ نو په لاس نه درځي.

## ۱۹۱ د لمانځه ګټې

لمونځ د زړه په غبنتلتوب او پياوړتوب کې ستر رول لري او دا لويه نېکمرغي ده، چې د انسان زړه او روح له الله تعالیٰ سره نښلوي.

لمونځ د عبادت پر دروازې د ورننوتو شرف دی، د لمانځه له برکته د بدن ټول غړي روغ جوړ وي، دنيوي ستونزې او مشکلات په لمانځه سره هوارېږي، له ګناهونو نه انسان منع کوي، په زړه کې رڼا او په مخ کې ځلا پيدا کوي، د لمانځه له برکته وجود سپک او تازه وي، په لمانځه سره په روزۍ کې برکت وي او له ناروغيو نه د خلاصون لار ده.

همدا راز لمونځ پرېښودل څه وړه خبره نه ده، دا يوه داسې ګناه ده، چې ناوړه اغېز يې په دې دنيا کې هم انسان په خپله غېږه کې رانيسي او په اخرت کې هم لمونځ پرېښودونکي ته سخت عذاب ورکړ کېږي، الله تعالیٰ دې موږ او تاسې له بې‌لمانځې نه وساتي او په جمع جومات سره دې د لمانځه توفيق راکړي ــ امين



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

## ۱۹۲ مه ډارېږه!

موسی علیه السلام په خپل ژوندکې درې ځلې ډار شوی و.

۱: هغه مهال کله، چې د فرعون بلوسګر پاچا ماڼۍ ته ننوته؛ نو الله تعالی ورته وفرمایل:

﴿لَا تَخَافَآ اِنَّنِيْ مَعَكُمَآ اَسْمَعُ وَ اَرٰى ۝﴾

"مه وېرېږئ، زه له تاسې سره یم، هرڅه اورم او وینم".

نو هر مسلمان ته پکار ده، چې دا خبره په مغزو کې کېنوي، چې الله تعالی له مونږ سره دی؛ نو ځکه له دنیوي شیانو څخه وېرېدل نه دي پکار.

۲: کله چې د فرعون جادوګرو خپل جادو ښکاره کړ، موسی علیه السلام وېره وانګېرله؛ نو الله تعالی ورته وفرمایل:

﴿لَا تَخَفْ اِنَّكَ اَنْتَ الْاَعْلٰى ۝﴾

"مه وېرېږه، همدا ته به لاسبری شې".

۳: هغه مهال، کله چې موسی علیه السلام خپل اولس له ځانه سره واخیست او مخې ته یې دریاب راغی؛ نو اولس ورته وویل، چې مخې ته مو دریاب او شا ته مو د فرعون لښکرې دي؛ نو موسی علیه السلام ورته وفرمایل:

﴿اِنَّ مَعِيَ رَبِّيْ سَيَهْدِيْنِ ۝﴾

"له ما سره زما رب دی. هغه به هرو مرو را ته لارښوونه وکړي".

الله تعالی ورته وفرمایل:

﴿اَنِ اضْرِبْ بِّعَصَاكَ الْبَحْرَ ؕ فَانْفَلَقَ فَكَانَ كُلُّ فِرْقٍ كَالطَّوْدِ الْعَظِيْمِ ۝﴾



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

"ووهه په خپلې همسا سره سمندر، په ناڅاپي ډول سمندر وچاوده او د هغه هره ټوټه د یو لوی غره په څېر شوه."

## ۱۹۳ له څلورو شیانو ډډه وکړه

له څلورو شیانو ډډه وکړه، ځکه چې دغه شیان ژوند تباه کوي.

۱: د الله تعالی پر تقدیر ناخوښي.

۳: پر ګناهونو زړورتوب او توبه نه کارل.

۳: له خلکو سره په زړه کې کینه ساتل او د غچ په فکر کې اوسېدل.

٤: د الله تعالی له ذکر نه لرې والی.

## ۱۹٤ پر خپل رب ډاډمن اوسه

د الله تعالی په اړه سکون او ډاډ د انسان په راحت اوسوکالۍ کې ډېر غټ رول لري.

الله تعالی د خپل کتاب په څو ځایونو کې په دې اړه داسې فرمایي:

﴿فَأَنزَلَ السَّكِينَةَ عَلَيْهِمْ﴾

"له دې امله یې پر هغو ډاډېینه نازله کړه."

﴿فَأَنزَلَ اللَّهُ سَكِينَتَهُ عَلَىٰ رَسُولِهِ وَعَلَى الْمُؤْمِنِينَ﴾

"نو الله تعالی پر خپل پېغمبر او مؤمنانو باندې ډاډېنه نازله کړه."



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



﴿فَأَنزَلَ اللّٰهُ سَكِينَتَهُ عَلَىٰ رَسُولِهِ﴾

"نو الله تعالی پر خپل پيغمبر باندې ډاډينه نازله کړه."

﴿فَأَنزَلَ اللّٰهُ سَكِينَتَهُ عَلَيْهِ﴾

"په هغه وخت کې الله تعالی له خپل لوري نه پر هغه د زړه ډاډينه نازله کړه."

ډاډ او سکون د زړه ثبات ته ويل کېږي، کټ مټ همدغه د اطمنان او ډاډمنۍ يو ډول حالت دی چې د ايمان خاوندان ورسره مخ کېږي.

الله تعالی فرمايي:

﴿يُثَبِّتُ اللّٰهُ الَّذِينَ آمَنُوا بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَفِي الْآخِرَةِ ۖ وَيُضِلُّ اللّٰهُ الظَّالِمِينَ ۚ وَيَفْعَلُ اللّٰهُ مَا يَشَاءُ ۝﴾

"الله تعالی ايمان راوړونکيو ته په دنيا او اخرت دواړو کې د يوې ثابتې وينا پر بنسټ ثبات په برخه کوي او الله تعالی ظالمان بېلارې کوي، د الله تعالی واك دی چې څه غواړي کوي يې."

## ۱۹۵ دوه ګټورې خبرې

امام احمد بن حنبل رحمه الله فرمايي، چې دوه خبرو راته ډېره ګټه رارسولې ده.

۱: کله چې د قرآن مجيد مخلوق ګڼلو فتنه راولاړه شوه او د پاچا په امر زندان ته ولېږل شوم؛ نو په زندان کې يو شرابخور راغی او راته يې ووی، چې ای احمده! ثابت قدم اوسه، ځکه په دې زندان کې به ته د دين په خاطر په تازينو وهل کېږې او ما ته ګوره، چې په همدې زندان کې څو څو وارې د شراب څښنې په سر په تازينو ووهل شوم او زه بيا هم پر دغه خپله ګناه



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

کلک پاتې یم؛ نو ته خو باید پر خپله عقیده کلک پاتې شې او پر ستونزو زغملو صبر وکړې، ځکه چې دغه هر څه د دین په خاطر دي.

۲: کله چې زندان ته بیول کېدم؛ نو چا را باندې غږ وکړ، چې ای احمده! پروا ونه کړې، ځکه له مرګ سره به له واره جنت ته ورومې.

امام احمدﷺ د دې دواړو پېښو په اړه لیکي، چې دې خبرو ما ته ډېره ګټه رارسولې.

د هر عمل غبرګون د قدرت قانون دی او دا فکر ناسم دی، چې دا بدلمنې او لغړتوب به ګوندې غبرګون ونلري، دا چې نن ټولنیز ژوند تباه کېږي، د ښځې او مېړه سره کور نه جوړېږي، بچي د خپل مور و پلار خبرې ته غوږ نه ږدي، ورور د ورور د وینو تږی دی، پېغلې په کور زړېږي او څوک یې پوښتنه نه کوي، واده شوې ښځې له طلاقو سره مخ کېږي او داسې نور؛ نو دا ټول د لغړتوب او بد لمنۍ غبرګون او پایلې دي، چې ټولنه یې زیانمنه کړې او لا یې پسې زیانمنوي، الله تعالٰی دې موږ او تاسې له دغسې زیانونو وساتي.

دا ټول مصیبتونه، رسوایۍ، کړکېچ، جنګ او نښتې او نوې نوې مرګونې ناروغۍ څه تصادف نه دي، بلکې د همدغو ناوړو عملونو غبرګون دی، چې نن ورسره ټولنه مخ ده، دا څه پوهه نه ده، چې لاس پر لاس کېږدو او بې وسه نندارچیان له ځانه جوړ کړو، بلکې عقلمندي دا ده، چې له دغو ستونزو نه ځانونه خلاص کړو او دا هر څه هله شوني دي، چې لومړی له دغو ګناهونو نه توبه اوباسو او دغه چټلتیا له خپلې ټولنې لرې وغورځوو او بیا له خپل رب نه د بقرې سورة په وروستي آیت دعاګانې وغواړو؛ نو ان شاء الله، چې الله تعالٰی به مو له دغه عذابه خلاص کړي.


Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



## ۱۹۶ د مصیبتونو ګټې

۱: کله چې زړه د اندېښنو په زندان بندي شي؛ نو الله تعالٰی انسان ته په اخلاص سره د دعا غوښتو توفیق ورکوي.

علماء لیکي، چې الله تعالٰی پر خپل یوه نېک سړي څه مصیبت راوست او ملائکو ته یې وویل، زه غواړم، چې د خپل دغه نېک بنده غږ واورم (یانې له درده زړېږوی یې اورېدل غواړم)

۲: بله ګټه یې دا ده، چې په دې سره د انسان کبر لمنځه ځي.

۳: په ستونزمنو شېبو کې د انسان په زړه کې نرمي او شفقت پیدا کېږي.

٤: په مصیبت سره د انسان ګناهونه ببنل کېږي.

٥: درجې یې پرې لوړېږي.

او د صبر له امله، چې الله تعالٰی په اخرت کې د ثواب کومې خزانې وربښي هغه؛ خو لا نورې دي.

## ۱۹۷ علم هدایت، درملنه او روغتیا ده

ابن حزم الاندلسي په خپل کتاب «د نفسونو درملنه» کې لیکلي دي چې د پوهې ګټه دا ده، چې له نفسونو نه وسوسې، غمونه او اندېښنې لرې کوي.

طالب العلم باید د ځان لپاره یو مهالوېش ولري، څه وخت د حفظ تکرار لپاره، څه وخت د عمومي مطالعې، استنباط، تالیف او تربیت لپاره او یو څه وخت د تامل او تدبر لپاره ځانګړی کړي.



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram: [redacted] //t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

عربي شاعر وايي:

فكُنْ رجُلاً رِجْلُه في الثَّرى ... وهامةُ هِمَّتِهِ في الثُّريَّا

"يو داسې سړی شه، چې که پښې يې پرځمکه وي؛ نو د همت سر يې تر اسمانه رسېدلای وي."

جلال الدين سيوطي په خپل کتاب «الارج فی الفرج» کې د علماوو د ويناوو په لړ کې دا خبره کړې چې:

په غمونو او اندېښنو کې خوښي او نېکمرغي رامنځته کېدلای شي.

مصيبتونه کله نا کله په عجايباتو منتج کېږي او داسې خوښي او نېکمرغي رامنځته کړي، چې انسان يې اټکل هم نشي کولای.

د يوه شاعر په وينا:

قسم ستا په لوړ شان، انسان پر دې نه پوهېږي، چې د زمانې له حوادثو څخه څنګه او څېرته خوندې پاتې شي؟! خو ډېر ناوړه خطرناک شيان شته، چې انسان به ترې خبر هم نه وي؛ خو الله تعالیٰ يې ورڅخه خوندي وساتي.

## ۱۹۸ نېکمرغي خدايي ورکړه ده

څومره داسې خلک دي، چې پر ډېر لږ څه ګوزاره کوي او دومره ګټي، چې خوري يې؛ خو که دوی وپوښتل شي؛ نو خوشحاله ښکاري، د روغتيا او د زړه د سکون له پلوه ډېر ډاډمن برېښي، دا ځکه چې دوی د ژوند پر راز پوهېدلي او خپل فکر يې د نن لپاره په کار اچولی، نه دا چې په تېرو ژاړي او نه ورسره د راتلونکي فکر وي.


Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



اوس لږ هغو خلکو ته هم ځیر شئ، چې په ښکلیو او دنکو مانیو کې ژوند کوي، د تک راتګ لپاره ښه لوړ بیه ګاډي لري؛خو بیا هم په رواني ناروغیو اخته دي، تل اندېښمن ښکاري او په دوی کې ډېر داسې وي، چې لېوني شي؛ نو تاسې ووایاست، چې کله مو دا خبره اورېدلې، چې کوم نېستمن لېونی شوی وي او په رواني ناروغیو اخته شوی وي؟ نه!

## ۱۹۹ ښه یادښت د اوږده عمر زېری دی

د یو مسلمان بنده نېکمرغي په دې کې هم ده، چې هغه دویم ډول عمر او ژوند هم لري! هغه دا چې د خلکو ترمنځ یې خورا په ښه توګه یادونه کېږي او خوښي د هماغه چا پر حال چې په خلکو کې په ښه او نېک نامه مطرح وي، سره له دې چې د دغه منصب، شرف او مقام په لاس ته راوړلو یې مالي مصرف نه دی شوی، یوازې پر خپل ښه خوی، ښه صنعت او ښه کړنه یې دغه ډول بې مثاله ژوند، شرف او مقام لاس ته راوړی.

د شاعر په وینا:

د خوښۍ پر وخت د نورو خلکو په نسبت هماغه څوک د مرستې او یارۍ مستحق دي، چې د غمونو او اندېښنو پر وخت یې ستا ملګرتیا کړې وي، درانه او شریف خلک له مصیبتونو څخه تر نجات وروسته بیا هم د خلکو په یاد وي.



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

## ۲۰۰ ستري مرثيې

دلته درې داسې قصيدې شته چې د هغې په باب ويل کېداى شي:

همبشنى او ژوندى تاريخ لري، مشهور وزير ابن بقيه د عضد الدولة له خوا ووژل شو! ابو الحسن الانباري د هغه په اړه يوه اورېده او ويرجنه قصيده وويله چې موږ يې فقط يوه نمونه دلته راخلو.

**عُلُوٌّ في الحياةِ وفي المماتِ ... لحقٌّ تِلْك إحدى المُعجزاتِ**

"په ژوند او مرګ دواړو کې سرلوړي ترلاسه کول تر معجزې کمه نه ده."

محمد بن حميد الطوسي په جهاد کې شهيد شو، ابو تمام پرې مرثيه وويله...

او دا يې هم يوه بيلګه:

**كذا فليجلّ الخطبُ وليَفْدَحِ الأمرُ... فليْسَ لِعَيْنٍ لم يفِضْ ماؤها عُذْرُ**

"دغه راز دغه پېښه وړه نه بلکې لويه او ستره وګڼه، دا چې کومې سترګې پرې اوښکې توى نه کړي نو هېڅ غذر نه لري."

د تاريخ د مشهور سپه سالار «قتيبه بن مسلم» په کورنۍ کې يو زړه سواندى شتمن چې تل به يې بېوزلان پر خپلو شتمنيو پالل مړشو.... يو شاعر د هغه پرمړينه دغه ويرجنه قصيده وويله:

مضى ابنُ سعيدٍ حين لم يبق مشرِقٌ ... ولا مغرِبٌ غلاً لهُ فيهِ مادحُ

"ابن سعدي په داسې حال کې له نړۍ نه رخصت شو، چې په ختيځ او



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



لوېديځ کې يې بې شمېره خلک په ښه نامه يادوي."

هلته ابو نواس نامتو عربي شاعر د مصر د امير "خصيب" تاريخ ليکي او د زمانې په جرېده کې يې نوم داسې ثبتوي.

إذا لم تزُرْ أرض الخصيبِ ركابُنا ... فأيَّ بلادٍ بعدهنَّ تزورُ

"که موږ د خصيب سيمې ته ورنشو؛ نو چېرته ولاړ شو؟! يو داسې سړی چې له سخاوت سره غبرګ روان و."

## ۲۰۱ له دغه درباره هېڅوک هم بېنوا نه ځي

کله چې ته په دې وپوهېږې، چې په اسمان کې يو داسې فرمانروا شته چې هغه عادل، منصف او غوره فيصله کوونکی دی؛ نو هم ته د دوی وړ يې، چې د هغه د ژمنو او وعدو سره سم نېکمرغي او وياړ لاس ته راوړې.

وګوره دغه يوه مجرمه ښځه يې سپي ته په اوبو ورکولو وبښله.

هغه بله يې پيشو ته د عذاب په ورکولو دوزخ ته ولېږدوله.

امام بخاري رحمه الله مرفوع حديث نقل کړی چې:

ځلوېښت عادتونه داسې دي چې پر هغې باندې د عمل کولو په صورت کې انسان جنت ته د تلو وړ ګرځي.

تر ټولو لوړ او ښه عادت يې چا ته د شيدو لپاره وزه ډالۍ کول دي.

الله سبحانه وتعالی فرمايي:

﴿فَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهُ ۝ وَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

يَّرَهٗ ۝﴾

"بیا چا که د ذرې هومره ښکې کړې وي وبه يې ګوري (۷) او چا که د ذرې هومره بد هم کړې وي؛ نو وبه يې ګوري (۸)."

پر همدغه بنسټ هڅه وکړه، چې د يو غم ځپلي په غم او اندېښنه کې ځان ورشريک کړې، بېوزله ته څه ورکړه، د مظلوم په خوا کې ودرېږه، وګی په خېټه موړ کړه، تږي ته اوبه ورکړه، د ناروغ پوښتنه وکړه، د يو مسلمان په جنازه کې شريک شه، د مېلمه هرکلی او درناوی وکړه، د مشر احترام او پر کشرانو شفقت وکړه، له ګاونډي سره ښېګڼه وکړه، مسلمانانو ته له زيان رسونې ډډه وکړه!

دا هماغه ښايسته معاني لوړ اخلاق او غوره صفات دي، چې نېکمرغي او سعادت رامنځ ته کوي، سينه پراخه کوي او غمونه له مينځه وړي.

## ۲۰۲ خپل تاريخ پخپله وليکه!

سخته ګرمي وه او په حرم شريف کې د ماسپښين د لمانځه په انتظار ناست وم؛ چې يو سپين ږيری سړی راولاړ شو او خلکو ته يې د زمزم اوبو په ورکولو پيل وکړ، يوه ته د اوبو ګلاس ورکړه او بل ته يې ورکړه، تر دې چې ډېر خلک يې خړوب کړل، خوله يې پر تندي را روانه وه، خلک په انتظار کې وو چې خامخا بايد د دغه بوډا له لاس اوبه وڅښي او هغه هم د موسکا په بدرګه خپل دغه خيريه عمل ته دوام ورکړ ما د هغه صبر او له نېکۍ سره د بې کچه مينې په اړه زښت زيات تعجب وکړ او وپوهېدم چې خير رسونه اسان کار دی چې الله يې چا ته اسانه کړي!



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



وګوره هلته ابوبکر رضي الله عنه د رسول الله ﷺ د پلوۍ او ساتنې په خاطر خپل ځان د بلا په خوله کې ورکړ.....!

پیاوړی قومندان ابوعبیده بن الجراح رضي الله عنه د اسلامي لښکر د راحت او سوکالۍ په خاطر خپله پیره کوي او شپه په ویښه تېروي.....!

د عدالت ستر علمبردار عمر فاروق رضي الله عنه د رعیت د ښې او بدې د معلومولو په خاطر د مدینې په لارو کوڅو کې ګرځي او خلک ویده پراته وي.

د اسلام د ستر پیغمبر مېین ابوطلحه د احد په غزا کې خپل ځان د غشو، تورو او برچو په خوله کې ورکوي! چې پیغمبر ﷺ محفوظ او خوندي پاتې شي.....!

عبدالله بن المبارک په خپله ... او نورو ته روژه ماتې ورکوي.

یو شاعر وايي:

داسې وګړي د اسمان د ستورو په ... ځلانده او د سباوون په څېر رڼا او روښانه دي.

الله سبحانه وتعالی فرمايي:

﴿وَيُطْعِمُونَ الطَّعَامَ عَلَىٰ حُبِّهِ مِسْكِينًا وَيَتِيمًا وَأَسِيرًا ۝﴾

"او د الله په مینه کې مسکین، یتیم او بندي ته خواړه ورکوي."

په قرآن کریم کې سوچ وکړه

د قرآن کریم په لوستو انسان ته د الله تعالی رحمت متوجه کېږي، د الله تعالی رسول به دې ته ډېر لېوال و، چې د بل له خولې قرآن کریم واوري، صحابه کرامو ته به یې ویل، چې قرآن راته واوروئ!

له دې امله مونږ ته هم پکار ده، چې په ورځ کې څه نا څه وخت د الله د کلام لوستو ته ورکړو، څکه زمونږ کرۍ ورځ په دنیوي منډو ترړو کې



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram [illegible]://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library


تېره شي، څکه مو ذهن کړوږ او روح مو ستړی وي او دا حقيقت دی، چې د الله تعالی له ياد پرته په بل څه کې ډاډ او سکون نشته.

لکه ابن مسعودﷺ وايي چې ما ته نبي کريمﷺ وفرمايل:

«اقْرَأْ عَلَيَّ»، قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، آقْرَأُ عَلَيْكَ. وَعَلَيْكَ أُنْزِلَ. قَالَ: «نَعَمْ» فَقَرَأْتُ سُورَةَ النِّسَاءِ حَتَّى أَتَيْتُ إِلَى هَذِهِ الآيَةِ: فَكَيْفَ اِذَا جِئْنَا مِنْ كُلِّ اُمَّةٍ بِشَهِيدٍ وَّ جِئْنَا بِكَ عَلٰى هٰؤُلَاءِ شَهِيدًا ﴿٤١﴾ [النساء: ١٤]، قَالَ: «حَسْبُكَ الآنَ» فَالْتَفَتُّ إِلَيْهِ، فَإِذَا عَيْنَاهُ تَذْرِفَانِ.

"يوه ورځ را ته رسول اللهﷺ وفرمايل، چې پر ما قرآن ولوله (ياني ما ته يې واوروه) نو ما عرض وکړ، چې زه پر تاسې قرآن ولولم، سره له دې چې پر تاسې نازل شوی!؟ وېې فرمايل هو! نو ما د نساء سورت تلاوت پيل کړ، تر دې چې دغه آيت (فَكَيْفَ اِذَا جِئْنَا مِنْ كُلِّ اُمَّةٍ بِشَهِيدٍ وَّ جِئْنَا بِكَ عَلٰى هٰؤُلَاءِ شَهِيدًا) [النساء: ٤١] ته ورسېدم؛ نو وېې فرمايل بس که! ما وليد، چې سترګې يې په اوښکو لمدې وې."

رسول اللهﷺ يوه شپه د جومات تر څنګ تېرېده، په جومات کې يې د قرآن کريم د تلاوت غږ واورېد؛ نو ورته ودرېده او تلاوت يې اورېده، سهار يې تلاوت کوونکي ياني ابو موسی الاشعريﷺ ته وفرمايل: « بېګا ما ستا قراءت ته غوږ ايښی و، ابو موسی ووی يا رسول الله! که زه خبر وای، چې ته زما تلاوت ته غوږ يې؛ نو ما به نور هم په خواږه غږ لوستی و.

قرآن کريم د زړونو پاچا او پر روح هيبت اچوونکی دی او ډېر اغېز لري.

فضيل ابن عياض رحمه الله يو نوميالی تابعي دی، ده چې کله دغه لاندينی آيت واورېد؛ نو له ډېره هيبته را پرېووت او مړ شو.


Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



﴿وَقِفُوهُمْ اِنَّهُمْ مَّسْئُولُونَ﴾

”او دوی معطل کړئ له دوی نه پوښتنه کیږي.“

همدا راز عمر رضی الله عنه د دې لاندیني آیت په اوریدو ټوله میاشت په ناروغۍ کې تېره کړه.

﴿وَ لَوْ اَنَّ قُرْاٰنًا سُیِّرَتْ بِهِ الْجِبَالُ اَوْ قُطِّعَتْ بِهِ الْاَرْضُ اَوْ کُلِّمَ بِهِ الْمَوْتٰی﴾

”او څه به شوي وای که کوم داسې قرآن نازل کړای شوی وای، چې د هغه په زور سره غرونه خوځېدلي وی، یا ځمکه څیرې شوې وای، یا مړي له قبرونو راوتلي غږ ېدلي وای؟“

همدا شان عبدالله بن وهب د جُمعې پر ورځ پر یوه لار تېرېده، چې د یوه کوچني له خولې یې دا آیت واورېد:

﴿وَ اِذْ یَتَحَآجُّوْنَ فِی النَّارِ فَیَقُوْلُ الضُّعَفٰٓؤُا لِلَّذِیْنَ اسْتَکْبَرُوْٓا اِنَّا کُنَّا لَکُمْ تَبَعًا فَهَلْ اَنْتُمْ مُّغْنُوْنَ عَنَّا نَصِیْبًا مِّنَ النَّارِ﴾

”او هغه وخت یاد کړه، چې دوی به په دوزخ کې یو له بل سره جګړه کوونکي وي، په دنیا کې چې کوم کسان کمزوري وو هغوی به تکبر کوونکیو ته ووایي چې ”موږ ستاسې تابع وو اوس ایا دلته به تاسې د دوزخ د اور له کړاوه څه لږ ډېر موږ وژغورئ؟“

نو د دې آیت په اورېدو یې درې ورځې ناروغي تېره کړه او پر څلورمه ورځ په حق ورسېد.

خو د دې زمانې خلکو ته ګوره، چې لاس یې په کار کې نښتی وي؛ خو بیا یې هم غوږ ته سندرې لګولې وي، چې یو خو له دې امله کار بې برکته وي او بل ګناهکاربږي هم او ځینې داسې وي، چې له کاره ستړي راشي؛ نو



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

[redacted]

په کور کې په کراره غبر ځانته سندرې ولګوي، څه فکر کوئ چې د ګناه په کار به سرې ګنې دمه شي؟ بلکې نور يې هم طبيعت ګډوډېږي؛ خو که د دې پر ځاى يې تلاوت اورېداى؛ نو داډ به يې هم تر لاسه کولاى او له ګناه نه به هم خلاص واى.

## ۲۰۳ موږ تول د نېکمرغۍ په لټه کې يو خو.....!

اسکافي عالم او پوه د "لطف التدبير" په نامه يو په زړه پورې کتاب ليکلى او په خپل دغه کتاب کې يې د مشرۍ او نېکمرغۍ ترلاسه کولو لپاره هر لور ته د فکر نيلى ځغلولى..... .!

د دغه کتاب له مطالعې نه درې د پاموړ ټکي په لاس راغلل:

۱: د چا نهايي هدف چې له الله جل جلاله پرته بل څه وي؛ نو ګټې به يې پر تاوان، خوښۍ به يې پر غم او نېکمرغي به يې پر بدمرغۍ اوړي.

الله سبحانه وتعالىٰ فرمايي:

﴿سَنَسْتَدْرِجُهُمْ مِّنْ حَيْثُ لَا يَعْلَمُونَ ۝﴾

"نو هغوى به موږ په تدريجي ډول په داسې شان له تباهۍ سره مخامخ کړو چې هغوى خبر قدرې هم نه وي."

پرکومو کړو وړو لا رو چې خلک روان دي هغه له سره اسلامي شريعت سره سمون نه خوري او نه په هغې سره څوک نېکمرغي ترلاسه کولاى شي!

۳: ډېر داسې خلک هم شته چې دنيا او اخرت يې دواړه له لاسه وتلي دي او لا دا ګومان کوي، چې ګوندې ښه کار يې کړى؛ خو هېڅ ډول نېکمرغي



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



يې په برخه نشوه! او لامل يې هماغه له نبوي منهجه سرغړونه ده، چې دنيا او اخرت د نېکمرغۍ تضمين کوي.

## ۲۰۴ جنت او دوزخ

يوې نړيوالې ورځپاڼې يوه ورځ دا خبر خپور کړ، چې د فرانسې لومړي وزير ځان وواژه او د ځان وژنې لامل يې دا ښوول کېده، چې په دېرو ورځپاڼو کې پرې نيوکې شوې وې، چې ده يې د زغم تاب نه لاره او ځنګ به يې لرلی وای، ځکه له دې خوار سره؛ خو نه ايمان و او نه د زړه سکون؛ نو ځکه يې ځان وواژه، که له ده سره ايمان وای يانې که دا مؤمن وای او شريعت ورسره وای؛ نو شريعت به ورته لارښوونه کړې وای، چې:

﴿وَلَا تَكُ فِي ضَيْقٍ مِّمَّا يَمْكُرُونَ ۝﴾

"د دوی پر حرکتونو مه خوربږه او مه د دوی په دسيسو زړه تنګی کېږه."

﴿وَاصْبِرْ عَلَىٰ مَا يَقُولُونَ وَاهْجُرْهُمْ هَجْرًا جَمِيلًا ۝﴾

"او خلك چې کومې خبرې جوړوي پر هغو صبر وکړه او په شرافتمندانه ډول له هغو نه بېل شه."

ځينې خلک د اندېښنو هواری د ويالې پر غاړه د موسيقۍ په اورېدو، په شه لوبه کې بوختېدل او د واورې د ورېښت په سيل کې ګڼي؛ خو دا د هغه چا وړانديزونه دي، چې له دين نه لرې وي او هېڅ اشنايي ورسره نه لري؛ مؤمنان له اندېښنو نه د خلاصون لار د اذانه او اقامت تر منځه په جومات کې کېناستل او له خپل ريښتينې خالق نه دعاګانې غوښتل بولي او وايي؛



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



چې پر تقدیر خوښ شه، له ذکر او توکل نه کار واخله.

## ۲۰۵ الم نشرح لک صدرک

پورتنی کلام پر رسول الله ﷺ نازل شو او د هغه په حق کې په ټوله مانا متحقق شو، پیغمبر ﷺ پراخه سینه او داړه زړه، د انسانانو په نسبت صله او عاطفه درلوده!!!

دغه پیغمبر ﷺ "رحمة للعالمین" دی د هغه په فضیلت کې دغه خبره بېخي کفایت کوي چې:

﴿شَاهِدًا وَمُبَشِّرًا وَنَذِيرًا ۝ وَدَاعِيًا إِلَى اللَّهِ بِإِذْنِهِ وَسِرَاجًا مُّنِيرًا ۝﴾

"موږ ته شاهد او زېری ورکوونکی او وېروونکی لېږلی یې (٤٥) او د الله تعالی په اجازه د هغه لوري ته بلونکی او بله ډیوه مو وګرځولې (٤٦)."

"هغه چې د نبوي رسالت سره سمون نه خوري د یو شمېر مناطقه و زندیقیت او د یو شمېر صوفیانو حماقت، د متکبرینو رذالت او داسې نور فاسد افکار او خیالات دي چې له حقیقتونو سره پر جګړه بوخت او د اسلام د ستر پیغمبر ﷺ له تګلارې څخه منحرف شوي"

الله تعالی فرمایي:

"نو الله تعالی مؤمنانو ته د هغه څه په اړه چې دوی پکې اختلاف کاوه هدایت او لارښونه وکړه، په دې توګه الله تعالی چې چا ته وغواړي د سمې لارې لارښوونه کوي"



...acebook:https://www...ook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



## ۲۰٦ د ښه ژوندانه مفهوم

یو عقلمن وایي که ته د زندان د وسپنیزو پنجرو ترشا په ولچکو او زولنو تړلی بندي یې؛ نو هم اسمان ته کتلای شې او له اسمانه یو خوږبویه ګل راشوکولای او بویولای شې او پر ځای ناست خپل صحت روغ ساتلای شې؛ خو د دې پر عکس که په یوه ښکلې ماڼۍ کې ناست یې او د خپل شتو په چروت کې ډوب او ښځې او بچیو ته غوسه یې؛ نو په دې سره دې روغتیا لا پسې زیانمنېږي.

په دې دواړو حالتونو کې ښه ژوند د لومړني حالت دی، که څه هم زندان کې دی او د دویمني حالت ژوند ښه نه دی که څه هم په یوه ښکلې ماڼۍ کې ولې نه دی.

د دې مانا دا شوه، چې نېکمرغي له کومې زمانې پورې تړلې نه ده او نه په کوم ځای پورې ځانګړې ده، بلکې یوازې په ایمان کې نغښتې ده، زړه د الله تعالی د نظر ځای دی او کله چې زړه پر الله ډاډمن وي؛ نو بیا پکې د نېکمرغۍ چینې راخوټېږي.

امام احمد بن حنبل رحمه الله نېکمرغه ژوند تېر کړی، سره له دې چې په خپل لاس ګنډل شوی او پېوند شوې جامې به یې اغوستې، درې ختینې کوټې یې درلودې، چې په هغې کې یې استوګنه کوله، د زیتون له تیلو سره به یې وچه مړۍ خوړله، یوه جوړه څپلۍ یې اولس کاله وکارولې، زیاتره وخت به روژه و، په میاشت کې به یې فقط یو ځل غوښه مونده؛ خو بیا هم دومره مېړنی او همت ناک و، چې په یو یو حدیث پسې به یې نړۍ ګز و ګام کوله، بیا هم خوښ او نېکمرغه و! په مقابل کې یې د نړۍ واکمنان مامون الرشید، واثق، معتصم او متوکل، له سرو او سپینو زرو او لښکرو سره په دنګو دنګو



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegra[redacted]ps://t.me/afghansa

Downloaded By: Afghan Salar Library

[redacted]

مانیو کې اوسېدل؛ خو ژوند یې په خپړتیا کې تېریده، ډادمني او نېکمرغي یې نه درلوده.

شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ نه کورنۍ درلوده او نه کور، نه مال او نه منصب، د بنو امیه د جومات ترڅنګ یې یوه ختینه کوټه درلوده، په هغې کې اوسېده او پر یوه مړۍ ډوډۍ به یې کړۍ ورځ تېروله، یوازې دوه جوړه جامې یې درلودې، زیاتره وخت به په جومات کې ویده کېده! دی وایي:

زما جنت زما په سینه کې دی، زما وژل زما لپاره شهادت او بندي کول مې خلوت دی، جلا وطني راته سیاحت دی او دغه ټولې خبرې یې د ایمان پر مټ کولې، په زړه کې یې د ایمان د بوټي ریښې کلکې وې.

## ۲۰۷ نېکمرغي څه ده؟

رسول اللهﷺ فرمایي:

"په دې نړۍ کې د یوه لاروي په څېر ژوند وکړه"

نېکمرغي په مال او شتمنۍ کې نشته، نه د قارون په خزانو کې او نه د فرعون په پاچاهۍ کې نغښتې ده، بلکې نېکرغي د صحابه وو په ژوند کې وه، څکه هغوی یوازې دنیا ته پام نه کاوه، بلکې په د یني چارو بوخت وو.

نېکمرغي څه بانکي رسید نه دی، چې له کوم بانک نه تر لاسه کړای شي او نه کوم څاروی دی، چې په مېله کې وپېرل شي او نه کوم خوږ بویه ګل دی، بلکې نېکمرغي څپله له ایمان او دین څخه راوتلې شی دی، موږ په موټرو او ښکلیو مانیو کې نېکمرغي لټوو، سره له دې چې دغه ټولې اسانتیاوې د اندېښنو زېږنده دي.


[redacted]ok:https://www[redacted]ok.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



د نړۍ ستر خواخوږيﷺ ته وګورئ، چې هغه څومره په غريبۍ کې ژوند کړی؛ خو سره له دې يې هم په داسې نېکمرغيو کې ژوند تېر کړی، چې يوازې الله تعالی پرې ښه پوه دی.

سعد بن ابي وقاصرضي الله عنه خپله ښځه، بچي او ګډې وزې له ځانه سره واخيستل او له ښاره ووت، په يوه دښته کې استوګن شو، ياني له دنيوي ستونزو او اندېښنو نه يې کډه وکړه، بله ورځ يې له ښاره يو زوی ورغی او ورته يې وويل پلاره! ته دلته ناست يې او هلته د شتمنيو پر وېش سره خلک نښتي دي؛ نو سعدرضي الله عنه ورته وفرمايل زه ستا له شره الله تعالی ته پناه وروړم او ما له رسول اللهﷺ نه اورېدلي وو، چې الله تعالی داسې کس خوښوي، چې نوموړی غني او پرهېزګار وي.

## ۲۰۸ سپېڅلي خبرې الله تعالی ته پورته خېژي

له صحابه وو سره د ښو خبرو خزانې وې چې د اسلام ستر پېغمبرﷺ ورته ښوولې وې، هره خبره يې تر دغې ټولې نړۍ غوره وه.

د ابوبکررضي الله عنه د غوښتنې په ځواب کې ورته دغه دعا ښيې.

اللَّهُمَّ إِنِّي ظَلَمْتُ نَفْسِي ظُلْمًا كَثِيرًا. وَلاَ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلَّا أَنْتَ. فَاغْفِرْلِي مَغْفِرَةً مِنْ عِنْدِكَ. وَارْحَمْنِي إِنَّكَ أَنْتَ الغَفُورُ الرَّحِيمُ

"ای الله! بېشکه ما پر ځان ډېر تېری کړی دی او له تا پرته بل څوک د ګناهونو ښښنه نشي کولای؛ نو ته ما ته له خپل لوري ښښنه وکړې او پر ما ولورېږې، بېشکه ته ښښونکی او لورانده ذات يې."



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:ht[redacted]me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library
[redacted]

عليﷺ ته دا دعا ښيي چې:

اللَّهُمَّ إِنَّكَ عَفُوٌّ تُحِبُّ الْعَفْوَ فَاعْفُ عَنِّي

"اى الله! ته بښونکى يې او ښښنه خوښوې؛ نو ما ته ښښنه وکړه."

## ۲۰۹ د الله تعالٰی رانیول خورا سخت دي

د يو بنده تر ټولو سخت او ناوړه دريځ دا دی چې پر نورو ظلم کوي او پر حقوقو يې خېټه اچوي، ځکه يې الله تعالٰی هم کلک رانيسي، وګوره عامر بن طفيل غوښتل، چې پيغمبرﷺ ووژني، پيغمبرﷺ هغه ته ښېرې وکړې، په سبا له ورځ مړ شو او لمنځه ولاړ.

اربد بن قيس د پيغمبرﷺ د وژلو هڅه وکړه، هغه ورته ښېرا وکړه، پر اوښ سپور پر آسماني تندر ولګېد، سره له اوښه وسوزېد او لمنځه ولاړ.

حجاج بن يوسف د سعيد بن جبيرؒ پر وژلو اقدام وکړ، هغه ورته په دغه لنډ وخت کې ازار وکړ چې:

اى الله! تر ما وروسته يې پر بل چا مه مسلطوه! هماغه و چې حجاج د لاس په څه ناروغۍ اخته شو او دغې ناروغۍ يې ټول بدن ته سرايت وکړ، د غويي په څېر ځړېږوي به يې کول، لنډه دا چې پر همدغه حالت کې مړ شو.

سفيان ثوري د منصور له وېرې حرم ته لاړ، منصور هم ورپسې رهي شو، سفيان د کعبې غلاف کلک راونيو او منصور ته يې ښېراوې وکړې، منصور مکې ته تر دننه کېدو له مخه په لار کې د ميمون د کوهي ترڅنګ مړ شو.

حمزه البسوني د جمال ناصر په زندان کې پر محکومو مسلمانانو سخت ظلمونه کول اوورته به يې ويل:



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library


(العياذ بالله)

ستاسې خدای چېرته دی چې هغه هم په زولنو وتړم!

الله سبحانه وتعالی فرمايي:

﴿سُبْحَٰنَهُۥ وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يَقُولُونَ عُلُوًّا كَبِيرًا۝﴾

"هغه پاك دی او له هغو خبرو نه ډېر پورته او لوړ دی چې دوی يې کوي."

همدغه موذی انسان له قاهرې نه د باندې سکندرې ته روان و چې موټر يې ټکر وکړ، وسپنه يې په سرکې ننوتله او په ځای مړ شو.

د عبدناصر يو بل جلاد په لس ډوله ناروغيو اخته شو او په طبابت کې يې هيڅ درملنه ترلاسه نشوه، آخر هم په زندان کې مړ شو.

الله سبحانه وتعالی فرمايي:

﴿ٱلَّذِينَ طَغَوْا فِى ٱلْبِلَٰدِ۝ فَأَكْثَرُوا فِيهَا ٱلْفَسَادَ۝ فَصَبَّ عَلَيْهِمْ رَبُّكَ سَوْطَ عَذَابٍ۝﴾

"دا هغه کسان وو چې د نړۍ په هېوادونو کې يې ډېره زياته سر غړونه کړې وه (۱۱) او په هغو کې يې ډېر زيات فساد خورکړی وو (۱۲) په پای کې ستا رب پر هغو د عذاب دُره راکوزه کړه (۱۳)."

په حديث شريف کې راځي چې:

"د مظلوم له ښېرو او ازار نه ډډه وکړئ، ځکه چې د الله تعالی او د هغه ترمنځ څه پرده نه وي"

په خراسان کې له يوه نېک سړي نه څو اشرفۍ چا پټې کړې هغه په ژړا لاس پورې کړ، فضيل ابن عياض ورته وويل: ولې ژاړې؟؟ هغه ورته ووی ژاړم؛ خو په دې چې د قيامت په ورځ به الله تعالی ما او دغه غل سره يو


Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

ځای کړي، نو په هغه مې زړه دردېږي.

## ۲۱۰ ستا د دروازې مخې ته زه ولاړیم

په نیویارک کې د ملګرو ملتونو د ودانۍ د لویې دروازې پر سر یوه لوحه ځړول شوې چې پر هغې د نړیوال شاعر سعدي شیرازي دا قطعه (چې ورورۍ او اتحاد ته پکې بلنه شوې) په انګلیسي ژباړل شوې.

"زه چې کله د خپل محبوب دروازې ته ورسېدم، نو ما ته یې وویل: څوک یې؟ ما ورته وویل: زه یم

هغه بیا وویل: د محبت پر مانا نه یې پوهېدلی چې تا زما او د ځان ترمنځ توپیر وکړ!

ما وویل: یو کال پس راغلم او ستا دروازه مې په عاجزۍ سره ټک ټک کړه او ته وایې چې څوک یې، زه وایم ګوره! دننه هم ته یې او دباندې هم ته یې، چېرته چې زه ګورم؛ نو هلته ته یې!

هغه ووې: اوس د محبت په قدر او قیمت وپوهېدم، دننه راځه. ..."

د یوه بنده لپاره حتمي ده چې باید یو داسې دوست ولري چې په غمونو او اندېښنو، لوړو او ژورو کې ورسره شریک اووسي.

الله تعالی د موسی علیه السلام د غوښتنې په اړه داسې یادونه کړې:

﴿وَاجْعَل لِّي وَزِيرًا مِّنْ أَهْلِي ۝ هَارُونَ أَخِي ۝ اشْدُدْ بِهِ أَزْرِي ۝ وَأَشْرِكْهُ فِي أَمْرِي ۝ كَيْ نُسَبِّحَكَ كَثِيرًا ۝ وَنَذْكُرَكَ كَثِيرًا ۝﴾

"او زما لپاره زما د خپلې کورنۍ نه یو مرستیال وټاکه (۲۹) هارون چې زما ورور دی (۳۰) د هغه په وسیله زما ملا پیاوړې کړه (۳۱)



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

او هغه زما په کار کې برخه وال کړه (۳۲) چې موږ ښه ستا پاکي بیان کړو (۳۳) او ښه ستا یادونه ستاینه خپره کړو (۳٤).“

د یو شاعر په وینا:

خامخا باید یو نږدې غمخور ولرې، چې تا ته داد درکړي او درد دې دوا کړي.

الله سبحانه وتعالیٰ فرمايي:

﴿بَعْضُهُمْ أَوْلِيَآءُ بَعْضٍ﴾

”دوی په خپلو منځو کې سره ملګري دي.“

﴿كَأَنَّهُمْ بُنْيَانٌ مَّرْصُوصٌ ○﴾

”چې ګواکې هغوی یو محکم کړی شوی دېوال دی.“

﴿وَ أَلَّفَ بَيْنَ قُلُوبِهِمْ﴾

”او د مؤمنانو زړونه یې یو له بله سره ولګول.“

﴿إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ﴾

”مؤمنان خو یو د بل ورونه وي.“

د نېکمرغۍ له اسبابو نه دا هم دي، چې ته یو داسې ملګری پیدا کړې چې تا ته په خپله ملګرتیا کې یوه نېکمرغي او ګټه در ورسوي.

قدسي حدیث دی الله سبحانه وتعالیٰ فرمايي چې:

”چېرته دي زما په اړه دوه تنه دوستان چې نن یې د خپل رحمت په سیوري کې راونغاړم“

په بل حدیث کې راځي چې:

”او هماغه دوه کسان چې محبت او دوستي یې دواړه د الله تعالیٰ په



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

[redacted]

خاطر وي"

## ٢١١ امن شرعاً او عقلاً مطلوب دی

الله سبحانه وتعالٰى فرمايي:

﴿أُولَٰئِكَ لَهُمُ الْأَمْنُ وَهُم مُّهْتَدُونَ ۝﴾

"امنيت د هماغو کسانو لپاره دی او پر سمه لاره برابر هماغه کسان دي، چې ايمان يې راوړی او خپل ايمان يې پر ظلم نه دی ملوث کړی."

په حديث شريف کې راغلي دي:

"د چا په کور کې چې امن وي، بدن يې روغ وي او د ټولې ورځې لپاره خواړه په کور کې ولري؛ نو دا داسې ده ګواکې ټوله نړۍ ورته پرانستل شوې وي."

په کور کې امن هله وي، چې د کور ټول وګړي له ګناه او ګمراهۍ نه ځان ساتي او په ټول امت کې به هله امن راځي، چې ټول د مينې په دسترخوان سره راټول شي او پر نياو او انصاف خپلې چارې روانې کړي، په شريعت عمل پيل کړي.

دا دنيا خومره لولۍ او مکاره ده، يو اړخ يې سموې؛ نو بل اړخ يې خرابېږي، کله چې مال د سړي لاسته راشي؛ نو بدن يې ناروغي او اندېښنې په مخه کړي او چې ښه حالت تر لاسه کړي؛ نو مرګ يې ګرېوان راونيسي او همدا دنيوي ژوند دی.

لکه تاسې دې پېښې ته وګورئ:



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



د اعمش په نامه يو شاعر رسول اللهﷺ ته راته، چې په خپل شعر کې د ده ستاينه وکړي، په لار کې له ابو سفيان سره مخ شو، هغه ورته وويل سل اوښان به درکړم او بېرته له همدې ځايه ستون شه، پېغمبر ته مه ورځه، ده ورسره ومنله، سل اوښان يې ترې واخيستل او بېرته ستون شه، په لار کې له اوښه راپرېووت او مړ شو، دين او دنيا يې دواړه تباه او برباد شوو.

## ۲۱۲ دنيوي جاه او جلال لمنځه ځي

ربنتيونې او حقيقي نېکمرغي هماغه ده، چې تل او بشپړ وي، دوام يې په دغه او هغه نړۍ دواړو کې وي، محاسن يې په غمونو او اندېښنو لمنځه نه ځي!!

نعمان بن المنذر (د عراق ولس مشر) تر يوې ونې لاندې کېناست او د شرابو پياله يې پر سر رواړوله! د هغه وخت نامتو حکيم «عدي بن زيد» هغه ته په يوه ټکي نصيحت وکړ او ورته يې وويل:

پاچا سلامت! پوهېږې چې دغه ونه څه وايي؟

پاچا: نه ! وايي؟

عدي بن زيد ورته د شعر په ژبه وويل:

زموږ په چاپيريال کې ډېرو لارويانو اړولي او ارغواني شراب يې څښلي، بيا زمانې پرې لوبې کړي او همدغه د زمانې حال دی کله څنګه او کله څنګه!

د دغو شعري بېلګو په اورېدو نعمان په چورت کې ډوب شو او لاړ شراب خوري يې پرېښوده او همداسې مکدر او اندېښمن پاتې شو تر دې



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

چې مړ شو.

هلته د ایران شاه رضا د فارس حکومت د دوه نیم زره کلن تلین په ویاړ او حکومت د نفوذ او توسیع په مناسبت د هېواد په یوه ستره بقعه کې یو ویاړلی مجلس ترتیب کړ..... زمانه چا ته د‌ېر وخت نه ورکوي، فقط د ېکا او سبا په موده کې یې تغر ورټول کړ او جلا وطن کړی شو.

الله سبحانه وتعالی فرمايي:

﴿ تُؤْتِى ٱلْمُلْكَ مَن تَشَآءُ وَتَنزِعُ ٱلْمُلْكَ مِمَّن تَشَآءُ ﴾

"ستا چې چا ته خوښه شي حکومت ورکوې او له چا نه چې وغواړې اخلې یې."

په دې توګه له خپلو قصرونو څخه لېرې په محرومیت او افلاس کې مړ شو او چا پرې اوښکې هم توی نکړې.

الله تعالی فرمايي:

﴿ كَمْ تَرَكُوا۟ مِن جَنَّٰتٍ وَعُيُونٍ ۝ وَزُرُوعٍ وَمَقَامٍ كَرِيمٍ ۝ وَنَعْمَةٍ كَانُوا۟ فِيهَا فَٰكِهِينَ ۝ ﴾

"څومره یې پرېښودل باغونه، چینې، (۲۵) کښتونه او ځلانده محلونه (۲۶). څومره ژوندني وسایل، چې هغوی پکې مزې چړچې (کولې له هغوی نه وروسته پاتې شول) (۲۷)."

کټ مټ حال د "رومانیا" د جمهور رئیس "چار ویسکي" هم چې پوره دوه ویشت کاله یې حکومت وکړ اویا زره ګارډ یې درلودل، بالاخره ولس یې ورته په غوسه شو قصر یې ورمحاصره کړ او سره له محافظینو یې ټوټې ټوټې کړ.

الله سبحانه وتعالی فرمايي:



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

﴿فَمَا كَانَ لَهُ مِنْ فِئَةٍ يَّنْصُرُوْنَهُ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ۗ وَ مَا كَانَ مِنَ الْمُنْتَصِرِيْنَ ○﴾

"بیا د هغه د مرسته کوونکیو هېڅ کومه ډله نه وه، چې د الله تعالی په مقابل کې د هغه مرستې ته راغلې وای او نه یې خپله مرسته پخپله وکړای شوه."

دې ته ورته د فلپین جمهور رئیس "مارکوس" هم ستره واکمني او ځواکمني لاس ته راوړه! له دغې ځواکمنۍ څخه په ناوړه ګټه اخستنې سره خپل ولس له سخت ذلت او سپکاوي سره مخ کړ!

الله تعالی هغه ته داسې سزا ورکړه، چې ټوله واکمني او ځواکمني یې له لاسه ورکړه، له خپل هېواد، اهل او کورنۍ نه وشړل شو او پر هېڅ کوم ځای کې ورته پناه ګاه ترلاسه نشوه؛ او پر یو بدمرغه مرګ مړ شو، ولس یې په خپل هېواد کې د قبر لپاره هم ځای ورنکړ.

الله سبحانه وتعالی فرمايي:

﴿فَكُلًّا اَخَذْنَا بِذَنْۢبِهٖ﴾

"په پای کې موږ هر یو د هغه په ګناه سره ونیوه."

## ۲۱۳ د فضایلو اکتساب د نېکمرغۍ معراج دی

له بنده نه دا مطلوب ده چې باید نېکمرغي، امن او راحت کسب کړي، د نېکو صفاتو او ښو کارونو په لور ځغاسته وکړي.

په حدیث شریف کې راغلي دي چې:



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

«د هغه څه په اړه چې تا ته یې خیر او ګټه رسېږي حرص ناک اووسه او له الله تعالٰی نه مرسته وغواړه»

یو صحابي له رسول اللهﷺ نه غوښتنه کوي، چې په جنت کې هم له هغه سره ملګری اوسي!

هغه ورته وایي:

«د ډېرو سجدو په لګولو سره زما مرسته وکړه! ځکه هره سجده چې ته لګوې په هغې سره الله تعالٰی ستا یوه یوه درجه لوړوي»

یو بل یې د نېکۍ د یوې لویې دروازې د پرانستلو په اړه ورڅخه پوښتي، په ځواب کې ورته وایي چې: تل باید ستا ژبه د الله تعالٰی پر ذکر لونده اوسي.

د یو بل په ځواب کې وایي:

چا ته کنځل مه کوه، څوک پر خپل لاس مه وهه او که څوک درته کنځل وکړي، نو د کنځاوو ځواب پر کنځلو مه ورکوه، هېڅ ډول نېکي وړه او سپکه مه ګڼه، که څه هم له خپلې سلواغې نه اوبه د بل بوکې ته ور واوړې.

مهم کارونه چټکتیا او اقدام ته اړتیا لري.

په حدیث کې راځي:

«تر فتنو دمخه د نېکۍ په لور ځغاسته وکړئ»

الله سبحانه وتعالٰی فرمایي:

«د رب له لوري مغفرت او جنت ته ځغاسته وکړئ»


[redacted]://www.f[redacted]/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



## ۲۱٤ نېکۍ ته انتظار او په ترسره کولو يې ډيل مه کوئ!

د يوه شاعر په وينا:

د انسان د زړه تيکان او ټکان هغه ته همدا خبره په ډاګه کوي چې ژوند د دقيقو او ثانيو په حساب دی.

عمر بن خطاب ﷺ هلته په وينو کې لت پت پروت دی، بل لور ته يې يو ځوان وليده چې اوزار او جامې يې په ځان پسې پر ځمکه راښکلې، هغه ته يې داسې وويل: وراره! جامې دې له ځمکې نه در پورته کړه، چې په دې کې ستا د رب په اړه تقوی هم ده او د جامو نظافت هم.

وګورئ د مرګ په سکراتو کې د عمر فاروق ﷺ امر بالمعروف او نهی عن المنکر!

## ۲۱۵ جنتونه او نعمتونه هلته دي، نه دلته

خوښه مو نه ده، چې تل ژوندي ګرځندي، نېکمرغه او زلمي اوسئ؟ که غواړئ يې؛ نو دغه سعادت دلته نشي ترلاسه کېدای، ځکه دغه نړۍ لهو او لعب فنا او زوال دی!

يو شاعر د ځوانۍ په دوره کې په بېوزلتوب او مفلسۍ کې ژوند کاوه...! روپۍ يې غوښتلې ترلاسه يې نه کړې...... ښځه يې غوښتله! ويې نه



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegra[redacted]s://[redacted].me/afghansa[redacted]

Downloaded By: Afghan Salar Library



مونده..... کله يې چې د سر ويښته سپين او هډونه يې سست شول، نو له هر لوري مال او دولت ورته راغی؛ نو دا شعرونه يې وويل:

"دغه شيان ما هماغه وخت غوښتل کله چې شل کلن زلمی وم اوس تر اوياو واوښتلم؛ نو گورم چې د ترکو غرڅو ته ورته او نازولې پېغلې را نه طوافونه کوي!

خلک راته وايي: مور ستا د څرېرويو له امله خوب نشو کولای.

زه ورته وايم: څه وکړم چې اتيا کلن يم؟!"

الله سبحانه وتعالی فرمايي:

﴿وَمَا هٰذِهِ الْحَيٰوةُ الدُّنْيَآ اِلَّا لَهْوٌ وَّلَعِبٌ﴾

"او دغه د دنيا ژوند هېڅ نه دی مگر يوه لوبه او زړه خوښونه."

## ۲۱۶ د الهي منهج دښمنان

ما د ملحدينو او کمونستانو شعري او نثري کتابونه ولوستل... نهايي بې حياء او بې ادبه خلک دي...زه پر دې وپوهېدم چې هغه انسان چې د الهي منهج او رسالت په اړه د مسووليت احساس ونه لري، هغه د انسان په جامه کې يو څاروی دی چې د سړي او يا ښځې په څېره کې تبارز کوي.

الله سبحانه وتعالی فرمايي:

﴿اَمْ تَحْسَبُ اَنَّ اَكْثَرَهُمْ يَسْمَعُوْنَ اَوْ يَعْقِلُوْنَ ؕ اِنْ هُمْ اِلَّا كَالْاَنْعَامِ بَلْ هُمْ اَضَلُّ سَبِيْلًا ۝﴾

"ايا ته انگېرې چې له دوی نه زياتره کسان اوري او پوهېږي؟ دوی



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

خو د ځارویو په شان دي، بلکې له هغو نه هم ها خوا لار ورکي دي.“

زه وایم دغسې خلک څنګه کولای شي نېکمرغي ترلاسه کړي سره له دې چې د دوی او د الله تعالیٰ ترمنځ د تړاو رسۍ شلېدلې ده؟! او د الله تعالیٰ د رحمت پراخه او پرانستې دروازې یې په ځانونو پسې تړلې دي.

څنګه کولای شي نېکمرغه اوسي چې الله تعالیٰ یې په غوسه کړی؟! او څنګه راحت ونډلای شي چې له الله تعالیٰ سره پر جګړه بوخت دي؟!

زه وایم که توبه ونه باسي نو ستره بدبختي یانې د جهنم اور یې په برخه دی.

بخواني کمونستان دي او که اوسني، د دوی ترمنځ مشترکه اصل همدا دی چې دوی د الله تعالیٰ په وړاندې په بې ادبۍ او ملندو راولاړ شوي، انساني او اخلاقي ارزښتونه یې تر پښو لاندې کړي.

الله سبحانه وتعالیٰ فرمایي:

﴿اَفَمَنۡ اَسَّسَ بُنۡيَانَهٗ عَلٰى تَقۡوٰى مِنَ اللّٰهِ وَ رِضۡوَانٍ خَيۡرٌ اَمۡ مَّنۡ اَسَّسَ بُنۡيَانَهٗ عَلٰى شَفَا جُرُفٍ هَارٍ فَانۡهَارَ بِهٖ فِىۡ نَارِ جَهَنَّمَ ؕ وَ اللّٰهُ لَا يَهۡدِى الۡقَوۡمَ الظّٰلِمِيۡنَ ○﴾

”نو ستاسې څه ګومان دی، غوره انسان هغه دی چې هغه د خپلې ودانۍ بنسټ د الله تعالیٰ په وېره او د هغه د رضا په غوښتنه اېښې وي، یا هغه چې خپله ودانۍ یې د یوه کمره په کاواکه لغم خوړلې غاړه ودرولې وي او له هغه سره نېغ په نېغه د دوزخ په اور کې وغورځېږي؟ الله تعالیٰ داسې ظالمانو ته هېڅکله لاره نه ښيي.“

د دغو بدمرغو کمونستانو لپاره که توبه ونه باسي د حل یواځنۍ لار همدا ده، چې له غمونو او اندېښنو نه د خلاصون په موخه ځانونه په خپله ووژني!



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Teleg... ttps://t.me/...

Downloaded By: Afghan Salar Library

الله تعالی فرمایي:

﴿هَاَنۡتُمۡ اُولَآءِ تُحِبُّوۡنَهُمۡ وَ لَا يُحِبُّوۡنَكُمۡ وَ تُؤۡمِنُوۡنَ بِالۡكِتٰبِ كُلِّهٖ ۚ وَ اِذَا لَقُوۡكُمۡ قَالُوۡۤا اٰمَنَّا ۖۚ وَ اِذَا خَلَوۡا عَضُّوۡا عَلَيۡكُمُ الۡاَنَامِلَ مِنَ الۡغَيۡظِ ؕ قُلۡ مُوۡتُوۡا بِغَيۡظِكُمۡ ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَلِيۡمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُوۡرِ ۝﴾

"تاسې له هغو سره مینه کوئ؛ خو هغوی له تاسې سره مینه نه لري سره له دې چې تاسې ټول اسماني کتابونه منئ، کله چې هغوی له تاسې سره یو ځای کېږي؛ نو وایي چې موږ هم (ستاسې پیغمبر او ستاسې کتاب) منلی دی؛ خو چې کله درڅخه بېلېږي؛ نو بیا ستاسې پر خلاف له ډېر قهر او غضب نه خپلې ګوتې چیچي، هغو ته ووایه چې د خپلې غوسې په تاو کې ومرئ، الله تعالی آن د زړونو په پټو رازونو پوهېږي."

دغه راز فرمایي:

﴿وَ اِذۡ قَالَ مُوۡسٰى لِقَوۡمِهٖ يٰقَوۡمِ اِنَّكُمۡ ظَلَمۡتُمۡ اَنۡفُسَكُمۡ بِاتِّخَاذِكُمُ الۡعِجۡلَ فَتُوۡبُوۡۤا اِلٰى بَارِئِكُمۡ فَاقۡتُلُوۡۤا اَنۡفُسَكُمۡ ؕ ذٰلِكُمۡ خَيۡرٌ لَّكُمۡ عِنۡدَ بَارِئِكُمۡ ؕ فَتَابَ عَلَيۡكُمۡ ؕ اِنَّهٗ هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيۡمُ ۝﴾

"در یاد کړئ چې کله موسی (له دې نعمت سره درستون شو نو) خپل قوم ته یې وویل چې ای خلکو! تاسې په خدایي سره د خوسکي په نیولو پر خپل ځان سخت ظلم کړی دی، نو تاسې د خپل خالق په وړاندې تو به وباسئ او په خپلو کې سره ووژنئ، په همدې کار کې ستاسې د خالق په وړاندې ستاسې ښه توب دی، په هغه وخت کې ستاسې خالق ستاسې توبه قبوله کړه، چې هغه ښه توبه قبلوونکی او د رحمت خاوند دی."



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

## ۲۱۷ د دې نړۍ حقيقت

د نېکمرغۍ تله او د شيانو تقدير تول د الله تعالیٰ په کلام کې شته او هماغه الله سبحانه وتعالیٰ د شيانو تقدير ليکي، لکه چې فرمايي:

﴿وَ لَوْ لَآ اَنْ يَّكُوْنَ النَّاسُ اُمَّةً وَّاحِدَةً لَّجَعَلْنَا لِمَنْ يَّكْفُرُ بِالرَّحْمٰنِ لِبُيُوْتِهِمْ سُقُفًا مِّنْ فِضَّةٍ وَّ مَعَارِجَ عَلَيْهَا يَظْهَرُوْنَ ۝۳۳ وَ لِبُيُوْتِهِمْ اَبْوَابًا وَّ سُرُرًا عَلَيْهَا يَتَّكِـُٔوْنَ ۝ وَ زُخْرُفًا ؕ وَ اِنْ كُلُّ ذٰلِكَ لَمَّا مَتَاعُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ؕ وَ الْاٰخِرَةُ عِنْدَ رَبِّكَ لِلْمُتَّقِيْنَ ۝﴾

"که دا وېره نه وای، چې ټول خلك به د يوې کړنلارې پيروان شي؛ نو موږ به په رحمن الله باندې د کافر کېدونکيو د کورونو چتونه او د هغوی زينې، چې هغوی ورباندې بامونو ته خېژي، د سپينو زرو کړځولي وو _ او همدارنګه د هغوی دکورونو دروازې او د هغوی تختونه، چې هغوی ورباندې تکيه وهونکي کېني (هم د سپينوزرو کرځولي وو) او د سرو زرو، دا هر څه خو محضې د دنيوي ژوندانه متاع ده او اخرت ستا د رب په وړاندې صرف د پرهېزګارو خلکو لپاره دی."

د نړۍ حقيقت دا دی، چې دغه ټولې دنګې او ښکلې مانۍ بې ارزښته او سپکې دي، ځکه که دې شيانو د غوماشي د وزر هومره ارزښت هم لرلی؛ نو الله تعالیٰ به کافر ته ترې يو ګوټ اوبه هم نه وای ورکړې.

عمر رضي الله عنه فرمايي چې يو ځل زه نبي کريم ﷺ ته ورغلم په داسې حال کې، چې هغه پر څمکه ويده و؛ نو زما سترګې راډکې شوې او ورته مې عرض



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

وکړ، چې ای د الله رسوله!ﷺ د قیصر او کسری راحت او هوساینې ته ګوره، چې څومره هوسا ژوند لري، سره له دې چې هغوی کافر دي او ته، چې په ټولو انسانانو کې غوره انسان یې، داسې پر څاورو ویده یې؛ نو نبي کریمﷺ وفرمایل، چې ای عمره! په دې کې څه شکمن یې او ته دا نه خوښوې، چې ستاسې لپاره اخرت او د دوی لپاره دنیا ده.

الله سبحانه وتعالیٰ فرمايي:

﴿مَنْ كَانَ يُرِيْدُ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا وَ زِيْنَتَهَا نُوَفِّ اِلَيْهِمْ اَعْمَالَهُمْ فِيْهَا وَ هُمْ فِيْهَا لَا يُبْخَسُوْنَ ○ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ لَيْسَ لَهُمْ فِي الْاٰخِرَةِ اِلَّا النَّارُ ۖ وَ حَبِطَ مَا صَنَعُوْا فِيْهَا وَ بٰطِلٌ مَّا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ○﴾

"کوم خلك چې یوازې د همدې دنیا د ژوند او د هغې د ښکلاوو غوښتونکي وي د هغو د کړو وړو ټوله مېوه موږ همدلته ورکوو او په دې کې له هغو سره هېڅ کمی نه کېږي.

خو په اخرت کې د دغه راز خلکو لپاره له اوره پرته نور څه نشته (هلته به معلومه شي چې) څه چې هغوی په دنیا کې کړي دي، هغه ټول خاورې ایرې شول او اوس د هغو ټول کړه وړه محض باطل دي."

که تاسې د الله تعالیٰ له معرفت سره اشنايي او په عبادت کې بوخت اوسئ؛ نو تاسې ته د نېکمرغۍ کیلي په لاس درغلې ده، که څه هم تاسې په یوه جونګړه کې اوسېږئ او که تاسې په یوه ښکلې مانۍ کې د مزدورانو ترمنځ ژوند کوئ او ټولې هیلې مو پوره وي خو که تاسې د ګمراهۍ پر لار روان یاست؛ نو دغه شیان تاسې ته نېکمرغي نشي دربښلای او په داسې حال کې به ستاسې اخرت تباه وي او له نېکمرغۍ نه به بې برخې یاست.



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



## ۲۱۸ د نېکمرغۍ کيلي

چې خپل الله دې وپېژانده او د هغه په وړاندې دې د بندګۍ سر ښکته کړ؛ نو نېکمرغي، خير او برکت ټول ستا په څولۍ کې در پرېووت، که څه هم ته په کومه جونګړه اوکوډۍ کې استوګنه ولري؛ خو د سرغړونې په صورت کې که ته په مانيو کې هم اوسېږې؛ خو پر دې باوري شه، چې ستا پای به ډېره ترخه وي، څکه چې تا لا تر اوسه پورې د نېکمرغۍ کيلي لاس ته نه ده راوړې.

الله سبحانه وتعالیٰ فرمايي:

﴿وَآتَيْنَاهُ مِنَ الْكُنُوزِ مَا إِنَّ مَفَاتِحَهُ لَتَنُوأُ بِالْعُصْبَةِ أُولِي الْقُوَّةِ﴾

"بيا هغه د خپل قوم پر خلاف سر غړاوی وکړ او موږ هغه ته دومره خزانې ورکړې وې، چې د هغو کليګانې د قوي کسانو يوه ټولي ايله بيله په ګرانه پورته کولای شوې."

## ۲۱۹ او دې خلکو څنګه ژوند کاوه؟

راشه د يوه ډېر غوره صحابي علي بن ابي طالب رضي الله عنه د ژوند له چارو نه ځان خبره کړه، چې هغه لا د پېغمبر ﷺ د تره زوی او زوم دی!

يوه سهار مېړه او مېرمن (علي او فاطمې) د څه خوړو لټه وکړه؛ خو څه يې ترلاسه نه کړل، علي د يخنۍ له امله يوه چپنه واغوستله او د مدينې



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

په اطرافو کې د خوارۍ مزدورۍ په لټون پسې ووت! چا ورته ووی چې پلانکی یهودي څه زراعتي باغ لري! علي﷜ هلته ورغی او باغ ته د یوې ورې فرعي دروازې له لارې ورننوت! یهودي ورته وویل، چې ای باندواله! راځه له ما سره مزدوري وکړه او هغه دا چې د دغو سلواغو په وسیله له دغې څاه نه اوبه راوباسه او دغو ونو بوټو ته یې اچوه؛ د هرې سلواغې په بدل کې به در ته یوه دانه خرما درکوم!

علي﷜ له نوموړي یهودي سره د همدغه تړون له مخې څه موده دغه سخت او زړه چاودی کار وکړ، تر دې چې لاسونه یې وپړسېدل، ځکه چې مخکې به هغه یهودي دغه کار په اوښ کاوه! علي﷜ به کرۍ ورځ کار وکړ، بېګا ته به یې چې د سلواغو په بدل کومې خرماوې ترلاسه کړې وې؛ د الله تعالی په استازي به ورغی څه به یې ترې هغه ته ورکړې او څه لږې شان خرماوې به یې خپلې مېرمن "فاطمې" ته له ځانه سره یوړې! همدغه د دوی د ژوند چارې وې؛ خو هغوی پر دې پوهېدل او داډه وو، چې کور یې له نېکمرغیو او خوښیو ډک دی.

نېکمرغي د قارون او هامان سره نه وه! ځکه یو ژوندی پر خاورو ننووت او بل یې لعنتي شو!

الله سبحانه وتعالی فرمایي:

﴿اِعۡلَمُوۡۤا اَنَّمَا الۡحَیٰوةُ الدُّنۡیَا لَعِبٌ وَّ لَهۡوٌ وَّ زِیۡنَةٌ وَّ تَفَاخُرٌۢ بَیۡنَکُمۡ وَ تَکَاثُرٌ فِی الۡاَمۡوَالِ وَ الۡاَوۡلَادِؕ کَمَثَلِ غَیۡثٍ اَعۡجَبَ الۡکُفَّارَ نَبَاتُهٗ ثُمَّ یَهِیۡجُ فَتَرٰىهُ مُصۡفَرًّا ثُمَّ یَکُوۡنُ حُطَامًاؕ وَ فِی الۡاٰخِرَةِ عَذَابٌ شَدِیۡدٌ ۙ وَّ مَغۡفِرَةٌ مِّنَ اللّٰهِ وَ رِضۡوَانٌؕ وَ مَا الۡحَیٰوةُ الدُّنۡیَاۤ اِلَّا مَتَاعُ الۡغُرُوۡرِ ○﴾

"ښه وپوهېږئ چې د دنیا دغه ژوند له دې پرته بل څه نه دي چې یوه لوبه، ساعت تېرې، ظاهري زیب، سېنګار او ستاسې په خپلو منځو



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

کې يو پر بل باندې وياړېدل او په مال او اولاد کې يو پر بل باندې د مخکې کېدلو هڅه کول دي د دې مثال داسې دی لکه چې يو باران وشو نو په هغه سره د را پيدا کېدونکيو نباتاتو په ليدلو سره بزگران خوشاله شول. بيا همغه کښت پخېږي او ته وينې چې هغه ژېړ شو. بيا هغه بوس گرځي. د دې پر عکس اخرت هغه ځای دی چې هلته (د دنيا غوښتونکيو لپاره) سخت عذاب دی او (د اخرت غوښتونکيو لپاره) د الله تعالٰی مغفرت او د هغه رضا ده. د دنيا ژوند د غولونې له متاع پرته بل څه نه دی."

هو! نېکمرغي د بلال، سلمان او له عماره رضی الله عنهم سره وه!
يو يې حق ته د اذان او بلنې کار سرته رساوه.
بل يې په صداقت سره د ورورۍ الله چارې سمبالولې.
او بل يې له حق سره ژمنه ټينگ ولاړ و.
الله تعالٰی د دغسې کسانو په اړه فرمايي:

﴿أُولَٰئِكَ الَّذِينَ نَتَقَبَّلُ عَنْهُمْ أَحْسَنَ مَا عَمِلُوا وَنَتَجَاوَزُ عَنْ سَيِّئَاتِهِمْ فِي أَصْحَابِ الْجَنَّةِ ۖ وَعْدَ الصِّدْقِ الَّذِي كَانُوا يُوعَدُونَ ○﴾

"له دغه ډول خلکو څخه موږ د هغو ډېر ښه عملونه قبلوو او د هغو له بديو څخه تېرېږو، دوی به په جنتيانو کې شامل وي د هغې رښتيانې وعدې سره سم چې له هغو سره کېږي."



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



## ۲۲۰ د صبر او ثبات په اړه د پوهانو ويناوې

د صبر حيله په هغه ځای کې وکاروئ، چې نورې حيلې پرې نه خېژي.
که چا صبر تعقيب کړ، کرکه به هغه تعقيب کړي (؟)
کله خير د شر له لوري راځي او کله شر د خير له لوري راځي.

## ۲۲۱ د الله تعالی په اړه اټکل بې ګټې نه وي

په قدسي حديث کې راځي چې الله سبحانه وتعالی فرمايي:

أَنَا عِنْدَ ظَنِّ عَبْدِي، بِي فَلْيَظُنَّ بِي مَا شَاءَ

"زه د خپل بنده له اټکل سره سم يم، څنګه چې غواړي؛ نو هماغسې دې زما په اړه ګومان وکړي."

ځينې ليکوالان وايي:

تمه د صبر ماده او د هغه مرستيال دی.

دغه راز د تمې لامل د الله تعالی په اړه ښه اټکل دی، چې خورا ښې ګټې له ځانه سره لري.

موږ يو شمېر داسې بېوزله خلک وليدل، چې د سخيانو په پرتله يې ښه اټکلونه درلودل او له اټکلونو سره سم له دربارونو نهيلي نه دي تللي؛ نو د اکرم الاکرمين ذات په اړه ښه اټکل په پايله کې به څوک څنګه ورڅخه نهيلی ولاړ شي؟!



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

الله سبحانه وتعالیٰ فرمايي:

﴿إِنَّ الَّذِينَ تَدْعُونَ مِنْ دُونِ اللهِ عِبَادٌ أَمْثَالُكُمْ فَادْعُوهُمْ فَلْيَسْتَجِيبُوا لَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِينَ ۝﴾

"تاسې چې له الله تعالیٰ پرته کومو ته بلنه ورکوئ، هغوی خو صرف بندګان دي، لکه څنګه چې تاسې بندګان یاست، له هغو نه دعاګانې وغواړئ وګورئ، دوی دې ستاسې د دعاوو ځواب درکړي که د دوی په باب ستاسې انګېرنې صحیح وي."

## ۲۲۲ د صبر مېوه خوږه وي

عبدالله بن مسعود رضي الله عنه فرمايي:

"خوښې او نېکمرغي په يقين او خوښۍ کې وي، غم او اندېښنه په شک او غوسه کې وي)

ابان بن تغلب وايي ما له يوه داسې باندوال نه واورېدل، چې ویل يې:

په انساني ارزښتونو کې تر ټولو ارزښتمن شی د ستونزو په وړاندې صبر کول او ځان پر دې خبره ډاډمنول دي، چې دغه ستونزه ارومرو پای لري! له دې امله پر الله تعالیٰ توکل وکړه او ښه ګومان پرې ولره.

اصمعي له يوه باندوال نه واورېدل، چې هغه داسې وويل:

د خير په ځای کې له شره وډار شه او د بدۍ په ځای کې د نېکۍ تمه کوه.

يو شاعر وايي:



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

کله چې الهي عنایت ستا څارنه او ساتنه کوي، نو ډاډه زړه ویده شه، ځکه چې ټول حوادث او پېښې بیا په امن تېرېږي.

قطري بن الفجاءة وايي:

د جنګ په ورځ هېڅوک هم نه شا ته تګ کوي او نه له مرګه وېرېږي، ما ته نه ګورې، چې ښي او کیڼ لور ته د تورو او برچو تر منځ ولاړ یم، زما یې دومره وینه توی کړه، چې د اس زین او واګې مې هم پکې لامده شول، بیا زه د جګړې له ډګر څخه په داسې حال کې راستون شوم، چې بصیرت او اقدام مې لاپسې پیاوړی شو.

ځینې پوهان وايي:

هوښیار سړی د مصیبت پر مهال خپل ځانته په دوو خبرو ډاډ ورکولای شي.

۱: پر پاتې څه د خوښۍ څرګندونه.

۲: له ستونزې نه د خلاصې هیله او تمه کول.

همدا راز ناپوه سړی د ستونزو پر مهال له دوو شیانو څخه پوزې ته راځي.

۱: بې شمېره او سر سري هیلې او امیدونه تړل.

۲: د مچ له وزرو نه ځانته غر جوړول.

حسن بن سهل د ستونزو په اړه داسې وايي:

انسان له ګناه څخه پاکېږي، له غفلت څخه بیدارېږي، ثواب ته وړاندې کېږي، الله تعالی پر لورنو ویاړمن کېږي.

ځینې داسې خلک هم شته، چې د همېشني ژوند د لاسته راوړلو لپاره د مرګ په لټه کې وي.

الله سبحانه وتعالی فرمايي:

﴿ اَلَّذِيْنَ قَالُوْا لِاِخْوَانِهِمْ وَ قَعَدُوْا لَوْ اَطَاعُوْنَا مَا قُتِلُوْا ؕ قُلْ فَادْرَءُوْا عَنْ



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



أَنْفُسِكُمُ الْمَوْتَ إِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ۞

"دا هماغه خلك دي چې په خپله؛ خو كېناستل او د هغو ورونه خلك چې وجنګېدل او ووژل شول، د هغو په باب يې وويل چې كه هغو زموږ خبره منلې واى، نه به وو وژل شوي، دوى ته ووايه چې كه تاسې په خپله دغه خبره كې رښتيني ياست؛ نو چې كله مو خپل مرګ راشي هغه وځنډوئ."

## ٢٢٣ د انديښنو د معمولي ګڼلو په اړه د پوهانو وېناوې

يو هوښيار سوداګر وايي:

كه ګټه مې ونه كړه او روغ رمټ كور ته راورسېدم؛ نو دا ستر غنيمت دى.

ځان سلامت كړه، نو په لكونو به ترلاسه كړې.

د ځمكې د ابادۍ او ودانۍ په اړه مه نهيلى كېږه، كه څه هم ډېره زمانه پرې وتلې وي.

په كوم نهر كې چې اوبه تللې وي، په هغه كې بيا هم تلاى شي.

انګليسي مفكر تامس تيوس وايي:

هوښياران او مذهبي خلك د قدرت او نعمت پر وخت ښه مال مصرفوي او د مصيبتونو پر وخت ښه صبر كوي.



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

## ۲۲٤ مه خپه کېږه! که مال نه لرې، ستا ارزښت په بل څه کې دی

علي بن طالب رضي الله عنه وايي:
د هر انسان ارزښت د هغه په عمل پورې تړاو لري.
د علم ارزښت په عمل کې دی، لږ وي او که ډېر...!
د شاعر ارزښت په شعر کې دی، ښه وي او که بد ..!
له دې امله انسان باید کوښښ وکړي، چې نېکې چارې، علم او حکمت، صبر او استقامت ولري او خپل ارزښت خوندي وساتي.

## ۲۲۵ مه خپه کېږه، د کایناتو کتاب ته ځیر شه

په کایناتو کې عجایباتو ته ځیرتیا له عجایباتو سره مخ کېدل دي.
امام بخاري رحمه الله له جابر بن عبدالله انصاري رضي الله عنه نه روایت نقل کړی، هغه فرمايي:
"د اسلام ستر پېغمبر صلی الله علیه وسلم موږ د ابو عبیده بن جراح تر قومندې لاندې د قریشو د یوه سوداګریز کاروان د را لاندې کولو په تکل یوې سریې ته ولېږلو!
د خوراک لپاره فقط یو کوډی خرماوې له موږ سره وې، چې ابو عبیده به موږ ته ترې لږې لږې راکولې، بیا به مو پسې اوبه وڅښلې، چې تر بېګا پورې به پرې زموږ په ګرانه ګوزاره کېده، تر دې چې د ونو پاڼې به مو


Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



راښندلې، هغه به مو لمدې کړې او بیا به مو وخوړلې! همداسې د یوه لښکر په دود د بحر پر غاړه روان و، ګورو چې د عنبر په نامه یو لوی کب زموږ پر وړاندې پروت دی! دا وخت موږ د سختې لوږې له امله د بل هر څه په پرتله دغه کب ته اړتیا درلوده.

د حدیث راوي وايي:

دا وخت موږ درې سوه کسان و، هم هلته مو د کب په خوا کې واړول او له هغه څخه مو خوراک پیل کړ، ښه غوړ او چاغ شوو، د غنمو غوبیانو په اندازه مو ټوټې ټوټې کړ! ابو عبیده موږ د یارلس کسه د هغه په یوه سترګه کې سره ځای کړو! د هغه یوه پښتۍ یې را واخیستله او ویې دروله، بیا یې یو غټ اوښ کته کړ او یو اوږد سړی یې پرې سپور کړ او تر پښتۍ لاندې یې تېر شو! او پښتۍ ته یې سر ونه رسېده او د هغه څه غوښه مو مدینې ته هم له ځانه سره یوړه! کله چې موږ رسول الله ﷺ ته دغه خبره وکړه؛ نو هغه داسې وفرمایل، چې دغه د الله تعالی درکړه وه، چې تاسې ته یې درکړه، که څه غوښه یې لرئ، موږ ته یې هم راکړئ؟!

راوي وايي چې:

بیا موږ رسول الله ﷺ ته هم د هغه له غوښې نه څه برخه واستوله او هغه وخوړه"

الله سبحانه وتعالی فرمايي:

الذي أعطى كل شيء خلقه ثم هدى

"زموږ رب هغه ذات دی، چې هر شي ته یې د هغه خپل ساختمان ورکړ، بیا یې ورته لار وښودله."

ابو داؤد په خپل کتاب (السنن) کې د زراعت په اړه په یو حدیث کې وايي: ما په مصر کې یو بادرنګ په لوېشتو کړ، چې پوره د یارلس لوېشتې



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



وخووت! يو ترنج مې وليد چې پر دوو برخو ويشل شوی و، د دوو انډيو په شان پر اوښ بار و.

الله سبحانه وتعالیٰ فرمايي:

﴿الَّذِىٓ أَعْطَىٰ كُلَّ شَىْءٍ خَلْقَهُۥ ثُمَّ هَدَىٰ ۝﴾

"زموږ رب هغه ذات دی، چې هر شي ته يې د هغه خپل ساختمان ورکړ، بيا يې ورته لار وښودله."

زغلول النجار د کايناتو په اړه په يوه محاضره کې وويل:

دلته داسې ستوري شته چې د برق هومره سرعت لري خو په زرګونو کاله وشول، چې لا تراوسه هم ځمکې ته نه دي رارسېدلي.

الله سبحانه وتعالیٰ فرمايي:

﴿فَلَآ أُقْسِمُ بِمَوَٰقِعِ ٱلنُّجُومِ ۝﴾

"نو داسې نه ده، زه د ستورو د پرېوتلو په ځايونو باندې قسم خورم."

د "الاخبار" جريدې د (٢٧ / ٩/ ١٩٥٣) کال په (٣٩٦) ګڼه کې داسې وليکل:

" نن سهار مهال د پاريس ښار ته (اونا) د يوه فاتح په بڼه د لسګونو پليو او سپرو پوليسو په بدرګه راغی.

هو! (اونا) يو نر وژی ستر او ضحيم کب و چې اتيا زره کيلو ګرامه وزن يې درلوده او په يوه لويه ټرېله کې يې د پاريس ښار ته دننه کړ، ننداره چيان کولای شي تر يوې مياشتې پورې يې ننداره وکړي؛ خو منتظمين او پوليس سره دې موافقې ته ونه رسېدل، چې د کب نندار چيانو لپاره د اورګادي د تم ځای د پاسه سړک باندې ځای جوړ کړي، په دې خاطر چې هسې نه سړک ښکته کېني!



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

د نوموړي کب عمر ایله بیله اتلسو میاشتو ته رسېده؛ خو سره له دې هم شل متره اوږد او اتیا زره کرامه دروندوالی یې درلود.

تېرکال د سپتمبر په میاشت کې د نروژ په اوبو کې یو کب ښکاره شوی؛ په اروپايي هېوادونو کې یې د ګرځولو راګرځولو لپاره یو دېرش متري تړیله چمتو کړای شوه.

الله سبحانه وتعالی فرمايي:

﴿الَّذِیٓ اَعۡطٰی کُلَّ شَیۡءٍ خَلۡقَهٗ ثُمَّ هَدٰی ○﴾

"زموږ رب هغه ذات دی، چې هر شي ته یې د هغه خپل ساختمان ورکړ، بیا یې ورته لار وښودله."

مېږتون په اوړي کې د ځان لپاره خوراکي ذخیره برابروي، کله چې کومه دانه شنه او زرغونه شي؛ نو منځ یې دوه ټوټې کړي.

مار چې کله په صحرا کې خواړه ونه مومي، نو د لرګي په دود نېغ ودرېږي، کله چې کوم الوتونکی پرې کېني؛ نو خوله ور واچوي.

﴿الَّذِیٓ اَعۡطٰی کُلَّ شَیۡءٍ خَلۡقَهٗ ثُمَّ هَدٰی ○﴾

عبدالرازق الصنعاني وايي:

ما له معمر بن راشد البصري نه اورېدلي، هغه ویل، چې ما په یمن کې د انګورو یو داسې وښکالی ولید، چې د کچرې د یوه پېټي هومره دروند و.

الله سبحانه وتعالی فرمايي:

﴿وَالنَّخۡلَ بٰسِقٰتٍ لَّهَا طَلۡعٌ نَّضِیۡدٌ ○﴾

"او د هسکو دنګو خرماو ونې مو پیدا کړې، چې د هغو له مېوو نه ډک وږي یو د بل د پاسه پراته وي."

همدا راز فرمايي:



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

﴿وَفِی الْاَرْضِ قِطَعٌ مُّتَجٰوِرٰتٌ وَّ جَنّٰتٌ مِّنْ اَعْنَابٍ وَّ زَرْعٌ وَّ نَخِیْلٌ صِنْوَانٌ وَّ غَیْرُ صِنْوَانٍ یُّسْقٰی بِمَآءٍ وَّاحِدٍ وَ نُفَضِّلُ بَعْضَهَا عَلٰی بَعْضٍ فِی الْاُكُلِ اِنَّ فِیْ ذٰلِكَ لَاٰیٰتٍ لِّقَوْمٍ یَّعْقِلُوْنَ ﴾

"او په ځمکه کې بېلا بېل سيمي دي چې يو له بلې سره نښتې دي د انګورو باغونه دي، کښتونه دي، د کجورو ونې دي چې له هغو نه ځينې يو ستوې دي او ځينې غبرګې، ټولې په يو اوبو خړوبېږي؛ خو موږ د ځينو خوند ډېر ښه کوو او د ځينو لږ، په دغو ټولو شيانو کې د هغو خلکو لپاره ډېرې نښانې دي چې له پوهې نه کار اخلي."

کمال الدين الادفوي المصري په خپل کتاب "الطالع السعيد الجامع لابناء الصعيد" کې وايي:

ما په خپله سيمه "ادفو" کې د انګورو يو وښکالی وليد، چې اته رطله (يا نږدې شل کيلو ګرامه) وزن يې درلود او د يوې دانې وزن يې زموږ د سيمې د لسو درهمو سره برابر و.

﴿قَالَ رَبُّنَا الَّذِیْۤ اَعْطٰی كُلَّ شَیْءٍ خَلْقَهٗ ثُمَّ هَدٰی ﴾

"موسی عليه السلام ځواب ورکړ، زموږ رب هغه ذات دی چې هر شي ته يې د هغه خپل ساختمان ورکړ، بيا يې ورته لار وښودله."

ستر پوهان وايي:

په کايناتوکې کرار کرار توسيع منځ ته راځي، لکه څنګه چې ربړ غځېږي.

الله سبحانه وتعالی فرمايي:

﴿وَالسَّمَآءَ بَنَیْنٰهَا بِاَیْىدٍ وَّ اِنَّا لَمُوْسِعُوْنَ ﴾

"او اسمان موږ په خپل قدرت سره جوړ کړی دی او موږ د دې وس



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

لرو."

او دغه راز به ځمکې اطراف را لنډ او په سمندرونو کې به وسعت رامنځته شي.

الله تعالیٰ فرمايي:

﴿ أَوَلَمْ يَرَوْا أَنَّا نَأْتِي الْأَرْضَ نَنقُصُهَا مِنْ أَطْرَافِهَا ﴾

"ايا دغه خلك نه ګوري چې موږ پر دغې سيمې را روان يو او د هغې دايره له هرې خوا راتنګوو؟"

﴿ قَالَ رَبُّنَا الَّذِي أَعْطَىٰ كُلَّ شَيْءٍ خَلْقَهُ ثُمَّ هَدَىٰ ○ ﴾

"موسی عليه السلام ځواب ورکړ، زموږ رب هغه ذات دی چې هر شي ته يې د هغه خپل ساختمان ورکړ، بيا يې ورته لار وښودله."

د "الفيصل" مجلې د (۱٤۰۲) هجري کال په (٦۲) ګڼه کې دکرنب "ګلبي" چې (۲۲) کيلو ګرامه وزن او يو متر قطر يې درلود يو انځور خپور کړ دغه راز د پياز يوه غوټه چې ۳، ۲ کيلو ګرامه وزن او ۳۰ سانتي متر قطر يې درلود.

## ۲۲٦ يا اله العلمين

الله سبحانه وتعالیٰ فرمايي:

﴿ قُلِ اللَّهُ يُنَجِّيكُم مِّنْهَا وَمِن كُلِّ كَرْبٍ ثُمَّ أَنتُمْ تُشْرِكُونَ ○ ﴾

"ووايه، الله تعالیٰ تاسې ته له هغې او له بل هر کړاو څخه نجات درکوي بيا تاسې نور له هغه سره شريکان ګڼئ."

همداراز فرمايي:



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



﴿أَلَيْسَ اللّٰهُ بِكَافٍ عَبْدَهٗ ؕ وَيُخَوِّفُوْنَكَ بِالَّذِيْنَ مِنْ دُوْنِهٖ ؕ وَمَنْ يُّضْلِلِ اللّٰهُ فَمَا لَهٗ مِنْ هَادٍ ۚ﴾

"(ای پیغمبره!) ایا الله تعالیٰ د خپل بنده لپاره کافي نه دی؟ دوی له هغه نه پرته له نورو څخه تا وېروي په داسې حال کې چې الله تعالیٰ څوك په ګمراهۍ کې وغورځوي د هغه لپاره کوم لارښوونکی نشته."

بیا الله تعالیٰ فرمايي:

﴿قُلْ مَنْ يُّنَجِّيْكُمْ مِّنْ ظُلُمٰتِ الْبَرِّ وَالْبَحْرِ تَدْعُوْنَهٗ تَضَرُّعًا وَّخُفْيَةً ۚ لَئِنْ اَنْجٰنَا مِنْ هٰذِهٖ لَنَكُوْنَنَّ مِنَ الشّٰكِرِيْنَ ۝﴾

"ای محمده ﷺ! له دوی نه پوښتنه وکړه، د بېديا او سمندر په تيارو کې څوك تاسې له خطرونو څخه ژغوري؟ څوك دی چې له هغه څخه تاسې (د کړاو په وخت کې) په زاريو او په پټه پټه دعاوې غواړئ؟ چا ته وايئ چې که تا له دې بلا څخه موږ وژغورلو؛ نو موږ به ارومرو شکر ويستونکي اوسو؟"

د ادم ﷺ په اړه فرمايي:

﴿ثُمَّ اجْتَبٰهُ رَبُّهٗ فَتَابَ عَلَيْهِ وَهَدٰى ۝﴾

"بيا د هغه رب هغه غوره کړ او د هغه توبه يې قبوله کړه او هغه ته يې لارښوونه وکړه."

د نوح ﷺ په اړه فرمايي:

﴿وَنُوْحًا اِذْ نَادٰى مِنْ قَبْلُ فَاسْتَجَبْنَا لَهٗ فَنَجَّيْنٰهُ وَاَهْلَهٗ مِنَ الْكَرْبِ الْعَظِيْمِ ۚ﴾

"او همدغه نعمت موږ نوح ﷺ ته ورکړ، ياد کړه هغه وخت چې له



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

دغو تولو نه مخکي هغه موږ ته غږ کړی و، موږ د هغه دعا قبوله کړه او هغه او د هغه کورنۍ ته مو له لوی کړاو نه نجات ورکړ."

د ابراهیم ﷺ په اړه فرمايي:

﴿قُلْنَا يٰنَارُ كُونِي بَرْدًا وَّسَلٰمًا عَلٰٓى اِبْرٰهِيْمَ ۝ۙ﴾

"موږ وویل: ای اوره پر ابراهیم باندې یخ شه او سلامتیا جوړ شه."

د یوسف ﷺ په اړه فرمايي:

﴿وَقَدْ اَحْسَنَ بِيْٓ اِذْ اَخْرَجَنِيْ مِنَ السِّجْنِ﴾

"د هغه د ښو پېرزوینه ده، چې هغه زه له زندانه راوویستلم."

د داؤد ﷺ په اړه فرمايي:

﴿فَغَفَرْنَا لَهٗ ذٰلِكَ ۭ وَاِنَّ لَهٗ عِنْدَنَا لَزُلْفٰى وَحُسْنَ مَاٰبٍ ۝﴾

"هله نو موږ د هغه قصور وبښه او په یقینې ډول زموږ په وړاندې د هغه لپاره د نږدېوالي مقام او غوره عاقبت دی."

د ایوب ﷺ په اړه فرمايي:

﴿فَكَشَفْنَا مَا بِهٖ مِنْ ضُرٍّ﴾

"او له هغه څخه مو د هغه تکلیف ایسته کړ."

د یونس ﷺ په اړه فرمايي:

﴿وَنَجَّيْنٰهُ مِنَ الْغَمِّ﴾

"او له غم نه مو هغه وژغوره."

همدا شان د پیغمبر ﷺ په اړه فرمايي:

﴿اِلَّا تَنْصُرُوْهُ فَقَدْ نَصَرَهُ اللّٰهُ﴾



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



"که تاسې د پېغمبرﷺ مرسته ونه کړه؛ نو هېڅ پروا نشته، الله تعالیٰ د هغه مرسته کړې ده."

﴿ أَلَمْ يَجِدْكَ يَتِيمًا فَآوَىٰ ۝ ﴾

"ایا هغه ته یتیم ونه مینډلې او بیا یې هستوګنځی درته برابر کړ؟"

﴿ وَوَجَدَكَ ضَالًّا فَهَدَىٰ ۝ ﴾

"او ته یې لار نابلدی ومیندلې او بیا یې لارښوونه درته وکړه."

﴿ وَوَجَدَكَ عَائِلًا فَأَغْنَىٰ ۝ ﴾

"او ته یې بېوزلی ومیندلې او بیا یې شتمن کړې."

وګورئ هر پیغمبر چې الله تعالیٰ رابللی؛ نو له واره ورته د الله تعالیٰ مرسته رارسېدلې؛ نو تاسې هم خپل اله العلیمن راوبلئ، یقیناً هغه به ستاسې دعاګانې هم قبولې کړي، ځکه چې په خزانو کې کمی نه راځي.

## ۲۲۷ مه خپه کېږه! ورځې هسې هم د ارهټ منګوټې دي

ابن زبیر، محمد بن الحنفیه د مکې د عارم په زندان کې بندي کړ! د «عزة کثیر»پرې شعرونه وویل، په دې مانا چې د دنیا ځلا د دنیا پالو لپاره تل نشي پاتې کېدای او نه یې ضربه او شدت همېشنی وي، دا تر یوې مودې پورې دي، بیا ختمېږي.

څو پېړۍ وروسته ما پر دغه خبره فکر وکړ؛ نو د ابن زبیر الحنیفه او د



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

عارم زندان راته تش د خوب لیدل وو، چې تېریګر او مظلوم، بندیوان او بندیان یې ټول سره د مرګ پر درنو ځپېړو وهل شوي.
الله سبحانه وتعالی فرمايي:

﴿وَ كَمْ اَهْلَكْنَا قَبْلَهُمْ مِّنْ قَرْنٍؕ هَلْ تُحِسُّ مِنْهُمْ مِّنْ اَحَدٍ اَوْ تَسْمَعُ لَهُمْ رِكْزًا۝﴾

"او له دوی نه مخکې موږ څومره قومونه هلاك کړي دي، نو نن چېرته ته د هغو د کوم یوه نښه نښانه مومې، یا یې کښهار هم چېرته اورې؟."

په خلکو کې هر ښکرور به یوه ورځ ارومرو د ښکر غورځونې ناوړه پای ويني.

## ٢٢٨ د پرېکړې ورځ را روانه ده

په حدیث شریف کې راځي چې:

لَتُؤَدُّنَّ الْحُقُوقَ إِلَى أَهْلِهَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ، حَتَّى يُقَادَ لِلشَّاةِ الْجَلْحَاءِ، مِنَ الشَّاةِ الْقَرْنَاءِ

"هر چا ته به خپل حقونه په بشپړه توګه سپارل کېږي، تر دې چې د بې ښکرو څاروی لپاره به له ښکرور څخه غچ اخیستل کېږي."

د یوه شاعر په وینا:

"ای کبرجنه! لږ خو د قیامت منظرو ته فکر وکړه، په کومه ورځ چې اسمان بې دریغه ولړځول شي، دا چې بې ګناه د دغې منظرې په لیدو



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

[redacted]

لړځېږي، نو د زړو ګنهاګارانو به څه حال وي؟!)

## ۲۲۹

## په خپګان دې دښمن خوشحالېږي

په غم او اندېښنه دې دښمن خوشحالېږي، له دې امله اسلام خپلو پلويانو ته وايي:

خپل دښمن وويروئ، لکه چې فرمايي:

﴿ تُرۡهِبُونَ بِهِۦ عَدُوَّ ٱللَّهِ وَعَدُوَّكُمۡ ﴾

"چې په دې وسيله د الله تعالیٰ پر دښمنانو، پر خپلو دښمنانو او پر هغو نورو دښمنانو هيبت راولئ."

د احد په ستره تاريخي غزا کې ابو دجانه د مجاهدينو په کتارونو کې په ډېر وياړ او تکبر سره ګرځېده؛ نو رسول الله ﷺ يې په اړه وويل:

"که څه هم دغه ډول ګرځېدل د الله تعالیٰ ښه نه ايسي؛ خو په دغسې يو ځای کې ورڅخه ګټه اخېستل پکار دي"

د اسلام ستر پيغمبر ﷺ خپلو ملګرو ته امر وکړ، چې دښمن ته د ځواک په ښوولو سره له بيت الله نه د طواف په جريان کې د ترمل او پهلوانۍ ښه غوره کړي.

د يو شاعر په وينا:

د دښمن تر خوښۍ پرته انسان ته هر غم او اندېښنه اسانه او سپکه برېښي او د دښمن د ناخوښۍ لپاره هر غم او اندېښنه پرسره سينه ګالي.



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

يو بل شاعر وايي:

زه د دښمن په وړاندې پر غمونو او اندېښنو ډېر صبر کوم او دښمن ته ښکاره کوم، چې زه د زمانې لوړو او ژورو ته غاړه ږدم.

د اسلام ستر پېغمبرﷺ فرمايي:

"اى الله! زما دښمنان او حاسدين پر ما مه خوشحالوه!"

دغه راز فرمايي:

"اى الله! د دښمنانو له خوښۍ څخه تا ته پناه درووړم"

د پېغمبرﷺ د يارانو کړنلاره هم دا وه، چې له حوادثو او پېښو سره د مخ کېدو په صورت کې به يې له صبر او زغم نه کار اخيسته او دښمن ته به يې د خوښۍ موکه په لاس نه ورکوله.

الله سبحانه وتعالى فرمايي:

﴿وَ كَاَيِّنۡ مِّنۡ نَّبِيٍّ قٰتَلَ ۙ مَعَهٗ رِبِّيُّوۡنَ كَثِيۡرٌ ۚ فَمَا وَهَنُوۡا لِمَاۤ اَصَابَهُمۡ فِىۡ سَبِيۡلِ اللّٰهِ وَمَا ضَعُفُوۡا وَمَا اسۡتَكَانُوۡا ‌ؕ وَاللّٰهُ يُحِبُّ الصّٰبِرِيۡنَ ○﴾

"له دې نه مخکې ډېر پېغمبران داسې تېر شوي دي چې د هغو په ملګرتيا کې ډېر خداى پالونکي وجنګېدل، د خداى په لار کې چې کوم غمونه پر هغو راغلل هغوى پرې زړه ماتي نه شول، هغوى کمزوري ښکاره نه کړه، هغوى (د باطل په وړاندې) سرکوزي نشول، الله همداسې زغمونکي خوښوي."



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

[redacted]

## ۲۳۰ نېک فالي او بد فالي

الله سبحانه وتعالیٰ فرمايي:

﴿فَاَمَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا فَزَادَتْهُمْ اِيْمَانًا وَّ هُمْ يَسْتَبْشِرُوْنَ ○١٢٤ وَ اَمَّا الَّذِيْنَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ فَزَادَتْهُمْ رِجْسًا اِلٰى رِجْسِهِمْ وَ مَاتُوْا وَ هُمْ كٰفِرُوْنَ ○﴾

"کومو کسانو، چې ايمان راوړی دی د هغو په ايمان کې؛ خو په واقع کې (هر نازلېدونکي سورت) زياتوالی راوستی دی او هغوی پرې خوشاله دي ـ البته د کومو خلکو په زړونو کې، چې د منافقت ناروغي لګېدلې وه، د هغو پر پخوانۍ پليدۍ (هر نوي سورت) يوه بله پليدي زياته کړه او هغوی د مرګ تر شېبو پورې په همدې کفر کې اخته پاتې شول."

ډېر داسې خلک، چې هغوی په زړونو کې بد فالي نېولې وه؛ خو الله تعالیٰ د هغوی په برخه خوښي ليکلې وه، لکه چې فرمايي:

﴿وَ عَسٰٓى اَنْ تَكْرَهُوْا شَيْئًا وَّ هُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ ۚ وَ عَسٰٓى اَنْ تُحِبُّوْا شَيْئًا وَّ هُوَ شَرٌّ لَّكُمْ﴾

"کېدای شي چې يو شی تاسې ته ناکاره وي او هماغه ستاسې لپاره ډېر غوره وي او کېدای شي، چې تاسې يو شی خوښوئ او هماغه ستاسې لپاره بد وي."

ابو درداء رضي الله عنه فرمايي، چې درې شيان د خلکو بدې شي؛ خو زما خوښ دي:



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



۱: بېوزلتوب: ځکه چې هغه بې چارګي ده.
۲: ناروغي: ځکه چې په دې سره ګناهونه رژېږي.
۳: مرګ: ځکه چې هغه له الله تعالی سره د لیدنې کتنې لویه وسیله ده.

خو خلک له دغو دریوارو شیانو وېرېږي او بد یې ګڼي، لکه چې الله تعالی د یهودو په اړه فرمايي:

﴿وَ لَتَجِدَنَّهُمْ اَحْرَصَ النَّاسِ عَلٰی حَيٰوةٍ ۚ وَ مِنَ الَّذِيْنَ اَشْرَكُوْا ۚ يَوَدُّ اَحَدُهُمْ لَوْ يُعَمَّرُ اَلْفَ سَنَةٍ ۚ﴾

"ته به اورمرو دوی له بل هر چا نه د ژوند حریصان ومومې، آن تر دې چې دوی په دې کار کې له مشرکانو نه هم وړاندې شوي دي، د دوی هر يو دا غواړي چې کاشکې زر کاله ژوند وکړي."

## ۲۳۱ ای انسانه!

ای اندېښنو ځپلیه او له ژوند نه تر خولې راغلیه انسانه!! باور وکړه، چې سوبه او کومک بېخي نږدې دی او تر تنګسې وروسته اسانتیا شته! له تا نه د الله تعالی مینه راتاو شوې ده او ته پکې سم پټ یې، راتلونکې دې روښانه دی او د الله تعالی ژمنه تر سره کېدونکې ښکاري.

ای انسانه! اوس د دې وخت رارسېدلی، چې شک ته په یقین سره ماتې ورکړې او پر خپل ضمیر د حق څادر وغوړوې، ځکه تیاره مخ په ختمېدو او سبا صادق راختونکی دی، د اندېښنو تورې وریځې مخ په تولېدو او د الله تعالی رحمت را روان دی.

ای هغه انسانه! چې زړه دې اندېښنو په مخه کړی، ګورې نه چې ورو



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegr[redacted]ps://t.me/afg[redacted]salar

Downloaded By: Afghan Salar Library

[redacted]

ورو غيبي مرسته دې لمن رانيسي، بس دی خپلې اوښلنې سترګې پاکې کړه او زړه دې ډاډه کړه، ځکه الهي عافيت درنه راتاو دی، چې په هغې سره به دې تنده ما ته شي، ډاډمن به شې، ځکه ستا معامله له داسې رحمن او رحيم ذات سره ده، چې پر خپل مخلوق ډېر لوراند دی.

ډاډه اوسه! ستا پايلې ښې او ګټورې دي، تردغه بېوزلتوب وروسته بډايتوب، تر بېلتانه وروسته وصال او تر بې خوبۍ وروسته درووند خوب دی.

زه هغو ټولو انسانانو ته چې نېستۍ او ناروغۍ په مخه کړي دي، دا زېرى وركوم، چې مه ورخطا کېږئ! ډېر ژر به مو ګېډې له روزۍ ډکې شي، تنګسه به لمنځه ولاړه شي او ناروغي به مو په روغتيا بدله شي.

پر انسان د الله تعالی دا حق دی، چې پر هغه ښه ګومان ولري او د هغه د پېرزوينې انتظار وکړي، ځکه هر کار د هغه يوه (كن) لفظ ته اړ دی.

## ۲۳۲ د الله تعالی پېژند ګلوي

د الله تعالی معرفت، له هغه سره مينه، د هغه ذکر، له هغه وېرېدل، پر هغه توکل، خپلې ستونزې هغه الله تعالی ته سپارل، په دنيا کې جنت او د الله تعالی د معرفت لرونکيو لپاره ژوند دی او له دې خلکو نه په نړۍ کې نور غوره بندګان نشته او هغه څوک چې زړه يې له الله تعالی پرته په بل چا پورې تړلی وي؛ نو د داسې خلکو لپاره هر دنيوي اسان کار هم ګرانېږي.

علامه ابن قيم رحمه الله فرمايي:

زه پر داسې کس ډېر تعجب کوم، چې پر خپل صورت نازېږي، كبرجن مزل کوي او خپل لومړنی حالت يې له يامه غورځولی وي.



[redacted]ttps://www.[redacted].com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

د انسان لومړنی حالت؛ خو هغه یوه نمرې ده، چې د اوبو یو ګوټ ورسره مل شوی، یا داسې وګڼئ، چې یوه مړې ډوډۍ، چې څه مېوه، د غوښې پوټی، یوه پیاله شېدې او داسې نور څه سره یو ځای شوي او په معده کې پخ شوي او بیا له هغې نه د مني یو څاڅکی جوړ شوی او بیا هغه د انسان په بدن کې ځای پر ځای شوی، بیا دغه څاڅکي ته شهوت خوځښت ورکړی او له دغې لارې د مور تر رحمه رسېدلی او هلته تر یو څه مودې پاتې کېدو وروسته یې دغه شکل او صورت موندلی، چې اوس یې دومره کبرجن کړی او دا خو د انسان لومړنی حالت و اوس یې انتها ته هم لږ ځیر شئ!

خاورو ته به ورځي، دغه ښکلی بدن به یې د چینجو خوراک شي، لنډه دا چې خاورې به شي او بیا یې تېزه هوا دغه د بدن خاره یو خوا او بل خوا والوځوي ، سره له دې، چې ډېر کله داسې هم کېږي، چې خلک د بل مړي د ښخولو لپاره د زاړه مړي د بدن خاوره راوباسي او بل چېرته یې وغورځوي.

دا د بدن حال و اوس روح ته راشئ، که روح د ادابو په ګانه پسولل شوی او خپل خالق یې په سمه توګه پېژندلی و او د هغه حقونه یې پر ځای کړي وو؛ نو د بدن کمی زیاتی ورته زیان نشي اړولای؛ خو که پر خپل جهالت او ناپوهۍ ولاړ پاتې شوی وي؛ نو بیا به د هغه حال تر بدو هم بدتر وي.

## ۲۳۳ داسې غمځپلي

د تاریخ په اوږدو کې تر ټولو ډېر درانه افتونه د برامکه و پر کورنۍ راغلي، دوی ډېر سوکاله ژوند درلود، هر څه ورکړه ډېر او تېر و؛ خو له داسې آفت سره مخ شول، چې کیسې یې د نورو لپاره عبرت شوې!!!

هارون رشید د نعمتونو په بڼ کې په وربښمنه بړستن کې پورت و، چې



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

[redacted]

د سبا او بېګا ترمنځ د خپلو نږدې خلکو له خوا پرې یرغل وشو او هارون رشید یې کلک ونیو، مانۍ او کورونه یې ور ړنګ کړل، پردې یې ورڅیرې کړې، وینزې او مریيان یې ورڅخه واخیستل، د وینو لښتي یې وبهول، ښځې او ماشومانو یې پرې وژړل!

﴿فَاعْتَبِرُوْا يٰۤاُولِي الْاَبْصَارِ ۝﴾

"نو عبرت واخلئ ای د بینا سترګو لرونکیو."

یو شاعر وايي:

په دنیا کې انسان له ډول ډول حوادثو او پېښو سره مخ کېږي، یانې غم، خوښی، نېکمرغی، بدمرغی، خواری او دربدری او داسې نورو حالاتو سره مخ کېږي او په دې فاني نړۍ کې څوک هم په یوه حال نه پاتې کېږي.

همدغه ډول دغو خلکو هم ورځ په کورو کې تېره کړه؛ خو شپه یې ګور ته یوړه! په دې ترتیب هارون راولګید جعفر بن یحی البرمکي یې په دار وځړاوه او بیا یې په اور وسوزاوه، پلار او ورور یې ورله زندان ته واچول او د هغوی شتمني یې لوټ کړه.

ابو جعفر منصور راولګېد محمد بن عبدالله الحسن یې په وواژه او د هغه سر یې له څارونکي ربیع سره خپل پلار عبدالله الحسن ته زندان ته ولېږه، کله یې چې سر د هغه په وړاندې کېښود؛ نو داسې یې وویل:

ای ابا القاسم! الله دې درباندې ورحمېږي، ته له هغو کسانو څخه وې، چې د الله تعالی پر ژمنه دې وفا کړې او د هغه احکام دې سرته رسولي!

بیا یې د شاعر په دغه شعر استناد وکړ چې وايي:

یو داسې زلمی و،چې د عزت تورې له ذلت څخه ژغورلی و او همدغه ویاړ د هغه لپاره بس دی، چې له ناوړه چارو څخه یې ځان ساته.

بیا یې د منصور حاجب او پیره ته په کتو وویل: درځه او ملګري ته دې



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



ووايه، چې زموږ د بدمرغۍ او ستاسې د عيش او عشرت ډېره موده وشوه! د دغې معاملې او وروستۍ پرېکړې موعد به زما او ستا ترمنځ د الله تعالیٰ په وړاندې وي!

خو اوس له هغوی هېڅوک هم نشته، نه هارون شته او نه منصور، نه جعفر شته او نه ربيع، نه قاتل شته او نه مقتول، نه آمر شته او نه مامور....!

الله سبحانه وتعالیٰ فرمايي:

﴿قَالَ عِلْمُهَا عِندَ رَبِّي فِي كِتَٰبٍ ۖ لَّا يَضِلُّ رَبِّي وَلَا يَنسَى ۝﴾

"موسیٰ ﷺ ووېل، د هغې علم زما له رب سره په يوه ليکنه کې ساتل شوی دی زما رب نه غلطي کوي، نه کوم شی هېروي."

د دغو ناخوالو په اړه يحی بن خالد البرمکي وپوښتل شو، چې د دغو ناخوالو لامل څه و؟ هغه يې په ځواب کې ووېل، چې ښايي د کوم مظلوم ښېرې او آزار و، چې د توري شپې په تور تل کې يې د الله تعالیٰ تر دربار پورې تلل کړي او موږ ورڅخه خبر نه وو!

پر عبدالله بن معاويه بن عبدالله غم او آفت نازل شو؛ د زندان تورو کوټو ته ورسېد او داسې يې ووېل:

"موږ له دنيا نه په داسې حال کې ووتو، چې موږ د دنيا خلک و، چې اوس د زندان په تورو خونو کې ځانونه نه مړه بولو او نه ژوندي".

د فارس يوه واکمن، يو حکمت پوه بندي کړ، هغه ورته له زندانه داسې ليک راولېږه، چې د زندان هره شېبه ما خلاصون او تا د مصيبت کندې ته راکاږي! زه د آزادۍ په انتظار يم او ته د مصيبت او آفت په انتظار کې اوسه.

د اندلس پاچا "ابن عباد" چې کله په عيش، عشرت، لوفرۍ، خرمستۍ او زنا بازۍ کې د سر تر ويښتو پورې غرق او له سمې لارې څخه واوښت!

د اندلس نصرانيانو له دغه فرصت نه په ګټه اخيستنې د ده پر ضد مانورې



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



پیل کړي! یوه ورځ یې د مغرب له یوسف بن تاشفین نه د نصراني دښمنانو په مقابله کې مرسته وغوښته؛ یوسف بن تاشقین له بحره راپورېووت او د ابن عباد مرسته یې وکړه! ابن عباد هغه ته په خپلو قصرونو او باغچو کې درنه ملمستیا ورکړه، خو ابن تاشقین د زمري په څېر د هغه د ماڼیو او باغونو پر ځای ښار او له ښاره د باندې کتل، څکه چې د هغه په زړه کې یو څه ګرځېدل، هیله یې درلوده، چې هغه باید پلې کړي! هماغه و چې درې ورځې وروسته یې له خپل درانه او لوی لښکر سره د ابن عباد پر کمزوري حکومت یرغل وکړ او هغه یې له پښو وغورځاوه، د ابن عباد ماڼۍ او باغونه یې په ورانوکندوالو بدل کړل، ابن عباد یې پر بند محکوم او له ځانه سره یې د "اغمات" ښار ته چې په افریقا کې موقیعت لري بوت!

الله سبحانه وتعالی فرمايي:

﴿إِن يَمْسَسْكُمْ قَرْحٌ فَقَدْ مَسَّ الْقَوْمَ قَرْحٌ مِّثْلُهُ ۚ وَتِلْكَ الْأَيَّامُ نُدَاوِلُهَا بَيْنَ النَّاسِ وَلِيَعْلَمَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا وَيَتَّخِذَ مِنكُمْ شُهَدَاءَ ۗ وَاللَّهُ لَا يُحِبُّ الظَّالِمِينَ ۝﴾

"اوس که تاسې ټپي شوي یاست؛ نو له دې نه مخکې ستاسې دښمنه ډله هم همداسې ټپیان شوي دي، دا د زماني خوږې ترخې دي، چې موږ یې د خلکو ترمنځه اړوو را اړوو، پر تاسې دا پړاو، څکه راوستل شو، چې الله تعالی دا کتنه غوښتله، چې په تاسې کې رښتیني مؤمنان څوك دي او د هغو خلکو انتخابول یې غوښتل چې په واقعي توګه (د رښتینولۍ) شاهدان وي؛ څکه چې ظالمان د الله تعالی نه خوښېږي."

ابن تاشقین د اندلس نظام او د چارو واکې په خپل لاس کې واخیستل! هغه دعوه درلوده، چې د اندلس خلکو دی راغوښتی و، چې دغه نظام بدل او لمنځه یوسي.



https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

د ورځو په تېرېدو سره د عباد لونه ورېږ تر یېله پښې او په ژړا یې سترګې سرې له خپل پلار سره د لیدنې او کتنې لپاره د زندان تر دروازې ور ورسېدلې! پلار یې چې کله د خپلو لونو بېوزلتوب چیغې او نارې واورېدلې؛ نو له هغوی سره سم په ژړا شو او دا قصیده یې وویله:

فيما مضى كُنت بالأعيادِ مسرورا ... فساءك العيدُ في أغمات مأسورا

ابن عباده! په تېرو وختونو کې تا اخترونه هم نمانځلې؛ خو اوس د (اغمات) اختر په رنځونو اخته او اندېښمن کړې.

د قصیدې تر پایه...

بیا د ابن اللبانه په نامه شاعر ابن عباد ته ورغی او دا قصیده یې وویله:

تَنَشَّقْ رياحين السَّلامِ فإنَّما ... أصُبُّ بها مِسْكاً عليك وحَنْتَما

"د امن او سوکالۍ خوږ بوی، بوی کړه، ځکه چې په دغسې یوه فضاء کې به زه ستا پر سر د مښکو شراب در واړوم."

د قصیدې تر پایه...

امام ترمذي له عطاء نه د عائشې رضی الله عنها روایت نقل کړی، چې هغه د خپل ورور عبدالله پر قبر ور تېرېده؛ نو سلام یې پرې واچاوه او داسې یې وویل،چې ای عبدالله! زما او ستا مثال داسې دی، لکه متمم چې وايي:

وكُنَّا كندْماني جُذيْمَةَ بُرهةً ... من الدهرِ حتى قِيل لنْ يتصدَّعا

"تر یوې مودې پورې موږ داسې په مینه او محبت سره همغاړي وو، چې خلکو به اټکل کاوه، ګنې د دوی دوستانه به سره ختمه نشي."

د قصیدې ترپایه...



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

بیا یې وژړل او الله په امانې یې ورسره وکړه.

عمرﷺ به متمم بن نویره ته ویل، چې ای متممه! زما د خپل نفس پر واکمن قسم، چې زما دا خبره ښه ایسي، چې زه شاعر وای او د خپل ورور "زید" مرثیه مې ویلې وای! هغه تر ما له مخه اسلام منلی، له ما نه مخکې یې هجرت کړی او له ما مخکې وژل شوی، بیا عمرﷺ وژړل.

بنو الاحمر په اندلس کې له زوال سره مخ شول، ابن عبدون د هغه د مصیبت په اړه دا مرثیه وویله:

الدَّهْرُ يفجعُ بعد العَيْنِ بالأثرِ ... فما البكاءُ على الأشباحِ والصُّورِ

زمانه د هر شي اثر لمنځه وړي؛ نو بیا پر تشو سیورو او صورتونو ژړا د څه لپاره؟!

د قصیدې تر پایه...

## ۲۳٤ د خوښۍ ګلان

پر تقدیر خوښېدل د ایمان له ګلانو څخه یو داسې ګل دی، چې په دې سره انسان تر لوړو پوړیو رسېدلای شي او د انسان عقیده او یقین په دې سره غښتلتیا مومي او بشپړه بنده ګي همدا ده، چې د الله تعالی له لوري پر راغلې پرېکړه بشپړه خوښي ښکاره کړي، ځکه که مصیبت نه راتلای؛ نو درجې به پر څه لوړېدای؟ او که د مصیبت پر مهال هغه څه کېدای، چې ستا زړه یې غواړي؛ نو بیا د صبر، توکل څه مانا او له دعا سره ملې اوښکې به له سترګو په څه توېدای.



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

## ۲۳۵ چې له مور خوشحاله دي مور هم ترې خوشحاله يو

د الله تعالی پر تقدیر د خوښېدو يوه ګټه دا هم ده، چې ته په هر حال کې له الله تعالی نه خوشحاله يې؛ نو الله تعالی به درنه راضي شي.

که بنده پر لږه روزۍ صبر او شکر وکړي؛ نو الله تعالی هم له هغه نه په لږو نېکو چارو تر سره کولو رضا کېږي، په دې لړ کې تاسې د الله تعالی نېکانو بندګانو ته وګورئ، که د هغوی نېکۍ لږې هم وي؛ نو بيا هم الله تعالی له هغوی نه رضا کېږي، ځکه هغه هم د الله تعالی په لږه ورکړه رضا وي، د منافق پر عکس، چې که هغه ته الله تعالی ډېر څه ورکړي، هغه بيا هم له الله تعالی نه خوشحاله نه وي؛ نو ځکه الله تعالی هم له منافقانو څخه نه رضا کېږي.

## ۲۳۶ پر تقدير ناخوښي بدمرغه دي

پر تقدير ناخوښي ځان په لوی لاس د غمونو او اندېښنو غېږ ته غورځول دي او په دې سره پر الله تعالی بد ګوماني پيدا کېږي او له دې بدمرغۍ نه د خلاصون لار دا ده، چې پر تقدير رضا شې او په دنيا کې ځان ته د جنت ور پرانيزې، ياني له خوښيو څخه برخمن شې، ځکه د زړه خوښي په دې کې



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



نشته، چې پر تقدير غوسه شې، بلکې پر تقدير خوښېدو کې نغښتې ده، ځکه تقدير د هغه رحيم او کريم ذات د تدبير پايله ده، چې څوک هم پرې څه نيوکه نشي کولای.

ما ته د يوه ملحد فيلسوف ابن الروندي کيسه را په زړه شوه، چې د يوه نالوستي او ناپوه؛ خو بې کچې شتمن سړي په ليدو يې وويل، چې زه فيلسوف يم او په بېوزلتوب کې ژوند کوم او دغه ناپوه او چټل انسان په بډايتوب او شتمنۍ کې ژوندکوي، دغه وېش؛ خو له پيله تر پايه بې انصافي ده، دا څه ډول تقدير دی؟؟ پايله يې دا شوه چې دغه بدمرغه ملحد لاپسې په بدمرغۍ ککړ شو او حالت يې لاپسې بد تر شو.

## ۲۳۷ د رضا ګټې

د الله تعالی پر پرېکړه خوښي دغه ګټې په ځان کې لري.
اطيمنان او ډاډ مني رامنځته کوي.
د شکونو او شبهو مخنيوی کوي، زړه ته سکون، قرار او پاېښت وربښي.
د الله تعالی او د هغه د رسول پر ژمنو باور او ډاډ رامنځته کوي.
لکه چې الله تعالی فرمايي:

﴿هٰذَا مَا وَعَدَنَا اللّٰهُ وَ رَسُوْلُهٗ وَ صَدَقَ اللّٰهُ وَ رَسُوْلُهٗ وَ مَا زَادَهُمْ اِلَّاۤ اِیْمَانًا وَّ تَسْلِیْمًا ۝﴾

"دا هماغه څه دي چې الله تعالی او د هغه رسول له موږ سره د هغه وعده کړې وه. د الله تعالی او د هغه د رسول خبره بېخي رښتيا وه، دغې پېښې د هغو ايمان او غاړه ايښودل لا زيات کړل."



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

## ۲۳۸ له خپل رب سره جګړه مه کوه!

د الله تعالٰی پر پرېکړه د خوښۍ په څرګندولو انسان د خپل رب له جګړې نه خلاصېږي.

ابلیس د الله تعالٰی پر پرېکړه خوښ نشو، بلکې انکار او سرغړونه یې وکړه؛ نو د هغه د ابدي بدمرغۍ، ذلت او سپکاوي لامل شوه.

## ۲۳۹ د الله تعالٰی حکم پلي او پرېکړه یې عادلانه ده

پر انسان د الله تعالٰی حکم پلی او پرېکړه یې عادلانه ده، لکه چې په حدیث شریف کې راځي چې:

مَاضٍ فِيَّ حُكْمُكَ، عَدْلٌ فِيَّ قَضَاؤُكَ

"ستا حکم زما په اړه پلی او پرېکړه دې پر عدالت ولاړه ده."

څوک چې د الله تعالٰی پر عدالت راضي نه وي، هغه بېشکه ظالم دی، ځکه چې الله تعالٰی احکم الحاکمین ذات دی او ظلم یې پر خپل ځان حرام کړی دی.

الله تعالٰی له ظلم نه منزه او پاک دی، البته خلک خپله پر ځانونو تېری کوي، همدغه راز انسان ته د هغه د ګناه له امله سزا ورکول، چې پر ډېرو اسرارو او مصالحو باندې ولاړ دی او تر الله تعالٰی پرته بل څوک پرې نه پوهېږي.



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

## ۲٤۰ سلامتیا په رضا کې ده

د الله تعالٰی پر پرېکړه خوښي د انسان لپاره د سلامتیا دروازه پرانیزي، چې په دې سره زړه له تنګۍ او بېلارۍ پاکوي او له عذابه به هماغه څوک خوندي وي، چې روغ زړی راشي، هغه څوک چې له شکونو، شبهو د شیطان له خورو کړو لومو نه روغ راوځي او زړه یې د الله تعالٰی له مینې ډک وي:

پیغمبرﷺ فرمايي:

"د ایمان په خوند هماغه څوک وپوهېده، چې د الله تعالٰی پر ربوبیت، د اسلام پر دیانت، د محمدﷺ پر رسالت خوښ شو"

د الله تعالٰی پر پرېکړه ناخوښي انسان ته د الله تعالٰی او د هغه پر پرېکړو، قدرت، حکمت او پوهه په اړه د شکوکو او شبهو ور پرانیزي، چې انسان پکې د الله تعالٰی له عذابه خلاصون نشي ترلاسه کولای.

## ۲٤۱ رضا او خوښي امن او سوکالي رامنځته کوي

کوم زړه چې پر تقدیر خوښ وي؛ نو هغه زړه غني او ډاډمن هم وي، ځکه چې الله تعالٰی دغسې زړونه د خپلې مینې، انابت او توکل لپاره ځانګړي کوي او پر تقدیر ناخوښ زړه له راحت او سوکالۍ نه بېخي بې برخې کوي، له ستونزو او کړاوونو سره یې مخ کوي.



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

الله سبحانه وتعالیٰ فرمايي:

﴿وَالَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا فَتَعۡسًا لَّهُمۡ وَاَضَلَّ اَعۡمَالَهُمۡ ۝﴾

پاتې شول هغه کسان، چې کافران شوي دي؛ نو د هغو لپاره هلاکت دی او الله تعالیٰ د هغو عملونه بېلارې کړي دي.

## ۲۴۲ د رضا ثمره شکر دی

د رضا ثمره شکر کول دي او همدغه شکر د ايمان تر ټولو لوړ مقام او اصل حقيقت دی! ځکه چې د ټولو منزلونو غايه د الله تعالیٰ شکر کول دي او څوک چې د الله تعالیٰ پر ورکړه او لورنو خوښ نه وي؛ نو شکر يې هم نشي کولای او ناشکره انسان له هغو خوښيو بې برخې وي، چې د يوه شکر کوونکي انسان په برخه وي.

د دې پر عکس د غوسې ثمره او پايله کفر دی، ځکه چې پر نعمتونو کفر انسان پر منعم (الله تعالیٰ) هم کفر ته رسوي، يعنې لومړی انسان د الله تعالیٰ د نعمتونو ناشکري کوي او بيا همدغه ناشکري ان تر دې پولې ورسېږي، چې انسان پر الله تعالیٰ کافر شي، ځکه هغه انسان د الله تعالیٰ د نعمتونو شکر کولای شي، چې په ټولو حالاتو کې له الله تعالیٰ خوښ وي؛ خو چې يو څوک په هر حال کې له الله تعالیٰ نه خوښ نه وي؛ نو شکر به څه وکړي او همدغه ناشکري انسان د کفر لور ته راکاږي او عقيدوي فساد له همدغه ځايه راپيلېږي، ځکه هر سړی د خدايي کوښښ کوي، بلکې له الله تعالیٰ نه هم د مخکې کېدو په هڅه کې وي او خپله خبره عملي کول غواړي،



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:[redacted]/t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

لکه چې الله تعالی مؤمنان له دغه خویه داسې ژغورلي:

﴿ يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تُقَدِّمُوا بَيْنَ يَدَيِ اللَّهِ وَرَسُولِهِ وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴾

"ای مؤمنانو! د الله تعالی او د هغه د رسول په مخکې مه وړاندې کېږئ او له الله تعالی نه وویرېږئ، الله تعالی د هر څه اورېدونکی او پوهېدونکی دی."

## ۲۴۳ پر تقدیر ناخوښي د شیطان ښکار دی

شیطان هغه مهال انسان په اسانۍ ښکار کوي، کله چې انسان له تقدیره خپه او د نفساني هیلو په لومه کې کښېوځي!

که یو انسان د یوه ناخوښه کار په اړه درې خبرو ته پاملرنه وکړي نو ستونزه به یې حل شي:

۱: پر دې خبره پوهه، چې الهي مقدرات پر الهي مصلحتونو ولاړ دي.

۲: د دغو ستونزو په زغملو ستر اجرونه او ثوابونه ترلاسه کېږي.

۳: تقدیر او امر کول د الله تعالی کار دی، د بنده کار فقط منل او غاړه کېښودل دي، پکې د چون چرا واک نه لري.

الله سبحانه وتعالی فرمايي:

﴿أَهُمْ يَقْسِمُونَ رَحْمَتَ رَبِّكَ﴾

"ایا ستا د رب د رحمت وېش دوی کوي؟."



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

## ۲۴۴ رضا نفسي هوا لمنځه وړي

رضا نفسي هوا له زړه نه لرې کوي؛ ځکه چې خوښ انسان خپله خوښې د خپل رب ارادې ته تابع کړې وي، هماغه چې د ده په اړه یې لري! ځکه چې د الله( رضا او د نفس غوښتنه دواړه په یوه زړه کې نشي ځایدلای.

د یو شاعر په وینا:

که زما د حاسد په وینا ته خوښېږې؛ نو زموږ د تېونو پروا مه کوه فقط ته خوشحاله اوسه!.

الله تعالی فرمايي:

﴿قَالَ هُمْ أُولَآءِ عَلَىٰٓ أَثَرِى وَعَجِلْتُ إِلَيْكَ رَبِّ لِتَرْضَىٰ﴾

"هغه عرض وکړ: هغوی زما تر شا را روان دي ما تلوار وکړ ستا حضور ته راغلم ای زما ربه، تر څو چې ته له ما څخه خوشاله شې."

## ۲۴۵ وقفه

نبوي ارشاد دی چې:

تَعَرَّفْ إِلَى اللَّهِ فِي الرَّخَاءِ يَعْرِفْكَ فِي الشِّدَّةِ

القدر للفريابي مخرجا (۱ / ۱۳۲)

تعرف د (ر) په شد سره دې ته وايي، چې الله تعالی ته په اطاعت او شکر سره، په امن، سوکالۍ، خوښۍ، نېکمرغۍ او روغتیا کې ځان ورنږدې کړه؛



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

نو الله تعالیٰ به در ته په تنکسو کې ځان در نږدې کړي، په دې معنی چې غمونه او اندېښنې لوړې او ژورې به دې یوې خوا ته کړي.

## ٢٤٦ د خلکو په تېروتنو سترګې پټوه!

الله سبحانه وتعالیٰ فرمايي:

﴿خُذِ الْعَفْوَ وَأْمُرْ بِالْعُرْفِ وَأَعْرِضْ عَنِ الْجٰهِلِيْنَ ۞﴾

ای پیغمبره! د نرمۍ او تېرېدنې لاره غوره کړه، د ښو چارو ښوونکی اوسه او له ناپوهانو سره مه نښله.

که د چا ښېګړې ډېرې او بدګنې لږې وي؛ نو د هغه پرېښودل نه دي پکار، ځکه چې دغه لږې بدګنې یې د ښېګنې ور دي!

حکیم کندي وايي:

دا چې انسان له څلورو ډولو عناصرو رغښت موندلی دی؛ نو ته څنګه کولای شې په یوه دوست کې یو ډول عادتونه او خویونه ترلاسه کړې؟!

الله تعالیٰ فرمايي:

﴿اَلَّذِيْنَ يَجْتَنِبُوْنَ كَبٰٓئِرَ الْاِثْمِ وَ الْفَوَاحِشَ اِلَّا اللَّمَمَ ؕ اِنَّ رَبَّكَ وَاسِعُ الْمَغْفِرَةِ ؕ هُوَ اَعْلَمُ بِكُمْ اِذْ اَنْشَاَكُمْ مِّنَ الْاَرْضِ وَ اِذْ اَنْتُمْ اَجِنَّةٌ فِيْ بُطُوْنِ اُمَّهٰتِكُمْ ۚ فَلَا تُزَكُّوْٓا اَنْفُسَكُمْ ؕ هُوَ اَعْلَمُ بِمَنِ اتَّقٰى ۞﴾

هغه کسان، چې له لويو لويو ګناهونو او ښکاره څرګندو ناوړو افعالو څخه ډډه کوي؛ خو دا چې څه قصور ترې صادر شي په دې کې شک نشته چې ستا د رب د بښنې لمن ډېره پراخه ده هغه پر تاسې له هغه



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library


وخت نه ښه پوهېږي، چې کله هغه له ځمکې نه تاسې پیدا کړئ او کله چې تاسې لا د خپلو میندو په ګېډو کې اومه ماشومان (جنین) وئ. نو د خپل نفس د پاکۍ دعوې مه کوئ، همغه ډېر ښه پوهېږي، چې رېښتینی پرهېزګار څوک دی.

ستا لپاره همدا بس دي، چې په ملګري کې فقط مثبت اړخ ولټوې.

ابو درداء رضي الله عنه فرمايي:

د يوه دوست ملامتول تر دې غوره دي، چې بېخي يې له لاسه ورکړې، څکه له تا سره پوره دوستۍ ته څوک چمتو دی؟!

همدغه معنی او مفهوم شاعرانو هم اخستی:

ځيني حکماء وايي:

بشپړ انصاف غوښتل هم بې انصافي ده.

ځينې نور بيا وايي:

مور له ځانونو څخه خوښ نه يو؛ نو له نورو به څه خوښ شو؟!

نابغه وايي:

"که د يو چا تيت و پرک حالت ته ورجوړ نه کړې؛ نو څوک به دې د تل لپاره دوست پاتې نشي"

جعفر بن محمد خپل زوي ته وايي:

"بچيه! ستا په دوستانو کې که يو څوک ډېر ځله له تا نه خپه شي؛ خو بيا هم ستا په اړه څه ناوړه خبره ونکړي، نو له دغسې کس سره دوستي راټينګه کړه."

حسن بن وهب وايي:

"د دوستۍ حق دا دی، چې د دوستانو په تېروتنو سترګې پټې کړې."


Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library


الله تعالیٰ فرمايي:

﴿وَ مَا خَلَقْنَا السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضَ وَ مَا بَيْنَهُمَآ اِلَّا بِالْحَقِّ ؕ وَ اِنَّ السَّاعَةَ لَاٰتِيَةٌ فَاصْفَحِ الصَّفْحَ الْجَمِيْلَ ۝﴾

"موږ اسمانونه او ځمکه او د هغو تولې هستۍ له حق نه پرته پر کوم بل بنسټ نه دي پیدا کړي او د پرېکړې ساعت اورومرو راتلونکی دی؛ نو ای محمده ﷺ! ته (د دغو خلکو پر بابېزه چارو) له شریفانه تېرېدنې څخه کار واخله."

ابن رومي وايي:

(دا دنیا ده او دا یې خلک چې په سترګو کې یې لږه څه خړپړتیا منځ ته راشي؛ نو ها د چا خبره آسمان په تیږو ولي، کله چې ته په خپله بشپړ نه یې، نو له نورو څنګه د بشپړتیا او کمال غوښتنه کوې، دا څنګه انصاف دی؟!

یو شاعر وايي:

له هرې زمانې سره زموږ تړاو پاتې دی؛ خو زموږ بېلتون د پسرلي بارانه ته ورته دی، چې وېره ول ډېر او ورول لږ کوي؛ د هر چا له غوسې نه الله تعالیٰ ته پناه ور وړم، پرته د محبوب له نازونو او نخرو څخه، ځکه چې دا د هغه فطرت دی.

الله تعالیٰ فرمايي:

﴿وَ لَوْ لَا فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ وَ رَحْمَتُهٗ مَا زَكٰى مِنْكُمْ مِّنْ اَحَدٍ اَبَدًا﴾

"که پر تاسې باندې د الله تعالیٰ مهرباني او رحم او کرم نه وای؛ نو له تاسې څخه هېڅ یو نه شو تزکیه کېدلای."

یو شاعر وايي:

ایا ته د یوه داسې بشپړ انسان په لټه کې یې، چې له هر ډول عیبه


Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

پاک وي؟! څه فکر کوې، چې د عود لرګی تر دود او لوګي پرته خوشبويي ورکولای شي؟!

﴿فَلَا تُزَكُّوٓا أَنفُسَكُمْ ۖ هُوَ أَعْلَمُ بِمَنِ ٱتَّقَىٰٓ ۝﴾

"نو د خپل نفس د پاکۍ دعوې مه کوئ، همغه ډېر ښه پوهېږي، چې رېښتینی پرهېزګار څوك دی."

## ۲۴۷ روغتیا او وزګارتیا

کوښښ وکړه چې خپله روغتیا او وزګار وخت په خوشو تشو کې له لاسه ورنه کړې! روغتیا غنیمت وګڼه او وزګار وخت په کار راوله، ځکه چې تل سړی د کار جوګه نه وي او نه له لاسه وتلی وخت بېرته را ګرځېدای شي.

عمر رضي الله عنه فرمايي:

"راحت د سړیو لپاره غفلت او د ښځو لپاره بیا را پارول دي"

بزر جمهور وايي:

که کار کول زیار ګالل دي؛ خو وزګارتیا فساد دی.

يو حکیم وايي:

"له يوازې توب او وزګارتوبه ډډه وکړه، ځکه چې دا عقل فاسدوي او هوارې شوې لانجې بېرته را پاروي"

يو اديب وايي:

خپله ورځ بې ګټې مه تېروه او وخت له لاسه مه ورکوه، ځکه عمر تر دې



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



دېر لږ دی چې یو انسان يې په بې ګټو چارو ضایع کړي او خپله شتمني په داسې لارو چارو ولګوي، چې نه پکې ديني او نه دنيوي ګټه وي.

تر دې هم بليغه خبره د عيسى ابن مريمعليه السلام ده چې وايي:

نېکۍ چارې درې دي: خبرې، کتل او چوپتيا.

که څوک خپله خوله د الله تعالی په ياد نه خوځوي ؛ نو بيا يې خبرې بې ګټې دي.

که څوک د پند په سترګه نه ګوري؛ نو غلطي کوي.

بې فکره چوپتيا د وخت بربادول دي.

## ۲٤۸ الله تعالی د مؤمنانو دوست دی

بنده د خپلې کمزورتيا او بېوزلتوب له امله يو مولا ته اړتيا لري؛ نو ښکاره خبره ده، چې الله تعالی او مولا بايد څوا کمن، پوه او مرستندويه وي او دا ټول صفتونه يوازې په الله تعالی کې شته، ځکه په دې نړۍ کې به تاسې ته هېڅ داسې شی تر سترګو نشي، چې تاسې ته راحت او ډاډ دروبښي پرته د الله رب العزت له ذات نه، ځکه هماغه ذات دی، چې وېره په ډاډ او ناروغي په روغتيا بدلوي او له الله تعالی پرته بل هېڅوک ناروغي راوستونکی او ناروغي لرې کوونکی نشته؛ نو له دې امله بل لور ته متوجې کېدل هم نه دي پکار او نه په ستونزمنو حالاتو کې کوم پير، درویش، قبر او زيارت ته تګ پکار دی، ځکه دا د هغوی له وسه پوره نه ده.



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



## ۲٤۹ د نېکمرغۍ پر لور

نېکمرغي او برى تر لاسه کول يو لړ نښې او علامې لري چې په تعقيبولو يې انسان ارومرو د برې تر پړاوه رسېږي.

څومره چې د انسان په پوهه کې پراختيا رامنځته کېږي، هومره پکې د عاجزۍ او مهربانۍ ماده پياوړې کېږي، خپل وزن او ارزښت زياتوي.

لکه چې الله تعالی فرمايي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا قِيلَ لَكُمْ تَفَسَّحُواْ فِى ٱلْمَجَٰلِسِ فَٱفْسَحُواْ يَفْسَحِ ٱللَّهُ لَكُمْ ۖ وَإِذَا قِيلَ ٱنشُزُواْ فَٱنشُزُواْ يَرْفَعِ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مِنكُمْ وَٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلْعِلْمَ دَرَجَٰتٍ ۚ وَٱللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ ۝﴾

"اى مؤمنانو، کله چې تاسې ته وويل شي چې په خپلو مجلسونو کې ځای پراخ کړئ نو ځای پراخ کړئ الله تعالی به تاسې ته پراختيا درکړي او کله چې تاسې ته وويل شي چې پاڅېږئ؛ نو پاڅېږئ! له تاسې نه چې کوم کسان ايمان لرونکي دي او کومو کسانو ته، چې علم ورکړ شوی دی، الله تعالی به هغوی ته لوړې درجې په برخه کړي او تاسې چې څه کوئ الله تعالی پرې ښه خبر دی."

څومره چې يې پر خپل علم عمل زياتېږي، هومره پکې له الله تعالی نه د وېرې او تمې ماده پياوړې کېږي او د خپل ځان مراقبې او محاسبې ته چمتو کېږي.

څومره يې چې مال زياتېږي، هومره يې سخاوت هم زياتېږي دغه دول خلک د الله تعالی عيال، هغه ته ګران او محبوب وي.



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



او د بدمرغۍ نښې دا دي چې:

څومره چې یې علم زیاتېږي، تکبر او غرور یې هم ورسره زیاتېږي، علم یې نافع او ګټور نه وي.

څومره یې چې علم زیاتېږي خلکو ته په سپکه او ځان ته په درنه سترګه ګوري، فکر کوي چې یوازې همدی به بری او نجات ترلاسه کړي او پاتې ټول خلک به هلاک کېږي.

څومره یې چې عمر زیاتېږي هومره یې حرص هم زیاتېږي، فکر کوي چې حوادث او پېښې به یې له خپل ځای څخه هم ونه خوځوي.

څومره یې چې مال زیاتېږي، هومره ورسره بخیل او کنجوس کېږي.

څومره چې یې جاه او جلال زیاتېږي، هومره تکبر او غرور ته لاس اچوي!

په حدیث کې راځي چې:

- "کبرجن به د قیامت په ورځ د ذرو په شکل کې راټول کړای شي او خلک به پرې پښې ږدي.

## ۲۵۰ عزت او کرامت هم ازمېښت دی

پاچاهي، واک او شتمني هم یو ازمېښت دی!

الله تعالی د خپل نبي سلیمانﷺ په اړه (کله چې یې د بلقیس تخت د ځان په وړاندې ولید) داسې وویل:



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

﴿قَالَ الَّذِي عِندَهُ عِلْمٌ مِّنَ الْكِتَابِ أَنَا آتِيكَ بِهِ قَبْلَ أَن يَرْتَدَّ إِلَيْكَ طَرْفُكَ ۚ فَلَمَّا رَآهُ مُسْتَقِرًّا عِندَهُ قَالَ هَٰذَا مِن فَضْلِ رَبِّي لِيَبْلُوَنِي أَأَشْكُرُ أَمْ أَكْفُرُ ۖ وَمَن شَكَرَ فَإِنَّمَا يَشْكُرُ لِنَفْسِهِ ۖ وَمَن كَفَرَ فَإِنَّ رَبِّي غَنِيٌّ كَرِيمٌ ۝﴾

"له کوم سړي سره، چې د کتاب يو علم و هغه وويل "زه ستا د بنو له رېبدو نه مخکې هغه درته راوړم". څنګه چې سليمان ﷺ هغه تخت له خپل ځان سره ايښودل شوی وليده، ويې ويل دا زما د رب فضل دی ترڅو، چې هغه ما وازمايي چې زه شکر کوم او که د نعمت ناشکري کوم او څوك چې شکر کوي د هغه شکر په خپله د همغه لپاره ګټور دی او که څوك ناشکري وکړي نو زما رب بې نيازه او د کرم خاوند دی."

نو نعمتونه او لورنې د الله تعالی له لوري ازمېښت دی، چې په دغه ازموينه کې برې فقط په شکر او منني سره تر لاسه کېدای شي.

الله سبحانه وتعالی فرمايي:

﴿لَئِن شَكَرْتُمْ لَأَزِيدَنَّكُمْ﴾

"که تاسې شکر و باسئ؛ نو پر تاسې به لا زياته پېرزوينه وکړم."

## ۲۵۱ همېشنۍ خزانې

همېشنۍ خزانې هماغه دي چې خپل خاوندان يې له فاني نړۍ نه تلپاتې کور ته له ځانه سره يوړلای شي او هغه عبارت دي له:

ايمان، اسلام، احسان، تقوی، هجرت، جهاد، توبې او اخلاص څخه.



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

الله تعالیٰ فرمايي:

﴿لَيْسَ الْبِرَّ اَنْ تُوَلُّوْا وُجُوْهَكُمْ قِبَلَ الْمَشْرِقِ وَ الْمَغْرِبِ وَ لٰكِنَّ الْبِرَّ مَنْ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَ الْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَ الْمَلٰٓئِكَةِ وَ الْكِتٰبِ وَ النَّبِيّٖنَ ۚ وَ اٰتَى الْمَالَ عَلٰى حُبِّهٖ ذَوِی الْقُرْبٰى وَ الْيَتٰمٰى وَ الْمَسٰكِيْنَ وَ ابْنَ السَّبِيْلِ ۙ وَ السَّآئِلِيْنَ وَ فِی الرِّقَابِ ۚ وَ اَقَامَ الصَّلٰوةَ وَ اٰتَى الزَّكٰوةَ ۚ وَ الْمُوْفُوْنَ بِعَهْدِهِمْ اِذَا عٰهَدُوْا ۚ وَ الصّٰبِرِيْنَ فِی الْبَاْسَآءِ وَ الضَّرَّآءِ وَ حِيْنَ الْبَاْسِ ؕ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ صَدَقُوْا ؕ وَ اُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُتَّقُوْنَ ○﴾

”نېکي دا نه ده، چې تاسې خپل مخونه ختیځ لوري ته واړوئ، یا لوېدیځ لوري ته، بلکې نېکي دا ده چې انسان، الله تعالیٰ او د قیامت ورځ او پرښتې او د الله تعالیٰ نازل کړای شوي کتابونه او د هغه پېغمبران د زړه له کومې ومني او د الله تعالیٰ په مینه کې خپل ګران مالونه په خپلو خپلوانو، یتیمانو، مسکینانو، پردېسانو، دروېزګرو او د مریانو په ازادۍ مصرف کړي، لمونځ قایم کړي، زکات ورکړي او نېکان هغه کسان دي چې کله وعده وکړي تر سره یې کړي او د تنګسې او غمونو په وخت کې او د حق او د باطل په جګړه کې صبر وکړي همدا ریښتوني او همدا پرهېزګار خلك دي.“

## ۲۵۲ لوړ همتونه

لوړ همت دی، چې انسان پر سمه لار روانوي او تر لوړو پړاوونو یې رسوي! ستر خلک هماغه دي، چې د لوړ همت، ستر مقصد او غوره هدف په ګانه سمبال وي! ځکه چې همدغه همت د انسان په شخصیت کې د



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



ايجابي او سلبي صفاتو مرکز دی! ستر همت انسان د علم او عمل په ډګر کې دروي او په رګونوکې يې د شهامت وينې په جريان راولي، له غوره مالۍ او چاپلوسۍ نه يې په کلکه ژغوري!

دلته بايد دا خبره هېره نه کړو، چې همت او تکبر په خپلو کې د ځمکې او آسمان توپير لري! ستر همت د يو اصيل او خپلواک زړه پر مفرق يو بې مثاله تاج، د سپېڅلتيا او طهارت ښکارندوی او د پيغمبرانو ميراث دی او تکبر د ناروغۍ هماغه درد دی، چې انسان د هلاکت کندې ته ور غورځوي.

يو شاعر وايي:

زيار او زحمت وګاله! ځکه چې يوه سترګه په پر بله غوره او يوه ورځ به د بلې لپاره باداره شي.

## ۲۵۳ ناروغي او درمل

سقراط وايي: د ګټورو شيانو له ډېرښت نه د زيانمنوونکيو شيانو لمنځه وړل ډېر ګټور دي او همدا راز دا هم ويل کېږي، چې د خوراک، څښاک په کمولو کې روغتيا نغښتې ده.

په دې لړ کې پوهان وايي، که څوک روغتيا غواړي؛ نو لږ او پاک خواړه دې وخوري، د غرمې تر خوراک وروسته دې لږ غوندې خوب وکړي او د ماښام تر خوړو وروسته دې لږ غوندې وګرځي او له ويده کېدو نه مخکې دې بيت الخلا ته ولاړ شي.

يو حکيم ليکلي دي، که څوک د اوږد ژوند هيله من وي؛ نو د غرمې او ماښام ډوډۍ دې وختي خوري او له خپلې ښځې سره دې کوروالی کم



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

[redacted]

کړي.

اپلاتون وايي، څلور شيان بدن ويلې کوي او کله يې لمنځه وړي:
نېستي، د خپلوان بېلتون، تل غوسه، نصيحت ته غوږ نه کېښودل.

يو کس وپوښتل شو، چې ستا د روغتيا راز په څه کې دی؟ هغه يې په ځواب کې وويل، چې زه د دوو وختونو خوراک په ګېډه کې نه يو ځای کوم او هغه څه نه خورم، چې ما ځوروي.

سقراط وايي:

څلور شيان بدن زيانمنوي:

ډېرې خبرې، ډېر خوب، ډېر خوراک، او زياته جماع، ځکه ډېرې خبرې دماغو ته ټکان ورکوې، ډېر خوب د مخ ځلا زيانمنوي، ډېر خوراک بدن سستوي او تمبلي پکې را پيدا کوي او زياته جماع بدن کمزوری کوي.

څلور شيان بدن نړوي:

غم، انديښنه، لوږه او بې خوبي

څلور شيان بدن ته خوښي وربښي:

رواني اوبه، محبوب، مېوه او شنه مناظر.

څلور شيان په سترګو تياره راولي:

يبله پښې مزل، شپه او ورځ په غوسه کې اوسېدل، زياته ژړا او زيخ (رقيق) ليک لوستل.

څلور شيان بدن غښتلی کوي:

پستې جامې اغوستل، معتدل حمام ته دننه کېدل، خواږه خوړل او خوشبويي بويول.

څلور کارونه مخ توروي:

درواغ ويل، بې شرمي او بې حيايي، له خلکو نه غوښتنه کول، کنځل او



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

فحش ویل.

څلور شیان د مخ اوبه زیاتوي:

وفا، سخا، حیا او تقوی

څلور شیان دښمني رامنځته کوي:

تکبر، حسد، درواغ او چغل خوري.

څلور شیان رزق پراخوي:

تهجد کول، استغفار ویل، خیرات ورکول، د ورځې په سر او پای کې د الله تعالیٰ ذکر کول.

څلور شیان رزق لمنځه وړي:

د سباوون خوب، پر لمانځه کې سستي، تګي او خیانت کول.

څلور شیان ذهن کمزوری کوي:

ترشه خواړه، پر خټ خوب کول، غم او اندېښنه کول.

څلور شیان ذهن قوي کوي:

د زړه فراغت، لږ خواړه او ښه خواړه، له ثقلیو خوړو ځخه ډډه کول.

## ۲٥٤ چمتو اوسئ

ویښ مغزه هماغه دي، چې توقف کوي هر کار د پایلې په پامنیوي ترسره کوي او د نظر په وړاندې کولو کې هم ډېر احتیاط کوي، چې پښېمانه نشي؛ که حق ته ورسېده؛ نو د الله حمد او ثنا او شکر پر ځای کوي او تېروتنه د تقدیر پرېکړه بولي؛ نو ځکه پرې نه خفه کېږي.



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library


٢٥٥

## فکر وکړئ

عقلمن او پوه انسان تل ثابت قدم اوسي، د کوتلي نظر خاند وي، له ستونزو سره د مخ کېدو په صورت کې اندېښنه نه کوي ، بلکې فکر کوي او له پوهانو سره مشوره کوي، ځکه چې لږ او پوخ نظر تر ډېر او خام نظر غوره دی.

علماء وايي:

دا چې په ښښه او تېرېدنه تېر وځي، تر دې غوره دی، چې د عقوبت او سزا په ټاکلو کې تېروځې.

الله تعالی فرمايي:

﴿فَتُصۡبِحُواْ عَلَىٰ مَا فَعَلۡتُمۡ نَٰدِمِينَ ○﴾

"او بيا پر خپلو کړو پښېمانه شئ."

٢٥٦

## هوډ

دغه آيتونه، حديثونه، له عبرت او حکمت ډکې کيسې دلته يوازې د يوه نوي ژوندانه د پيلامې لپاره ليکل کېږي، چې ته يو نوی ژوند پيل کړې، بېخي له سره نوی ژوند، يو داسې ژوند، چې د ښې پايلې تمه ترې کېدای شي، چې ته پکې په رښتيوني همت سره له رنځونو او کړاونو خلاص شې!

يو عالم وپوښتل شو، چې يو بنده له ګناه څخه څنګ توبه کولای شي؟!


Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



هغه يې په خوب کې وويل، چې کلکې او رښتنې ارادې ته اړتيا لري، همدا لامل دی چې الله تعالٰی په اولو العزمه خلکو کې د همت ماده هم اېښې وي.
آدم عليه السلام له والعزمه پېغمبرانو څخه و ځکه چې:

﴿فَاصْبِرْ كَمَا صَبَرَ أُولُوا الْعَزْمِ مِنَ الرُّسُلِ وَلَا تَسْتَعْجِل لَّهُمْ ۚ كَأَنَّهُمْ يَوْمَ يَرَوْنَ مَا يُوعَدُونَ لَمْ يَلْبَثُوا إِلَّا سَاعَةً مِّن نَّهَارٍ ۚ بَلَاغٌ ۚ فَهَلْ يُهْلَكُ إِلَّا الْقَوْمُ الْفَاسِقُونَ ○﴾

"ای پېغمبره صبر وکړه، لکه چې اولو العزمو پېغمبرانو صبر کړی دی او د دوی په باب بیړه مه کوه. په کومه ورځ چې دوی هغه څه ويني، چې دوی ترې وېرول کېږي؛ نو دوی ته به داسې ښکاره شي، لکه چې په دنيا کې يې د ورځې له يوه ساعت نه زياته استوګنه نه ده کړې. خبره ورسول شوه؛ نو آيا له نافرمانو کسانو څخه پرته به بل څوك هلاك شي؟"

## ۲۵۷ د دنيوي ژوند حقيقت

د اخرت نېکمرغي په دنيوي نېکمرغۍ پورې تړلې ده، له دې امله هر عقلمن ته پکار ده، چې پر دې پوه اوسي، چې په دې ژوند پسې وروسته يو بل ژوند را روان دی، چې هغه د اخرت ژوند دی، که څه هم ډېر خلك دا فکر کوي، چې بس همدا د دې دنيا ژوند دی او خپلې ټولې هلې ځلې



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



د دې دنيوي ژوند لپاره کوي، د دې لپاره د مال په راټولولو کې سرګردانه او ډوب وي او په دې دنيا کې د تلپاتې ژوند خوبونه ويني او د دوی لويه ناپوهي دا ده، چې په فاني نړۍ پورې يې زړونه تړلي دي، کله چې مرګ راشي؛ نو هر څه ترې دلته پاتې وي او د هغه ژوند لپاره يې هېڅ چمتوالی نه وي کړی او تش لاس هغه حقيقي نړۍ ته روان شي، بلکې د ګناهونو له پنډونو سره ور درومي او د نېکۍ يې څرک نه تر سترګو کېږي.

زه به تاسې ته درې حقيقتونه بيان کړم.

۱: که تاسې پر الله تعالی خوښ نه شئ، د هغه په درکړي روزۍ او تقدير خوښ نه شئ؛ نو پر څه او کله به خوښ شئ؟

۲: تاسې تل له الله تعالی څخه غوښتنې کوئ، چې ای الله تعالی دا راکړه او هغه راکړه، ايا کله مو دا فکر کړی، چې الله تعالی تاسې ته څه درکړي، کله مو پر هغو شکر کړی؟ څه چې يې درکړي، پر هغې شکر نه کوئ او نور غواړئ!؟؟ که تاسې د هغه لږ څه شکر نشئ کولای، چې پر تاسې يې لوروللي دي؛ نو پر ډېرو به څنګ شکر وکړای شئ!؟

۳: هغه څه چې الله تعالی تاسې ته درکړي، لکه ښه صفتونه، ښکلا او د څه کار کولو هنر؛ نو تاسې له هغې نه ولې ګټه نه پورته کوئ، په هغې کې پر مختګ ولې نه کوئ او په هغې سره ګټور ژوند ولې نه تر لاسه کوئ؟ څکه الله تعالی دا ښه صفتونه او هنر زموږ په مغز کې داسې ايښي، لکه خزانه، چې په خاورو کې ښخه وي، هغه که کوم هنرمند را وويسته؛ نو را وبه يې ويسته، کنه نو ښخه به پاتې شي، څکه خپله خو نه را برسېره کېږي؛ نو موږ او تاسې ته هم پکار دي، چې خپلو ځانونو ته ځير شو او په ځان کې ښه او ښکلي صفتونه او هنرونه را



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



برسېره کړو او د خپل پرمختګ د وسیلې په توګه یې وکاروو.

## ۲۵۸ امن چېرته دی؟

ما د عبدالغني الازدي «پټېدونکي خلک» کتاب ولوست، په رښتیا هم ډېر زړه راښکونکی کتاب دی! نوموړي په دغه کتاب کې له حجاج بن یوسف نه د یوه تښتېدلي سړي په اړه خبرې کړي او د دغې کیسې په لوستو زه پر دې خبره باوري شوم، چې ژوند ډېر پراخه دی او کله نا کله په شر کې هم خیر نغښتی وي.

پیاوړی ادیب ابو عمرو بن العلاء وايي:

د حجاج له وېرې یمن ته وتښتېدم، د صنعاء په ښار کې مې په یوه کور کې پناه واخیسته، د ورځې به پټ او د شپې به ښکاره شوم! یوه ورځ دکوټې بام ته وختم؛ نو وامې ورېدل، چې یوه سړي په لوړ غږ ویل:

خلکو له داسې معاملې نه وویرېږئ، چې پېچلې غوټې یې ارومرو سپړل کېږي! همدغه وخت زما د زړه پېچلې غوټه هم وسپړل شوه... خبر شوم چې حجاج د مرګ څپېړې وهلی دی او زما غم پر خوښۍ بدل شو.

حسن بصريرحمه الله هم د حجاج له تېریو ځان تری تم کړی و، کله چې حجاج له مرګه خبر شو؛ نو د شکر سجده یې وکړه.

ابراهیم النخعي هم له حجاج نه پټ کرځېده، کله یې چې د مرګ خبر ور ورسېد؛ نو له ډېرې خوښۍ یې وژړل.

سعید بن جبیر وايي:

زه له حجاج نه پټ شوم؛ خو له خپل رب نه حیا راغله او بېرته راووتم؛ نو



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



حجاج کلک ونیولم! لنډه دا چې کله یې د حجاج توره پر سر لاندې باندې کېده؛ نو ویې خندل! حجاج وپوښت، چې ولې دې وخندل؟ هغه یې په خواب کې وویل، چې ستا زړورتیا او د الله تعالی صبر ته! سبحان الله.

## له ارحم الرحمین ذات سره معامله

٢٥٩

هغه حدیث به تاسې هم اورېدلی وي؛ خو زما توجه یې ځان ته جلب کړې، چې احمد و ابویعلي، بزار او طبراني نقل کړی چې:

امسا په لاس یو بوډا سړی رسول اللهﷺ ته راغی او ویې ویل: ای د الله پیغمبره! ما په ژوند کې ډېره زیاته غداري، تګي، ظلم او ناروا کړې، ایا زما ګناه د بښلو وړ ده؟

رسول اللهﷺ ورته وفرمایل، چې ایا ته په دې خبره ګواهي ورکوې، چې الله تعالی یک یو دی او محمدﷺ د الله تعالی استازی دی؟!

هغه وویل، چې هو! نو رسول اللهﷺ ورته وفرمایل، چې ځه الله تعالی تا ته ستا غداري او بد عملي در وبښله.

سړی د الله اکبر الله اکبر په ویلو روان شو او لاړ.

له پورتني حدیث نه دغه مسلې لاسته راتلای شي.

د ارحم الرحمین ذات رحمت ډېر پراخه دی.

په توبې سره ګناه بښل کېږي.

که ګناهونه د غره په اندازه هم وي الله تعالی یې بښي.

په خپل رب ښه ګمان ولره.


https://www.fa[redacted]com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



## ٢٦٠ د نېک فالۍ په لور

د ابن ابی الدنیا په خپل کتاب (پر الله تعالیٰ ښه ګومان) کې یو سل یو پنځوس نصوص او دلایل له قران او حدیثو نه په دې برخه کې راوړي، چې خپل فال نېک کړئ او په الله تعالیٰ ښه ګومان ولرئ.

## ٢٦١ د دغې نړۍ ژوند تر سترتیا پرته نور څه نه دی

د ژوند په خړ پړتیا مه خپه کېږه! ځکه چې ژوند ټول همداسې دی، ځکه خوښي کله نا کله وي، بله دا چې الله تعالیٰ د خپلو ولیانو او دوستانو لپاره د دې نړۍ د ټیکاو په اړه خوښ نه دی، که دغه نړۍ ازماېښت ځای نه وای، نو هېڅ لوږې، ژورې ، درد او ناروغي به یې نه درلودای.
د اسلام ستر پېغمبرﷺ فرمایلي دي:

الدُّنْيَا سِجْنُ الْمُؤْمِنِ، وَجَنَّةُ الْكَافِرِ٢٨
"دنیا د مؤمن لپاره زندان او د کافر لپاره جنت دی. "

## ٢٦٢ انسان پر صفتونو پېژندل کېږي

ستا نېکمرغي په دې کې ده، چې ستا غوره صفتونه پر ناوړو صفتونو

٢٨ : صحیح مسلم (٤ / ٢٢٧٢)



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Tel[redacted]https://t.me/afg[redacted]

Downloaded By: Afghan Salar Library

لاسبري وي! نو هله به دې خلک ستايي او په دې صورت کې چې ستا غوره صفتونه پر ناوړو لاسبري وي؛ نو بيا که يو غوره صفت پکې نه وي؛ نو هم خلک به يې در ته منسوبوي او تا به پرې ستايي او ستا غيبت کول به نه خوښوي، سره له دې چې هغه ناوړه صفت به په تا کې وي هم؛ خو بيا به يې هم څوک نه غندي او داسې ډېر شخصيتونه په تاريخ کې تېر شوي، چې د هغوی بدګنې تاريخ نه دي راخيستې، ځکه د هغوی ټولې بدګنې د ښېګنو په سمندر کې ډوبې شوي دي.

## ۲٦۳ ته همداسې پيدا شوی يې

په حديث شريف کې راځي چې:

كُلٌّ مُيَسَّرٌ لِمَا خُلِقَ لَهُ(۲۹)

"هر انسان، چې د کوم کار لپاره پيدا شوی؛ نو هماغه شی د هغه لپاره په قدرتي توګه مسخر شوی دی."

هغه خلک ناپوه دي، چې ځان د نورو په څېر جوړول غواړي او عقلمن خلک هغه څوک دي، چې ځان پېژني او هغه تشيال (تش ځايونه) ډکوي، چې د دوی لپاره تش پرېښودل شوي وي.

سبويه شيخ ته ګوره، چې د نحوې د علم لوی عالم و، د حديثو په زده کړه کې يې څه خوند نه و؛ خو چې د نحوې علم زده کړې ته کېناست؛ نو مهارت يې وښود، چې په دې لړ کې يې ناشنا ناشنا خبرې وليکلې ان تر دې، چې د دې فن امام شو، دا ځکه چې د ده مغزو په نحو کې کار کاوه؛ نو ځکه

۲۹ : صحيح البخاري (۹ / ۱۵۹)


[redacted]ook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



د حديثو په فن کې پاتې راغی.

همدا شان حسان بن ثابت په اذانه کې خونده نه وه، ځکه چې هغه د بلال بن رباح په څېر نه و.

هوښياران وايي:

کله چې يو انسان هغه څه زده کول وغواړي، چې مهارت پکې نشي ترلاسه کولای؛ نو دا داسې ده، لکه چې کله نا کله انسان ته په شړه دښته کې له ورايه اوبه ښکاري؛ خو چې کله ورنږدې شي؛ نو هېڅ نه وي، له دې امله پکار ده، چې څوک په څه کې مهارت تر لاسه کولای شي، په هماغه څه کې بايد خپل وخت ولګوي، دا نه چې تاسې په سوداګرۍ کې مهارت ولرئ؛ خو خپل وخت په پوځي چارو کې تېر کړئ.

## ۲٦٤ ښه ذهن سپېڅلتيا ته اړتيا لري

له(BBC) خبري اژانس نه مې د پېژندل شوي ليکوال او د نوبل جايزې ګټونکي اديب "نجيب محفوظ" په اړه د مرګوني بريد خبر واورېد! څه موده وړاندې ما د هغه کتابونه لوستي وو، زه اريان پاتې شوم، چې دا سې يو ځيرکه او ذهين سړی ولې د خيال او حقيقت په توپير نه دی پوهېدلی؟ همېشوالی له فنا او زوال څخه ستر او لوی دی! آسماني اصول تر انساني اصولو لوی او ستر دي.

الله تعالی فرمايي:

﴿اَفَمَنْ يَّهْدِيْٓ اِلَى الْحَقِّ اَحَقُّ اَنْ يُّتَّبَعَ اَمَّنْ لَّا يَهِدِّيْٓ﴾

"ښه نو ووايئ، څوک چې د حق خوا ته لارښوونه کوي، هغه د دې



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram[redacted]://t.me/afghans

Downloaded By: Afghan Salar Library



زيات ور دی، چې د هغه پيروي وشي، يا هغه چې په خپله لاره نه مومي."

په دې مانا چې نجيب محفوظ د خپل فکري او قلمي هنري ځواک په مټ خيالي درامې ليکلې وې، د حق او حقيقت لپاره يې کار نه دی کړی.

د نجيب محفوظ د ژوند له مطالعې نه ما ته غټه مسئله دا معلومه شوه چې نېکمرغي دې ته نه وايي، چې د ځان په بدمرغه کولو نور نېکمرغه کړې! دا سمه نه ده، چې ته دې نور خوښ وساتې او خپله دې په غمونو او اندېښنو کې ژوند کوې! ځينې ليکوالان د ځينو نوښتګرو په ستاينه کې وايي چې: په خپله وسوزېدل؛ خو نورو ته يې رڼا ورکړه! بلکې ښه او سمه لار دا ده چې خپله هم په رڼا کې ژوند وکړې او نورو ته هم رڼا ورکړې.

## ۲٦٥ که ښه شوې؛ نو نړۍ به هم درته ښه ښکاري

مور ته پکار ده، چې د خپلې نېکمرغۍ د بشپړولو لپاره د نړۍ له ښکلا نه په شرعي چوکاټ کې خوند واخلو، الله تعالیٰ پر ځمکه شنه باغونه جوړ کړي، ځکه الله تعالیٰ ښکلی دی او ښکلا خوښوي، ښه خوږ بوی، ښه خواړه او د ښې ښې په خپلولو سره انسان دادمن کېږي.

الله تعالیٰ فرمايي:

﴿يَاأَيُّهَا النَّاسُ كُلُوا مِمَّا فِي الْأَرْضِ حَلَالًا طَيِّبًا﴾

"ای خلکو! په ځمکه کې، چې کوم حلال او پاك شيان دي هغه خورئ."



[redacted]tps://www.fa[redacted]om/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



دغه راز پیغمبرﷺ فرمايي:

په دنيا كې مې درې شيان ښه ايسي: خوږ بوى، ښځې او د ستركو يخواله مې په لمانځه كې دى.

هغه خلك، چې د زهد په معنى كې تېروتي او زهد يې نه دى پېژندلى يعنې، تهجد فرض بولي، واده نه كوي، غوښه نه خوري او يا د تل لپاره روژې نيسي (لكه صوفيان او داسې نور) نو دوى په اصل كې تېروتي دي، ځكه چې زهد دې ته نه وايي، بلكې په دې اړه رسول اللهﷺ فرمايي:

«أَنْتُمُ الَّذِينَ قُلْتُمْ كَذَا وَكَذَا، أَمَا وَاللَّهِ إِنِّي لَأَخْشَاكُمْ لِلَّهِ وَأَتْقَاكُمْ لَهُ، لَكِنِّي أَصُومُ وَأُفْطِرُ، وَأُصَلِّي وَأَرْقُدُ، وَأَتَزَوَّجُ النِّسَاءَ، فَمَنْ رَغِبَ عَنْ سُنَّتِي فَلَيْسَ مِنِّي»(٣٠)

"... زه كله روژه او كله بوږه يم، كله تهجد كوم او كله يې پرېږدم، واده كوم او غوښه هم خورم او هغه څوك له موږ څخه نه دي، چې له دې سنتو څخه ډډه كوي."

ډېره نا اشنا خبره ده، چې ځينو خلكو له خپله لاسه پر ځان ځينې داسې شيان حرام كړي، چې الله تعالى پرې نه دي حرام كړي، لكه څوك خرماوې نه خوري، يا خاندي نه او څوك يخې اوبه نه څښي او دې ته زهد وايي، سره له دې چې الله تعالى فرمايي:

﴿قُلْ مَنْ حَرَّمَ زِينَةَ اللَّهِ الَّتِي أَخْرَجَ لِعِبَادِهِ وَالطَّيِّبَاتِ مِنَ الرِّزْقِ﴾

"اى محمدهﷺ! دوى ته ووايه چا د الله تعالى هغه ښكلا حرامه كړې ده، چې هغه د خپلو بندګانو لپاره راويستلې وه او چا د الله تعالى ښښل شوي پاك شيان منع كړل؟."

٣٠: صحيح البخاري (٧ / ٢)



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



رسول اللهﷺ شهد خوړلي دي، سره له دې، چې هغه د زهد بنسټګر و، ځکه الله تعالی شهد د خوراک لپاره پیدا کړي دي، لکه چې فرمايي:

﴿يَخْرُجُ مِنۢ بُطُونِهَا شَرَابٌ مُّخْتَلِفٌ أَلْوَٰنُهُۥ فِيهِ شِفَآءٌ لِّلنَّاسِ﴾

"د دغه مچۍ له خېټې نه په بېلا بېلو رنګونو يو شربت راوځي، چې په هغه کې د خلکو لپاره شفا ده."

همدا راز رسول اللهﷺ ودونه هم کړي دي:

﴿فَانكِحُوا۟ مَا طَابَ لَكُم مِّنَ ٱلنِّسَآءِ مَثْنَىٰ وَثُلَٰثَ وَرُبَٰعَ﴾

"نو کومې (نورې) ښځې چې ستاسې خوښېږي د هغو له دوو دوو، درېيو درېيو، څلورو څلورو سره نکاح وکړئ."

رسول اللهﷺ په د روح او بدن دواړو حقونه ادا کول او د دنيا او اخرت نېکمرغي يې راجمع کوله.

## ٢٦٦ داسې نه، بلکې داسې

ما دوه پېژندل شوي کتابونه (احيا علوم الدين د ابو حامد الغزالي. قوت القلوب د ابو طالب المکي ولوستل) خو په دغو دواړو کې کتابونو کې د شريعت د ګرانولو هڅه شوې، چې اسان شريعت يې ګران کړی او په دې لړ کې يې کمزوري او له ځانه جوړ شوي حديثونه وړاندې کړي او بيا يې د هغو کمزورو او له ځانه جوړ شويو حديثونو پر بنسټ کړنلاره ټاکلې او دغه اصول يې الله تعالی ته د رسېدو لار بللې.

ما "احيا علوم الدين" له صحيحينو (بخاري، مسلم) سره پرتله کړ؛ نو د



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

ځمکې او اسمان توپیر ړکې و.

دا یو یې له سر نه تر پښو پورې له زیار او زحمت نه ډک دی او دا بل یې پر اسانتیا، فضل او لور ولاړ دی، کله، چې د بخاري پانې را واړولې؛ نو نبغ په نبغه یې د الله تعالی پر دغه وینا ودرولم چې:

﴿وَنُيَسِّرُكَ لِلْيُسْرَىٰ ۝﴾

"او موږ به تا ته د اسانه لارې اسانتیا درکړو."

او د دې پر عکس ابو طالب المکي یې د طلب او هڅې پر ځای د ځنډ، لټۍ او ځای پر ځای د ناستې تګلاره خپله کړې، زما په فکر دواړه لیکوالان مخلص او خیرخواه خلک دي! خو له قران او سنتو د ناشنايي له امله دغه خلل منځته راځي او بیا دلیل ته اړتیا پېښېږي؟! نو په دې صورت کې لارښود باید ښه ځیرک او د لارې له لوړو او ژورو سره په ښې اشنایي د لارښوونې چارې پرمخ بوځي!

الله تعالی فرمايي:

﴿مَا كَانَ لِبَشَرٍ أَن يُؤْتِيَهُ اللَّهُ الْكِتَابَ وَالْحُكْمَ وَالنُّبُوَّةَ ثُمَّ يَقُولَ لِلنَّاسِ كُونُوا عِبَادًا لِّي مِن دُونِ اللَّهِ وَلَٰكِن كُونُوا رَبَّانِيِّينَ بِمَا كُنتُمْ تُعَلِّمُونَ الْكِتَابَ وَبِمَا كُنتُمْ تَدْرُسُونَ ۝﴾

"د هیڅ انسان دا کار نه دی چې الله تعالی هغه ته کتاب، فرمان او پیغمبري ورکړي او هغه خلکو ته ووايي، چې د الله تعالی پر ځای تاسې زما بندګان شئ، هغه به همدا ورته ووايي، چې الله تعالی پالونکي شئ لکه څنګه چې د دې کتاب غوښتنه ده چې تاسې د هغه زده کړه او ښوونه کوئ."



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By [redacted] ary

## ٢٦٧ خلکو ته سینه پراخه کړه!

د رسول الله ﷺ یو ښکاره صفت دا هم و، چې هغه خپله سینه د خلکو په وړاندې پراخه کړې وه! تل یې خلکو ته پر خوښیو زېرې ورکاوه او پر شوندو به یې تل موسکا لیدل کېده! د هغه په شریعت کې اسانې او تګلاره کې توسط او منځلاري لیدل کېده.

## ٢٦٨ پړاو پر پړاو

موږ ته پکار ده، چې د نېکمرغۍ او دین په خپراوي کې له تدریج نه کار واخلو، یانې په تدریجي ډول خلک د نېکمرغۍ او دین لور ته راوبلو، څکه رسول الله ﷺ چې کله معاذ رضي الله عنه یمن ته لېږه؛ نو دغه سپارښتنه یې ورته وکړه، چې تر هر څه له مخه به هغوی ته د شهادت کلمه ور زده کړې او نور به همداسې وار په وار، یعنې هر څه به ورته له یوې مخې نه وایې، بلکې چې یو زده کړي؛ نو بیا به ورته بل ښیې، څکه موږ چې کله د مسئلو ښوول ته کېنو؛ نو زموږ غوښتنه دا وي، چې په یوه وار ورته هر څه ووایو او دوی یې هم په یوه وار زده کړي.

تاسې ته به معلومه وي، کله به چې کوم صحابي ته رسول الله ﷺ څه وصیت کاوه؛ نو هغه به په داسې الفاظو سره کاوه، چې یو عام کس به په اسانۍ سره یادولای شو او دومره به یې نه ګراناوه، چې نه به زده کېده او دا زموږ تېروتنه ده، چې کله وعظ او نصیحت ته کېنو؛ نو خپل جېب ورته راتش کړو او هرڅه په یوه وار د اورېدونکیو مخ ته کېږدو او داسې نه وي



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

پکار، بلکې دا پړاو پر پړاو ښوول پکار وي، چې زده کوونکي ترې کټه پورته کړي.

## ۲٦٩ پر وړو وړو نعمتونو هم شکر وکړئ

څوک چې پر وړو نعمتونو شکر نه کوي؛ نو پر لويو نعمتونو به څنګه شکر وکړي؟ که څوک په سخته تنده کې د يخو اوبو پر څښلو شکر نه کاږي؛ نو که الله تعالیٰ ورته د دنيا پراخي ورکړي، بيا هم پرې شکر نه کوي، که يو څوک د تودې ډوډۍ پر خوړو شکر نه کاږي؛ نو هغه که څومره هم خوندور خواړه وخوري شکر پرې نه کوي، ځکه چې د ناشکره انسان لپاره لږ او ډېر نعمتونه يو برابر دي.

ډېر خلک داسې وي، چې له الله تعالیٰ سره يې ژمنه کړې وي، که الله تعالیٰ پرې خپل نعمتونه ولوروي؛ نو دوی به پرې شکر کوي؛ خو چې کله الله تعالیٰ پرې ولورېږي؛ نو نه بيا پرې شکر کوي او نه شا ته ګوري.

که له الله تعالیٰ څخه څه غواړې هغه غواړه؛ خو د هغو نعمتونو شکر کوه، چې په لاس کې يې لرې، ځکه که پردې نعمتونو شکر نشې کولای؛ نو که نور نعمتونه تر لاسه کړې د هغوی شکر به څنګه وکړای شې.

يو ښځې يېله له الله تعالیٰ څخه خپلې غوارې؛ خو پر ښنو شکر نه کوي، چې الله تعالیٰ ښنې؛ خو راکړي دي او څوک، چې خپلې لري د ګاډي غوښتنه کوي، پر خپليو شکر نه کوي، سره له دې چې شکر وکړي؛ نو نور به در په برخه شي ځکه الله تعالیٰ فرمايي:

﴿لَئِن شَكَرْتُمْ لَأَزِيدَنَّكُمْ وَلَئِن كَفَرْتُمْ إِنَّ عَذَابِي لَشَدِيدٌ﴾



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library
[redacted]

که تاسې شکر وباسئ؛ نو پر تاسې به لا زیاته پېرزوینه وکړم او که د نعمت ناشکري وکړئ؛ نو زما سزا ډېره سخته ده.

## ۲۷۰ درې ارزښتناکې خبرې

یوه عقلمن پر خپل دفتر درې ډوله لوحې ځړولې وې:

۱: نننۍ ورځ.

یانې همدغه نننۍ ورځ دې ده، خپل ټول فکر دې همدې نننۍ ورځې ته را واړوه، خپل ټول ځواک همدا نن په کار واچوه او د دې په چوکاټ کې ژوند وکړه.

۲: سوچ او فکر.

یعنې د الله تعالیٰ په نعمتونو کې فکر وکړه او شکر پرې اوباسه.

۳: له قهر او غوسې نه کار مه اخله.

دغه درې ګونی وصیت کولای شي، چې په اسانه لار دې تر نېکمرغۍ ورسوي او تاسې باید دغه وصیت خپل ناست ځای ته مخامخ وځړوئ، چې هر ورځې یې ولوستلای شئ.

## ۲۷۱ ډاډه اوسئ!

د کتاب (الفرج بعد الشدة) تر ډېرشتو څپرکیو زیات بحثونه او څېړنې همدا خبره کوي، چې څومره مصیبت سختېږي؛ نو پوه شئ، چې مصیبت



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



لمنځه تلونکي، اساني او پراخي راتلونکې ده، ځکه کله چې تياره ډېره شي؛ نو سبا صادق نږدې وي او همداشان کله، چې دښته اوږده ښکاري؛ نو پوه شه، چې وروسته ترې شنه باغونه شته.

التنوخي په خپل په زړه پورې کتاب کې د غمځپليو بې شمېره کيسې راخيستې او غمځپليو ته وايي:

تاسې داډمن اوسئ! له تاسې نه مخکې هم پر دغه لاره ډېر خلک تللي دي او دا الهي سنت دي چې:

﴿وَ لَنَبْلُوَنَّكُمْ بِشَیْءٍ مِّنَ الْخَوْفِ وَ الْجُوْعِ وَ نَقْصٍ مِّنَ الْاَمْوَالِ وَ الْاَنْفُسِ وَ الثَّمَرٰتِ ؕ وَ بَشِّرِ الصّٰبِرِیْنَ ۙ﴾

"او موږ به ارومرو په وېره، خطر، لوږه، د سر، مال او د عايداتو په تاوان کې په اخته کولو پر تاسې ازمېښت کوو، اى پېغمبره! هغو کسانو ته زېرى ورکړه، چې په دې حالاتو کې صبر وکړي."

همداشان فرمايي:

﴿وَ لَقَدْ فَتَنَّا الَّذِیْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ﴾

"په داسې حال کې، چې موږ هغه ټول خلك ازمويلي دي، چې له دوی نه مخکې تېرشوي دي."

دا يوه عادلانه قضيه ده چې الله تعالیٰ په خوښيو او اندېښنو، لوړو او ژورو کې خپل بندګان ازمايي.

حالات پرې، لکه د شپو او ورځو اړوي راړوي، بيا نو د الله تعالیٰ د پرېکړو په اړه اعتراض او ناخوښي د څه لپاره؟؟ او ستا څه په وس پوره ده او څه به وکړی شي؟!

الله تعالیٰ فرمايي:



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

[redacted]

﴿وَلَوْ أَنَّا كَتَبْنَا عَلَيْهِمْ أَنِ اقْتُلُوا أَنفُسَكُمْ أَوِ اخْرُجُوا مِن دِيَارِكُم مَّا فَعَلُوهُ إِلَّا قَلِيلٌ مِّنْهُمْ﴾

"که موږ هغو ته حکم کړی وای، چې خپل ځانونه ووژنئ، یا له خپلو کورونو څخه ووځئ؛ نو له هغو څخه به ډېرو لږو کسانو پرې عمل کړی وای."

## ۲۷۲ ثوابي چارې له ناوړه پای څخه ژغورل کوي

ابوبکر امامه رضي الله عنه وايي، چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي:

صَنَائِعُ الْمَعْرُوفِ تَقِي مَصَارِعَ السُّوءِ(۳۱)

"ثوابي چارې انسان له ناوړه پايلې ژغوري."

همداراز په حياة صحابه کې دي، چې حارثه بن نعمان رضي الله عنه په سترګو ړوند شوی و؛ نو هغه له دروازې نه تر کوټې پورې يو پړی (رسی) تړلی و، چې کله به څوک سوالګر وره ته راغی؛ نو ده به په ټوکرۍ کې څه را واخيستل او د هغه پړي په مرسته به تر وره لاړ او په خپلو لاسونو به يې سوالګر ته ورکړل.

د کور وګړيو به ورته ويل، چې ته ولې دومره ستونزې ګالې، چې په ړندو سترګو تر وره راځې؛ خو موږ ته يې وايه موږ به يې ور وړو، هغه رضي الله عنه به ورته ويل، چې ما له رسول الله ﷺ نه اورېدلي دي، چې اړ ته په خپل لاس څه ورکړه، انسان له بده مرګه ژغوري.

۳۱ : المعجم الکبير للطبراني (۸ / ۲۶۱)



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

همدا راز په بل حدیث کې دي:

**إِنَّ الصَّدَقَةَ لَتُطْفِئُ غَضَبَ الرَّبِّ وَتَدْفَعُ مِيتَةَ السُّوءِ(۳۲)**

"خیرات د الله تعالیٰ غوسه سړه وي او انسان له بدمرغۍ ساتي."

## ۲۷۳ شریعت اسان دی

یو مسلمان په قران او حدیث کې د هرې ګناه د ښنې په لیدو ځومره خوشحالیږي، همدا راز په یوه حدیث کې دي، چې:

**كُلُّ أُمَّتِي مُعَافًى إِلَّا الْمُجَاهِرِينَ**

صحیح البخاري (۸ / ۲۰):

"زما د ټول امت ګناهونه ښنل کیږي؛ پرته له هغه چا چې په ډاګیزه ګناه کوي."

په دین کې له ځانه سختي نه ده پکار او که څوک داسې کوي؛ نو له دین څخه به لاس په سر کیږي، ځکه د اسلام ستر پیغمبر کله نا کله خندلي هم دي، لکه چې الله تعالیٰ فرمایي:

﴿وَأَنَّهُ هُوَ أَضْحَكَ وَأَبْكَىٰ﴾

"او دا چې همغه وخندول او همغه وژړول."

ټوکې ټکالې به یې هم کولې؛ خو حق او رښتیا به یې ویل؛ له ام المؤمنین عایشې i سره یې په منډه کې سیالي هم کړې!

صحابه وو ته به یې وعظ او نصیحت کې له لنډون څخه کار اخیسته، له

۳۲ : سنن الترمذي ت شاکر (۳ / ۴۳)



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

تکلف، تشدد او بې ځایه سختۍ نه یې خلک ژغورلي دي.

## ٢٧٤ د جهاد پایله

عبادة بن الصامت ﷺ وایي، چې د اسلام ستر پېغمبر ﷺ وفرمایل:

**جَاهِدُوا فِي سَبِيلِ اللهِ؛ فَإِنَّ الْجِهَادَ فِي سَبِيلِ اللهِ بَابٌ مِنْ أَبْوَابِ الْجَنَّةِ يُنَجِّي اللهُ بِهِ مِنَ الْهَمِّ وَالْغَمِّ** (٣٣)

"د الله تعالی په لار کې جهاد وکړئ! ځکه چې دا د جنت له دروازو نه یوه داسې دروازه ده، چې غمونه او اندېښنې پرې لمنځه وړل کېږي."

د غمونو او اندېښنو په لمنځه وړلو کې د جهاد اغېز په وجدان سره معلومېږي، ځکه کله چې باطل پر نفس لاسبری شي؛ نو انسان له غمونو او کړاوونو سره مخ کېږي، له وېرې او ترهې سره لاس او ګریوان شي! خو کله چې جهاد ته ملا وتړي؛ نو په هغه کې تازه والی او ځواکمني را پیدا شي، اندېښنې او غمونه یې لمنځه ولاړ شي.

الله تعالی فرمایي:

﴿قَاتِلُوهُمْ يُعَذِّبْهُمُ اللهُ بِأَيْدِيكُمْ وَيُخْزِهِمْ وَيَنْصُرْكُمْ عَلَيْهِمْ وَيَشْفِ صُدُورَ قَوْمٍ مُؤْمِنِينَ ۝ وَيُذْهِبْ غَيْظَ قُلُوبِهِمْ ۗ وَيَتُوبُ اللهُ عَلَىٰ مَنْ يَشَاءُ ۗ وَاللهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ۝﴾

"له هغو سره وجنګېږئ! الله تعالی به ستاسې په لاسونو هغوی ته سزا ورکړي او هغوی به ذلیل او خوار کړي او د هغو په مقابل کې

---

٣٣ : مسند أحمد ط الرسالة (٣٧ / ٣٥٥)



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

به ستاسې مرسته وکړي او د ډېرو مؤمنانو زړونه به يخ کړي او د هغوی د زړونو تاو به ايسته کړي او چا ته يې، چې خوښه شي د توبې توفيق به هم ورکړي الله تعالٰی پر هر څه پوهېدونکی حکمت والا دی.“

د جهاد رول د غمونو او اندېښنو په لمنځه وړلو کې ښېخي پياوړی دی.

يو شاعر وايي:

په سترګو کې د خځلو په پرېوتو سترګې ترم او د صبر سپينې جامې اغوندم، په تنکسه کې يې له الله تعالٰی نه غواړم؛ نو اندېښنې مې يوې خوا ته شي، د ډېرو خلکو په وړاندې همداسې کله نا کله لارې وتړل شي؛ خو الله تعالٰی يې ببرته پرې پرانيزي.

## ۲۷۵ د الله تعالٰی د قدرت نښو ته ځير شئ!

يو فيلسوف تر اسلام راوړلو وروسته وايي:

کله چې د الله تعالٰی د قدرت او ځواکمنۍ په اړه څه شک او شبه را ته پيدا شي؛ نو د کايناتو په کتاب کې د اعجاز او نوښت تورو ته ځير شم؛ نو ايمان مې لاپسې پياوړی او غښتلی شي.

## ۲۷۶ تجربوي خبرې

قاضي شوکاني وايي:

يوه عالم راته د نصيحت په بڼه وويل، چې له تصنيف او تاليف نه ښخي



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

[redacted]

لاس مه اخله، یو څه لیکل کوه! که څه هم په ورځ کې یوه یا دوه کرښې ولې نه وي؛ نو زما دا هرڅه د هماغه نصیحت پایله ده، لکه چې وایي له څاڅکو څاڅکو څخه دریاب جوړیږي، په رښتیا هم له تېپې ناستې نه لږ کار هم ګټور دی او یو وخت یې کوچ راووځي؛ خو که څوک پر ځای پاتې شي؛ نو ملګري به ترې ډېر لرې وځي، بیا به یې را لاندې کول ناشوني وي، لکه چې په دې اړه یو شاعر وایي:

نه ګورئ، چې د وخت په تېرېدو سره پر ډېره باندې رسۍ سولول هم ا غېز ښندي.

لکه، چې په حدیث کې راځي:

أَنَّ أَحَبَّ الأَعْمَالِ إِلَى اللَّهِ أَدْوَمُهَا وَإِنْ قَلَّ. (٣٤)

"الله تعالی ته خوښ عمل هماغه دی، چې په تسلسل سره وي که څه هم لږ وي."

زموږ د دوه زړه توب او نا ارامۍ لامل دا هم دی، چې موږ یو کار یو ځل وکړو، نو بیا یې شا ته وغورځوو او کرار کېنو!

هغه چې ما له ځینو علماوو څخه پکې لاسته راوړنې کړي د پنځه وخته لمونځونو د وختونو د ترتیب په اړه ده، په دې مانا چې که یو بنده خپل دیني او دنیوي کارونه تر پنځه وخته لمونځونو وروسته پر وختونو باندې ووېشي؛ نو ډېره پراخه زمانه او وخت به ترلاسه کړي.

د بېلګې په ډول که یو زده کوونکی خپل مهال وېش داسې ترتیب کړي چې:

١: د سهار تر لمانځه وروسته د قرآن کریم تلاوت، حفظ او نورې زده کړې.

٢: تر ماسپښین لمانځه وروسته عمومي لوست.

---

٣٤: صحیح البخاري (٨ / ٩٨)



[redacted]https://www.fa[redacted].com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

۳: د مازیگر تر لمانځه وروسته دقیق علمي بحثونه.

٤: د ماښام تر لمانځه وروسته له دوستانو او خپلوانو سره ناسته ولاړه.

٥: او د ماسخوتن تر لمانځه وروسته مجله، ورځپاڼه او نور عصري لیک لوست؛ نو دا به غوره او ښه وي.

## ۲۷۷ د ذهني ناروغیو حل

اصل خبره؛ خو دا ده، چې نن سبا موږ ټول بد حواسه شوي یو او په یوه داسې چاپیریال کې راښکېل یو، چې هېڅ د خلاصون لار نه مومو؛ خو زه بیا هم تاسې ته د الله تعالی او د هغه د رسولﷺ خبرې دریادوم، ځکه که د خلاصون کوم لوری تر سترګو کېږي؛ نو هغه یوازې له الله تعالی سره دی؛ نو ځکه د الله تعالی لور ته راګرځېدل پکار دي او دا خبره هم ښه په مغزو کې کېنوئ، چې ټولې ناوړه چارې (کوډي ... ) ناوړه اغېز لري؛ خو درمل یې شته، لکه مار، لړم او داسې نور ، چې زهر لري؛ خو د هر یوه د زهرو درمل هم شته.

## ۲۷۸ ستا ارزښت ستا ایمان او اخلاق دی

یو ډېر غریب او فقیر صحابي، چې شلېدلې جامې، یبله پښې، خیرې ګریوان، وږی تږی، بې کوره او بې اوره سړی، چې له حوضونو څخه به یې په لپه اوبه څښلې، په جومات کې به د خرماو پر پاڼو ویده کېده؛ خو د علم او



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

پوهې خاوند، د الله تعالیٰ په یاد بوخت، په غزاګانو کې برخوال او د لومړي صف لمونځ کوونکی و.

یوه ورځ د اسلام ستر پیغمبرﷺ مخې ته تېرېده، چې رسول اللهﷺ غږ پرې وکړ:

هلکه جلیبیبه! واده نه کوې؟!

هغه ځواب ورکړ، چې ای د الله تعالیٰ رسوله! ما خوار ته به څوک لور خور را کړي؟! په داسې حال کې، چې هېڅ کور، کندالی نه لرم.

بله ورځ بیا همداسې د رسول اللهﷺ مخې ته تېرېده، هغهﷺ بیا پرې غږ وکړ او هماغه تېره پوښتنه یې ترې وکړه او جلیبیب هم هماغه ځواب ورکړ.

په درېیم ځل هم د دواړو تر منځ هماغه سوال او ځواب صورت وموند؛ نو پیغمبرﷺ ورته وفرمایل، چې لاړ شه پلاني انصاري صحابي ته زما سلام ووایه او زما دا پیغام ورته واوروه، چې خپله لور درته په نکاح کړي.

دغه انصاري له یوې درنې کورنۍ سره تړاو لاره! جلیبیب هلته په رسېدو دروازه ور وټکوله او د رسول اللهﷺ پیغام یې ور واو راوه! انصاري وویل، چې سلام د الله تعالیٰ پر استازي! خو جلیبیبه! څنګه تا ته خپله لور درکړم نه مال، نه جلال، نه کور، نه اور لرې؟؟! ښځې یې دغه خبره واورېده او ویې ویل، چې دا کله کېدای شي! جلیبیب؛ خو نه کور لري او نه اور، نه مال لري او نه حال؟! هلته مسلمانې لور د جلیبیب خبرې او د الله تعالیٰ د استازي پیغام واورېد؛ نو مور و پلار ته یې وویل، چې ایا د رسول اللهﷺ غوښتنه ردوئ؟! نه پر هغه ذات قسم، چې زما سا یې په لاس کې ده، داسې نشي کېدای!

هو! د واده دغه بختور تړون د تقوی پر بنسټ منځته راغی، کور او کورنۍ جوړه شوه!!

هلته په کومه غزوه کې د برخې اخستنې لپاره غږ پورته شو، جلیبیب



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

بې له ځنډه راولاړ شو او د جګړې ډګر ته يې ځان ورساوه، د اوو تنو کفارو تر وژلو وروسته په خپله هم د الله تعالٰی په لاره کې پر شهادت ورسېد، دا په داسې حال کې چې دی د الله تعالٰی او د هغه له رسول څخه خوښ او راضي و.

د اسلام ستر پېغمبرﷺ د وژل شويو کسانو پلټنه وکړه، يارانو يې ورته د يوه يوه نوم واخسته! خو جليبيب چا ته په زړه و؟ هغه خوکوم ځلانده او مشهور سړی نه و! خو د الله تعالٰی د استازي په ياد و، بې له ځنډه يې وويل، چې جليبيب مې په نظر رانغی. څه ګوري، چې په خاورو کې لت پت د اوو تنو کفارو په منځ کې پروت دی، پر خپلو مبارکو لاسونو يې د هغه له مخ نه خاورې څنډ وهلې او داسې يې ورته وويل، چې اوه تنه کفار دې ووژل او بيا ته هم شهيد شوې! ته له ما څخه يې او زه له تا څخه يم، ته له ما څخه يې، زه له تا څخه يم، ته له ما څخه يې زه له تا څخه يم (يعنې دغه خبره يې ورته درې ځلې وکړه) همدغه د جليبيب لپاره له نبوي دربار څخه ستره ورکړه او لويه جايزه وه.

د جليبيب قيمت او ارزښت د هغه قوي ايمان او له هغه سره د الله تعالٰی د رسول بې کچې مينه وه! د هغه فقر او بېوزلتوب له هغه څخه دغه شرف او مقام نشي وروسته کولای، هغه د دنيوي او اخروي نېکمرغۍ برې ليک ترلاسه کړه.

الله سبحانه وتعالٰی فرمايي:

﴿فَرِحِيْنَ بِمَآ اٰتٰىهُمُ اللّٰهُ مِنْ فَضْلِهٖ ۙ وَ يَسْتَبْشِرُوْنَ بِالَّذِيْنَ لَمْ يَلْحَقُوْا بِهِمْ مِّنْ خَلْفِهِمْ ۙ اَلَّا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ۝﴾

"څه چې الله تعالٰی د خپلې لورنې له مخې هغو ته ورکړي دي، پر هغه خوښ او سوکاله، ډاډمن او خوشحاله دي، په دې چې کوم مؤمنان له



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegra[redacted]ps://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

[redacted]

هغو وروسته په نړۍ کې پاتې دي او لا تر اوسه پورې هلته نه دي رسېدلي، د هغو لپاره هم څه وېره او کړاو نشته."

په اوزګارې ناستې سره څوک لوړ مقام نشي ترلاسه کولای، بلکې لوړ مقام ترلاسه کول ډېرې سترې سربښندنې ته اړتيا لري او بختور هغه څوک دي، چې خپل ارزښت وپېژني او له امله يې لوړ مقام تر لاسه کړي او نېکمرغه دي هغه څوک، چې دنيوي او اخروي بريا تر لاسه کړي.

## ۲۷۹ نېکمرغه خلک

د ابوبکر صديق رضي الله عنه په اړه الله تعالی په قران کريم کې فرمايي:

﴿وَسَيُجَنَّبُهَا الْأَتْقَى ۝ الَّذِي يُؤْتِي مَالَهُ يَتَزَكَّى ۝﴾

"او له هغه نه به په ډېر بنه پرهېزګار _ هغه څوک چې د سپېڅلتيا په خاطر خپل مال لګوي."

د عمر رضي الله عنه په اړه نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايي:

«دَخَلْتُ الْجَنَّةَ فَرَأَيْتُ قَصْرًا أَبْيَضَ بِفِنَائِهِ جَارِيَةٌ، فَقُلْتُ: لِمَنْ هَذَا الْقَصْرُ؟ « فَقَالَتْ: لِعُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ، فَأَرَدْتُ أَنْ أَدْخُلَهُ فَأَنْظُرَ إِلَيْهِ فَذَكَرْتُ غَيْرَتَكَ يَا عُمَرُ«، فَقَالَ عُمَرُh: بِأَبِي أَنْتَ وَأُمِّي يَا رَسُولَ اللَّهِ أَوَعَلَيْكَ أَغَارُ.[۳۵]

"زه جنت ته ننوتم؛ نو يوه سپينه ماڼۍ مې وليده، چې انګړ کې يې يوه وينزه وه، ما پوښتنه وکړه، چې دا ماڼۍ د چا ده، هغې وويل، چې دا

۳۵: مسند ابن الجعد (۱ / ٤۲۵)



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

د عمر بن خطاب ده، ما غوښتل، چې ور دننه شم او ويې ګورم؛ خو ستا د غيرت له امله ورنه رغلم، عمر رضي الله عنه وويل زما مور و پلار دې تر تا قربان شي، ايا پر تا به غيرت کوم؟ (يعنې ستا په ورننوتو به زه څه غيرت وکړم)"

د عثمان بن عفان رضي الله عنه نېکمرغي د پېغمبر ﷺ په دغه دعا سره:

اللهُمَّ اغْفِرْ لِعُثْمَانَ مَا أَقْبَلَ وَمَا أَدْبَرَ، وَمَا أَخْفَى وَمَا أَعْلَنَ، وَمَا أَسَرَّ وَمَا أَجْهَرَ [36]

اى الله تعالیٰ! عثمان ته د هغه مخکني او وروستني، پټ او ښکاره ټول ګناهونه وبښه!

د علي رضي الله عنه نېکمرغي د پېغمبر ﷺ په دغه وينا سره:

يُحِبُّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ، وَيُحِبُّهُ اللَّهُ وَرَسُولُهُ [37]

يو داسې سړی، چې الله تعالیٰ او د هغه رسول يې ښه ايسي او دی هم الله تعالیٰ او د هغه رسول ته ګران دی.

د سعد بن معاذ رضي الله عنه د نېکمرغۍ په اړه فرمايي:

د ده لپاره د الله تعالیٰ عرش و لړځېد.

د عبدالله بن عمرو الانصاري رضي الله عنه د نېکمرغۍ په اړه فرمايي:

پرته له کوم ترجمان څخه يې نېغ په نېغه له الله تعالیٰ سره خبرې وکړې.

د حنظله رضي الله عنه په اړه فرمايي:

ده ته ملائکو غسل ورکړی.

---

۳۶: حلية الأولياء وطبقات الأصفياء (۱ / ۵۹)

۳۷: صحيح البخاري (٤ / ٦٠)



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

[redacted]

## ۲۸۰ بد مرغه خلک

د فرعون په اړه الله تعالی فرمايي:

﴿اَلنَّارُ يُعۡرَضُوۡنَ عَلَيۡهَا غُدُوًّا وَّ عَشِيًّا﴾

"د دوزخ اور دی، چې هغه ته سهار او ماښام (په عالم برزخ کې) هغه وړاندې کولای شي."

د قارون په اړه فرمايي:

﴿فَخَسَفۡنَا بِهٖ وَ بِدَارِهِ الۡاَرۡضَ﴾

"په پای کې مونږ هغه او د هغه کور په ځمکه کې ننویست."

د وليد بن مغيرة په اړه فرمايي:

﴿سَاُرۡهِقُهٗ صَعُوۡدًا ۝﴾

"زه خو به هغه ډېر ژر پر يوه سخت پېچومی وخېژوم."

د اميه بن خلف په اړه فرمايي:

﴿وَيۡلٌ لِّكُلِّ هُمَزَةٍ لُّمَزَةِ ۝﴾

"تباهي ده د هر هغه چا لپاره، چې (مخامخ) خلکو ته د پېغور ورکولو او (پسی شا) د بدیو کولو په عادت اخته دي."

د ابو لهب په اړه فرمايي:

﴿تَبَّتۡ يَدَاۤ اَبِىۡ لَهَبٍ وَّ تَبَّ ۝﴾

"مات شول د ابي لهب لاسونه او هلاك شو هغه."



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

د عاص بن وائل په اړه فرمايي:

﴿كَلَّاۚ سَنَكۡتُبُ مَا يَقُولُ وَنَمُدُّ لَهُۥ مِنَ ٱلۡعَذَابِ مَدّٗا﴾

"هېڅکله داسې نه ده، دی چې څه وايي موږ به هغه وليکو او هغه ته به عذاب لا نور ور زيات کړو."

## ۲۸۱ له ښځو سره ښه چلن کوئ!

الله تعالی فرمايي:

﴿وَعَاشِرُوهُنَّ بِٱلۡمَعۡرُوفِ﴾

"له هغو (ښځو) سره ښه ژوند تېر کړئ."

همداشان فرمايي:

﴿وَجَعَلَ بَيۡنَكُم مَّوَدَّةٗ وَرَحۡمَةً﴾

"او ستاسې (ښځې او مېړه) په منځ کې يې مينه او خواخوږي پيدا کړه."

نبوي ارشاد دی چې:

اتَّقُوا اللهَ فِي النِّسَاءِ، فَإِنَّهُنَّ عَوَانٍ عِنْدَكُمْ [۳۸]

"د ښځو په اړه له الله تعالی نهووېرېږئ، ځکه چې هغوی ستاسې مرستيالانې دي."

همداشان په بل روايت کې راځي:

---

[۳۸]: شعب الإيمان (۷ / ۲۰٤)



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



فَاسْتَوْصُوا بِالنِّسَاءِ خَيْرًا، فَإِنَّهُنَّ عَوَانٍ عِنْدَكُمْ (۳۹)

"د ښځو په اړه له مانه د خير خبرې واخلئ، ځکه چې هغوی ستاسې مرستيالانې دي."

دغه راز فرمايي:

په تاسې کې هغه څوک ډېر ښه دی، چې هغه له خپلې ښځې سره ښه وي او زه تر تاسې زيات له خپلو ښځو سره ښه يم.

تر ټولو نېکمرغه کور هغه دی، چې په مينه محبت او په تقوی ودان وي، الله تعالی په دې لړ کې فرمايي:

﴿ اَفَمَنْ اَسَّسَ بُنْيَانَهٗ عَلٰى تَقْوٰى مِنَ اللّٰهِ وَ رِضْوَانٍ خَيْرٌ اَمْ مَّنْ اَسَّسَ بُنْيَانَهٗ عَلٰى شَفَا جُرُفٍ هَارٍ فَانْهَارَ بِهٖ فِيْ نَارِ جَهَنَّمَ ؕ وَ اللّٰهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ۝ ﴾

"نو ستاسې څه ګومان دی، چې غوره انسان هغه دی، چې هغه د خپلې ودانۍ بنسټ د الله تعالی په وېره او د هغه د رضا په غوښتنه اېښې وي، يا هغه چې خپله ودانۍ يې د يو کمره په کاواکه لغم خوړلې غاړه ودرولې وي او له هغه سره نېغ په نېغه د دوزخ په اور کې وغورځېږي؟ الله تعالی داسې ظالمانو ته هېڅکله لاره نه ښيي."

همدا شان د اسلام ستر پېغمبر ﷺ فرمايي:

ښځه له کړې پښتۍ نه جوړه ده پام! چې ما ته يې نه کړئ.

نېکمرغه ټولنه له نېکمرغې کورنۍ څخه منځته راځي او نېکمرغه کورنۍ ښځې جوړوي! له دې امله دکورنۍ، ټولنې او دولت په جوړولو کې د ښځې رول ډېر ثابت او پياوړی دی.

۳۹ : مسند ابن أبي شيبة (۲ / ۵۷)



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

## ۲۸۲ له موسکا څخه یې پیل کړئ

تر ټولو ښه او مینه وړی ملاقات هغه دی، چې کله ښځه او مېړه سره په مسکا مخ کېږي، ځکه مسکا د زړونو خیری لمنځه وړي او همدې موسکا ته صدقه هم ویل شوې ده، لکه چې فرمایي:

**لَا تَحْقِرَنَّ مِنَ الْمَعْرُوفِ شَيْئًا، وَلَوْ أَنْ تَلْقَى أَخَاكَ بِوَجْهٍ طَلْقٍ (٤٠)**

"له یوه مسلمان ورور سره په ورین تندي مخ کېدل له نېکۍ نه کمه مه ګڼئ."

همدا راز په بل ځای کې فرمایي:

**تَبَسُّمُكَ فِي وَجْهِ أَخِيكَ لَكَ صَدَقَةٌ (٤١)**

مسلمان ورور سره په موسکا مخ کېدل هم صدقه ده.

چې دا صفت د اسلام په ستر پیغمبرﷺ کې ښېښې پیاوړی و، هغهﷺ به له هر چا سره په موسکا مخ کېده.

کور ته په ننوتو کې تر هر څه له مخه سلام اچوئ، لکه چې الله تعالی فرمایي:

﴿فَسَلِّمُوا عَلَىٰ أَنفُسِكُمْ تَحِيَّةً مِّنْ عِندِ اللَّهِ مُبَارَكَةً طَيِّبَةً﴾

"چې کورونو ته ننوځئ؛ نو خپلو کسانو ته سلام اچوئ، د خیر دعا، د الله تعالی له لوري تاکل شوې، ډېره برکتناکه او پاکه سوتره ده."

٤٠ : صحیح مسلم (٤ / ٢٠٢٦)

٤١ : سنن الترمذي ت شاكر (٤ / ٣٤٠)



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library


الله تعالیٰ فرمايي:

﴿وَإِذَا حُيِّيتُم بِتَحِيَّةٍ فَحَيُّوا بِأَحْسَنَ مِنْهَآ أَوْ رُدُّوهَآ﴾

"او څوك چې په درناوي سره تاسې ته سلام واچوي؛ نو هغه ته له هغې نه په ښه توګه ځواب ورکړئ، يا لږ تر لږه په هماغه شان."

په همدې ترتيب کور ته د ننوتو پر مهال دغه نبوي دعا لوستل پکار ده:

اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ خَيْرَ الْمَوْلَجِ، وَخَيْرَ الْمَخْرَجِ، بِسْمِ اللَّهِ وَلَجْنَا، وَبِسْمِ اللَّهِ خَرَجْنَا، وَعَلَى اللَّهِ رَبِّنَا تَوَكَّلْنَا. (٤٢)

"ای الله تعالیٰ زه له تا څخه کور ته د خير ننوتل او د خير وتل غواړم، د الله تعالیٰ په نامه ننوځو او د الله تعالیٰ په نامه وځو او پر هغه الله تعالیٰ، چې زموږ رب دی توکل کوو."

د ښځې او مېړه يو بل ته نرمې او خوږې خبرې د دواړو لوريو په نېکمرغۍ کې ډېر غټ رول لري.

وَقُلْ لِّعِبَادِيْ يَقُوْلُوا الَّتِيْ هِيَ اَحْسَنُ

"او ای محمدﷺ! زما بندګانو ته ووايه چې له ژبې نه هغه خبره راوباسئ چې ډېره ښه وي."

په دې معنی که زياتې خبرې کوي؛ نو سړی نه خوا بدی کوي او که لږې خبرې کوي؛ نو مخاطب يې د زياتو خبرو هيله کوي.

ای کاش! چې ښځه او مېړه د يو بل پر ښېګڼو قانع اووسي او د يو بل کمزوري اړخونه ونه پلټي.

که يو سړی د خپلې ښځې ښېګړې وشمېري او منفي اړخونو يې دومره

---

٤٢ : سنن أبي داؤد (٤ / ٣٢٥)


Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

په پام کې ونه نیسي؛ نو ژوند به یې په سوکالۍ او نېکمرغۍ کې تېر شي.

په حدیث کې راځي چې:

لَا يَفْرَكْ مُؤْمِنٌ مُؤْمِنَةً، إِنْ كَرِهَ مِنْهَا خُلُقًا رَضِيَ مِنْهَا آخَرَ

"هېڅ مسلمان مېړه دې له خپلې مسلمانې ښځې نه کرکه او نفرت نه کوي، که د هغې یو خوی یې نه خوښېږي؛ نو پر بل خوی دې ورڅخه راضي او خوښ شي."

د ښځې او مېړه تر منځ اکثره تاو تریخوالي له وړو وړو خبرو رامنځته کېږي، چې دا دې کور نه دی پاک کړی او دا دې ډوډۍ ښه او پر خپل وخت نه ده پخ کړې، کله نا کله پر دې وړو خبرو تاو تریخوالی ان د طلاقو تر پولې ورسېږي، سره له دې، چې که په سړو مغزو ورته وکتل شي؛ نو دا څه دومره لوېې خبرې نه دي؛ نو له ښځو سره له سړو مغزو کار اخیستل پکار دي، ځکه هغه هم انسان دی کمزورې او بېوسه طبقه ده.

احمد بن حنبلرحمه الله وروسته تر دې چې درنه او قدرمنه مېرمن ( ام عبدالله) یې وفات شوه؛ نو ده وویل، له دې سره په تېرو څلوېښتو کالو کې زما اختلاف نه دی راغلی.

ځکه کله که ښځه غوسه وي؛ نو مېړه ته پکار دي، چې لېږ غلی شي، همدا راز که سړی غوسه شي؛ نو ښځې ته تر هغې چوپتیا پکار ده، چې د مېړه غوسه یې سړه شي.

ابن الجوزي په "صید الخاطر" کې لیکلي دي، چې کله مو ملګری ناخوښی شي او په غوسه کې لګیا وي خبرې کوي؛ نو پروا پرې مه کوئ او مه یې پر دغو خبرو ګرموئ، ځکه د غوسې حالت کټ مټ نشې ته ورته وي او د نشې په حالت کې انسان پر څه خبره پړ نه ګڼل کېږي، ځکه هغه پر دې نه



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



پوهېږي، چې څه کدې ودې وايي، په دغه حالت کې پرې شیطان سپور وي او پر عقل یې پرده راخوره شوې وي؛ نو ځکه تر څه ځنډه ورته صبر وکړئ او خبرو ته یې تر هغې ارزښت مه ورکوئ، چې راپه سد شوی نه وي، ځکه که په دغه حالت ورسره نښلئ او د هرې خبرې ځواب یې ورکوئ؛ نو دا به داسې وي، لکه چې یو هوښیار او لېونی سره ونښلي او یا یو رک روغ انسان یو بې هوښه انسان رټي؛ نو په داسې حال کې خپله تاسې پړ ګڼل کېږئ، بلکې په داسې حال کې هغه کس معذور وګڼئ او په هره خبره پسې یې غوږ مه وړئ!

## ٢٨٣ د غچ اخیستنې ولولې پالل، خپل زړه خوړل دي

د تاریخ په کتابونو کې د ډېرو زورورو کیسې راغلې دي، چې دوی خپل دښمنان او مخالفین له ډول ډول سزا ګانو سره تر مخ کولو وروسته وژلي، چې تر وژلو وروسته یې هم خوا پرې نه ده یخه شوې، ان تر دې، چې د خپلو دښمنانو مړي یې پر دار ځړولي دي، د اریانتیا خبره؛ خو دا ده، چې د مړي په سولۍ خېژول څه ګټه لري او مړی پر ځان څه پوهېږي، چې څه ورسره کېږي، ځکه له هغه نه؛ خو ساه ختلې وي؛ خو قاتل له دې کاره خوند اخلي او خپل قار پرې سړوي، ځکه د دوی زړه د غچ اخیستنې له ولولو ډک وي، له همدې امله داسې زړونه، چې دغچ له ولولو ډک وي کله هم سکون او نېکمرغي نشي تر لاسه کولای.

په دې لړ کې یوه نا اشنا خبره دا هم لیکل شوې، چې د عباسي کورنۍ



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



ځینو خلیفه ګانو غوښتل، چې د بنو امیه له ځینو کورنیو څخه غچ واخلي؛ خو پر دې ونه توانېدل تر دې، چې رقیبان اوسیالان یې په خپل مرګ مړه شول او دوی ترې په ژوند غچ وا نه خیستل شو؛ نو کله، چې دوی واکمن شول او د غچ پر اخیستو وتوانېدل؛ نو د خپلو مخالفانو مړي یې له قبرونو راوویستل، پر تازینو یې ووهل، پر کانو یې وویشتل او په دار تر ځړولو وروسته یې په اور وسوځول.

دا خبره له یاده مه باسئ، چې داسې خلک کله هم نشي ښادېدای، ځکه چې تر ټولو ډېر زیان غچ اخیستونکي ته اوړي، ځکه هغه خپل راحت او هوساینه د غچ اخیستنې په اور سوځوي.



پر انسان، چې کله څه تېرى وشي او یا ورته څوک څه زیان واړوي؛ نو په داسې حال کې تر ټولو ګټور شی ریښتینې توبه ده او په داسې حال کې د انسان د نېکمرغۍ نښه همدا ده، چې ځان ته پام را واړوي، خپلو ګناهونو ته ځیر شي، خپلې نیمګړتیاوې وپلټي او د خپل زړه په سمولو بوخت شي، کله چې انسان داسې وکړي؛ نو الله تعالىٰ ورسره مرسته کوي او چې الله تعالىٰ یې مرستندویه شي؛ نو د داسې انسان په نېکمرغۍ کې هیڅ شک نه پاتې کېږي.



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



## ۲۸۵ صبرناک خلک د الله تعالی د لطف په انتظار کې

دا د اسلام د ستر پیغمبرﷺ هغه لوړ پوړی وینا وال ثابت بن قیس بن شماسرضی‌الله‌عنه دی، چې د وینا پر مهال به توري او الفاظ خپله ورته لاس په نامه ولاړ وو، یانې دومره فصیح او بلیغ انسان و، د الله تعالی د رسول اللهﷺ په وړاندې د دین د نصرت لپاره خپل غږ پورته کړ!

کله چې د الله تعالی دغه فرمان نازل شو:

﴿يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَرْفَعُوا أَصْوَاتَكُمْ فَوْقَ صَوْتِ النَّبِيِّ وَلَا تَجْهَرُوا لَهُ بِالْقَوْلِ كَجَهْرِ بَعْضِكُمْ لِبَعْضٍ أَنْ تَحْبَطَ أَعْمَالُكُمْ وَأَنْتُمْ لَا تَشْعُرُونَ ۝﴾

"ای مؤمنانو خپل غږونه د پیغمبر پر غږ مه پورته کوئ او مه له پیغمبرﷺ سره په لوړ غږ خبرې کوئ، لکه چې په خپلو منځو کې یې یو له بل سره په لوړ غږ خبرې کوئ، هسې نه چې ستاسې ټول عملونه بابیزه شي او تاسې خبر هم ونه اوسئ."

ثابت بن قیس اټکل وکړ، چې ګوندې دغه ایت زما په اړه نازل شوی، د اسلام ستر نو د کور په کونج کې ګوښه نشین شو او په ژړا یې پیل وکړ، د اسلام ستر پیغمبرﷺ، چې د هغه لټه وکړه؛ نو یارانو یې د هغه د جریان په اړه خبر ورکړ! هغهﷺ وفرمایل:

(هېڅکله نه! بلکې ثابت بن قیس له جنتیانو څخه دی! په دې ترتیب نذارت د هغه لپاره بشارت شو)



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

د يوه شاعر په وينا:

داسې خوښي ترلاسه شوه، چې پخواني غم او ستونزه يې بېخي لمنځه يوړه، غمځپلي تر هغه خپه و، چې يې موسکا پرشونډو وغوړېده.

همدا راز، کله چې د مؤمنانو پر مور عائشهؓ، د اسلام دښمنانو تور ولګاوه؛ نو عايشې ابۍ پوره يوه مياشت په کور وژړل، نږدې يې ژړا ځيګر پرک ورچولی و، تر دې چې د رب له لوري يې په اړه د سپېڅلتيا او پاک لمنۍ پيغام را نازل شو:

﴿يَوْمَ تَشْهَدُ عَلَيْهِمْ اَلْسِنَتُهُمْ وَ اَيْدِيْهِمْ وَ اَرْجُلُهُمْ بِمَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ○﴾

"کوم کسان چې پر پاك لمنو، ناخبرو مؤمنو ښځو تورونه تپي، پر هغو باندې په دنيا او اخرت کې لعنت وکړای شو او د هغو لپاره لوی عذاب دی."

د دغه فرمان په نازلېدو هغې د الله تعالی حمد، ثنا او شکر پر ځای کړ او مسلمانان د دغې سترې فتحې په ترلاسه کولو زښت ډېر خوښ شول.

دغه راز هماغه درې تنه مسلمانان، چې د تبوک له غزا نه پاتې شوي و؛ دغه پراخه نړۍ پرې تنګه او زړونه يې ترخولې ته راوختل، ګومان يې وکړ، چې يوازې الله تعالی ته پناه ور وړول د خلاصون لار ده؛ نو رب العلمين ورته د خوښۍ پيغام راولېږه.



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram [redacted] /t.me/afgha

Downloaded By: Afghan Salar Library



## ۲۸۶ پر هماغه څه ټينګار وکړه، چې ته پرې سودمن کېږې

شيخ الاسلام ابن تيميهؒ فرمايي:

زه ناروغه شوم، طبيب راته وويل چې ډېره مطالعه او خبرې کول دې روغتيا لا پسې زيانمنوي! ماورته وويل، چې زه خو له دغه کاره نشم صبرېدلای!؟ نو راځه، چې زه ستا د علم (طب) اړوند پرېکړه وکړو! ايا داسې نه ده، چې نفس په خوښېدو ځواکمن کېږي؟؟ هغه په هو! ځواب راکړ؛ نو ما ورته وويل، چې زما نفس په علم خوښېږي! او پر همدې دمه کېږم؛ نو طبيب ورته وويل، چې ستا درملنه زمونږ پر وس پوره نه ده.

الله سبحانه وتعالیٰ فرمايي:

﴿قُلْ يَتَوَفّٰىكُمْ مَّلَكُ الْمَوْتِ الَّذِىْ وُكِّلَ بِكُمْ ثُمَّ اِلٰى رَبِّكُمْ تُرْجَعُوْنَ۝﴾

"دوی ته ووايه، د مرګ هغه ملايک، چې پر تاسې موظف کړای شوي دي، ستاسې روح به په بشپړه توګه تر خپلې قبضې لاندې راولي او بيا به تاسې د خپل رب لوري ته وګرځول شئ."

يو شاعر وايي:

ښايي ستا د عتاب عواقب ښه اوسي، ځکه ډېر ځله ناروغي د بدنونو لپاره درملنه وي.



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



## ۲۸۷ مور یې دوی او هغوی ټولو ته ورکوو

مور دې ته ډېر اړيو، چې په صبر او استقلال سره له وخت نه ګټه تر لاسه کړو، د ګټورو او نېکو چارو په ترسره کولو کې یو له بل سره مسابقه وکړو! زموږ نېکمرغي به دا وي، چې نورو ته ګټه ورسوو، په خپل چلن سره ټولنې ته یو سر لوړی کولتور وړاندې کړو؛ ځکه چې موږ هسې او بې ګټې نه یو پیدا شوي.

یوه ورځ مې د الزرکلي د «الاعلام» پاڼې اړولې، را اړولې:

د ختیځ او لوېدیځ د پوهانو، سیاستوالو، علماوو، حکماوو، ادیبانو او طبیبانو بې شمېره یادښتونه پکې تر سترګو شول.

د دغو ټولو ترمنځ ګډه ځانګړنه دا وه، چې ټول یې قهرمعنین، اتلان، نابغه ګان او پوهان ول،د هغوی له سوانحو نه څرګندېده، چې الله تعالیٰ د خپل مخلوق ترمنځ خپل سنت او قانون پلي کړی او خپله وعده یې ترسره کړې، چې که چا یوازې د دنیا لپاره کارنامې سره سرته رسولې، هغه ته یې په دنیا کې بشپړه ګټه رسېدلې او شهرت یې هم په برخه شوی!

همدا راز چا که د اخرت د ګټې لپاره څه نېې چارې سرته رسولې؛ نو پر دنیوي شهرت سربېره د اخرت بې پایه لوړنې یې هم په برخه شوي!!

په دغه کتاب کې ځینې داسې قهرمانان او اتلان شته، چې انسانیت ته یې په دغه نړۍ کې ډېرې ګټې رسولې؛ خو د اخرت لپاره یې پوټی کار نه دی



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

[redacted]

کړي؛ په ځانګړې توګه نامسلمانه خلک! ما ولیدل، چې دوی نور خلک خوښ کړي، خو خپله ځان یې وژلي، څوک له ستونزو او ربړونو سره مخ شوي.

ما فکر وکړ، چې دا څه نېکمرغي ده، چې زما په وسیله دې ولس نېکمرغه شي؛ خو زه دې په بدمرغۍ کې لالهانده او سرګردانه ژوند وکړم.

ما ولید، چې الله تعالی دغه خلکو ته هغه څه ورکړي، چې دوی غوښتي! په دوی کې یوه یې دا هڅه او هاند کاوه، چې د نوبل جائزه وګټي، هغه یې ترلاسه کړه،

که چا د نړیوال شهرت، سرو او سپینو د لاسته راوړو لپاره هڅه او کوښښ کاوه، هغه یې ترلاسه کړل، په دوی کې د الله تعالی غوره بندګان هم و، چې د اخرت د ګټلو فکر ورسره و او د هماغه لپاره یې هڅې کولې، الله تعالی د دې او هغې نړۍ دواړه ګټې ور په برخه کړې.

﴿يَبْتَغُونَ فَضْلًا مِّنَ اللَّهِ وَرِضْوَانًا﴾

"دوی د الله تعالی فضل او د هغه خوښي غواړي."

سمه او پر ځای خبره دا ده، چې هغه نوم ورکی نېکمرغه کس، چې پر خپل منهج، ولاړ او ثابت وي، تر هغه شتمن ډېر خوښ او نېکمرغه وي، چې پر اصولو تلل نه کوي.

دجزیرة العرب په یوه لویه صحراء د اوښانو یو مسلمان شپون د خپل اسلام له امله تر «ټالټایي» مشهور ناول لیکونکي او ډرامه نګار زر واري غوره دی، ځکه چې دغه شپون ډاډمن او خوښ ژوند کوي، خپل مسیر او تګلاره پېژني! او دغه بل کس په بې خونده ژوند او ناکامې هڅې سره خپل هدف لاسته نشي را وړلای او نه خپل مستقبل پېژني! د دغه ډول ناروغانو وړ درمل له مسلمانانو سره دي، چې په دې وروستیو کې انسانیت کشف


[redacted]ps://www.fa[redacted]om/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



کړي، چې پر تقدير ايمان لرل دي، لکه چې يو پوه وايي، که څوک پر تقدير ايمان نه لري، داسې کس په ژوند کې خوښي نشي موندلای او همدغه خبره مې تاسې ته به ښه ډول ښکاره کړه، څکه چې زه پر تقدير ايمان لرم او دغه خبره مې تجربه کړې، چې پر تقدير ايمان لرل د خوشحاله ژوند تېرولو کيلي ده.

اَن تُومِنُ بِالْقَدَرِ خَيْرِهِ وَشَرِّهِ حُلْوِهِ وَمُرِّهِ

## ۲۸۸ الله تعالی مؤمنانو ته لارښوونه کوي!

دا چې پر تقدير باوري کېدل د يوه انسان په نېکمرغۍ کې څه رول لوبولای شي، د دغې کيسې په لوستو به تاسې ته ښځي په ډاګه شي.

مشهور امريکايي ليکوال «بودلي» "د صحرا بادونه" او د (The Prophet) يانې رسول الله ﷺ او د څو نورو پېژندل شويو کتابونو ليکوال دی.

نوموړي په ۱۹۱۸ م کال کې په شمال لوېديځه افريقا کې له مسلمانانو سره يو ځای ژوند کاوه، د ځينو مشاهدو په اړه داسې ليکي:

يوه ورځ توند او تېز باد را والوت او د صحرا شګې يې له سپيني (ابيض) بحيرې پورې ويستې او د فرانس د "الرون" په دره کې وشيندلې! ګرمي دومره ډېره شوه، چې زه مې د خپل سر په وېښتو ووېرېدم، هسې نه، چې له ښځه راووځي او ليونی نشم!

خو د عربو پرې هېڅ پروا هم نه وه او نه يې څه ګيله کوله! خپلې اوږې يې څوځولې او ويل به يې، چې دا د تقدير پرېکړه ده، له دې سره به يې خپلو



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

چارو ته په خوبنۍ دوام ورکاوه!

یوه سپین پوستي عرب وویل، چې شکر دی، څه ډېر څه موږ له لاسه نه دي ورکړي، ځکه موږ اټکل کاوه، چې هر څه به له لاسه ورکړو، خو! الحمدلله ٤٠٪ څاروي لا زموږ په لاس کې دي، له سره به خپل کارونه پیل کړو!

همدا راز یوه بله داسې پېښه را منځته شوه، چې موږ په یوه ګاډي کې سپاره د صحرا لور ته روان و، چې ناڅاپه د ګاډي یو ټېر وچاوده! له ګاډیوان سره بل اضافي ټېر هم نه و! زښته زیاته غوسه راغله، په فکر او اندېښنه کې ډوب ولاړم، ما خپلو عربو ملګرو ته وویل، چې اوس باید څه وکړو.؟ ملګرو مې راته وویل، چې غوسه ناپوهي ده او هېڅ ګټه نه لري! همداسې پر دریو ټېرونو مو حرکت وکړ، د لږ واټن په وهلو موټر تیل خلاص کړل! اوس هم عرب هماغه شان ډاډمن و، همداسې یې لار د شعرونو په زمزمه کولو پلې ووهله! له عربو سره اوه کاله د افریقا په صحرا کې د ژوند په تېرولو ما ته دا ښکاره او جوته شوه، چې د تمدن تر عنوان لاندې د انسانیت له سپکاوي پرته نور څه نشته او هم څه نشي ترلاسه کېدای! زما ژوند په صحرا کې، نه بلکې د الله تعالی په هغه جنت کې و، چې د ډاډ، سکون، رضا او قناعت ټاټوبی و.

که څه هم ډېر خلک به د عربو د تقدیر عقیده مسخره ګڼي؛ خو څوک پوهېږي، چې همدغو عربو حقیقت درک کړی؟!

له عربو سره په ګډ ژوند کې ما ته ډېرې داسې پېښې یاد دي، چې له غمه به یې زما زړه خولې ته راغلو؛ خو عربو به د تقدیر په ګڼلو په خندا او موسکا ورته هر کلی وایه.

زه وایم، چې صحرایي عربو دغه حقیقت د اسلام له ستر پیغمبرﷺ نه



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library


ترلاسه کړي! او نبوي رسالت په همدې کې رانغښتل شوی ، چې انسانان له تیارو څخه رڼا او له سترتیاو څخه د سوکاله ژوند پر لور را اوباسي.

## ٢٨٩ نه هغه او نه دغه

مطرف بن عبدالله وايي، چې سپړلي دومره تېزه ځغلول، چې سپاره او سپرلۍ دواړه زيانمن شي، تر ټولو ناوړه تګلاره ده.

ډېر ناوړه مسئول او ذمه وار هماغه څوک دی چې په خپل مسوولیت کې له بې ځایه سختۍ او چټکتیا نه کار اخلي.

سخاوت د بخل او اسراف ترمنځ سرحد تشکیلوي.

شجاعت د جبن او سرتېرۍ ترمنځ منځنی موقف دی.

موسکا، د خندا او تریو تندي ترمنځ منځنی حالت دی.

صبر د قساوت او جزعو فزعو ترمنځ د منځلارۍ ټکی دی.

او داسې نورې بېلګې.....

دغه ټولې ناروغۍ درملنه لري او هغه دا چې:

﴿اِهۡدِنَا الصِّرَاطَ الۡمُسۡتَقِيۡمَ ۝٥ صِرَاطَ الَّذِيۡنَ اَنۡعَمۡتَ عَلَيۡهِمۡ ۙ۬ غَيۡرِ الۡمَغۡضُوۡبِ عَلَيۡهِمۡ وَلَا الضَّآلِّيۡنَ ۝﴾

"موږ ته سمه لاره وښیه (٥) د هغو کسانو لار، چې تا پرې پېرزوينه کړې ده (٦) نه د هغو کسانو لار، چې غضب وربانديې شوی او نه د هغو کسانو لار، چې لار ورکي دي (٧)."


Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

## ۲۹۰ د صبر توښه

په نړۍ کې تر ټولو ګران شی صبر دی! هغه که د محبوب په اړه وي او که پر غمونو او اندېښنو وي، په ځانګړې توګه هغه مهال، چې کله یې موده لاپسې اوږده شي او نهیلي یې لاپسې زیاته شي!!

هو! د صبر موده دومره توښې ته اړتیا لري، چې د دغه سفر واټن پرې ووهل شي او دغه توښه بیا ډول ډول شیانو ته اړتیا لري، لکه:

د مصیبت داسې اټکلول، چې تر دې لویې ستونزې هم راتلای شي.

په دنیا کې یې د عوض او بدیل غوښتنه.

د اخرت اجر او ثواب تمه لرل.

## ۲۹۱ ولیان څوک دي؟

د ولیانو صفتونه دا دي:

په شوق سره د آذان انتظار کوي.

تحریمه تکبیر ته په بیړه درومي.

په لومړني صف کې د لمانځه لېوال وي.

تل د الله تعالیٰ په یاد بوخت وي.

حلال خواړه خوري.

پر مصیبتونو صبر کوي.

خپل زړه پاک ساتي، پر نبوي سنتو عمل کوونکي وي، په بې ځایه



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



چارو کې ځان نه ښکېلوي، پر لږ څه راضي کېږي، له مسلمانانو سره په ورین تندي مخ کېږي، د مسلمان په غم غمجن کېږي او له خلکو سره ښېګړې کوي.

په لګښت کې منځلاري کوي او په بې ګټې کارونو کې مال نه خرابوي.

د استوګنې لپاره کور، نېکه ښځه، ښه سورلي، دومره شتمني، چې اړتیا له مینځه یوسي؛ نو دا شیان په دنیا کې جنت دی.

## ۲۹۲ الله تعالی پر خپلو بندګانو لوراند دی

په(۱۲۷٦) کال د کب نیونکیو یوه ډله تر درېیو ورځو پورې په دریاب کې په کبانو پسې ګرځېده؛ خو هېڅ یو کب په لاس ورنغی؛ خو د لمانځه قضایي پرې نه وه، ټول لمونځونه یې پر خپل وخت کول، د دوی په خوا کې د کب نیونکیو یوه ډله بله هم وه، چې له سره یې یو لمونځ هم نه کاوه؛ خو کبان یې ښه پراخه نیولي ول، دې لمونځ کوونکې ډلې ولیدل، چې مقابلې ډلې یې بلا شی کبان نیولي دي، سره له دې، چې هېڅ لمونځ نه کوي او موږ سره له دې، چې ټول لمونځونه پر خپل وخت کوو او بیا هم هېڅ یو کب زموږ په دام کې نه نښلي؛ نو شیطان یې په زړونو کې وسوسه ور واچوله؛ نو را روانه ورځ دوی هم د سهار، ماسپښین او مازدیګر لمونځونه پرېښودل او بیا بحر ته راغله او د یوه کب په ښکار کولو بریالي شول، هغه یې له بحر نه راوویست، خېټه یې ورخیرې کړه او یوه ارزښتمنه ملغلره یې ترې راوویسته! یوه تن یې ملغلره په لاس کې اړوله راړوله او ویل یې چې (سبحان الله!) کله چې موږ د الله تعالی اطاعت کاوه؛ نو هېڅ هم نه و او کله چې موږ د الله تعالی له فرمان نه سرغړونه پیل کړه؛ نو دا هم پکې ترلاسه شوه!! اورمرو په دې کې



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library


څه راز شته! ملغلره یې راواخیسته او ایسته یې بحر ته ورګذار کړه او وې ویل، چې الله تعالی به مور ته تر دې غوره بدله راکړي!

خپلو ملګرو ته یې وویل، راځئ چې بل ځای ته ولاړ شو، دلته مور له خپل رب څخه سرغړونه او نافرماني کړې! له دغه ځایه درې څلور کیلو متره لرې لاړل او هلته یې خیمې ووهلې او بېرته یې خپلو لمونځونو ته دوام ورکړ، بیا د درېیم ځل لپاره بحر ته د ښکار په موخه ورغلل، دا ځل یې د « کنعد » په نامه کب ښکار کړ، چې ګېډه یې ورشېرې کړه؛ نو یوه زښته لوړ بیه ملغلره یې ترې راوویسته او خپلو ملګرو ته یې وویل، چې (الحمدلله) وګورئ! الله تعالی سپېڅلې روزي راکړه.

الله تعالی فرمايي:

که دوی د الله تعالی او د هغه د رسول پر ورکړه خوښ شوي وای او ویلي یې وای، چې الله تعالی زموږ لپاره بس دی او ډېر ژر به الله تعالی او د هغه رسول زموږ په اړه خپلې لورنې پیل کړي او موږ همدغه الله تعالی ته مینه وال یو؛ نو دا به د دوی لپاره ډېره غوره وای.

## ۲۹۳ الله له داسې ځای څخه روزي ورکوي چې څوک یې اټکل هم نشي کولای

التنوخي په خپل کتاب: «الفرج بعد الشده» کې یوه کیسه لیکلې، چې له دې ځای سره سمون خوري.

پر یوه سړي د روزۍ دروازې داسې وتړل شوې، چې هېڅ یې هم په کور کې نه درلودل، دوه ورځې همداسې په نهره تېرې کړې، په درېیمه ورځ یې


Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

ښځې ورته وویل، چې ای سړیه! ووځه او زموږ لپاره څه روزي ولټوه! موږ خو نور له لوږې مړو! سړی هماغسې له کوره راووت او د یوې نږدې ګاونډۍ ښځې کره ورغی او خپل حال یې ورته په ډاګه کړ، ګاونډۍ ورته وویل، چې زموږ په کور کې هم دغه یوکب شته،چې سخا شوی نه وي! دغه سړي ترې کب راواخیست او کور ته یې ترې راوړ، چې د کب خېټه یې ور څیرې کړه، په خېټه کې یې یوه ملغلره راوختته ، چې په زرګونو اشرفۍ وپلورل شوه! ګاونډۍ یې هم له دغه جریانه خبره کړه! خو ګاونډۍ یې وویل، چې ماته فقط د هماغه کب په اندازه برخه راکړئ، زیاته نه! سړی وایي، چې تر دې وروسته زه ډېر شتمن شوم، پراخه کور او پراخه روزي مې برخه شوه.

## ۲۹٤ هماغه ذات (الله تعالیٰ) د بارانه وروونکی دی

یوه فاضل صوفي راته کیسه کوله، چې له خپلې ښځې او بچیو سره په یوه بېدیا کې اوسېدم! له عبادت، انابت او د الله تعالیٰ یاد پرته مې بله څه بوختیا نه درلوده، داسې وخت راغی، چې زموږ شاوخوا د اوبو چینې وچې شوې، ښې لور او کیڼ لور ته مې د اوبو پلټنه وکړه؛ خو اوبه په لاس رانغلې! همداسې بېرته خپلې ښځې او بچیو ته بېرته راغلم، چې د تندې له امله د مرګ په درشل ولاړ وو!

کورته په را رسېدو مې تیمم وواهه، دوه رکعته لمونځ مې وکړ او د خپل رب دربار ته مې لاسونه لپه کړل، د ژړا په بدرګه مې د کایناتو له خالق نه د بارانه غوښتنه وکړه! قسم په الله، زه لا له خپل ځای نه پاڅېدلی نه وم، چې په آسمان کې وریځې راګورې شوې او په شیبو شیبو باران راښکته شو او



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library


زمونږ د چاپېریال ټول ډنډونه له اوبو ډک شول؛ نو د الله تعالی په شکر ادا کولو سره مو له دغه الهي رحمت نه پراخه ګټه پورته کړه.

## ۲۹۵ الله تعالی تر دې غوره عوض ورکړ

ابن رجب لیکلي دي، چې په مکه کې یو زاهد شخص اوسېده، نېستي پرې راغله، شته مال ورسره ختم شو، په بد حال شو ، د لوږې له امله نږدې مړ و، بله ورځ د مکې په کوڅه کې روان و، په لار کې یې یو ډېر لوړ بیه امېل پروت ولید، امېل یې راواخیست او نېغ حرم ته لاړ، حرم ته په رسېدو یې ولیدل، چې یوه سړي د خپل ورک امېل غږ کاوه، چې له ما څخه یو امېل ورک شوی..!

د نوموړي عابد په وینا د امېل د نښې په ښوولو مې امېل هم هماغه کس ته ورکړ، په دې هیله، چې ښایي څه به ما ته هم راکړي! خو سړي امېل واخیست او په خپله مخه روان شو ، هېڅ یې شا ته ونه کتل د روپو ست؛ خو یې لا پر ځای پرېږده.!

عابد وایي ما یې عوض له الله تعالی نه وغوښت، چې ای الله تعالی ما ستا لپاره هغه کس ته د هغه امېل ور وسپاره، ته زما چاره روانه کړې!

دغه زاهد د ساحل لور ته لاړ، هلته په یوه بېړۍ کې سپور شو، ناڅاپه د توپان په رالوتلو سره بېړۍ ټوټې ټوټې شوه، زاهد پر یوه لرګینه تخته سپور شو او یوې جزیرې ته ووت، په دغه جزیره کې یو جومات په نظر ورغی، په جومات کې یې خلک په لمانځه ولیدل، ده هم لمونځ وکړ، تر لمانځه وروسته هلته د قران کریم څه پاڼې پرتې وې، هغه یې راواخیستې او پر لوستلو یې بوخت شو!


Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



د جزیرې خلکو، چې نوی راغلی کس یانې دغه زاهد د قران کریم په لوستو ولید؛ نو ویې پوښت، چې قرآن کریم لوستلای شې؟ ده په هو! ځواب ورکړ؛ نو ځایي استوګنو د خپلو بچیو د لیک لوست او د قران کریم د ښوولو لپاره په ښه تنخوا ونیو، د لېوالتیا ښوولو په صورت کې یې یوه یتیمه نجلۍ یې هم ور په نکاح کړه.

عابد وایي، چې کله مې له نومورې یتیمې نجلۍ سره واده وکړ؛ نو هماغه امېل چې ما په مکه کې موندلی و، د همدغې نجلۍ په غاړه و!

ما مې ښځه د دغه امېل په اړه وپوښته، چې د دغه امېل کیسه دې راته وکړه!

هغې وویل: دا زما له پلار نه په مکه کې ورکه شوې وه او دکوم سړي لاس ته ورغلې وه، هغه بیا زما پلار ته بېرته سپارلې وه، په دې توګه به زما پلار په سجده کې دعا کوله، چې لور مې همدغسې یوه سړي ته په نکاح کې روزي کړې!

عابد وایي، ما ورته وویل، چې قسم په الله هغه سړی همدا زه یم او الله تعالی ما ته عوض راکړ..

## ٢٩٦ یوازې له الله تعالی څخه یې غواړه

الله تعالی پر خپلو بندګانو ډېر مهربانه او ورته ډېر نږدې دی او ټوله نیمګړتیا په موږ کې ده، ځکه چې موږ په هغه شان ترې غوښتنه نه ده کړې او کله چې لږه غوندې دعا وکړو؛ نو بیا وایو، چې ډېرې دعاګانې مو وکړې؛ خو هېڅ نه قبلېږي، بلکې موږ ته پکار ده، چې خپل پالونکي ته سر په سجده کېږدو، لومړی یې حمد، ثنا ووایو، تر هغې وروسته پر خوږ



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

نبي ﷺ درود ووایو او بیا په خشوع او خضوع سره د هغه په ښکلیو نومونو دعا وغواړو؛ نو الله تعالیٰ یې ارومرو قبلوي.

یو کس بهرني هېواد ته تللی و او په هغه هېواد کې قبولي نه ورکوله، تر خپلې وسې ټولې منډې تررړې یې وهلې وې؛ خو ټولې لارې پرې تړل شوې وې، یوه ورځ یوه عالم ته ورغی او خپله ستونزه یې ورته بیان کړه، عالم ورته وویل، چې د شپې را پاڅه، د حاجت لمونځ وکړه او له الله تعالیٰ یې غواړه؛ خو نهیلی کېږه مه! هغه همداسې کار پیل کړ، چې د شپې به را پاڅېده د حاجت لمونځ به یې کاوه او له الله تعالیٰ څخه به یې د وریښمي ستونزې هواری غوښته؛ نو یوه ورځ یې یوې وړوکې غوندې دولتي ادارې ته غوښتنلیک ورکړ، څه ورځې پس الله تعالیٰ یې هغه کار د چا له سپارښت پرته وکړ.

همدا راز په بغداد کې یوه وزیر د یوې بوډۍ ښځې ټول مال او شتمني ضبط کړې وه؛ نو بوډۍ په دې هیله د وزیر تر دروازې ورغله، چې ښایي پر زړښت مې ولورېږي او زما له سپینه سره یو څه حیا ورشي؛ خو وزیر د دې د هیلې پر عکس ور پورې خندا وکړه، بوډۍ وویل، چې زه له ښېراوو پرته نور څه نشم کولای، په دې خبره وزیر نور هم په کرس غږ وخندلې او ملنډې یې پرې ووهلې او له ډېره کبره یې ورته وویل، چې که ښېراوې کوې؛ نو د شپې په وروستۍ برخه کې یې وکړه، بوډۍ همداسې وکړل، چې د شپې په وروستۍ برخه کې یې د ښېراوو لپاره خپل پالونکي ته لاسونه لپه کړل، د بوډۍ ښېراوې قبولې شوې او لا څو ورځې تېرې شوې نه وې، چې وزیر له خپلې دندې گوښه کړی شو او په ډک بازار کې په تازینو ووهل شو، په دې وخت کې هماغه بوډۍ یې مخې ته ودرېده او وزیر ته یې وویل، چې ډېر ښه نصیحت دې راته کړې و، چې د شپې په وروستۍ برخه کې راته ښېراوې وکړه؛ نو ودې لیدل د شپې د هغه وخت د ښېراوو اغېز؟



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

## ۲۹۷ ارزښتمنې شيبې

يو ځل زه د خليج د (ابها) له ايالت څخه پلازمېنې رياض ته د تلو لپاره په الوتکه کې سپور شوم، تر څه ځنډ وروسته غږ وشو، چې د څه تخنيکي ستونزې په رامنځته کېدو به ډېر ژر موږ بېرته (ابها) ته ستانه شو! الوتکه بېرته د (ابها) پر هوايي ډګر ښکته شوه؛ څه ګوتې يې سره پکې وهلې ورانې ويجاړې يې راسمې کړې او بېرته الوتنې ته چمتو شوه، دا دی بېرته په هماغه الوتکه کې سپاره او د رياض په لور رهي شو، د رياض نړيوال هوايي ډګر ته په نږدې کېدو د الوتکې زينو ځمکې ته له ښکته کېدو انکار وکړ، پوره يولس ځله يې د ښکته کېدو هڅه وکړه؛ خو پر ښکته کېدو لاسبرې نه شوه! دلته په الوتکه کې د دغه اضطراري حالت په رامنځته کېدو د لويو او وړو چيغې راپورته شوې او پر مخونو يې د رڼو اوښکو سېلابونه روان شول! همداسې چې موږ د ځمکې او آسمان ترمنځ له مرګ سره مخ کېږو! په دغه وخت کې نېک عمل پرته نور هېڅ شی موږ ته درونډ او ارزښتمن ښکاره نشو؛ همدغه يوه کلمه د خلکو پر ژبه تکرارېدله چې:

﴿لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ لَا شَرِيْكَ لَهٗ. لَهُ الْمُلْكُ وَ لَهُ الْحَمْدُ وَ هُوَ عَلٰى كُلِّ شَیْءٍ قَدِيْرٌ ۝﴾

"يوه عمر خوړلي سړي په صادقانه لهجه غږ کړ چې: ای خلکو! خپل رب ته پناه يوسئ! او له هغه نه د خپلو ګناهونو ښننه وغواړئ!"

کله چې د بودا پر دغه خبره عمل وشو؛ نو وروسته په يوولسم او دولسم ځل الوتکه د الله تعالی په مرسته روغه او جوړه ځمکې ته ښکته شوه! او وتلې ساګانې مو بېرته په بدن کې وګرځېدې! تابه ويل، چې مړي له قبرونو



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



## ۲۹۸ په تنکسه کې به څوک پکاریږي؟

په جریدة القصیم کې (چې دا د هغه هېواد لرغوني او پېژندل شوې ورځپانه ده ) دا کیسه لیکل شوې وه، په دمشق کې یو ځوان د سفر لپاره د الوتکې ټکټ اخیستی و او خپله مور یې خبره کړه، چې پر پلاني وخت زموږ پرواز دی، له تاکلي وخت نه یو ساعت وړاندې به مې له خوبه راوینښ کړې، تر دې وروسته په کټ کې وغځېده او ویده شو ..... مور یې وکتل، چې د هوا حالت ښه نه دی باد او باران ښه زور اخیستی دی، په داسې حال کې که پر الوتکه څه وشي؛ نو هسې نه، چې پر زوی مې الله تعالی مه کړه څه وشي، له دې امله یې د پرواز په وخت کې خپل زوی هماغسې ویده پرېښود، کله چې د پرواز وخت تېر شو؛ نو مور یې وغوښتل، چې خپل زوی راپاڅوي، کله یې چې کټ ته ودرېده او زوی یې وښوراوه؛ نو زوی یې په حق رسېدلی و او د ساه نښه پکې پاتې نه وه!!!

الله تعالی فرمايي:

﴿قُلْ اِنَّ الْمَوْتَ الَّذِيْ تَفِرُّوْنَ مِنْهُ فَاِنَّهٗ مُلٰقِيْكُمْ ثُمَّ تُرَدُّوْنَ اِلٰى عٰلِمِ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ فَيُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ○﴾

"دوی ته ووایه، له کوم مرګ نه چې تاسې تښتئ، هغه تاسې ته راتلونکی دی، بیا به تاسې د هغه ذات حضور ته وړاندې شئ، چې په پټ او ښکاره باندې پوهېدونکی دی او هغه به تاسې ته وښيي، چې تاسې څه کول."



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



ګوره موږ يې له قدرتي افت نه ژغورل غوښتل؛ خو مرګ له ستوني ونيوه. پوهان وايي، موږ د نړۍ په ستونزو کې پنځه شيان ډېر ګران وليدل، په مسافرۍ کې ناروغي، په بوډا توب کې نېستي، د ځوانۍ مرګ، تر بينايي وروسته ړندېدل، تر وصال وروسته بېلتون.

## ۲۹۹ د مرګ نا اشنا کيسه

د مصر نامتو شيخ علي طنطاوي رحمه الله په خپل کتاب «ليدلي اورېدلي» کې ليکي،چې د شام سيمې تللی وم او هلته په يوه موټر کې سپور شوم، په دې کې ډېر سخت باران راښکته شو، په لار کې يوه کس ګاډيوان ته لاس ورکړ، هغه يې هم راوخېژاوه، د ګاډي مخکنۍ چوکۍ ډکې وې، د ناستې ځای پکې نه و؛ نو هغه کس شا ته په ډيګۍ کې کېناست، په ډيګۍ کې له مخکې نه يو مړی هم پروت و، دا کس پر مړي له پاسه پرېوت او پر مړي غوړېدلې څادر يې پر ځان راکش کړ، د لارې په اوږدو کې يو بل سړی هم ګاډي ته راووخت او هغه هم ډيګۍ ته ور واوښت، ده فکر کاوه چې د ډيګۍ په کټ کې يوازې مړی پروت دی.

ناڅاپه لومړني کس خپل لاس له ډيګۍ څخه را بهر کړ، چې وګوري باران شته او که نه؟! دلته دويمي کس د لومړني کس د لاس په ليدو ګومان وکړ، چې ګوندې دا کوم مړی دی او بيا را ژوندی شو، د ډار له امله يې له رواني لارۍ نه ټوپ کړ، چې په پايله کې يې کوپړۍ پر سرک وشيندل شوه او له مينځه لاړ، دا وه د الله تعالی پرېکړه او تقدير د دغه سړي په اړه، چې بايد په همداسې ومري.

هر انسان تل بايد دا خبره په پام کې ولري، چې دی مرګ پر خپل



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

سرګرځوي؛ خو بیا هم له مرګ نه د تېښتې په هڅه کې وي!

علي بن ابي طالب رضي الله عنه څومره په زړه پورې او ښه خبره کړې:

اخرت مخې ته را روان دی او دنیا شا ته پاتې کېږي! تاسې د دنیا زامن نه، بلکې د اخرت زامن اووسئ! ځکه چې نن عمل شته، حساب نشته او سبا حساب شته؛ خو عمل نشته.

شیخ علي طنطاوي رحمه الله یوه بله ښېښه یادوي او لیکي، چې یو ګاډی له سورلیو ډک و؛ خو بیا هم ګاډیوان یو خوا او بل خوا کتل، چې پر لاره کومه سورلۍ ویني او راویې خېژوي، په دې کې ناڅاپه ګاډیوان ګاډی ودراوه، ناستو کسانو وپوښته، چې استاده ګاډی دې ولې ودراوه؟ ګاډیوان وویل، چې دغه یو سپین ږیری ولاړ و راومې خېژاوه، خلکو ورته وویل، چې موږ خو یې نه وینو، کوم دی سپین ږیری؟ ګاډیوان وویل دا اوس، چې بره را وخته، دوی لا په همدې خبرو کې و او ګاډیوان هم دومره مزل نه و کړی، چې په حق ورسېد.(یانې ده په اصل کې خپل مرګ یعنې د مرګ ملایک راخېژولی و، ګوره د ده د مرګ پرېکړه شوې وه او فقط څو شېبې یې پاتې وې؛ خو دی لا هم د دنیا حرص په مخه کړی و)

## ۳۰۰ کله ناروغي هم د شفا ذریعه وي

تاریخپوهان لیکي چې یو کس ګوزن وهلی و، چې له امله یې کلونه په کور ناست تېر کړل، ناروغ کس له درملنې نهیلی شوی و، بله ورځ په کوټه کې ناست و، چې ناڅاپه له چت نه یې پر سر لړم را وغورځېده، په پرلپسې توګه یې پر سر ټکونه ورکول او چیچه یې، په عین حال کې د سړي ټول بدن له پښو نه ترسره پورې ولړزېده او په بدني غړو کې یې ژوند څپانده شو، په



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



بدن کې يې خوښي او نشاط سر راپورته کړ، پر پښو ودرېد، دروازې ته ورغی، ور يې پرانست، خپلې ښځې او بچيو ته ورغی، کله چې يې ښځې او بچيو دغه کس پر خپلو پښو ولاړ وليد؛ نو باور يې نه راته؛ خو بس په رډو رډو يې ورته کتل او ټول ورته جام شوي او سام نيولي و، چې راپه سد شو؛ نو ويې پوښته، د پوښتنې په ځواب کې هغه کيسه ورته وکړه.

هماغه ذات د ستاينې وړ دی، چې د دغه سړي درملنه يې په دغه ډول تر سره کړه!

ځينو ډاکټرانو ته، چې ما کله د دغې خبرې په اړه يادونه وکړه نو هغوی باوري وګرځوله او ويې ويل، چې د دغه ډول ناروغانو درملنه په همدغه ډول زهرجنو موادو کېدای شي.

## ۳۰۱ د ولیانو کرامت

له تابعينو نه يو تن صله بن اشيم جهاد ته تللی و، په يوه ځنګل کې پرې شپه راغله، تابعي په نفلو ودرېد؛ نو له کومې خوا نه يو زمری راغی، تابعي تر سلام ګرځولو وروسته، چې زمری وليد؛ نو زمري ته يې وويل، که تا ته زما د وژلو امر شوې وي؛ نو ومې خوره! ګنې له دې ځايه ځه! چې زه خپل لمونځ وکړم د تابعي پر دې خبره زمري لکۍ پر سر را واړوله او بځپله مخه روان شو.

همدا راز (سفينه) د رسول اللهﷺ ازاد شوي غلام ساحل ته خېرمه په ځنګل کې لاره ورکه کړه!

پېغمبرﷺ او د هغه ياران ورځخه لرېوتل! ناڅاپه له يوه وږي زمري سره مخ شو! زمري ته يې وويل، چې ای زمريه! زه د رسول اللهﷺ ازاد شوی غلام "سفينه" يم د الله تعالی د استازي خدمت کوم! زما ملګري له ما نه



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library


مخکې تللي دي او ما لاره ورکه کړې ده!!

زمرې د لکۍ په ښورولو له سفینه نه مخکې شو، ان تر دې چې ورکو ملګرو ته یې ور ورساوه، په کتابونو کې د کراماتو په اړه تر دې هم ناشنا پیښې راغلې دي.

## ۳۰۲ د الله تعالی وکالت بس دی

په بخاري شریف کې حدیث دی، چې په بني اسراییلو کې یوه دینداره سړي له بل څخه زر اشرفۍ پور وغوښت، هغه سړي عابد وپوښت، چې کوم شاهد لرې؟ عابد یې په ځواب کې وویل، چې الله تعالی زما شاهد دی، بیا یې وپوښت، چې څوک وکیل لرې؟ عابد وویل الله تعالی زما وکیل دی.

بیا یې ورته د یوې ټاکلې مودې پر ژمنه زر اشرفۍ پور ورکړ او سړی همداسې رهي شو! په دغه سیمه کې د دوی ترمینځ لوی سیند بهېده! کله یې، چې د پور د لنډولو نېټه را ورسېده، نو پور وړی را روان شو، چې له ژمنې سره سم پور کړې پیسې یې خاوند ته بېرته ورکړي!

د سیند پر غاړه یې د پورې وتلو څه وسیله تر سترګو نشوه، تر اوږده انتظار وروسته یې د دعا لاسونه لپه کړل، چې ای الله تعالی ته خبر یې، دغه سړي ته ما ته د شاهد او وکیل په توګه ټاکلی یې، هم ته زما دغه لیک له دغه امانت سره تر هغه ور ورسوه!

بیا یې یو لرګی سوری کړ او زر اشرفۍ یې پکې کېښودلې او په سیند کې یې خوشې کړ!

د الله تعالی په امر سره اشرفۍ له نوموړي لیک او لرګي سره نېغ په نېغه حرکت وکړ! بل لور ته د اشرفیو خاوند له ژمنې سره سم د خپلو زرو اشرفیو


k:https://www.face[redacted]m/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

د ترلاسه کولو په انتظار کې د سیند پر بله غاړه ولاړ دی هېڅوک یې تر سترګو نشو! په سیند کې یې یو لرګی را روان ولید، فکر یې وکړ، چې څه دغه لرګی؛ خو به کورته یوسم! لرګی یې را واخیست او همداسې کور ته لاړ، چې لرګی یې مات کړ؛ نو له لیک سره زر اشرفۍ یې وموندلې، د اشرپیو په ترلاسه کولو زښت ډېر خوشحاله شو! ځکه چې الله تعالیٰ په دغه معامله کې د شاهد او وکیل په توګه تاکل شوی و او هغه خپله دنده پر خپل وخت سرته ورسوله!

الله تعالیٰ فرمايي:

﴿وَعَلَى اللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُونَ﴾

"او مؤمنان باید یوازې پر الله تعالیٰ ډاډ ولري."

همداشان فرمايي:

﴿وَعَلَى اللَّهِ فَتَوَكَّلُوا إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ﴾

"پر الله تعالیٰ ډاډه اوسئ، که تاسې مؤمنان یئ."

## ۳۰۳

## وقفه

لبید وايي:

کله چې نفس درته څه وايي؛ نو هره خبره یې مه منه.

البستي وايي:

ستړې طبعیت دې لږ دمه کړه، یوڅه توکې ټکالې او څه تفریح هم کوه؛ خو فقط په اوړو کې د مالګې هومره.



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

[redacted]

ابو علي بن الشبل وايي:

د بدن ساتنې له امله روح هم ارام پاتې کېدای شي، که ډيوه روغه وي؛ نو اور به هم بلېږي.

## ۳۰٤ حلال خواړه د دعا د قبلېدو لامل کېږي

رسول الله ﷺ سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه ته دا دعا کړې وه، چې الله تعالی دې دعاوې قبولې کړه، له همدې امله، چې کله به يې دعا وکړه؛ نو له واره به قبلېده!

عمر رضي الله عنه يو شمېر خلک کوفې ته واستول، چې د سعد بن ابي وقاص د عدالت په اړه معلومات راټول کړي! کله چې د کوفې خلک د نوموړي په اړه ويوښتل شول؛ نو ټولو ډېر وستايه؛ خو کله چې دوی د بنو عبس د کلي جومات ته ورغلل؛ نو يو سړی راولاړ شو او وې ويل، چې تاسې د سعد په اړه ولې ما نه پوښتئ؟ دی خو په هېڅ قضيه کې له عدالت او نياو څخه کار نه اخلي! او له رعيت سره هيڅ ښه چلن نه کوي! د دغه کس د دې خبرې په اورېدو سعد رضي الله عنه وويل: ای الله! که دغه سړی د رياکارۍ لپاره راپورته شوی وي؛ نو ته يې پر سترګو ړوند کړه، عمر يې اوږد کړه او په فتنو کې يې اخته کړې! هماغه و چې د سعد رضي الله عنه د ښېرو له امله يې عمر اوږد شو او وروځې يې پر سترګو راکوږې شوې! په دومره بوډا توب کې د ښځو په فتنه ککړ شو، پېغلې انجونې به يې زورولې او دا به يې ويل، چې زه د سعد ازار وهلی يم.

په سير علام النبلاء کې د سعد رضي الله عنه په اړه نقل دي، چې يوه ورځ يوه کس



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

علي رضي الله عنه ته کنځاوې کولې؛ نو سعد رضي الله عنه دغه کس له کنځاو وژغوره؛ خو هغه له کنځاو منع نشو، سعد رضي الله عنه ورته ښېرې وکړې، په دې کې یو اوښ په منډه راغی او هغه کس یې تر پښو لاندې کړ، ان تر دې چې وېې واژه.

الله تعالی فرمايي:

﴿اِنَّا لَنَنۡصُرُ رُسُلَنَا وَ الَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡا فِی الۡحَیٰوۃِ الدُّنۡیَا وَ یَوۡمَ یَقُوۡمُ الۡاَشۡهَادُ ﴾

"باور ولرئ چې موږ د خپلو پیغمبرانو او مؤمنانو مرسته اورمرو د دې دنیا په ژوند کې هم کوو او په هغه ورځ به یې هم وکړو، چې کله شاهدان ولاړ وي."

حجاج بن یوسف حسن بصري رحمه الله د سزا ورکولو لپاره را وغوښت، حسن بصري روان شو..... دا وخت د حسن په ذهن کې فقط د الله تعالی لطف او کرم او په هغه توکل ځای درلود!

لکه څنګه چې هغه د لارې په اوږدو کې دعا وکړه، د الله تعالی نومونه او صفتونه یې الله تعالی ته واسطه کړل! هماغه و چې الله تعالی د حجاج په زړه کې رعب واچاوه؛ نو د حسن بصري په ورسېدو حجاج د هغه هرکلي ته راووت، د هغه یې تود هرکلی وکړ او بیا یې له ځانه سره یو ځای پر خپل تخت کېناوه! ډېر قدر او مېلمستیا یې ورته وکړه (سره له دې، چې له حجاج نه دا ډول تمه لېونتوب و، ځکه هغه به د ژبې پر ځای په توره غږېده)

هو! دا یوازې د رب العالمین ذات تسخیر و، چې د حجاج په څېر یو لوی دېکتاتور یې د یوه زاهد عالم په وړاندې سرکوزی کړ.



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library
[redacted]

## ٣٠٥ له الله تعالیٰ نه خوښ اوسه!

د(رَضِيتُ بِاللهِ رَبًّا، وَبِالإِسْلَامِ دِينًا، وَبِمُحَمَّدٍ نَبِيًّا) له لوازمو څخه دا هم ده، چې د الله تعالیٰ پر حکمونو، قضاء او قدر، خیر او شر، خوږو او ترخو راضي اووسې او دا معنی یې نه ده، چې د هغه پرېکړه ستا د خوښۍ او هیلې اړوند وي؛ نو ښه پرې خوشحاله یې او که ستا د تمې او هیلې خلاف وي؛ نو بیا دې تندی تریو نیولی وي، بلکې که تقدیر ښه او که بد وي، په هر حال خوښېدل پرې د مؤمن صفت دی.

ځوا به چې کله کلیوالو خلکو ټپله خوښه ژوند کاوه؛ نو که د هغوی له غوښتنو سره سم به حالات روان وو، بارانونه به ټپل وخت کېدل او فصلونه او مېوې به ښې ډېرې کېدې؛نو دوی به هم مسلمانېدل؛ خو که حالات به پر عکس شول؛ نو هغوی به له اسلامه اوړېدل، چې دا په اصل کې مسلماني نه وه، بلکې د خپلو هیلو پیروي وه.

خوښي یوه داسې دروازه ده، چې د الله تعالیٰ نږدې بندګان او دینداره خلک پرې ورننوځي.

د اسلام ستر پیغمبرﷺ د حنین د غزا په پایله کې لاسته راغلي غنیمتونه د عربو پر رئیسانو او مشرانو د دې لپاره ووېشل، چې زړونه یې اسلام ته را مات کړي او دا چې انصار د پاخه ایمان خاوندان وو او رسول اللهﷺ پرې ښه باوري و؛ نو له دې امله یې هغوی ته په غنیمت کې لږه برخه ورکړه، چې بیا رسول اللهﷺ دغه راز هغوی ته په ډاګه کړ او د هغوی د خوښۍ په لپاره یې داسې ورته وویل، چې ایا تاسې پردې خوښ نه یاست، چې دوی خپلو کورونو ته له مېږو او اوښانو سره ولاړ شي او تاسې خپلو کورونو ته د الله تعالیٰ او د هغه له رسولﷺ سره ولاړ شئ؟!


k:https://www[redacted]ook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

یوه اعرابي د الله تعالی د استازي په وړاندې اسلام اعلان کړ، رسول الله ﷺ هغه ته یو څه ورکړل!

اعرابي وویل: په دې خاطر ما له تا سره بیعت نه دی کړی!

د الله تعالی استازي ورته وفرمایل، بیا نو دې د څه لپاره بیعت کړی؟!

هغه خپل ستوني ته په اشارې سره وویل، په دې معنی چې غشي راشي او له مرۍ مې پورې وځي!

رسول الله ﷺ ورته وویل:

(که ته رښتیا وایې؛ نو الله تعالی به هم ستا هدف ترسره کړي)

ګوره! چې همدغه اعرابي په یوه معرکه کې له خپلې غوښتنې سره سم ولړېد او په شهادت ورسېد او د خپل رب لور ته په خوښۍ ورغی.

د اسلام ستر پېغمبر ﷺ ژمنې له خپلو یارانو سره د اجر او ثواب، جنت او د الله تعالی د خوښۍ د لاسته راوړلو پر بنسټ وې، کله به یې وویل، چې که چا داسې کار وکړ؛ نو جنت به یې ځای وي، کله به یې فرمایل، چې که چا داسې کار وکړ؛ نو هغه به په جنت کې زما ملګری وي.

په دې اړه په ترمذي شریف کې حدیث دی:

عمر ﷺ د عمرې د ادا کولو په تکل له رسول الله ﷺ څخه اجازه وغوښته؛ نو هغه ﷺ ورته داسې وفرمایل:

(ای وروره! موږ په خپلو دعاګانو کې له یاده ونه باسې)

دا د یوه پېغمبر خبره ده، چې د خپلې هیلې او هوی پر بنسټ یې نه ده کړې، بلکې دا یوه ډېره ارزښتمنه خبره ده، ځکه عمر ﷺ به فرمایل، چې دا یې داسې خبره راته کړې، چې تر دنیا او مافیها نه راته غوره ده.

سره له دې، چې د محمد رسول الله ﷺ رضا او خوښي د خپل رب او خالق په پرتله تر دې ډېره لوړه ده، چې خلک یې ستایي.



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



هغه له خپل رب څخه په بدایتوب کې هم خوښ و او په بېوزلتوب کې هم ورڅخه خوښ و.

نبي کریم صلی الله علیه وسلم د قوت، کمزورتیا، صحت او ناروغۍ په ټولو حالاتو کې له الله تعالیٰ نه راضي و.

لکه چې الله تعالیٰ فرمایي:

﴿وَلَسَوۡفَ يُعۡطِيكَ رَبُّكَ فَتَرۡضَىٰٓ ۝﴾

"او ډېر ژر به ستا رب تا ته دومره درکړي، چې ته خوشحاله شې."

## ۳۰۶ د نخلې په سیمه کې

معصوم پیغمبر محمد رسول اللهﷺ له مکې نه وتو ته اړ کړای شو! طائف ته لاړ! هلته ظالمانو پر دروا‌غجن ګڼلو او بسکنځلو سربېره په تیږو هم وویشت!!!

رسول اللهﷺ له دغې سیمې نه په داسې حالت کې راووت، چې د سر وینې یې په مبارکو پښو بهېدې، کله چې د خلکو له سترګو پناه شو؛ نو د یوې خرما ونې سیوري ته کېناست او داسې دعا یې وکړه:

اللَّهُمَّ إِلَيْكَ أَشْكُو ضَعْفَ قُوَّتِي، وَقِلَّةَ حِيلَتِي، وَهَوَانِي عَلَى النَّاسِ، أَرْحَمَ الرَّاحِمِينَ، أَنْتَ أَرْحَمُ الرَّاحِمِينَ، إِلَى مَنْ تَكِلُنِي، إِلَى عَدُوٍّ يَتَجَهَّمُنِي أَوْ إِلَى قَرِيبٍ مَلَّكْتَهُ أَمْرِي، إِنْ لَمْ تَكُنْ غَضْبَانَ عَلَيَّ فَلَا أُبَالِي، غَيْرَ أَنَّ عَافِيَتَكَ أَوْسَعُ لِي، أَعُوذُ بِنُورِ وَجْهِكَ الَّذِي أَشْرَقَتْ لَهُ الظُّلُمَاتُ، وَصَلَحَ عَلَيْهِ أَمْرُ الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ، أَنْ



Facebook:https://www.face[redacted]om/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



تُنْزِلَ بِي غَضَبَكَ أَوْ تُحِلَّ عَلَيَّ سَخَطَكَ. لَكَ الْعُتْبَى حَتَّى تَرْضَى، وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِكَ(٤٣)

"ای الله تعالیٰ زه فقط تا ته د خپلې کمزورۍ، بېوسۍ او د خلکو په وړاندې د خپلې بې ارزښتۍ ګیله کوم، ای ارحم الراحمینه ذاته! ته د کمزور پالونکی یې او ته زما پالونکی یې، دا ته ما چا ته سپارې؟ داسې پردیو ته چې له ما سره ډېر توند چلن کوي؟ او که کوم دښمن ته، چې هغه تا زما د معاملې مالک جوړ کړی دی، که ته پر ما غوسه نه یې؛ نو زما پروا نشته؛ خو ستا عافیت زما لپاره ډېر پراخه دی، زه ستا د مخ په هغه نور پورې ستا له غضبه پنا غواړم، چې ټولې تیارې یې روښانه کړې او د دنیا او اخرت ټولې چارې پرې سمې شوي، زه یوازې ستا خوښي غواړم، تر دې چې ته راضي شې او له تا پرته بل زورور او طاقت لرونکی نشته."

## ۳۰۷ داسې لورنې

الله تعالیٰ فرمايي:

﴿إِنَّا سَخَّرْنَا الْجِبَالَ مَعَهُ يُسَبِّحْنَ بِالْعَشِيِّ وَالْإِشْرَاقِ ۝﴾

"موږ له هغه سره غرونه ایل کړي وو چې سهار او ماښام یې له هغه سره پاکي بیانوله."

همدغه د مؤمنانو د هیلو او ارزوګانو پای و او دا هماغه څه دي چې یو رښتونی مؤمن یې غواړي.

٤٣: الدعاء للطبراني (١ / ٣١٥)دا حديث ضعيف دی.



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

هو! د الله تعالی رضا او خوښي د يو مؤمن په اړه تر دې پرته نور څه کېدلای شي چې:

﴿وَ جَزٰىهُمۡ بِمَا صَبَرُوۡا جَنَّةً وَّ حَرِيۡرًا ۙ مُّتَّكِـِٕيۡنَ فِيۡهَا عَلَى الۡاَرَآئِكِ‌ ۚ لَا يَرَوۡنَ فِيۡهَا شَمۡسًا وَّلَا زَمۡهَرِيۡرًا ۚ وَدَانِيَةً عَلَيۡهِمۡ ظِلٰلُهَا وَذُلِّلَتۡ قُطُوۡفُهَا تَذۡلِيۡلًا ۝ وَيُطَافُ عَلَيۡهِمۡ بِاٰنِيَةٍ مِّنۡ فِضَّةٍ وَّاَكۡوَابٍ كَانَتۡ قَوَارِيۡرَا ۙ قَوَارِيۡرَا۟ مِنۡ فِضَّةٍ قَدَّرُوۡهَا تَقۡدِيۡرًا ۝﴾

"او د هغو د صبر په بدل کې به هغو ته جنت او وربښمين کالي ورکړي (١١٢) هلته به هغوی پر لوړو مسندونو باندې تکيه وهلې ناست وي، نه به يې د اوړي ګرمي په تکليف کړي او نه د ژمي ساړه (١١٣) د جنت څانګې به پرې راټيټې شوې سيوري کوونکې وي او د هغه مېوې به هر وخت د هغوی په وس کې وي (چې څنګه غواړي وېې شکوي) (١١٤) د هغو مخې ته به د سپينو زرو لوښي او د ښيښو ګېلاسونه ګرځول کېږي (١١٥) ښيښې هم هغه، چې د سپينو زرو په ډول به وي او هغه به (د جنت منتظمينو) په سمه اندازه برابر ډک کړي وي (١١٦)"

## ٣٠٨ رضا که څه هم پر سپرغيو وي

د بنوعبس کورنۍ له يوه سړي نه اوښ ورک شو،هغه يې لټه پيل کړه، سره له دې چې دغه کس ښه شتمن و!

د لوڼو او زامنو، مېږو او وزو، غوايانو او اوښانو شمېر يې نه و، د استوګنې لپاره يې ښه پراخه کور درلود، يعنې ښې پراخه لورنې پرې شوې وي.



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



د هېڅ کمی ورکړه نه و، هر څه ورکړه ډېر او تېر، فقط یوې درنې حادثې او پېښې ته یې انتظار درلود.

د یوه شاعر په وینا:

"ای د شپې پر درانه او خواږه خوب ویده انسانه! حادثې او پېښې کله نا کله د سباوون پر مهال دروازې ټکوي"

د شپې یې دکورنۍ ټول غړي په درانه خوب ویده شول؛ خو د کور مشر خوار د ورک شوي اوښ په لټون هماغسې بوخت و!

دلته له بل پلوه الله تعالی د ده پر کورنۍ یو داسې توپاني سېلاب راوست چې غټې غټې ډبرې یې د شګو پشان رغړولې! کور یې له اهل و مال سره په خړ سېلاب داسې لاهو شو، چې هېڅ نوم او نښه یې پاتې نشوه! تر درېیو ورځو وروسته یې، چې کله دکورنۍ مشر راستون شو، نو تر یوې درنې ګډوډۍ او بربادۍ پرته یې نور هېڅ په نظر ورنغله، اریان دریان ودرېد او وې ویل:

ای الله! دا څه پر څه غم او مصیبت واوښتم، زه خو لا په اوښ پسې خپه وم، دا څه وشو!

دغم له پاسه غم یې دا و چې د یوه تښتېدلي اوښ د رانیولو هڅه یې وکړه، په عین حال کې اوښ پرمخ یوه داسې لغته ورکړه، چې په دواړو سترګو یې پرتېپه ړوند کړ، هر څه یې له لاسه ورکړل او د ځان په وېر اخته شو!

څه موده وروسته یو کلیوال راغی او له ځانه سره یې دمشق ته د خلیفه ولید بن عبدالملک دربار ته بوته او ټوله کیسه یې ورته وکړه! هغه وپوښت، چې اوس څنګه یې؟ د دې پوښتنې په ځواب کې ورته وویل، چې له الله تعالی نه په دې حال خوښ یم.

دا هماغه ستره خبره وه، چې د دغه غمځپلي مسلمان له خولې راووته،



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

چې دا د هغه په زړه کې د الله تعالیٰ د توحید او بې ساري قدرت د جذبې زېږنده وه او هغه څوک چې د الله تعالیٰ پر تقدیر او پرېکړه نه راضي کېږي؛ نو له خپل تاوان پرته هېڅ نشي کولای.

## ۳۰۹ پرېکړه کول

الله تعالیٰ فرمايي:

﴿فَبِمَا رَحْمَةٍ مِّنَ اللّٰهِ لِنْتَ لَهُمْ ۚ وَ لَوْ كُنْتَ فَظًّا غَلِيْظَ الْقَلْبِ لَا نْفَضُّوْا مِنْ حَوْلِكَ ۖ فَاعْفُ عَنْهُمْ وَ اسْتَغْفِرْ لَهُمْ وَ شَاوِرْهُمْ فِى الْاَمْرِ ۚ فَاِذَا عَزَمْتَ فَتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُتَوَكِّلِيْنَ ○﴾

"(ای پېغمبره!) دا د الله تعالیٰ لوی رحمت دی چې ته د دې خلکو لپاره ډېر نرم خويه جوړ شوی يې که داسې نه وای او ته تونډ خويه او سخت زړی وای نو دا ټول به ستا له شاوخوا نه خواره شوي وو د دوی خطاوې وبښه، د دوی لپاره بښنه وغواړه او د دين په چارو کې هغو ته هم په مشوره کې برخه ورکړه، بيا چې ستا اراده پر کومه رايه ټينګه شي؛ نو پر الله تعالیٰ توکل وکړه، د الله تعالیٰ هغه خلک خوښېږي، چې د هماغه په ډاډېينه کار کوي."

د پرېکړې کولو پر مهال ډېر خلک له اندېښنې او دوه زړه توب سره لاس او ګرېوان وي؛ انسان بايد په ټولو چارو کې مشوره وکړي او له الله تعالیٰ نه خير وغواړي، تر لږ فکر وروسته دې د ښه ګومان او ښه اټکل پر پلي کولو اقدام وکړي.

د اسلام ستر پېغمبر ﷺ پر منبر ناست و، له خپلو يارانو سره يې د احد د



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library


غزا په اړه مشوره وکړه!

هغوی ورته د غزا لپاره له مدينې نه د بهر وتلو مشوره ورکړه! نو رسول الله ﷺ له واره زغره واغوسته او توره يې را واخيسته! يارانو يې ورته وويل، چې ای د الله تعالی رسوله! ښايي ته موږ غزا ته اړ کړی يې؟!

که تاسې په مدينه کې پاتې کېدل غواړئ او دا درته غوره ښکاري؛ نو موږ خپلې خبرې بېرته اخلو!

پېغمبر ﷺ وفرمايل، چې له هېڅ يوه پېغمبر سره نه ښايي، چې هغه دې زغره واغوندي او بېرته دې يې مخکې تر دې وباسي، چې الله تعالی د ده او د ده دښمن ترمنځ پرېکړه نه وي کړې، يعنې له واره يې د تلو پرېکړه وکړه.

هو! مسئله دوه زړه توب ته اړتيا نه لري، بلکې تصميم او هوډ ته اړتيا لري، ځکه چې بهادري او مشري د پرېکړې پر عملي کولو منځته راتلای شي.

له بله پلوه دوه زړه توب پرېکړې اغېزمنوي، همت سستوي ، تصميم او هڅې شنډوي!

له دې امله دوه زړه توب درمل نه، بلکې يوه ناروغي ګڼل کېږي! دغه راز پېغمبر ﷺ د بدر د سترې تاريخي پېښې په اړه له خپلو يارانو سره مشوره کړې وه.

الله تعالی فرمايي:

﴿وَشَاوِرْهُمْ فِي الْأَمْرِ﴾

”او د دين په چارو کې هغو ته هم په مشوره کې برخه ورکړه.“

﴿وَأَمْرُهُمْ شُورَىٰ بَيْنَهُمْ﴾

”خپلې چارې په خپلمنځي مشورې سره سر ته رسوي.“


Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

ابوبکر رضي الله عنه د مرتدانو پر خلاف د جګړې په اړه له خپلو ملګرو نه مشوره غوښتې وه! او هغوی د جګړې په نه کولو مشوره ورکړې وه! تر دې چې الله تعالی د دغه جليل القدر خليفه سينه د جګړې لپاره پراخه کړه! ځکه دغه جګړه د اسلام سر لوړي او د فتنې لمنځه وړل وو.

ابوبکر رضي الله عنه وويل: زما دې پر هغه ذات قسم وي، چې د هغه په لاس کې زما ساه ده، زه به ارومرو د هغو کسانو پر ضد جنګېږم، چې د لمانځه او زکات ترمنځ توپير کوي! په الله تعالی قسم که چا رسول الله ﷺ ته له اوښ سره د ګونډې پړی ورکاوه او له ما نه يې وسپماوه؛ نو هم به ور سره جهاد وکړم.

## ٣١٠ د مؤمن طبيعت

مؤمن د تل لپاره ثابت قدم او هوډمن وي.

لکه چې الله تعالی فرمايي:

﴿إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ آمَنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ ثُمَّ لَمْ يَرْتَابُوا﴾

"په حقيقت کې؛ خو مؤمنان هغه دي، چې پر الله تعالی او د هغه پر پېغمبر يې ايمان راوړې وي، بيا هغوی څه شك ونه کړي."

او همداشان د کافرانو په اړه فرمايي:

﴿فَهُمْ فِي رَيْبِهِمْ يَتَرَدَّدُونَ ○﴾

"هغوی په هماغه خپل شك کې سرګردانه دي."

پر دې سربېره خپلې ژمنې ماتوي، تاسې ته پکار ده، چې کله در ته


[redacted]k:https://ww[redacted]ook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

سمه لار معلومه شي او غالب ګومان دې پرې راشي؛ نو بیا په ډاډه زړه مخ په وړاندې درومه.

یوه کس، چې د ښځې په طلاقولو کې دوه زړی و؛ نو یوه پوه کس ته ورغی او مشوره یې ترې وغوښته، چې باید څه وکړي، هغه پوه کس وپوښت: له دغه ښځې سره دې څومره کلونه تېر کړي؟

- څلور کاله

- له څلور کالو راهیسې له صبر نه کار اخلې؟

- هو!

- سمه ده، چې له صبر نه کار اخیستل پکار دي؛ خو تر کومه، عقلمن هغه څوک دی، چې د یوه شي په اړه فکر کوي، چې د هغه لپاره ښنګه دی ورسره تلل کولای شي، که نه؟ او تر هغې وروسته یې د اقدام په اړه کلک هوډ وکړي.

یو شاعر وايي:

د هغه څه درمل چې ستا زړه یې نه غواړي همدا ده، چې ورڅخه بېل شې، د څېړنو او تجربو په رڼا کې دوه زړه توب او اریانتیا په څلورو مسئلو کې ډېره پیښېږي.

۱: د تحصیل او زده کړې پر مهال د تخصص او رشتې غوره کول دي، چې د دوه زړه توب له امله یې ډېر ګرانبیه وخت له لاسه ورځي.

۲: د یو مناسب کار غورول! چې ډېر خلک په دې نه پوهېږي، چې څه ورسره ښايي او څه نه؟!

۳: همدا راز د ځان لپاره د ښځې انتخاب دی، چې ډېر ځوانان یې له دوه زړه توب او اریانتیا سره لاس او ګرېوان کړي، په دې معنی، چې د ښځې په انتخاب کې خپله ومني او که د مور؟ د پلار ومني او که د ورور؟


Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegra[redacted]s://t.me/afghan[redacted]

Downloaded By: Afghan Salar Library

[redacted]

د تره ومني او که د ترور؟.

٤: د طلاق مسئله ده، چې یو زیات شمېر خلک یې له دوه زړه توب سره مخ کړي! په دې معنی، چې طلاقه یې کړي او که نه، دغه د اوسپنو نینې وچیچي؟!

له دغو ټولو خبرو نه موږ ببرته همدې خبرې ته راګرځو، چې انسان باید ارومرو تصمیم ولري، ټیکاو او هوډ ولري، پرېکړه او پر الله تعالی توکل ولري او په دوه زړه توب سره خپل لوړ همت، ټیکاو او پاڼبنت له لاسه ورنه کړي!

د سېلابه پشان چټک اقدام، د تورې پشان تېزوالی، د زماني د تصمیم غوندې تصمیم نیولو سره د دغه شعر مصداق وګرځه چې:

د ډګر اتلان له واره پرېکړه کوي. د پایلو له پامنیوي پرته ډګر ته کېوځي.

## ۳۱۱ چې څه کرې، هغه به ربېې

ډېره د اریانتیا خبره ده، نورو ته وایو چې له سړو مغزو نه کار واخلئ او خپله اور اخلو، له نورو نه سخا غواړو؛ خو خپله مو په جېب کې لړم پروت وي له وېرې لاس نه ورښکته کوو، له نورو نه وفا غواړو؛ خو خپله وفا نه پېژنو! موږ ته پکار ده، چې له نورو څنګه تمه لرو لومړی باید ځان هغسې جوړ کړو، لکه ابن رومي عربي شاعر وایي:

" ډېره ناشنا خبره ده، چې غواړئ خلک له تاسې سره ښه چلن او غوره اخلاق وکاروي؛ خو خپله په بد اخلاقۍ ورسره مخ کېږئ".



[redacted]k:https://ww[redacted]ook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



## ۳۱۲ لومړی پرې خپله عمل وکړه

زموږ نېکمرغي په دې سره بشپړتيا مومي، چې تر هر څه له مخه له خپل خالق سره معاملې سمې کړو، بيا له مخلوق سره!!

بل ته نصيحت کول اسان دي؛ خو خپله پرې عمل کول ګرانه خبره ده، لکه چې الله تعالی فرمايي:

﴿ اَتَاۡمُرُوۡنَ النَّاسَ بِالۡبِرِّ وَ تَنۡسَوۡنَ اَنۡفُسَكُمۡ وَ اَنۡتُمۡ تَتۡلُوۡنَ الۡكِتٰبَ ؕ اَفَلَا تَعۡقِلُوۡنَ ○ ﴾

"ايا تاسې نورو ته د ښې لارې غوره کولو لپاره واياست او خپل ځان هېروئ؟ په داسې حال کې، چې تاسې کتاب لولئ، ايا تاسې له پوهې نه هيڅ کار نه اخلئ؟"

همداشان د هغه چا په اړه په حديث شريف کې دي:

هغه څوک چې بل ته نصيحت کوي؛ خو خپله پرې عمل نه کوي؛ نو داسې کس به اور ته وغورځول شي او د خره په څېر به پکې تاوېږي، نور دوزخيان به يې پوښتي، چې له تا سره ولې داسې کېږي؟ دا به په ځواب کې وايي، چې ما به تاسې ته نصيحت کاوه ؛ خو خپله به مې پرې عمل نه کاوه.

مشهور واعظ او خطيب ابو معاذ الرازي په ژړا شو؛ نو خلک يې هم وژړول! پخوانيو سلفو به، چې کله چا ته د خيرات امرکاوه؛ نو لومړی به يې په خپله صدقه ورکوله؛ نو بيا به يې خلکو هم خبره په ښه ډول منله.



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram [redacted]/t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



## ۳۱۳ رښتینې راحت په جنت کې دی

الله تعالیٰ فرمايي:

﴿لَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنسَانَ فِي كَبَدٍ ۝﴾

"په حقیقت کې موږ انسان په سختۍ کې پیدا کړی دی."

امام احمد بن حنبل ﷫ وپوښتل شو، چې انسان څېرته او کله راحت مومي؟

هغه يې په ځواب کې وويل هله، چې لومړی پل يې په جنت کې کېښود، ځکه رښتینې راحت هماغه دی.

جنت ته له ننوتو نه وړاندې هېڅ راحت نشته، ځکه دنيا د راحت کور نه دی، بلکې دنيا؛ خو د حوادثو، دردونو، کړاونو او زړېږوو کور دی.

د يو شاعر په وينا:

د دنيا په فطرت کې خړپړتيا پروت دی او ته يې بيا هم غواړې؟ ته څنګ کولای شې د ورو له کور نه خړپړتيا لرې کړې؟!

راحت په اصل کې د الله تعالیٰ به عبادت کې نغښتی دی، په دې معنی که دې دلته عبادت وکړ؛ نو جنت ته به لاړ شې او رېښتينې سوکالي به دې په برخه شي او دا چې کافر په دې نړۍ کې د خپلو نېکيو بدله غواړي؛ نو وايي، چې:

﴿رَبَّنَا عَجِّل لَّنَا قِطَّنَا قَبْلَ يَوْمِ الْحِسَابِ ۝﴾

"ای زموږ ربه! د حساب له ورځې نه مخکې زموږ برخه موږ ته په بېړه راکړه."



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



يوه ملګرې له ناجيريا نه خبر راكړ، چې مور مې د تهجدو لمانځه ته راپاڅوي؛ نو يوه شپه مې ورته وويل لږ؛ خو مې راحت ته پرېږده!

هغې وويل: بچيه! دغه كار؛ خو ستا د راحت لپاره كوم، چې جنت ته لاړ شې او هلته خوښ ژوند ولرې.

## له نرمۍ څخه كار واخله نو هدف به ترلاسه كړئ

٣١٤

د نرمۍ په اړه ډېر شواهد، دلايل او تجربې تر مخه تېرې شوې.

په حقيقت كې نرمي هماغه شفاعت ګر دی، چې د اړتياو په لمنځه وړو كې يې سپارښت نه ردېږي.

ته فكر وكړه، چې د دوو دېوالونو ترمنځ يوه نرۍ لار تللې، چې فقط يو ګاډی پكې ډېر په ګرانه تېرېدای شي: نو ارومرو به ګاډۍ وان پكې له احتياط او نرمۍ نه كار اخلي؛ خو كه څوک په نرۍ لار كې ګاډی ځغلوي؛ نو ارومرو به ترې ګاډی له ښي او كيڼ دېواله سره جنګېږي او ګاډی به يې خرابېږي او څومره يې چې تادي وي، هومره به لا پسې ځنډېږي؛ خو كه د تېزۍ پر ځای په نرمۍ ولاړ شي؛ نو نه به يې ګاډی خراب شي او نه به ځنډ شي.

همدا راز كه مور د كور په برنډه كې په ګلدان كې يو ګل نال كړو او لږې لږې اوبه ورته ور اچوو؛ نو ګل ته به يې ګټه رسېږي؛ خو كه موږ پرې ستل اوبه په شړک سره ور واړوو؛ نو ګل بوټی به له بېخه راووځي او د ګټې پر ځای به اوبه ورته لا پسې زيان واړوي، سره، له دې چې په دواړو حالتونو

Downloaded By: Afghan Salar Library

[redacted]

کې بوټي ته اوبه ور اچول کېږي؛ خو لارې چارې يې بدلې دي، يعني په سختۍ سره اوبه ور اچول تازه نال کړي ګل ته زيان او په نرمۍ سره اوبه ور اچول ورته ګټه رسوي.

همدې ته ورته بېلګه دا هم ده، که څوک جامې په کراره اوباسي؛ نو جامو ته يې څه زيان نه اوړي؛ خو که څوک يې درز سره اوباسي؛ نو جامې به يې يې څيرېدو پاتې نشي، لږ تر لږه تنۍ خو به يې ارومرو شلېږي. .

د لطيفې په ډول کله، چې د يوسفﷺ ورونو د يوسفﷺ کميس راوړ او پلار ته يې دروغ جوړ کړ، چې يوسفﷺ رانه شرمښ وخوړ؛ نو دغه دروغ يې داسې ونيول شول، چې په کميس کې له سره لږ ځای هم شلېدلی نه و، ځکه هغوی په نرمۍ سره ترې کميس ويستلی و ( يا هغه په خپله خوښه ويستلی و) که شرمښ په رښتيا يوسفﷺ خوړلی وای؛ نو کميس به يې څه نا څه شکېدلی، بلکې چرړې چرړې شوی وای

نبوي ارشاد دی چې:

وَإِنَّ لِنَفْسِكَ عَلَيْكَ حَقًّا

"ستا نفس پر تا حق لري."

دلته د رفقت او نرمۍ په اړه يوه روزه نېژه معادله شته او هغه دا چې: چنچنه د شاتو مچۍ ته ورته نرمي او رفقت نه لري!

په حديث کې راځي، چې مؤمن د شاتو د مچۍ په څېر دی، چې سپېڅلي خواړه خوري او سپېڅلي را پيدا کوي او ډنډر نه ماتوي.

د شاتو مچۍ هېڅکله هم ګل ته زيان نه رسوي، بلکې په ډېر رفقت او نرمۍ يې رس او عرق څټي او خپله موخه تر لاسه کوي؛ خو چنچنه بيا هسې نه ده، ځکه هغه که پر ګل ور غوټه کېږي، ته به وايې بريد پرې کوي، ځکه هر څه يې لمنځه وړي، ډنډر يې ماتوي، پاڼې يې رژوي...



...https://www.fa[redacted]...com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



له دې سره ما ته د هغه هندي رسام کيسه را په زړه شوه! چې يوه ډېره ښکلې او په زړه پورې تابلو يې داسې انځور کښلې و، يوه وږې او لاهانده چنچنه د غنمو په يوه داسې وږي پورې نښتې وي، چې له دانو ډک دی د وخت پاچا دغه تابلو د خپل دربار يوې ډډې ته ځړولې وه، چې هر څوک يې په ليدو خوښېږي او له رسام څخه يې مننه کوي! يوه ورځ يو بېوزله او فقير سړی له کومې خوا د مېلمنو په ډله کې دننه ولاړ!

هلته خلکو لوحې ته په کتلو سره خوښي څرګنده وله او له رسام نه يې مننه کوله؛ خو فقير له واره پر دغه لوحې په نيوکې کولو سره وويل، چې دغه لوحه بېخي ناسمه ده! ټولو خلکو ورته په غوسه وکتل، چې ټول خلک يو څه او ته بل څه وايې!

پاچا: تا سره څه فکر او نظر شته؟

فقير: د دغې لوحې رسم او انځور بېخي ناسم دی! ځکه د غنمو په وږي پورې چنچنه نښتې ده او وږی بيا هم هماغسې نېغ ولاړ دی، سره له دې چې چنچنه کله د غنمو پر وږي کښېني؛ نو د خپلې بې باکۍ له امله وږی يو لور ته کږوي؛ نو له دې امله دغه انځور ناسم دی!

پاچا او درباريانو ټولو د ده خبره ومنله؛ له دې سره جوخت پاچا امر وکړ، چې لوحه رانښکته کړئ او د رسام جايزه دغه فقير ته ورکړئ.

په انساني توکم کې نرمي د هر خير کيلي ده، چې نفسونو ته خوښي او نېکمرغي وربښي.

الله تعالی د خپل ګران پيغمبر په اړه فرمايي:

﴿فَبِمَا رَحْمَةٍ مِّنَ اللهِ لِنتَ لَهُمْ ۖ وَلَوْ كُنتَ فَظًّا غَلِيظَ الْقَلْبِ لَانفَضُّوا مِنْ حَوْلِكَ ۖ فَاعْفُ عَنْهُمْ وَاسْتَغْفِرْ لَهُمْ وَشَاوِرْهُمْ فِي الْأَمْرِ ۖ فَإِذَا عَزَمْتَ فَتَوَكَّلْ عَلَى اللهِ ۚ إِنَّ اللهَ يُحِبُّ الْمُتَوَكِّلِينَ ○﴾



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Te[redacted]:https://t.me/a[redacted]

"(ای پیغمبره!) دا د الله تعالیٰ لوی رحمت دی چې ته د دې خلکو لپاره ډېر نرم خویه جوړ شوی یې، که داسې نه وای او ته توند خویه او سخت زړی وای؛ نو دا ټول به ستا له شاوخوا نه خواره شوي وو د دوی تېر وتنې وبښه، د دوی لپاره بښنه وغواړه او د دین په چارو کې هغو ته هم په مشوره کې برخه ورکړه، بیا چې ستا اراده پر کومه رایه ټینګه شي؛ نو پر الله تعالیٰ توکل وکړه، د الله تعالیٰ هغه خلك خوښېږي، چې د هماغه په ډاډېینه کار کوي."

## ۳۱۵ د زړه خوښي

طه حسین، چې د مصر نامتو ادیب دی د غایب په صیغې سره د ځان په اړه داسې وايي:

(ځان ورته د نورو انسانانو په څېر انسان ښکارېده! څکه دا هم د هغوی په څېر زېږېدلی، د نورو په څېر ژوند کوي، د نورو په څېر خوښي هم لري، څنګه چې هغوی ګټې او لاسته راوړنې لري، دی یې هم لري)

خو دی هغسې روړې نشو او زړه یې هسې ډاډمن نشو! د ده، د خلکو او نورو شیانو ترمینځ یوه پرده او واټن مینځ ته راغلې، چې په ښکاره خوښ او نېکمرغه ښکاري؛ خو باطن یې د اندېښنو او ګډوډۍ، ترهې او وېرې په یوه داسې بې پایه دښته کې اوسېږي، چې له سره پوله نه لري! نه څه نښې لري، نه رسنیو ته لاسرسی لري او نه د دې هڅه کولای شي.

شیخ الاسلام ابن تیمیه وايي:

زړه کله ناکله د خوښۍ داسې حالت هم مومي، چې که جنتیان یې وانګېري؛ نو لا به پسې خوښ او وویاړي.



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



## ۳۱٦ د نېکمرغۍ لپاره لاندیني اصول په پام کې ولرئ.

ایمان غمونه، اندېښنې او له زړه نه ناوړه اغېز لرې کوي. ایمان د لمونځ کوونکیو محراب او عابدینو د روح غذا ده.

په تېرو پسې مه ګرځه.

تل پر تقدیر راضي او له الله تعالیٰ څخه د روزۍ پر وېش خوښ اوسه.

د الله تعالیٰ یاد زړونو ته داډ وربښي، ګناهونه مینځي، الله تعالیٰ پرې له انسان څخه خوشحالېږي او له افتونو څخه د خلاصون لامل دی.

که له چاسره څه ښېګړه وکړې؛ نو له هغه څخه د منني تمه مه کوه او بدل یې یوازې له الله تعالیٰ څخه غواړه.

چې سبا کړې؛ نو د ښېګاه انتظار مه کوه او خپل ژوند د همدغې ورځې په چوکاټ کې عیار کړه.

مستقبل تر راتلو پرېږده، چې راشي بیا به ورسره ګورې.

زړه له حسد، کینې او نفاق نه تل پاک وساته؛ نو خوښ او نېکمرغه به یې.

له خلکو سره یوازې د خیر په چارو کې ونډه اخله او له بې ګټې چارو څخه یوازیتوب غوره کړه.

کتاب تر ټولو ښه او غوره ملګری دی، په ملتیا یې وویاړه، په سفر او حضر کې یې له ځانه سره ولره.

له علماوو او نېکانو سره ناسته ولاړه ساته.

د کاینات د نظم په څېر ته هم خپل کور، دفتر، خوراک او ټولې چارې



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

[redacted]brary

منظمې کړه.

په ځمکه ګرځه، ښېرازې سیمې او باغونه ګوره او د الله تعالی په کایناتو کې فکر کوه.

تل سپورت کوه، له سستۍ او لټۍ څخه ځان ساته او اوزګارتیا هم په کار راوله؛ نو تل به چټک او چالاک اوسې.

د تاریخ کتابونه لوله، له کیسو او نا اشنا پېښو یې پند اخله.

په خپل ژوند کې نوښت رامنځته کوه، ځکه انساني طبیعت نوښت خوښوي.

له چایو، قهوې، چیلم او سګرټو نشي توکو له کارونې نه ځان ساته.

د خپلو کالیو پر پاکوالي سربېره مسواک او خوشبو کاروئ، چې د شخصیت ظاهري اړخ مو هم زړه راښکونکی وي.

د داسې کتابونو له مطالعې نه ډډه وکړئ، چې د نهیلۍ او بې زړه توب لور ته راښکل کوي.

دا له یاده مه باسئ، چې الله تعالی ښښونکی او ګناهونه پر نېکیو بدلونکی هم دی.

پر دین، عقل، روغتیا، پاکلمنۍ، روزي، بچیو او داسې نورو نعمتونو د الله تعالی شکر اوباسئ.

له هغه چا څخه پند او عبرت واخله، چې نه عقل لري او نه صحت، نه سترګې لري او نه غوږونه، نه پښې لري او نه لاسونه او که دا ټول شیان لري؛ خو په بند کې پراته دي.

په سوچ او فکر سره د قران شریف تلاوت ډېر کوه، د یادولو کوښښ یې کوه، ځکه چې په دې اندېښنې لمنځه وړل کېدای شي.

پر الله تعالی توکل وکړه او خپلې ټولې چارې همغه ته وسپاره او پر پرېکړه



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



يې خوښ او راضي اوسه.

هغه څوک وبښه، چې پر تا يې تېرى کړى، له خپلوانو سره اړيکې مه پرېکوه او که څوک درسره اړيکې پرې کوي؛ نو ته يې ټينګوه.

(لاَحَولَ ولاَقُوةَ إلاّ بالله) ډېر وايه، ځکه دا د سينې د پراخۍ، د حالاتو د سمون او د الله تعالیٰ د خوښۍ لامل دی.

که دې استغفار ډېر وويل؛ نو د رزق دروازې به تل ستا لپاره پرانيستې وي.

پر دې؛ خو باور ولره، چې تر هرې تنګسې وروسته راحت او تر هر غم وروسته خوښي شته، ځکه چې حالات پر يوه شان نه پاتې کېږي.

پر الله تعالیٰ ښه ګمان لره او د هغه له رحمت څخه مه نهيلې کېږه!.

خلکو ته خير او ښېګړه وړاندې کړه، په خپله به هم خوښ او نېکمرغه اوسې.

پر چا بدګماني مه کوه، وهمونه او فاسد خيالات شا ته وغورځوه، ځکه چې دا خپله ناروغي ده.

باور ولره، چې يوازې ته پر غم او اندېښنه اخته نه يې، بلکې تر تا پرته هم بلا خلک پرې اخته دي.

باور ولره چې د غمونو او اندېښنو، لوږو او ژورو له امله زړه ژوندى کېږي، د ليدو او اورېدو ځواک پياوړى کېږي، اجر او ثواب لاس ته راځي.

پېښو ته مه تسليمېږه او له ناوړه خبرونو، تا ويلو، ما ويلو نه ډډه کوه.

د لټانو او تمبلو خلکو له ملګرتيا نه ډډه وکړه، چې دا يو ډول رواني ناروغي ده.

په جمعې سره د لمانځه کوښښ کوه، په ژوند کې به دې خير او برکت وي.

د تکبير اولى را لاندې کولو هڅه کوه؛ نو لمونځ به دې نه بې جمعې



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar [redacted]

کېږي.

له ګناهونو نه تل ځان ساته، ځکه چې ګناهونه د مصيبتونو دروازې او د اندېښنو کړکۍ دي.

له هر ډول ګناهونو نه ځان ساته، ځکه چې دا د ټولو غمونو او اندېښنو يواځنۍ زېږنده ده.

خپلو دښمنانو ته ښکنځل، ستغې او سپورې ستا شخصيت زيانمنوي، له دې نه ډډه وکړه.

باور ولره، چې ستا غيبت کوونکی، خپلې نېکۍ تا ته دربښي.

تل زړور، هوډمن او ثابت اوسه، خپل همت او عزم له لاسه مه ورکوه.

له سخا نه کار واخله، ځکه په دې سره سينه پراخېږي او د زړه خړپړتيا پرې لرې کېږي.

د شرارت مخه په نېکۍ سره ونيسه او د خلکو په وړاندې له نرمۍ نه کار اخله، چې دا به ستا دوستان ډېر او دښمنان راکم کړي.

د نېکمرغۍ ترټولو لويه دروازه، چې ته پرې ور دننه شې، هغه د مور و پلار دعاوې او خوا خوږي ترلاسه کول دي.

خپل ځان وپېژنه، له خلکو نه د هغه څه تمه مه کوه، چې په خپله يې نشې کولای.

خپلې ټولې چارې پر يوه وخت مه راټولوه، بلکې له يوه مهال وېش سره سم يوه منظمه تګلاره وټاکه.

هغه چا ته ځير شه، چې د بدني ځواک، جاه او جلال له پلوه تر تا کم وي او ويوهېږه، چې ته له ډېرو نه په ډېر څه کې لوړ يې.

ته که له چا سره معامله کوې؛ نو دا باور ولره، هغه که ستا ورور، زوی، ښځه او که هر څوک وي؛ خو بې عيبه نه دی؛ نو دغه ټول په سړه سينه


:https://www.[redacted]ook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



ومنه.

له الهي ورکړو او لورنو سره لازم او ملزوم اوسه او هماغه کار وکړه، چې له تا سره ښايي.

حلال رزق ولټه، له حرامو او سوال نه ځان ساته او سوداګري تر وظيفې غوره ده.

لږ ګرځه را ګرځه، چې نوی ژوند او نوې نړۍ وګورې.

يوه وړکۍ جيبي کتابچه هرومرو له ځانه سره ولره، چې د ژوند چارې او د ژوند پېښې پکې يادښت کړې.

له خلکو سره په سلام او رنه تنده مخ کېږه، چې د هغوی په زړونو کې ځای ولرې.

تر الله تعالی وروسته پر خپل ځان باور وکړه او پر سوکالۍ ونه غولېږې.

د قرارداد او پرېکړې پر مهال له دوه زړه توبه ډډه وکړه، له تصميم او هوډ څخه کار واخله.

د انسانيت د ستر لارښود محمدﷺ په پلیون، رېښتينې او همېشنۍ نېکمرغي ترلاسه کړئ.

روغتونو ته لاړ شه، چې د روغ بدن او ژوند په خوند پوه شې، مرستون ته لاړ شه، چې د عقل په ارزښت وپوهېږې.

له ځانه مچ مه جوړوه، چې د خلکو پر تپونو ور پرېوځې.

مؤمن پر دې نه خپه کېږي، چې دنيا يې له لاسه ووځي، ځکه دا هسې هم لمنځه تلونکې ده.

د لوراند ذات لور ته ځير شه، چې يوه بدلمنه ښځه يې ديوه تږي سپي پر خړوبولو وبښله او د سلو خلکو قاتل يې پر يوه توبه وباښه.

خپل خيالات او تصورات په واک کې ولره، هسې نه چې د غمونو کندې



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Tel[redacted]ttps://t.me/[redacted]

Downloaded By: Afghan Salar Library

ته دې ورتېل وهي.

نېکمرغي يوه داسې ونه ده، چې اوبه او غذا، هوا او رڼا يې پر الله تعالیٰ ايمان لرل دي.

د سليم ذوق او ښو اخلاقو درلودونکی تر ټولو نېکمرغه دی.

پوهه د سينې پر پراخولو سربېره تنگ نظري لمنځه وړي.

که څوک پوهه ولري او ځان وپېژني؛ نو ډېر ژر به د بري په خوند پوه شي.

پوهه، تجربه، ذکاوت، د مال تر سترې خزانې ستر ارزښت لري، ځکه چې پر پوهه خوښي انسانيت او عزت دی.

کله چې مېړه او ښځه يو بل ته غوسه شي؛ نو له صبر او زغم نه دې کار واخلي،ځکه په دې سره به يې ژوند ښه تېر شي.

که څوک نېکه ښځه او د گوزارې وړ مال ولري ، يعنې بل ته لاس نه نيسي؛ نو په داسې حال دې د الله تعالیٰ شکر وکړي، ځکه همدا تر ټولو ستره نېکمرغي ده.

څوک چې د الله تعالیٰ پر ربوبيت، د اسلام په دين، د محمد رسول الله ﷺ پر پېغمبرۍ خوښ شو، دی پر الله تعالیٰ حق لري، چې له ده نه هم خوښ او راضي شي.

د بري اصول دا دي، چې الله تعالیٰ او د چاپېريال خلک درڅخه خوښ شي او د يوه گټور کار په رامنځته کولو اقدام وکړې.

د ډوډۍ په وسيله نېکمرغي فقط يوه ورځ وي او د سفر نېکمرغي يوه اونۍ او د واده نېکمرغي يوه مياشت او د مال نېکمرغي يو کال وي، البته د ايمان په وسيله نېکمرغي ټول ژوند وي.

نېکمرغي په اوبو، خوړو، خوب او واده نشي رامنځته کېدای، بلکې په عمل سره منځته راځي، هغه عمل چې په سره لمر کې هم انسان ته عظمت



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

بښلای شي.

د نېکمرغو او بدایانو ترمنځ فقط یوه ورځ واټن شته، هغوی د پرون خوند هېر کړ او سبا نه ستا او نه د هغوی دی، فقط همدا نننۍ ورځ ده، که تا وګټله او که هغوی؟

شتمني او سوله، دین او روغتیا د نېکمرغۍ تر ټولو سترې خزانې دي.

کله چې پر یوه مصیبت اخته شې؛ نو تر ده د یوه ستر مصیبت تصور هم له ځانه سره ولره، چې دا درته وړوکی ښکاره شي؟؟ او په چټکۍ سره یې په زوال کې فکر وکړې.

هېڅ یو قرارداد او پرېکړه تر هغې مه صادره وه، چې تا یې ټول اړخونه سنجولي نه وي او له باوري خلکو سره دې پرې مشوره نه وي کړې او استخاره دې نه وي کړې، په دغه صورت کې که بریالی شوې؛ نو هدف ته ورسېدې او که نه؛ نو لږ تر لږه پښېمانه؛ خو به نه وې.

که یوه ښځه د ټولې نړۍ واکمني، نړیوال سندونه او برې لیکونه ترلاسه کړي؛ خو که مېړه نه لري؛ نو بیا هم بېوزله او بې چاره ده.

مکمل ژوند همدا دی، چې ځواني دې د لوړو اهدافو لپاره، سړیتوب دې په مقاومت، بوډا توب او سپین ږیرتوب دې په غور او فکر کې تېر شي.

تر سترو مانیو او کورونو یو وړوکی کتاب، چې زړونو ته خوښي ښښلای شي زر ځلې غوره دی.

له الله تعالٰی څخه بښنه او روغتیا غواړه، کله چې دغه دواړه در په برخه شول؛ نو هر خیر دې په برخه دی او له هر شر څخه دې خلاصون وموند او همدغه ستره نېکمرغي ده.

که یوه مړۍ ډوډۍ، څو دانې خرماوې او یوه پیاله اوبه، له یوه پوزي او له یوه مصحف سره په یوه کوټه کې له ځانه سره ولرې؛ نو نړۍ ته سلام وکړه.



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Teleg[redacted]tps://t.me/afg[redacted]

[redacted] Library

معتدله خندا زړه قوي کوي، سینه پراخوي او اندېښنې لمنځه وړي.

عبادت نېکمرغي او وړتیا خلاصون دی، څوک چې د الله تعالیٰ له یاد سره عادي شو؛ نو دا په ښو خلکو کې شمېرل کېږي، ښکلې پرهېزګاره ښځه، پراخه کور، حلاله روزي او نېک ګاونډي، هغه الهي لورنه ده، چې ډېر خلک ترې بې برخې دي.

تر ټولو اهله ملګري یوازېتوب او نېک ملګری تر یوازېتوبه ډېر غوره دی او د الله تعالیٰ د قدرت ننداره کتې مټ عبادت دی.

له امن سره وچه ډوډۍ تر هغو شاتو ډېره غوره ده، چې ترهه او وېره ورسره مله وي.

د علم خوښي همېشنۍ ده او د مال خوښي له مال سره لمنځه ځي.

د زړه مرګ د الله تعالیٰ د اطاعت په پرېښودلو او د ګناهونو په ارتکاب کې نغښتی دی.

چا چې په خپل کور کې نېکمرغي تر لاسه نکړه؛ نو په بل ځای کې یې نشي ترلاسه کولای، چا که نننۍ ورځ له لاسه ورکړه؛ نو سبانۍ یې هم له لاسه ورکړه.

څلور شیان نېکمرغي جلبولای شي ګټور کتاب، منونکې زوی، ګرانه ښځه، نېک ملګری او له الله تعالیٰ سره مینه د دې ټولو عوض دی.

ایمان او روغتیا، شتمني او خپلواکي، سوله او محبت، پوهه او قناعت د هماغه څه لنډیز دی، چې پوهان یې غواړي؛ خو ډېر لږ پېښېږي، چې دغه ټول په یوه کس کې راټول شي.

په نړۍ کې تر ټولو غوره شی ریښتینې ایمان، ښه اخلاق، سلیم عقل، جوړ بدن او کافي رزق دی.

نېکمرغه هماغه څوک دی، چې نه فاسق وي او نه ناروغ، نه پوروړی



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

وي او نه نېستمن، نه خپه وي او نه بندي.

بې خطره هماغه ستا د کور لار ده او ستا لپاره برکتناکې ورځې هماغه دي، چې تا پکې کوم نېک چار ترسره کړی وي.

د ځمکې کره پر سر مه باروه او داسې فکر مه کوه، چې دغه کار به خلکو ته هم وبرېښي! مهمه دا ده چې د یوه زکام پر رسېدو ورځخه ستا او زما د دوارو مرگ هېرېږي.

د مؤمن پر حال تعجب دی، چې هر کار یې د خیر وي، که تنگسه کې پرېوځي؛ نو صبر کوي! دا یې هم گټه ده او که له خوښیو سره مخ شي؛ نو د الله تعالیٰ شکر پرې کاږي، چې دا یې لا ډېر سودمن دی.

موسکا د نېکمرغۍ کیلي ده، چې مینه یې دروازه، خوښي یې باغچه، رڼا یې ایمان او امن یې دېوال گڼل کېږي.

بچي تر ثروت، روغتیا تر شتمنۍ، امن تر استوگنځي او تجربه تر مال ډېر ارزښت لري.

ولې د پاچایانو پر دروازو ودرېږئ، په داسې حال کې، چې تندې یې د رب العالمین ذات په واک کې دي؟ مال له نېستمن نه غواړئ او د درد شکایت تېي ته کوې؟!

پرونۍ ورځ مړه، نننۍ ورځ په جریان کې ده او سبا لا زېږېدلې نه ده، نه د همدغه ساعت بچې یې، چې د الله تعالیٰ په اطاعت سره ورځخه گټه واخلې.

شپږ شیان کافي او شافي دي.

دین، علم، شتمني، مروت، عفوه او روغتیا..

ای انسانه! ته دوه سترگې، دوه غوږونه، دوه پښې او دوه لاسونه لرې، ژبه، ایمان، قران او امان لرې بیا نو:



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

﴿فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ○﴾

”نو ای پېریانو او انسانانو! تاسې به د خپل رب کوم کوم نعمتونه درواغ وګڼئ؟“

زموږ ستونزه دا ده، چې حاضر مو له لاسه ورکړی، په ماضي بوخت یو او سبا ته لېوال بیا؛ نو پوهه او ځیرکي کوم خوا ولاړه؟!

د بل په شخصیت کې ویلي کېدل د خپل ځان وژل دي او ډېره ارزانه نېکمرغي، چې د عاقلانو په بازار کې تر لاسه کېږي د بې ګټې خبرو او چارو پرېښودل دي او ډېره ارزښتمنه سوداګریزي همدا ده، چې ته د خلکو او خلک تا ته ښه ښکاره شي!

یو ناوړه ګاونډي تر دې ډېر بد دی، چې یو سړی په نېستۍ کې ژوند وکړي.

تر ویده کېدو مخکې خپل زړه د بښنې پر اوبو اوه ځله ومینځه او د بښنې پر دسمال یې وچ کړه؛ نو د ایمان په خوند به پوه شې.

د غمونو او اندېښنو لامل الله تعالیٰ ته شا کول او دنیا ته مخ کول دي او دا هماغه زندان دی، چې نه پکې ژوند او نه پکې مرګ شته.

له یوه هېواده بل ته په سفر کولو نېکمرغي لاس ته نشي راوړل کېدای، نېکمرغي او سرور داسې ترلاسه کېږي، چې له یوه شعور نه بل ته لاړ شي.

د الله تعالیٰ لورنه پر خپلو بندګانو دا ده، چې د چا په زړه کې شتمني او بډایتوب ځای پر ځای کړي؛ نو ځان ورته د ټولې نړۍ پاچا ښکاري.

خوښي سولې ته اړتیا لري، مال خیرات ته، جاه و جلال، سپارښت ته، مشري عاجزۍ ته، هرڅوک په خپل کور کې امیر دی او هېڅوک یې له دغه امارت څخه نشي را پرځولای.

همدا راز ژوند فرصت دی؛ خو هله پېژندل کېږي، چې له لاسه وځي او



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

عافیت د روغمنو خلکو پر سرونو یو داسې تاج دی، چې یوازې ناروغان یې ویني.

رسول الله ﷺ فرمايي:

الْمُسْلِمُ مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُونَ مِنْ لِسَانِهِ وَيَدِهِ(٤٤)

"بشپړ مسلمان هغه څوک دی، چې نور مسلمانان یې د لاس او ژبې له زیانه خوندي وي. ..."

که له تا سره حسد کوونکی نشته؛ نو په تا کې هېڅ خیر نشته.

که څوک ملګری نه لري؛ نو اخلاق هم نه لري او چې دين نه لري؛ نو مبدا هم نه لري.

دنیا: عافیت دی

ځواني: صحت دی

مروت: صبر دی

عزت: تقوی ده

حسب: مال دی

تر هغې نېکمرغي نشې ترلاسه کولای، چې خپل حس او عقل، خیال او وجدان له هرې ناروا سلطې ازاد نه کړې او د یوه الله تعالی په بندګۍ او اطاعت کې یې ورنه کړې.

هغه څوک نېکمرغه دی ، چې عمر یې اوږد او عمل یې ښه وي! هماغه څوک موفق دی چې پر مال سربېره یې احساسات هم زیات وي، هماغه څوک مبارک دی، چې د پوهې له ډېرښت سره یې پرهېزګاري هم زیاته وي.

د هغه چا بدله چې خلکو ته احترام لري، دا ده چې خپل غمونه هېر کړي او د هغه چا ثواب چې د خپل مولا خدمت کوي دا دی، چې خلک

---

٤٤ : صحيح البخاري (١ / ١١)



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

باید د ده خدمت وکړي او د هغه چا جاېزه چې دنیا ته شا کړي دا ده تر څو له هره لوري پرې د رزق دروازې را پرانستل شي.

نېکمرغي دا ده، چې ځان د کمال تر پوړې ورسوې او کامیابي دا ده، چې د خپلو چارو ګټه ترلاسه کړې.

نیمه شپه را پورته شه په ښه ډول تر اوداسه وروسته دوه رکعته لمونځ وکړه او بیا د رب العلمین لور ته لاسونه لپه کړه او دوه رڼې اوښکې له سترګو راتوی کړه او داسې ووایه، چې ای کریم او جلیل ذاته! پر دې کوټه او ناچله عمل بشپړه مزدوري راکړه.

د الله تعالیٰ قضاء او قدر ټول ګټور دي، ان تر دې، چې معصیت هم په دې اړ، چې پښېمانتیا او توبه ورسره مله وي.

تل «ذَا الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ او يَا حَيُّ يَا قَيُّومُ بِرَحْمَتِكَ أَسْتَغِيثُ» وایه؛ نوخوښي، پراخي، نېکمرغي او ډاډمني به په خپلو سترګو ووینې.

په دنیا کې هم جنت شته؛ خو که څوک دې دنیوي جنت ته ورنه رغلو؛ نو د اخرت جنت ته هم نشي ورتلای او دنیوي جنت په خوښۍ سره د الله تعالیٰ ذکر او اطاعت کول دي.

د الله تعالیٰ رحمت پراخه دی او دروازې یې پرانستل شوي دي، توبه منل کېږي د توبې په ویستو کې چټکي وکړئ.

﴿مِنَ الْمُؤْمِنِينَ ○﴾

"ای پېغمبره! ستا لپاره او ستا مؤمنانو پیروانو لپاره؛ خو یوازې الله تعالیٰ کافي دی."

﴿إِنَّ اللَّهَ مَعَ الَّذِينَ اتَّقَوْا﴾

"الله تعالیٰ د هغو کسانو ملګری دی، چې تقوی غوره کوي."



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

﴿لَا تَحْزَنْ إِنَّ اللّٰهَ مَعَنَا﴾

"مه خفه کېږه! الله تعالٰی له موږ سره دی."

﴿فَاللّٰهُ خَيْرٌ حٰفِظًا﴾

"الله تعالٰی ډېر ښه ساتندوی دی."

﴿إِنَّ رَبَّكَ وَاسِعُ الْمَغْفِرَةِ﴾

"ستا د رب د بښنې لمن ډېره پراخه ده."

﴿وَعَلَى اللّٰهِ فَتَوَكَّلُوْا﴾

"پر الله تعالٰی داډه اوسئ."

﴿فَإِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا﴾

"نو حقیقت دا دی، چې له تنګسې سره پراختیا هم ده."

﴿حَسْبُنَا اللّٰهُ وَنِعْمَ الْوَكِيْلُ﴾

"زموږ لپاره الله تعالٰی کافي دی او هماغه ډېر ښه کار ساز دی."

﴿إِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحًا مُّبِيْنًا﴾

"ای پېغمبره! موږ تا ته ښکاره فتح درکړه"

﴿وَاللّٰهُ يَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ﴾

"الله تعالٰی د خلکو له شر نه ستا ژغورونکی دی."

﴿وَكَانَ فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكَ عَظِيْمًا﴾

"او پر تا د الله تعالٰی لورنه ډېره زیاته ده."



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

لاَحَولَ ولاَقُوةَ إلاّ باللّهِ

"له ګناه نه خلاصون او پر اطاعت لاسبري کېدل يوازې د الله تعالیٰ په مرسته کېدای شي."

﴿وَ اُفَوِّضُ اَمۡرِیۡۤ اِلَی اللّٰہِ﴾

"او خپله معامله زه الله تعالیٰ ته سپارم."

﴿لَا تَقۡنَطُوۡا مِنۡ رَّحۡمَۃِ اللّٰہِ﴾

"د الله تعالیٰ له رحمت نه مه نهيلي کېږئ."

﴿اَلَیۡسَ اللّٰہُ بِکَافٍ عَبۡدَہٗ﴾

"ايا الله تعالیٰ د خپل بنده لپاره کافي نه دی؟"

﴿وَّ اذۡکُرُوۡا نِعۡمَتَ اللّٰہِ عَلَیۡکُمۡ﴾

"دا مه هېروئ، چې الله تعالیٰ په څه لوی نعمت تاسې سرلوړي کړي يئ."

﴿وَ قَالَ رَبُّکُمُ ادۡعُوۡنِیۡۤ اَسۡتَجِبۡ لَکُمۡ﴾

"ستاسې رب وايي ما وبولئ، زه به ستاسې دعاوې قبولې کړم."

﴿قُلۡ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ ۚ اَللّٰهُ الصَّمَدُ ۚ لَمۡ يَلِدۡ ۙ وَ لَمۡ يُوۡلَدۡ ۙ وَ لَمۡ يَكُنۡ لَّهٗ كُفُوًا اَحَدٌ﴾

"ووايه هغه الله تعالیٰ دی، يوازې يو، الله تعالیٰ هېچا ته اړ نه دی او ټول هغه ته اړ دي، نه هغه څوك زېږولی دی او نه هغه زېږول شوی دی او هېڅوك د هغه سيال نشته."

﴿مَاۤ اَنۡزَلۡنَا عَلَیۡکَ الۡقُرۡاٰنَ لِتَشۡقٰۤی ۙ﴾



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



"موږ د آ قران پر تا باندې د دې لپاره نه دی نازل کړی، چې ته په کړاو اخته شې."

﴿لَا يُكَلِّفُ اللّٰهُ نَفْسًا اِلَّا وُسْعَهَا﴾

"الله تعالی هېڅ نفس ته د هغه له وسې نه پورته مسوولیت نه متوجه کوي."

﴿وَاعْفُ عَنَّا﴾

"ای الله تعالی موږ ته ببښنه وکړه."

رسول اکرمﷺ فرمایلي دي:

أمتي أمة مرحومة....

"زما پر امت ستره پېرزوینه شوې: الله تعالی یې پالنه او روزنه کړې، پېغمبر یې سید المرسلین، دین یې په ټولو دینونو کې غوره، امت یې په ټولو امتونو کې او شریعت یې په ټولو شروعو کې غوره دی."

همدا شان فرمایي:

"هغه څوک د ایمان پر خوند وپوهېد، چې د الله تعالی پر ربوبیت، د اسلام پر دین او د محمد رسول اللهﷺ پر پېغمبرۍ خوښ شو"

له نننۍ ورځې سره په مخ کېدو یې تود هر کلی وکړه، بیا یې د فرایضو، واجباتو او نورو دندو په ترسره کولو ښه مېلمستیا وکړه، توبه اوباسه او په ګناهونو یې مه خرابوه!

که ماضي در په زړه شي؛ نو نننۍ ورځ یاده کړه او خوښي ترلاسه کړه او چې نننۍ ورځ در په زړه شي؛ نو نننی مثبت عمل هم را په زړه کړه، چې نېکمرغه شې.



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
...am:https://t...

Downloaded By: Afghan Salar Library



عزتمنه لار جومات ته تللې او له امن څخه ډکه لار کور ته تللې ده، ځومره دروند او ښه حالت د سجدې دی؛ خو چې د خپل رب په وړاندې وي.

د کافر په لیدو پر اسلام او د فاجر په لیدو پر تقوی او د ناپوه په لیدو پر پوهه او د ناروغ په لیدو پر روغتیا شکر اوباسه.

لمر او سپوږمۍ، وریځې او بادونه، تیاره او رڼا، شپه او ورځ ...... دا هر څه ستا د ګټې لپاره پیدا شوي؛ نو ځکه تر تا غوره نه دي! ړوند د سترګو په ارمان وي، چې کاش! څه وګوري، کوڼ د اورېدو،ګونګ د وینا او شل د مزله هیله من وي؛ خو تا ته الله تعالیٰ دغه هر څه در په برخه کړي دي، پر دې د الله تعالیٰ شکر وکړه.

څوک کور لري، ګاډی نه لري، څوک ښځه لري، وظیفه نه لري، څوک اشتها لري، خواړه نه مومي، همدا راز څوک خواړه لري؛ خو خوړلای يې نشي.

جومات د اخرت بازار دی، کتاب د ژوند ملګری، ښه چار د قبر توښه او ښه خوی د عزت تاج دی.

که د غوسې پر مهال پرېکړه وکړې؛ نو پر کړې پرېکړه به ډېر ژر پښېمانه شې؛ خو پښېمانتیا به بیا درته هېڅ ګټه نشي رسولای.

د جونګړې اوسېدونکی باید پر خپله جونګړه او د شلېدلو جامو خاوند باید پر خپلو شلېدلو جامو خوښ شي، ځکه چې دنګې ماڼۍ نړېږي او ورېښمينې جامې زړېږي.

ښايي له سفر نه په پاتې کېدو، له ښځې نه په بې برخې کېدو او له دندې نه په ګوښه کېدو کې دې هم ګټه وي!

ډېره تر ونې کلکه او وسپنه تر ډبرې کلکه ده او اور تر وسپنې ځواکمن دی او باد تر اور زو رور دی او ایمان تر دې ټولو قوي دی.



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library



هغه څوک، چې پر موقت شهرت تېنګار کوي، د کټور علم، نېک عمل او د تلپاتې ژوندانه لپاره خواري نه کوي؛ نو دا ډېر بېکاره سړی دی، چې هېڅ ارزښت نه لري.

کله چې د دنیا په محاکمو کې عدالت او نیاو (انصاف) نشي ترلاسه کولای؛ نو خپله دوسیه د اخرت قضا ته وړاندې کړه، څکه هلته ګواهان ملایک، دعوه خوندي او قاضي په خپله احکم الحاکمین دی.

نوح علیه السلام د حق او دعوت په لار کې نهه سوه پنځوس کاله ستونزې وګاللې، صبر یې وکړ؛ خو له دعوت نه یې لاس وانه خیست، ان تر دې، چې الله تعالی ده ته خلاصون ورکړ او دښمنان یې په سمندري توپان غرق او هلاک کړل.

ابراهیم علیه السلام ته وګورئ، کفارو اور ته وغورځاوه؛ خو الله تعالی ورته داور لمبې سمسوره باغ کړ او د لار ورکي قوم له شر نه یې وژغوره.

موسی علیه السلام ته نه ګورئ، چې فرعون څومره وځوراوه! خو الله تعالی ورسره مرسته وکړه، دریاب یې ورته وچ کړ او د ده دښمنان یې پکې غرق کړل.

عیسی علیه السلام ته وګورئ، چې بني اسراییل یې په دښمنۍ کې تر کوم پړاوه رسېدلي ول، پر مریم علیها السلام او د ده پر پېغمبرۍ یې نیوکې او تورونه ویل، ان تر دې، چې په مرګ یې ورله اسره ونه کړه؛ خو الله تعالی یې مرسته غوښته؛ نو عیسی علیه السلام یې ترې اسمان ته پورته کړ او د ده پر ځای یې دښمنانو په تېروتنې سره د ده په ګومان بل څوک ووواژه.

زموږ خوږ پېغمبر صلی الله علیه وسلم وګورئ، چې د مکې مشرکینو، یهودو او نصاراوو څومره وځوراوه، له ډول ډول ستونزو سره یې مخ کړ، نه دا چې فقط د هغه صلی الله علیه وسلم له پېغمبرۍ یې انکار وکړ او ملنډې یې پرې ووهلې، بلکې د هغه نږدې ملګري یې شهیدان کړل، پاکلمنه ښځه عایشه i یې په ناروا تورنه کړه او ان تر دې، چې پر رسول الله صلی الله علیه وسلم یې مرګوني بریدونه او یرغلونه وکړل، مبارک غاښونه یې ورله شهیدان کړل.



Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ [redacted] am:https://t[redacted]

Downloaded By: Afghan Salar Library

[redacted]

د کافرانو له لاسه يې له لوړې نه په ګېډه پورې تيرې ترلې.

عمر بن خطاب رضي الله عنه ته وګورئ، چې په محراب کې شهيد کړی شو.

عثمان رضي الله عنه ته وګورئ، چې د قران کريم تلاوت ته ناست و او باغيانو شهيد کړ.

علي رضي الله عنه جومات ته د تلو پر مهال په لار کې شهيدکړی شو.

حسين رضي الله عنه ناحقه په شهادت ورسول شو.

عبدالله بن زبير رضي الله عنه د مکې په حرم کې دننه د حجاج بن يوسف له لوري په شهادت ورسول شو.

د اهل السنة والجماعة، ستر امام احمد بن حنبل د حق په لار کې زندان ته واچول شو او پر تازينو ووهل شو.

سعيد بن جبير رحمه الله د حجاج بن يوسف په امر ووژل شو.

د ابوجعفر المنصور په دور کې امام ابو حنيفه رحمه الله په بند محکوم او پر تازينو ووهل شو.

ستر زاهد عالم سعيد بن المسيب د مدينې د امير له خوا پر تازينو ووهل شو.

شيخ الاسلام ابن تيميه رحمه الله زندان ته واچول شو، له خپلې کورنۍ، خپلو، خپلوانو، دوستانو او ملګرو ان تر دې، چې له کتابونو کتلو هم منع کړی شو.

که موږ د داسې پېښو په ليکلو پيل وکړو؛ نو قلم به مو ملتيا پرېږدي، يعنې په قلم کې به مو رنګ ختم شي؛ خو پېښې به ختمې نشي؛ نو ځکه پر همدې بيلګو بسنه کوو.



[redacted] book:https:/ [redacted] facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

Facebook:https://www.facebook.com/groups/182281287129769/ Telegram:https://t.me/afghansalar